
# زما ژوند او ژوندون

## (دویم ټوک)



باباے پښتون

خان شهید اودول سمد خان اڅکزے

# زما ژوند او ژوندون

## (دویم ټوک)

**بابا ے پښتون**

**خان شهید اؤ دول سمد خان اڅکزے**

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

د۔ پاڑکی د۔ بیا چاپ واک د۔ وړاندی کوونکی څخه خوندی دی

د۔ پاړکی نوم ——— زماژوند او ژوندون (دویم ټوک)

لیکوال ——— بابای پښتون

خان شهید اوډول سمد خان اڅکزی

وړاندی کوونکی ——— پروفیسر اوډول غنی خان غنو

د۔ چاپ کال ——— ۱۳۸۳ یونیځ لمریز (۲۰۰۴ زیږځ)

بیه ——— ۴۰۰ کلداری

چاپ ځی ——— یونائیټیډ چاپخانه کوټه

کمپیوټر کمپوزنگ ——— العابد کمپیوټر ګرافیکس کوټه

دوست خورونه ——— (پښتونخوا خورونی)

# د لوی څښتن

# په

# نامه

www.kitabtoon.com کتابتون پوټله

| | | |
|---|---|---|
| ۱ | ډله اوشونډه | ۱۷ |
| ۲ | د ـ پولټکیل سره لیدل روښتیا خبری او ګواښ | ۲٦ |
| ۳ | دویم بند | ۳۲ |
| ٤ | د ـ پرنګیانو تښتول او زموږ سزا | ٤۱ |
| ٥ | د ـ شومیا تیاری | ٥۲ |
| ٦ | ایسا خان او تارپاک | ٦۹ |
| ۷ | جېل | ۷۱ |
| ۸ | شناخته خلګ | ۸۱ |
| ۹ | ښېړی | ۸۲ |
| ۱۰ | بیسترہ | ۸۷ |
| ۱۱ | روټی | ۸۹ |
| ۱۲ | پاخانې او اودس | ۹۱ |
| ۱۳ | ګینتی | ۹۳ |
| ۱٤ | بارک | ۹٥ |
| ۱٥ | سپړی | ۱۱۱ |
| ۱٦ | غلا غولتی او ښځی | ۱۱٤ |
| ۱۷ | مېچن | ۱۱۹ |
| ۱۸ | پیاځه | ۱۲۲ |
| ۱۹ | کومارہ | ۱۲۸ |
| ۲۰ | غولام مالی | ۱۳٤ |
| ۲۱ | برېکړه | ۱۳٦ |
| ۲۲ | اپیل | ۱٤۹ |
| ۲۳ | مچ جېل | ۱٥۰ |
| ۲٤ | کوټه کی خینی ناپېښی | ۱٥۲ |
| ۲٥ | په جېل کی ناوړه مله | ۱٥۷ |
| ۲٦ | مچ ته چالان او د ـ ایوب خان پښېمانی | ۱٥۹ |
| ۲۷ | د ـ خواشنی روزی | ۱٦۱ |
| ۲۸ | د ـ کامی پنجاپیانو نیول او زموږ مچ له تلل | ۱٦۲ |

| | | |
|---|---|---|
| ۲۹ | مچ جېل | ۱۶۸ |
| ۳۰ | په جېل کې جنګ او الارم | ۱۷۷ |
| ۳۱ | پرنګي ته پېښې | ۱۷۸ |
| ۳۲ | په کورنتین کې جوړه | ۱۸۰ |
| ۳۳ | د - بابو هيه | ۱۹٤ |
| ۳٤ | د - جېل پېښې | ۱۹۸ |
| ۳۵ | د - شنه منو بنديانو ډلي کلاسيپيکشن | ۲۰۹ |
| ۳۵ | مونشي ګرت | ۲۱۰ |
| ۳٦ | پرنګې غل او بندي | ۲۱۲ |
| ۳۷ | د - بنديانو اوچتې ډلي (کلاسيپيکېشن) او د - جېل د - هيندوانو نوکرانو چل | ۲۱۳ |
| ۳۸ | د - بروس سره ليده | ۲۱٦ |
| ۳۹ | د - خواخوږو ژړا | ۲۲۰ |
| ٤۰ | په مچ کې د - پرنګي خښم | ۲۲۲ |
| ٤۱ | ناپېښه پېښه | ۲٤۱ |
| ٤۲ | ايله کېده | ۲٤۵ |
| ٤۳ | د - مشر ورور سره جوړه | ۲۵۱ |
| ٤٤ | هيند له تله | ۲۵۵ |
| ٤۵ | لومړی وينا او ورا (جلوس) | ۲۵۸ |
| ٤٦ | د - ګاندي جي لومړے ديد | ۲٦۰ |
| ٤۷ | د - باچاخان او نورو پښتنو ليدل | ۲۸۷ |
| ٤۸ | د - بناغلي ميسټر جيناه سره لومړے او خوندور ديد | ۲۹۷ |
| ٤۹ | د - ربړی پرېښورلو ناپېښه پېلامه | ۲۹۹ |
| ۵۰ | د - ډاک پلټنه | ۳۱۳ |
| ۵۱ | د - کشمير د - آزادي لومړے جنګ | ۳۱۹ |
| ۵۲ | د - بلوڅانو ژوند | ۳۲۲ |
| ۵۳ | د - بناغلي ازيز کورد سره ليدل | ۳۲۳ |


www.kitabtoon.com کتابتون پولنه

| | | |
|---|---|---|
| ٥٤ | د ـ پولیسو تنګول | ٣٢٤ |
| ٥٥ | د ـ دیتو پنجابی کومک | ٣٢٦ |
| ٥٦ | په سرکاری نوکرانو کی د ـ ناچاری ژوند | ٣٢٨ |
| ٥٧ | د ـ اځګرو د ـ سرداری بچانو | ٣٤٦ |
| ٥٨ | د ـ کلات د ـ خان مرګ او لویه بدی | ٣٥٥ |
| ٥٩ | د ـ میر اودول ازیز کورد سره پیژاندګلوی | ٣٥٨ |
| ٦٠ | له کوټی بندښت | ٣٥٩ |
| ٦١ | نواب زادہ یوسپ الی خان | ٣٦٤ |
| ٦٢ | مامد اسلم خان | ٣٧٧ |
| ٦٣ | لومړی کامی غونډه او زما وینا | ٣٨٧ |
| ٦٤ | په بلوچیستان کی اخبار | ٤٠٧ |
| ٦٥ | په سرکاری خلګو کی کار | ٤٠٨ |
| ٦٦ | په موسلیم کانپرنس کی ګډون | ٤١٤ |
| ٦٧ | د ـ هغه وخت د ـ بسپین نمونه | ٤٤٤ |
| ٦٨ | لندن ته یادداښت | ٤٤٩ |
| ٦٩ | ډاکټر مامد رمزان | ٤٥٠ |
| ٧٠ | میر شاباز خان نوشیروانی | ٤٥١ |
| ٧١ | د ـ لیګ او موسلیم کانپرنس د ـ ګډون تماشه | ٤٥٣ |
| ٧٢ | د ـ پښتنو مشرانو سره لیده | ٤٦١ |
| ٧٣ | د ـ یوه پولیس اوسر ازموده | ٤٦٣ |
| ٧٤ | د ـ روغی او سریتوب خسمانه | ٤٦٥ |
| ٧٥ | د ـ ښاغلی یوسپ الی خان سرداری | ٤٧٩ |
| ٧٦ | د ـ مولانا ابوالکلام شاګردی او د ـ هغوی پیغام | ٤٨٧ |
| ٧٧ | د ـ جل زاوال جن یونن | ٤٩٤ |
| | د ـ بلوڅو د ـ ژوند ازموده | |
| ٧٨ | دصب دلورا | ٥٠١ |
| ٧٩ | د ـ بلوڅو سرداری او دودونه | ٥١٥ |
| ٨٠ | د ـ پښتنو سرداری او دودونه | ٥٢٩ |

# ډله اوّغـونډه

اوس زه په دے پوهـ وم اوپه بېره لګياهم وم چی يّوهـ ډله اوّغوڼه (جماعت) داسی جوړکم چی د - اولس اوّهيواد د - ودی لپاره خوداے پاری کار کوی نو هله به کار سمېږی خو ګرانه داوه چی پخوا داکار چيری په غّونډ بلوچيستان کی نه ووسوی نه څوك په رسېده ډله خوپرېږده هلته خو د - کّوټی د - ښارد - اوپرهـ خلګو پّرته په ډّرست ولات کی د - اولسی يا د - دينی غونډی ياپه غّونډه کی د - چا ويان (مقرر) د - وينا دود هم نه وو - په ټولو پښتنو کی يو ژّموږ د - ماجت مولا ژّما اوسّتا ښاغلی مولوی باران وو چی کله کله بے په اختر يابل وخت خّپل د - ماجت وخلګوته څه دينی ياښارولی ويناکوله - ماخّپله هم د - ښوونځی (سکول) د - څلورو پنځو غّونډو چپ څه وينانه وه کړے - د- ښوونځی داغونډی هم د - کلو په ټولو ښوونځو کی يوازی د - ګوليستان په مّيانی ښوونځه (مډل سکول) کی په لومړی ځل ژّموږ مشراوستا سې -

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

میرمامد شاپپل کړله اؤخلورپنځه میاشتی چی زه په ښوونځی‌کی وم هره میاشت به کېدله اؤچی زه ولاړم نوغونډه (جلسه ) هم پاته سوله خوبیاهم زه خان له خپل په خپلوانو اؤ همزولو کی لګیا وم په څه لږوخت کی یوڅوتنه همزولی‌خپلوان راسره ست سوچی یومی مشرورور بل د ـ ګولیستان کاریز ښاغلی ایوپ خان ښه په کلکه په خان اؤمال راسره ولاړوو. اؤکاره هم راسره کاوه په نوروکی ښاغلی مګوشا اودول غپار خان اؤزموږد ـ کلی مامد تاهیر خان سمایل جان مامد کاهیر خان کازی ـ ابیدولاخان اؤنورخوانان وو ـ زموږد ـ ټولو په مخ کی ترټولولومړی بنده دا وه چی د ـ بیلو کلو خلګ به څنګه راغونډ کو چی یو ځایی ډیرو خلګو ته خپله خبره ورسوو ـ اؤداشان په بیلو کلوکی ملګری پیداکو ـ د ـ ډیره سوچه اؤخبرو پس مو داخوښه کړله چی په ماجیتانو کی‌دینی ویناوی (تقاریر) پیل کول په کاردی ـ نولومړے پیل مو زموږ دکلی په ماجت کی وکی هغه داسی چی د ـ روژه میاشت وه لکه دـ پښتنو چی هرچیری دود دی د ـ تراوولمانځه له به د ـ کلی زیاتره خلګ راتله د ـ لمانځه پس به یوه شاګرد (طالب) د ـ تباری (تبارك

الذی) سوړت وورته لوست اوخلکوړد ـ کټی (ثواب) لپاره اوربړده ـ په دغه ږوز د ـ لمانځه پس زه ولاړسوم اوومی ویل چی که څه هم د ـ خوداے کیتاب په توړوڵوستل اواوریدل هم ښه کاردی اوکټه (ثواب) لری خوکه خلکوړته یه مراد (معانی ) وښوول سی نوکټه به ډیره وی په ځاے د ـ دے چی موږ هره ږوز دایوسوړت په توړو وایو اواروو که ډوه ایاته ولوستل سی اومرادے په پښتو بیان سی نو ډېره به ښه وی او دا کار موڵا کاکا په اسانه کولاے سی اوسردننه پکاردی چی پیل سی ـ خوموڵا کاکاوے چی داکار خوډېر ښه دی خو زه نن تیارنه یم ـ نن که ته څه واپے ووایه وړاندی به زه داکارکوم ـ نوماېوه لنډه غونډی ویناوکړله اوډېرخوشاله وم چی که خیروی کارروان سو ـ سهارله زه په څه کار پسی کوټی له ولاړم شپه می هورے وه بله ږوز لس بجے د ـ پولیسوځوك سرے پسی راغی وے خان بهادر بازګول خان ډپټی سپرنډینټ پولیس دی غواړی ـ چی ورغلم بیاهغوے سردار دیلدار سینګ سی ـ آیی ـ ډی ـ اینسپکټر هم راوغوښت اوماتے ویل ستابیان اخلو ـ اولومړے تپوسے دا راڅه وکی چی تاخپل د ـ کلی په ماجت کی ورمه شپه

www.kitabtoon.com کتابتون پوونه

ویناکړے وه ؟ څه دی ویلی وو ـ اوْخله ؟ ماهم ښه
پوره جواب ورکی چی په هغه کی می د ـ خلکو
اوْهولکے پّریوتی شان بیان کی اوْ د ـ هغه د ـ بدلیدو
اوْ د ـ خلکو پویول اوْراغّونه ول می د ـ پوه خلکو په
زّیاته د ـ سرکار کار وباله ـ اوْداچی خلک خّپل په دین
ـ په خّپله پښْتو اوْبمه لارخبرول ـ اوْهغوته رابلل می
مّراد وو اوْدی ـ بّیایه د ـ لاهور کانګریس په هکله
څه تپوسونه وکړل څنګه تّللی وه ـ څه دی وکړّل څوک
دی ولیدل ـ اوْداسی نور ـ ماچی څه لیدلی کتلی وو
هغه می وورته وویل ـ ماخبری په پښْتو یااوردو کولے
چی سردار دیلدار سینګ سم دلاسه په انګریزی
تاپپولے ـ سم دلاسه یے ماته ویلے اوْبّیا یه وّروسته تول
بّیان چی ښه اوږ د ووهم راته واوراوه ـ زّمادومری
انګریزی زّده وه چی پہ سرسری مّرادہ رسیدم
داتپوسے هم راڅخه وکی چی د ـ لاهوره دی څه
کیتابونه هم راوړی دی ؟ ماوے هوخینی ویناوی چی
په بیلو غوندو کی لّوستلی سوی اوْ ویشلی سوی دی
هغه می راوړی دی ـ بّیا ڈّرے سره یوځاے وّلاړو د ـ
سوپرینتهیندینټ پولیس بنګلے ته ـ چی هغه وخت
اوکانر یوآیریش پرنګے وو ـ هغه د ـ بنګلے مخ ته په

پیتاوی کی کوړسی اچولی وه موږ ته هم کوړسی راکړه زمابیانې واوریده څه نوړ تپوسونه مپوسونې رانه وکړل او بازګول خان ته وه چی له د ه سره په موږ کی ولاړسه اوهغه کیتابونه جینی راوړه دے که هوړے پاتیږی پاته دی سی اوکه کارلری او بیرته راځی بنارته راورسوه ـ تردغه وخته ماهم خان بندی ګاڼه اوهغوړډوړ پوليس اوسرانو هم داسی ګڼلم ـ خود ـ کارنرد ـ ویناخه پوړے سولوچی داسی نه ده ـ زه چی دبازګول خان سره ګولیستان له راغلم نوخبرسوم چی دے اود ـ پولیسو دغه انګریزواك وال پړوند غرمه ګوا زما د ـ شپږ تروینا خو ګاڼه پس هم ګولیستان ته راغلی وو او د ـ کلی ډیر خلګ اود ـ ماجت مولایه تاڼه ته راغوښتی وو ـ زماد ـ ویناا وزماپه هکله یه ډیر تپوسونه جینی کړی وو ـ خوخلګو هم روشتیاخبری بنه په ډاډه زړه وورته کړی وه اوداهم چی د ـ خوداے د ـ کیتاب مرادے په پښتو بیان کړی اوبیا یې هم کوی ـ هغوے وه چی داخوبه مولاکاوه د ـ ده څه زده اود ـ خوداے په کیتابې څه کار نو خلګو وورته ویلی وو چی هغه خومولا هم دی ـ نودوے وه چی داخو بد کارنه دی که د ـ ده نورمراد نه وی پکښې تاسی پام

www.kitabtoon.com کتابتون پوهنه

کوی کنی تاوان به درورسیږی - وروسته خوږه د - انګرېزد - پولیسواوجاسوسانو په سرینبته بنه پوړے سوم چی هیڅ شے پټ نه سی جینی پاتېداے خودغه وخت موږ ټول ډېر هك پك ووچی دوے داسی ژرځنګه خبرسوی دی ولی موږخپل کلی د - انګرېز د - ښکومیانو جاسوسانو پاك ګاڼه - خلګو د - کلی د - ډیرو خلګو په هلکله شکونه لرل په زیاته زموږ یوسپین ږیری اکاووچی یووختے د - پولیسو د - اوڅار پرنګی اوسربیتی سره ډېره جوړه وه اوهغه د - ګاډی (ریل) د - اینتهر پاس هم ترکوتی پوری ورکړی وو - خوبیاډېروخت څه داسی شك نه ووباندی - یایو بل سپین ږیری سید ووچی د - جیرګے غړی هم وواو بیاوروسته یه پوړما او ملګرو په لوړی سیاسی بندکی د دروغ شاهیدی هم ولرله - خوخېرماهغه کیتابونه ورکړل اودوے ولاړل - هغه د - ماجت د - وینا سرینبته مولاپه لاس کی واخیستله چی ډېرناپوړه سړے ووـ خوشی یے ښیے خبری یے کولے اوزه پوردے پښیمانه وم چی دامی ولی پیل کړله چی نه واے ښه وه خوپه دے هیله چی یووخت به کار جینی واخلو کارمی نه په لاره تردے پوری د - انګرېز د - جاسوسی

سرېښتې يوه بله پېښه راياده شوله چې دوه کاله پسې ماته ازموده وشوله ـ هغه داچې په کال (۱۹۳۳م)کې زماڼوستا ښاغلی مولوی باران چې په کابل کې د ـ مولايانو د سرکاري ټولۍ (جمعيت العلماء)غړی وو اوس هم دی يو ورور ښاغلی اودول رحيم چې يوډېر پوه وينبس اوکام دوسته خوان وو د ـ ماسره سياسی کارهم کاوه ـ هغه دلته لسم (ميټرك )ووايه نو په وروپسی کابل له ولاړ اوچی تی ماته وويل که دی ماله د ـ پوهنځی (کالج) اړه (وظيفه) پيداکړله نوبه خبرراکړه زه به بېرته راسم اوپوهنځی (کالج) له به ولاړسم په کابل کی لا د ـ غازی مامد نادرخان نوی سرکار د ـ ښوونی (تعليم) سرېښته ښه سمه کړه نه وه نومادلته د ـ ښوونی د ـ واك وال ښاغلی شيخ اودول سمد سره خبره وکړله هغه وه ښه دی چې دے راسی زه به اړه (وظيفه) ورکمه ـ دے چې تی ما ورته وويل چې د ـ ورورسره دی خبره وکه کې خوښه وه بېرته دی دلته راسی موږبې د ـ کلی مولاکو په کابل کی څلور سوه اوغانی شپيته اويا روپی وورکوی موږبه سل وورکوو وينبس سړے دی د ـ پښتنو د ـ وينبولو لپاره به په دينی رنګ کی کارکوی ځکه چې داخبره

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

هغه ته ما داسې کړې وه چې ته به ځان په پوره کړې که دې په بیرته راتلو ځوښ ووتوبه ماته خبر راکړې چې زه دلته د ـ کلی خلک اوځپلوان ست کم نوبه ده ته ولیکم ولی چې دې ژموږد ـ موږلایې نه په ناخوښی ایستل سوې وو ـ نوماچې ده ته د ـ اړې خبر وورکاوه چې ستاکار به وسی نومی په هغه خت کی په انګریزی ولیکل چې که اوکرسم وی نو ما خبر که( ) د اخت ورسیدی اوجواړې هم ماله راغی خوڅه وخت پس زه په څه کار پسی ښاغلی شیخ ته ورغلم هغه راته وویل چې تاچی کابل ته کوم خت لیږلی دی هغه پولیسونیولی دی ـ پیتاوی (فوټو) یه اخیستی دی ماته راوړی وو اوتپوښه رانه کاوه چې ده چې ستاپه هکله څه لیکلی دی چې د ـ ادرهیم د ـ اړې په باره کې ته لیدلی وې داروشتیادی که نه ؟ ماوورته وویل چې هو داروشتیادی ـ هسی خو په وروستنه ژوند کی ماد ـ انګریزانو د ـ جاسوسی ډیری ناپیښه خبری ولیدلې اوښه سره ولدسو چې پورمخ به راسی ـ خوداځوې می څکه ولیکلې چې داډواړی ژماد ـ کامی ـ ژوند په لومړی سرکی پیښی سولې اوله دې نه زه په دې پوې سوم چې د ـ انګریزسرکار د ـ ښکومیانو (مخبران)

نه ډیری کمی خبری پټې پاتېداے سی خکه به په خپل ژوند کی تر اوسه پورې ماهیڅ داسی خبره یا کارنه کاوه چی پټېدو ته یې اړی درلوده ـ اوبیا به داسی ووچی که ښکاره سی نوزه یې نه منم زیاتره خوبه می د ـ دوده چپ یاپټ کار یاخبره نه کوله اوچی کله به می په ناچاری کوله نوترهغوبه می پټوله چی پټول یې په کاروو ـ اوبیا که به می څرګنده کړله یابه څرګنده سوله باك می نه په کاوه اوچی پټوله به می هم نو خپل په زړه کی به دے ته تیاروم چی که ښکاره سی نومنم یې اوکه سرکارسزا راکوله هغه به وړم ـ په دے به زه خپل وه زړه (ضمیر) ته پر اوګرم نه وم اونه به هغه یره اوکهانده راسره وه چی د ـ پټ کار اوډروغو ویلو سره تړلے وی ـ

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

# د ـ پوڵتیکل سره لیدل ـ
# روښتیاخبری اۇګواښ ـ

د ـ روژه د ـ دغی مّیاشتی په پاے کی د ـ ماجت د ـ وینانه (١٥)یا (٢٠)ڒوزی پس یووخت غرمه کوڕ پڒوت وم چی څوك راغی وه دباندی یو لیویز والاوڒلاڕدی وایی پوڵتیکل راغلی دی غّواړی دی ـ زه راووتم ماوه "چیرته دی" وه "په تانه کی"چی راغلم هغه وینګیت پرنګے وو چی تیرخلے سّپیے راباندی رغولی وو اوُد ـ اوغانیستانه یه پاته کړی وم ـ خوسرے ـ آیی ـ سی ـ ایس ـ اۇسرووښه پوهـ اۇخبرووـ د ـ کوره هم د ـ ڈرنے کورنی وو څه وختے په میسر کی هم نوکری کړه وه ـ دے په کورسی ناست وو د ـ ګولیستان وروکی (نایب) تاسیلدار وورته ولاړ وو چی زه ولیدم هغه تے ول «یّوهـ بله کورسی راوړه» پاڅیدی لاسے راکی چی کورسی راغله هغه تے وه

«څه ته ډلاړسه» چې کښېناستو د - جوړروغ نه پسې
ماته وويل - چې ماسټابنه تپوس کړی دی اوځان مې
خبرکړی دی ته په دې خاے کې خپل د - خلکو
اوهولکې د - ودی - ښېکړی اوازادی لپاره څه ډله
جوړه ول اوڅه کارکول غواړې - زه ځانی د - وینګېټ
اویوانګرېز په توګه داکار بد یا ناروا نه ګڼم لایه بنه
بولم - زه چې خپل د - کام ښېګړی له کار کوم نو
سټادا هم بد نه بولم - لاداچې دامنم چې سټاد -
خوانی - سټاد - کورنی - سټاد - پوهی سره داوړهم
ده چې ته داکار وکړ - زه چې په پوهنځی (کالج) کی
وم سوشلیسټ وم اوسره د - دې چې زموږ کام
اوهیوادآزاد اوتردې خاے اباد هم دی خومابه د -
اولس نوری ودی اوازادی له ډېرپه زور کارکاوه -
دازماځانی خوبنه اوزړه دی - خوته پوے یې چې زه
پولټیکل ایجنټ اوسرکاری نوکر هم یم اوپه دې توګه
زه ناچاره یم چې د - سرکار خوبنه به چلوم - که بل
وخت واے شایدچې‌سرکاربه هم داکاربدنه باله خونن
سباد - هیند شان(حال) ډېرخراب دی خکه دلته
سرکارهیڅ رنګه کامی (سیاسی) کارنه غواړی - اوپې
زغمی که هغه روا وی که ناروا - زه نن دې له راغلی

www.kitabtoon.com کتابتون پوړنه

یم اؤته می خان له راغوښتی یے چی د ـ سرکار په دے خوښه دی خبرکم چی تر څوړ ـ هیند شوړ بند سوی نه وی دلته به هیڅ نوی یاکامی کار نه کیږ ی اؤپه دے دی پوے کم که ته خپل خان اؤلار بدلوے ښه کنی سرکار به دی نیسی اؤخپل د ـ کار سزابه درکوی ـ بیایه په خندا راته وے چی سزابه هم زه نه درکوم خپل ښتا خپل د ـ کام خلک (جیرگه) بیے درکوی ـ اوس نوښتاخوښه ده کمه لارچی نیسیے دا کار پرېږدے اؤکه د ـ خپل کارسزاته تیارییے" ماوے "زه ښتاډیرښه منم چی سپینه اؤروشتیاخبره دی راته وکړله ماخه بد اؤنارواکار نه کړی دی اؤنیے کوم د ـ خپلو خلکوښیگړی اوس هم غوارم اؤبیاییے هم غوارم هنیله خومی‌داوه چی‌سرکاربه راسره کومک کوی اؤاوس به هم زه د ـ سرکاره تل په دے لار کی کومک غوارم خوکه پورسم اؤروا کارسرکار سزاراکوی نوزه ناچاره یم وړم بیے اؤکه خپل خلک یاته هم سزا راکیے نوهغوے اؤتاسی به هم ناچاره بولم" وے "ښه دی په مخه دی ښه" زه جینی راغلم خپل مل گری اؤ خپلوان می خبر کړل هیچا هم د ـ پولتیکل په دے گواښ پروا نه ده کړے که څه هم کلك اؤ روشتیا مو مانه خو حکه چی

ځپله لار موسسه بلله نو پرېښودو تې تیارنه وو ـ
د ـ دې پس مو د ـ خلګو د-راغونډولو دا لار جوړه
کړله چې د-پخوا څه به د ـ ګولیستان سرکاري نوکرانو
چې زیاتره به پنجابیان وو په بازار کې د-جومې لمونځ
کاوه چې د ـ شا اؤ خوا پښتنو مولیانو نه روا باله اؤ
نه ووړته راتله وې پې ګولیستان ښار نه دی اؤ جومه
په ښار کې کېدا ے سی نو مونږ کوښښ پیل کې چې
د شا اؤ خوا کلو پښتانه مولایان په دې ست کو چې
د ـ جومې لمونځ ومنی ځپله هم راسی اؤ خلګو ته هم
ووایی چې راسی ـ د ـ مولایانو سره چې مو خبری
پیل کړے د ـ هغو خوښه نه وه ځکې ډېری خبری
اؤکشالې پکښې پیدا کړلې ، چا به وې جومه ښار
غواړی اؤ د ـ ښار دا دا نخښې وی چا به وې چې که
ګولیستان ښار هم سی نو جومه په مخکنی (قدیمی)
ماجت کې کېږی اؤ د ـ بازار ماجت خو اوس جوړ
سوی دی ـ په مّیاشتو دا خبری روانی وې اؤ خنډ په
کښېوتی ـ بلی غاړی ته مو دا کوښښ پېل کی چې
یو اخبار را وباسو اؤ په هغه ځپل لار اؤ غوښت
لوستو خلګو ته ورسوو ـ په بلوچیستان کې دغه وخت
د ـ پښتو یا بلوڅی خو پړېږده د ـ اوردو اخبار هم نه

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

وو ـ يو انګرېزي اخبار وو "بلوچيستان ګزټ" په ډوو هوټو کې به ځوړېده سرکاري او د ـ سوداګرو ايشتهارونه د ـ اوچتو سرکاري اوسرانو دورے ـ ويناوی اوخپنی سرکاري او د ـ سرکار د ـ خوشامندو خبرونه بہے چاپول ـ يوه پارسي په خپله چاپه (پريس) کې چاپاوه زه او ښاغلي ايوپ خان ورغلو او هغه پارسي مو وليد ـ هغه دے ته تيار وو چې په اوردو ټايپ اخبار راچاپ کې ـ د ـ خرڅ اندازه مو جينی واخيستله ـ او دا مو جوړه کړله چې زه زما مشر ورور او ښاغلي ايوپ خان بہے خرڅ ښندو تر هغو چې اخبارخپل پوړ پښو درېږي چې د ـ چاپ د ـ خاوند نه مو تپوس وکې چې نو کله بہے چاپوو ؟ نو هغه رانه تپوس وکې چې تاسي د ـ سرکار د خوښي (منظوري) اخيستے ده ـ موږ وے "هغه لا څه وي" تر دغه وخته موږ په دے نه وو خبر چې د ـ اخبار چاپول څومرې کړاو غواړي ـ او سرکار په دے کې څومره پام او هاږ کوي هغه وے چې تاسي به لاټ ته يو درخواست ووړکوي ـ که د ـ هغه خوښه وه نو به مو چاپيدو ته پرېږدي کني جواب به درکي او په دے کې به ډېري مياشتي لګي نو موږ دا چورت پرېښوو ـ په دے ميان

کی ژمونږ پوړ خان خانی (انفرادی) خبرو اترو ډېر وخت تېر سو اؤ تر ډېره لری لری ورسېدو د ـ روژې اؤ لوے اختر ډواړه تېر سو په اخترو په ګولیستان کی ډوې ډرې ژوزی ډیری لویی میلې لګېږی چی د ـ چا پیره کلو تر دېرش میله پوری په زرو خلګ وورته راغونډېږی ژیاتره خلګ به ژمونږ په کلی اؤنورو کلو کی میلمانه وو ـ په ژیاته ژمونږ په خاے به هره شپه ډېر کسان مېلمانه وو ـ نوداشان د ـ ډېرو خلګو سره ژمونږ خبری اتری وسولې اؤداخبره ښه خورہ سوله ـ

د ـ ډیره خنډه پس د ـ ګولیستان د ـ کلی مولاسید ایوپ شاغا چی ژما د ـ سپپارے اوستاوو ـ دې ته تیارسو چی د ـ ګولیستان په بازار کی د ـ جومې لمونځ پېل کی اؤهلته به نوری ویناوی ( تقاریر ) هم کېږی ـ د ـ ګولیستان ژیاتره خانان ـ ښاغلی ایوپ خان ـ اودول غپارخان ـ هپیزولاخان ـ امینولاخان ـ اؤژمونږ د ـ کلی خوانانخانان هم په دې ست وو چی د ـ کلی د ـ خلګو سره به جومې له خو ـ هسی به هم د ـ چاپیره کلو ډېرخلګ په بازار کی وو ـ نوژمونږ هیله وه چی ښه غونډه به جوړېږی اؤراتلونکے جومه ،موسره ټاکلې وه ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

## ډویم بند

په دې کی تر جومې څو ژوزی وړاندی د - پښبین ای
- اے - سی ښاغلی مورتوزا خان (مرتضے) چی د -
دوکی ترین وو ګولیستان ته راغی اوژما
مشرورورښاغلی ایوپ خان اوزې وغوښتو وې چی
تاسی پولتیکل ایجنټ کوټی له غوښتی یاست - اوس
به له ماسره په موټرکی ولاړ سی - موږ وورته وویل
چی څه کاردی وې زه خبر نه یم بیا مو وورته وویل
چی که مو نیسی نو موږ به جامې بیستره دوې
راواخلو وې نه داسی څه خبره نه ده - هسی خبری
اتری درسره کوی - نوپه (۱۵/ میی کال ۱۹۳۰م) د
- هغه سره کوټی ته روان سولو - تررواندو وړاندی
ښاغلی ایوپ خان وورته وویل چی موږ اروېدلی دی
چی داپرنګے سپك اوپوچ خولی سرے دی خلګوته
ښکنځا اوپوچی خبری کوی په دې بې پوهوې چی
ګاییږی به سم کنی نو بیابه ستا او د - ده ګیله د -
خانه وی - ښاغلی مورتوزاخان چی ډېرلږ لوستی ښه

ساده پښتون وو ـ په نوکرۍ کې ډېر وخت سوی وو پښتني جامې بې اغوستې خوپه دغه کال ډوه کې انګريزي جامې پيل کړي وې ـ ايوب خان ته وې «زوروره ستاخه ګومان دی چي زما د ـ مخه به دې ستاسي سپکه کوي نوزه به هلته داپتلون وور و نه باسم» ـ دغه سړی د ـ ايوب خان ترپلار لاندی نوکري کړې وه اوډ ـ ايوب خان سره ډېر بيباکه ازادوو ـ نوهغه وورته وې «نه خان پتلون خوستاخپل دی هغه به ولی باسې داسي وايه چي نوکري به پرېږدم» پوردې مو ډېرسره وخندل ـ کوټې له چي ورسېدو پولتيکل وې سبادی راسي ـ موږ شپه د ـ ښاغلی ارزمامد خان په خاې کی وکړله سهار چي د ـ ای ـ اې ـ سی سره د ـ پولټيکل بنګلې ته ورغلو د ـ روغ بړه پس چي کښېناستو هغه څه پاڼی (ورقی) پور له واړولې اؤ وې "چي لاټ ساب د ـ ايوب خان پلار ښاغلی مامد ياکوب خان چي ای ـ اې ـ سی وو اوډغه وخت په مکران کی د ـ کلات نايب وزير لګيدلی وو ـ راغوښتی دی چي هغه راسي نو به لتاسي سره خبره کوي ـ تاسي به تر هغو د ـ کوټې په پوليس لاين کی ناست ياست" ښاغلی ايوب خان وې بس که موږ ته د

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ـ څه ویلو اړی ښته ـ پرنګی په ډېر خبنم په اوردو
وویل چی "تاسی ما نه سی تېر ایستلاے زه هم د ـ
٤٥ کلو سړے یم اؤ ما ډېر وخت په میسر اؤ نورو
خایو کی د ـ موسلمانانو سره تېر کړی دی ـ بس
تاسو لاړ سی ـ موږ را ولاړ سو اؤ د ـ ای ـ اے ـ
سی سره پولیس لاین ته ۆلاړو ـ هلتې پوره ڼو بارك
راخالی کی کتهونه او څپلی بیسترې یه راکړې یوھ
روپی د ـ ژوزی سړی سر خرڅ راله کښبښوو دغه پیسې
یه کال پس بېرته له موږه واخیستلې ـ بیان بې ژوسته
راسی د ـ پولیسو یو اڅګزی سپاهی شنبې ـ خوداے
دې وبخښی اوس مړ دی ـ یه د ـ پخلی اؤ کار مار
لپاره راکی چی ای ـ اے ـ سی ۆلاړ لړ آن پس د ـ
پولیسو څلور سپاهیان اؤ یو هوالدار سرھ د ـ بیسترو
اؤ کتهونو راغله اؤ په بارك کې دننه راسره بیسترې
واچولې خو بیا یه ژموږ په ویلو بېرته وایستل اؤ د
باندی به یوه پاره را باندی کوله خو نور څه بندښت
راباندی نه وو ـ شنبې چی د ـ توپې همید زے ماهك
زے وو ـ
په سرکی پولیسو ډېر بېرولی وو لری لری به ګرزېده
بږغ بږوغ بې نه کاوه خو ورو ورو ښه بلد سو ډیر ښه

اوپوه سړے وو - د - بنده پس به مو هم سره لېده
کاته -

د - ایوب خان پلار ښاغلی مامد یاکوب (د - چالپاره
چی مونږ دلته ناست وو ) که څه هم زمونږ نیژدے خپل او
د - ډېروشپو سپین ږیری سړے وو خو ټول وختې په
نوکری کی تېر کړی وو اوخویه هم داسی ووچی کلی
ته به ډېر کم راته څکه مااوزمامشروروړ تر دغه
وخته لیدلی هم نه وو - ایوب خان چی ښې خبری راته
کولې - د - هغه وخت د - پښتنو سرکاری نوکرانو رنګه
د - زوروروا وسرانو ډېر ښېرندوکی اوخوشامند ګر
اوپوراولس او ترلاس لاندی خلګو باندی زلنده اوسخت
سرکاری نوکر وو - ترټولو بده لاداوه چی ایوب خان ول
ډېرپوچ خولی دی یوازی د - خلګواوورو نوکرانو سره
لانه خپل د - کورخلګوخپلوانواوکشرانوته هم پوچی
خولې پړے کوی څکه نو سره د - دے چی تردغه وخته
یه بل زوے نه درلود ایوب خانې یوزوے ووخوښیاهم سره
خواره نه وو - یوله بله تنګ او زیاتره به خله خوابدی
وو - مونږ په دے چورت کی ووچی دے راسی څه به
وایی اوڅنګه خبری به وورسره کېږی هسی خومکران د
- موټر د - ډوو ډرو روزو لار وه خود - وسی وخت وو

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

باراڼو اؤ روډو لارې ګودرې وړانې کړې وه هغوې
نيژدې ډوولس ورزې پس يوه ورز ماپښين ناساپه
يوازې راغله ـ ښاغلې ايوپ خان په اودس پسې د ـ
باندې برانده ته وتلې ووتلوارې راغې وه زماپلار
يوازې راروان دې ـ چې راغې کښېنوست د ـ روغ بړه
پسې خبرې وکړه روښتيادا ده چې ښه جوړ اؤ پوه
سړے وو ـ وه «چې داڅه ګانديان جوړسوې ياست ـ»
موږ وه ګاندې څه وې ؟ وه«زه څه خبريم پولټيکل
وايي» نورې خو څه د ـ کارخبرې نه کولې خوداخبره
راکې چې «دلته داکارنسې کېداے هغه دې د ـ نواب
مکسې زوے يوسپ الې يه هم نيولې دې په مستنګ
کې بندې دې هغه هم لاهورکانګريس له تللې وو ـ»
ده ته خومورغږ نه وکاوه خوموږپه ده ډېر خوشاله
شولو چې څه که خيروې يوملګرې موبل هم پيداسو ـ
دغه ښاغلې په وروسته ژوند کې زما سياسي مل
ګرې اوّد ـ بلوچيستان د ـ کامې ژوند ډېر پياورې ـ
ستر اؤ اوچت مشرجوړسو ـ ډېرغښتلې اؤپوه سړے
وو د ـ اوردو اؤ پارسو ښه پوهيت هم وو ـ خوارمان
چې ډېر ژر په (کال ١٩٣٥م ) کې د ـ کوټې په
سپېره زلزله کې لاندې اومړسو په کوټه کې د ـ

کاسیانو په ایدرهٔ کی پټ دی ـ نوری خبری به ؤراندی راسی دے هم ژموږ په بند د ـ مستنګ په جېل کی د ـ داروغه له خولے خبر سوی وو ـ اوپورد ے خبره یه یوهٔ ډیره خوږه سوندره (نظم) لیکلے وه ـ په پاے کی مو مامدیاکوب خان کاکاته وویل چی «پولټیکل ایجنټ چی تاته هرڅه ویلی دی ویلی به وی روښتیا دا ده چی موږ هیڅ داسی بد کارنه کړی دی اوڼے کوو چی د ـ بند اوڼیولو وړوی نوږ خو پرېږده تراوسه خوموږڅه وینایاغونډه هم نه ده کړے» هغه په ده پوے نه سوچی داڅنګه دوے وایی موږهیڅ نه دی کړی او پولټیکل نیولی دی ـ وے ښه دی زه به خپله ګولیستان له ولاړسم اوهلته به تپاس (تحقیقات) وکم نوبه راسم له تاسی سره به هم خبری وکم اود ـ سرکار سره هم ـ ډوے ډرے روزی پس راغی وے «داهیك ده چی تاسی څه جلسه ملسه نه ده کړے نه څه ویناوی سوی دی خوهغه د ـ جومے مونځ چی مو پېل کړی دی اواوس هم هره هوته کېږی اوډیر خلک خوراپه جوش ووړله راځی اوډ ـ خانانو خلمی چی مودومره پارولی اوبدل کړی دی چی ټول ښتاسی د ـ لاری مله دی پلانکی کشر داسی راته ویل اوپلانکی داسی ویل

داخبری خوږخوانه وه » موږپه ده ښیا خبراوډیرخوشاله سولو چی خلګ ملګری نه دی بېرېدلی او پروګرام په ښه توګه روان دی ـ اوده ته موږوویل چی زموږ بېړ څه کولو او ویلو او بېړ څه بده کاره په خلګوکی ژونداوبیداری پیداسوه ده نوته په ده پوړ سه اوپولتیکل هم پوړ که چی داد ـ وخت اوزمانې کاردی ـ اوسرکارله د ـ ده د ـ بندوپلوپه ځاے د ـ ده ژوند مرسته په کارده اود ـ جوړې موږ خوښه اودینی کاردی هر موسلمان بې کوی اوهرځاے کېږی په پاے کې وه «چی زه سرکارته هرڅه چی وایم هغه تاسی ماته پرېږدی زه چی سرکار راغوښتی یم او تاسی لې رالېږلی یم نوتاسی ماته څه وایاست ؟»موږوه چی تاد ـ سرکارله خواڅه راوړی نه دی نوموږ به تاته څه جواب درکو خوتاته موږ داواك درکووچی سرکار چی هرڅه له موږه غواړی چی دابه نه کوی اودابه کوی هغه دی راته ولیکی تاته ده درکی موږ بې په پښتوګوومنو لاسلیك بې کو تېړ وروړه»په ده ډیرخوشاله سو او دا خبره د ـ دهترشاموږد ـ ډېره سوچه پس جوړه کړه وه اوپه روښتیاهم داسی کولوله تیاروو ـ ولی څه څرګنده لارلاژموږ وه نه اونه موڅه

له دوړ (قانون) نه چپ کارکول غوښتل ـ په دینی رنګ
کی خپل د ـ کام د ـ ښښګړی کارسرکارپه هیڅ توګه په
څرګنده بندولاے نه سو ـ چی سهارلپے پولټیکل ته
داخبره کړې وه هغه هم پوے سوے وو اؤ وورته ویلے
وو چی ښه دوے ماتبرباسی چی زه دوے ته لیکلی
ورکم چی دابه نه کوی اوّ دابه نه کوی یا دا به کوی
اوّ دا به کوی اؤ دوے هغه یوسی ګاندی تې ورکی اؤپه
دونیا کی د ـ سرکار بدنامی وسی زه په دې نه تبروزم
زه دوے هم داسی غواړم لکه ته اؤد ـ بلوچیستان
نوړخانان اوسم خلګ ښاغلی مامد یاکوب خان وې
چی زه هم اندیښنو واخیستم چی زه د ـ دې څه جواب
ورکم هغه وخت می څه ونه ویل سړے بیابه یاد ـ ده
اؤیاد ـ لاتې سره خبره وکپے چی هغوے هری جوړی ته
تیار دی خو دا ښتاسی خبره څه د ـ جوړی نه ده که
تاسی جوړه نه کوی خپله خوښه کوی نوزه مو څه له
راغوښتم څه چی موخوښه واے اؤښه مو بللاے کړې
به موواے که موبندی کولاے که بل څه اوس هم
ماپرېږدی تاسی پوے سواست اؤدوے ـ زه بیاڅوکاله
وروسته خبرسوم چی دغه وخت انګریزان هم دې ته
چوړت اخیستی ووچی په دې خوانانوڅه وکو څه بدې

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

کړی نه دی اوښے کوی چی سزا ورکو اُوبندیانپے کو ـ اوُداهم د ـ شکه وتلپے خبره ده چی په ارام نه کنبینی اوُکامی کاربه کوی ـ نو هر څو نرم چی وی که په کامی رنګ کی وی که په دینی رنګ دااوربه دوے راته بلوی اوُخوریزی به اوُخوخلپے په دے خبره کی د ـ واك والانو غونډی هم کړی وے خینو خلکو چی یوپکنبی مّیانسیروډین هم وو ـ دا سلا وورکړے وه چی دغه ډرو څلورو کسانو ته چی لوستی اوُپوه هم دی نوکری ورکی ـ ورکوتپے تاسیلداری (نایب تحصیلداری) چی هغه وخت د ـ هیند وستانی اوُخایی خلکو د ـ نوکری د ـ پپل کولواوچت خاے وو به ورکو اوُبس په ارام به سو خولاتپ داخکه نه وه خوبنه کړے چی یوخودانه ده څرګنده چی دوے به نوکری وکی اوُبل به داشان نورخلګ هم دالار پپل کی موږ به ترکمه نوکری وورکوونه دوے اوُد ـ دوے مشران بیره ول په کاردی چی په ارام کّنبینی ـ

## د ـ پرنګیانوتنبتول اوژموړسزا ـ

ښاغلی مامدیاکوب خان لادلے ووچی ژموږد ـ نیولو شل ڑوزی پس د ـ (جون کال ۱۹۳۰مـ په ځلرمه) ڑوز ناساپه ماپښین ناوخته په پولیس لاین کی چیری چی موږ ناست وو هله ګوله جوړه شوله ـ د ـ باهرنه د ـ پولیسواوسیول انګرېزان اوسران راغله لاری یه راوستلې اوپه ډېر تلوارے د ـ لاین ټول پولیس سره د ـ وسلو اوبیسترو پکښی واچول اوبویه ټله ـ خوپه دے هیڅوک خبرنه ووچی چیرته هوداڼوه خبره وه چی اځګزی سپاهیانې نه بیول موږ هرڅه وس چی وکی په څه خبرنه شولو سباله ووکه بله ڑوز داسپاهیان ماخیګر له راستون شول اوپه دغه ڑوزد ـ لاین پولیسو په انداز (چنده) څه خیرات کړی وو یادمی نه دی چی کمه ښه ڑوزوله کوندی به د ـ لومړی خوردولسمه وه ـ لاین اوسرنورو اوسرانو دغو ټللو پولیسو ته کاته خوپه پاے کے وښش په ګه کی په دے کی دوے هم راورسېدل

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

اؤنېغ د ـ خیرات خاے له راغّله چی زّموږ وبارك ته ښّکاره وو ـ په دوے کی یوهزاره سّپاهی وو چی دېرلوے برّېتونه یه وو د ـ پولیسو پخونی بګړی یه پّرانیستېے وه اؤ د ـ لتهانوپښّتنوپه دولے پېچلے اؤمنجله رنګه د ـ پولیسو پوړجګه خّولی تړلے وه اؤ شانه وّرانه راروان وو چی پوړموږراغی موږ ودراوه اؤپه پارسی مو تپوس ترے وکی چی چیرته تّللی واست؟ ـ سړی خبرراکی چی «د ـ چمن څه څو میله په دے خّوا اڅګزوډ ـ ملك خیرمامد په مشری کی د ـ موټر سړك بند کړی وو اؤدّوه انګرېز اؤسران ـ یومیجرپارلے ـ اؤبل کپتان پریر ـ یوه د ـ میجرپارلے ښځه یه نیولی ووچی د ـ چمن څه کّوټی له ٚپه موټرکی راتّله اوپه ریګ کے خّپل کلی له بیولی دی اؤ هلتے کّښینولی دی اؤوایی چی زّموږدّرے تنه خانان چی سرکاربندیان کړی دی هغه دی راپّرېږدی نوبه موږپرنګیان پّرېږدو» ـ دے سړی چی موږته داخبری کولے لاین اوسر ولید اؤ څو خّلے وورناری کړل وے باله خوده ـ د ـ نربچی ته خبری دومره خّوند وورکړی وو چی ترڅویه خبره پوره نه کّړله هیڅ جواېے ورنه کی چی خبرے پوره کّړله نو روان سو ورغی اؤ په خیرات ګهسو ـ هغوهم څه وورته

ونه ویل ـ ګوندی په دې ګومان چې خبر خو یه ورکی
اوس به څه وورته وایو ـ وړاندی څوروزی موږ په
ځپلوکی پوردې خبره دهغې پورښه اوبداوده هغې پورپاې
(نتیجه) باندی پام کاوه اوسره ګایدوږ ماډواړه ملّه په
دې پېښه خوشاله وو چې زموږپې وینا کوښښه
اولمسونه خلګوخپل په خوښه له موږاوزموږله مراده
سره دومری تړون اومینه ښکاره کړله نویوخوبه
پورمخ زموږکاراسانه سی اوملّه به موډېرسی اوبل به
سرکارهم بیا په اسانه اوهیڅ بې هیڅه لاس نه رااچوی
خوزه په دې پوې وم چې کاروړان سو ـ انګرېزان خوبه
یو پور موږ او زموږ پورکام بدګومانه سی چې دوې
په سمه توګه د ـ کام پوهول اووده نه غواړی لغږ د ـ
انګرېز کامی اودینی دښمنی مرګ ژوبله او وړانې یه
مراددی ـ اوکه نه داهم وی نو پلمه یه جوړه سوله
پورخلګوبه سختی وکی او و بې بېره وی ـ د ـ ډلی
اوغوڼی جوړه ول به ګران سی ځکه زه په دې پېښه
ډېرخوابدی وم ـ وړو وړو د ـ خبری غوږی اوکونجان
هم ورښاته راواته اوموږته هم د ـ اخباروواوسرو څه خبر
رارسېدی ـ خبره داوه چې داکار (۱۸) کسانو اخګرو
کړی وو چې د ـ دې غاړی اواوغانستان د ـ ډوو ډرو

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

پښتو کسان پکښې وو ـ مشرپي مولاخيرمامد نومی هردوزے اڅيګزے وو ـ دغه مولاخيرمامد وه چمن ته نيژدے د ـ اوغانيستان د ـ غاړی ادوزے هردوزے وو ـ د ـ څوکالوڅه د ـ چمن په لوے ماجت کی اوسېده اوّد ـ ملااودول موتليب (عبدلمطلب) څخې دينی لوست کول ـ د ـ ښاغلی غازی مامد نادرخان په جنګ کی چی اڅګزود ـ کندهار پورسکاوّيانو يرغل وکی دے هم سره د ـ نوروملوپکښی ولاړاوښه د ـ مړانی جنګې وکی ـ د ـ جنګه پس بيرته خپلی مېنی له راغی اوڅو مياشتی وړاندی د ـ لوے اخترپه ميله کی ګوليستان له هم راغلی وو ـ يوه شپه يه زما وّرور دودی کړے وه زه هغه شپه کورته نه وم ځکه مادے په درست ژوند نه وو ليدلی اوس می په کال ( ۱۹۵۸ م) کی (۲۷) کاله پس هغه روز په لومړی ځل وليد چه باچاخان د ـ اوغانيستان د ـ جشن د ـ ميلمستياپس د ـ چمن پور لار راتی اومورے مخی له د ـ اوغانيستان پولی له وورغلی وو چی باچا خان راورسېدی اوّرك پورپوله دے غاړی ته موږ ګڼ خلګ ولاړوو اوّهغه غاړی ته د ـ اوغانيستان خلګ ولاړوو اوّد ـ اوّغانيستان يوسرکاری اوّسر لکه چی ښاغلی

مامد وکیل خان د ـ کروندې (زراعت) واك وال وو ـ
ژما د جیپ څه چی ان پوړپوله دې غاړی ته ۆلاړوو
اۉغتې ړغی (لاوډسپیکر) پکښی لګیدلی وو ـ هغوې
ته څه لیکلی په مخه موښه وایه ـ ژما د ـ جیپ څې
څکه وایه چی د ـ هغوې خپل غتې ړغی دالته ۆران
سو ـ دغه ۆخت ښاغلی ازم جان ـ ښاغلی مولوی
غولام هیدر اۉنوړګې هغه کسان هم پولی ته رانیژدې
سو اۉد ـ ماسرې روغ بړ وکی چی د ـ باچاخان سره
راغلی وو اۉڅکه چی د ـ پاکیستانه ټللی دی هلته
اوسی اۉد ــ پښتونیستان لپاره کارکوی نوړ ــ دې
هیواده توړدی نه سی راتلاې په دغه خلګوکی یوپوخ
سوړت مین سیهن سرې ماته رانیژدې سوراترغاړه
وتی وې چی زه مولاخیرمامدیم د ــ دیرشوکالو څخه
د ــ پرنګیانوراۆرك او توړیم ــ دغه مولاخیرمامد
یوه خوړد ــ کلااۉدولاخان په پخواد ــ پیرالی زوړپه
کلی کی د ــ هغه خاې د ــ ملك مامدایوپ ویوه
ۆراره ښاغلی اودول الی ته ودکړې وه دغه اودول الی
هم څوکاله ۆړاندی په کډه اوغانیتان له ټللی دی ــ
اۉیوه بله خوړې ژمامشرۆروړته وورکوله چی هغوې
ونه غوښتله-پښتانه کم خوهینکی خلګ زیات د ــ

www.kitabtoon.com کتابتون پولنه

بل د ـــ ښځوپه هکله ډېر بد خويه زلندھ ـ بدګومانه
اوْ پوچ خولی وی په زّياته بّيا د ـ انګرېزانو چی هغه
وخت د ـ خلکو په زړو کی سخته کّرکه جينی وله ـ اوْ
زّړه يه غوښت چی ډېر زّيات بد وورسره وسی که دوے
په خّپله نه سی کولاے چی بلے وکی هم دوے په
خّوشاليده ځکه خو چی د چين خلګ په سر کی
جاپانيانو انګرېزان نر اوښځی سّپکول ـ لځول اوْ وهل
ټکول نو هيندکيان خلګ به ډېر خّوشالېده چی يو
ايشيايی کام د-انګرېزانو سره داسی بدکولاے سی اوْ
کوی يه لکه دوے چی له موږ سره کوی اوْ بّيا موږ خو
په داسی ځاے کی اوسېدو چی ټوله ابادی يه د لنډهرو
اوْ ناپوهه پوليسو سّپاهيانو وه چی زّياتره پکښی د ـ
پنجاپ د ـ کلو ناپوهه خّوانان وو ـ نو هلته به هره زوز
اوْ تر ډېره وخته د ـ انګرېزانو تر ببرته راتلو لا هم
وّروسته داسی آوازے (افواه) خّورېدے چی هغه پرنګی
ښځه اځګزو شرموله ده اوْ دومره زّياتے يه ورسره کړی
دی چی په درمانتون کی ده ـ چا به لا وے چی مړه
سّوله ـ په دے خبرو که څه هم زّما باور نه کېده ولی
زه د ـ پښتنو په زّياته د ـ غّرو اوْ رېګو د ـ سادھ
پښتنو په خوے خبر وم چی هغوے پّردی ښځه چی بے

وسه لا هم وی د ـ هر چا چی وی ځپله موړ اؤ خوړ
کنی اؤ هیڅ ـــ هم داسی نه ووړسره کوی خو بیا به
می هم ډیره خوابده وه چی که داسی یا د ـ دې یوه
برخه بد هم سوی وو نو دا به اځګزی خو پرېږده په
ډرسته نړۍ کی تهول پښتون کام وشرموی خو روښتیا
دا وه چی مولا خیر مامد دوے چی پرنګیان اؤپرنګی
نیمه ږوز روان کړی وو پورلارے د ـــ یوه بل لاره وی
څخه په زور یواوښ اخیستی وو ـــ اؤپرنګی یه پوړ
هغه سپره کړےوه ـــ ډوولس ډیارلس میله لارے
وهلے وه اؤ په اوغانیستان کے ځپل کلی ته رسولی وو
ـــ هلتے ببله کیږدی وورکړے وه اؤووړرته ویلے ووچی
که زموږ خواړه ځوری خو موږ بے در پخوو تاسے
رابنیاست غوښی ـــ غوړی ـــ کوچی ـــ کوړت
(چیز) ـــ پی ـــ اګی ـــ چرګ ـــ اؤډوډی هرڅه چی
مو خوښ وی اؤکے ځپله پخوی هم ستاسی خوښه ـــ
پورلارے مېجر پارلے یوکوندا‌غ(butt) ډوه وهلی هم
وو ولی چی هغه به وړانے کاوه اؤجلک جلک به نه تی
چی ترشابه څوك خبرسی اؤراوبه رسیږی داخبری ځپله
مېجرپارلے کولے چی بیا ډوه ډرے. کاله پس په
ګولیستان کی زماد ـــ یوه تربوړخاے له د ـــ څاروپه

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ښکارپسی راغلی وو په دغه شپه یاسهار له د ــ انګریزانوسړی هم وررسیدلی وو ــ اوُد ــ مولاخیر مامد سرہ دابندوبس کړی وو چی دوے له به د ــ چمنه خپله پخه ډوډی راځی ــ مولاخیر مامد لکه چی د ــ څرك پورکم خاے چی پرنګیان نیولی وو هلته هم یوخت پړہ ایښی وو ــ اوښایه هم ورته ویلی وو «چی داکار مور خکه کړی دی چی تاسی زمورډرہ کسه خانان ــ خان اودول سلام خان ــ ښاغلی مامدایوپ خان ــ اواودول سمد یے ګوناه سلا بلا نیولی اوبندیان کړی مودی تاسی هغوے پرېږدی نومورېه پرنګیان پرېږدو کنی نو ترخوچی هغوے ناست وی مورهم دوے نه درپرېږدو» انګرېزانود ــ مولا خیر مامد او ستا ښاغلی مولا اودول موتلیب (عبدلمطلب) هم ورلېږلی وو اوپیسے یه هم ورکولے خومولا خیرمامد پورخپله خبره ټینګ وو انګرېزانو زورځکه نه سوکولاے چی یوخوهغوے د ــ اوغانیستان په خاوره کی ناست وو اوبل یے د ــ انګرېزانو د ــ مرګ بېره هم وه ــ خود ــ کابله څخه اوغان سرکار ناچاره کی اوهغومولاخیرمامد تنګ کی چی خوروزی پسے انګرېزان پرېښوول نیژدہ شل

زره روپۍ انګرېزانوورکړې اؤ مولا خير مامد ته د ــ
شپيتو زرو روپو يو کارېز په کندهارکې ورکې چې
اوس هلته باندې پروت دی ــ د ــ مولاخېرمامدپه
ملوکی يو خيرك اشېزې بياڅوکاله پس پرنګيانوونيو
اوښاغلی کرنل شا چې هغه وخت د ــ کوټې پولټيکل
ايجنټ ووپه دغه اؤخينې نوروخبروکې جرګې ته
وړاندې کې اؤنيژدمې شل کاله بندې ورکې ګومان مې
دی چې په هغه بندکې مړسو ــ چې پرنګيان راغله
نوبوې خواته انګرېزانوداتپاس پېل کې چې
داکارڅنګه وسو ؟ اؤپوليس والاچې له خودايه په
زاريوداسې زوزغواړې په زياته يوپښتون اوسر هغه خان
بهادربازګول خان چې ماوړاندې هم يادکړې دی ــ
دـ اڅګزود ــ خانانوملکانوپه زياته زموږ د ــ
خپـــلوانو اؤملګروپه نيولوپېل سو ــ ښاغلی اودول
غپارخان ــ ريساله دار هپېزولاخان ــ ښاغلی مامد
ايوپ خان ــ دا زما بل تربوروو اوس مړدی خوداے
دی وبخښې ښاغلی ايساخان ــ اؤښاغلی اودرهيم
خان ــ خوزموږ په کوړنې کې ونيول
ــ ملك مامد ياکوپ خان پيرالي زے ــ اؤښاغلی
مولامتليب يه هم ونيول داخو څو د ــ سرسړی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

وونوړنوپه سوو اڅکزی د ـــ کوټی اوپښین په جیلونو
کی ناست وو ـــ موږ ډړې سره یه څوړوزی وړوسته د
ـــ بارك څه د ـــ پولیس لاین په هوالات کی واچولو
اوپوره د ـــ بندیانوروې راســـــوه پبل کی ګواوسې
د - نوې سره ونیولو ـــ کتونه یه راڅخه واخیستل ـــ
خوهغه پښوانے. خرڅے راکاوه اوهغه د ـــ پخلی سرے
راسره وو ـــ اخبارونه یه بندکړل د ـــ شپې یه په
خونه کی بندکړلو اود ـــ اودس مات لپاره یه یولوښی
د ـــ خونی په غوړی کی کښیښو و ـــ موږ ې دلته
راوستو هم د ـــ شپې ناوخته څکه هغه لومړی شپه
خوموږ ته د ـــ اودس مات څه اړی پیښه نه سوله
خوګرمي ډېره وه سباله موږ خپل خوراك بدل کی د ـــ
روزی به موچاے اوپی خیښلے ډوډی به موییووخت
ماښام خوړله څکه به د ـــ شپې د ـــ اودس مات
اړی نه پیښېدله ـــ خویوه خواري داوه چی ترموږ
دمخه د ـــ پولیسو یو سپاهی هم په دغه هوالات کی
وو چی راڅخه وې نه یوست دالته وو ـــ داسړے
دومره بد ـــ سپك اوپوچ خولی وو اؤ دومره خبرې
کولے چی ترڅو به ویښ وو هرو مرو به ګایدی که پے د
ـــ ګایدو څوك نه وو نوپے بدلی ویلے ـــ اوهرګاے

خبره اوبدله یې خاماخا ښکنځااوپوچ وو ــ بیباکه دومرې ووچې د ــ شپې خوړبړه ده د ــ روزی یې هم تشی اوغتی بولی په خونه کی زمور. دمخه اوپه ډېره لخه توکه کولې ــ موږد ــ ده له لاسه نه سوسره ګنبېداے که به ګرېدو نوهم به په میان کی رالوېد. وې یې «خان په دې ښارکی هغه پلانکی رنډی چی ده ......

یاهغه پلانکے هلك چی وو. ..........» پاے یه دا چی موږ یه په لومړی روز تر پزی راوستو ــ ماخیګرمولاین اوسر راوغوښت اوهغه ته موږویل چی د ــ دې بلا نه موبچ که خوهغه څه باك په ونه کی وې له موږ سره بل خاے نسته دے هم بندی دی اودلته به وی زه به سباله د ــ کیپتان نه تپوس وکم سباله چی راغی بیایه هم هغه خبره وکړله ــ

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

## د ـ شومیاتیاری ـ

موږووږته وې «چې موږته کاغزکلم راکه موږښاغلی
لاټ ته درخواستووږکوو ـــ» وې « د ـــ څه دپاره
؟» وې موږ«داخپل د ـــ نیولو اۏ خبری په هکله» څه
وخت پسې کاغز راوړې نوموږ لاټ ته ولیکل چی
زموږدلته نیژدې ډوې میاشتی کیږی تاسی ښاغلی
یاکوب خان راولیږه هغه هم واپس ولاړ ـ ښاغلی
یاکوب خانې د ـــ پرنګیانو د ـــ پېښی پس بېرته
ولیږه خپلی نوکری ته ـــ اۏبل له څوږوزوڅه له موږ
سره دوڼه شرمناك اۏګنده سلوك کیږی چی موږ
دانوړنه سوزغملاې سرکاردی یاموږ پړېږدی یادی موږ
میانځګړی (عدالت) ته وړاندی کی اۏ ته ر هغوډی
موږته داسوان راکی د ـــ شپې دباندی ملاسته ـــ
ځان له ځاې ـــ اخبارونه ـــ اۏنوری خبری ـــ کنی
موږ ډرې ږوزی پس شو میا (بهوك هړتال) کوو ـــ
شومیا (بهوك هړتال) که د ـــ څه مراد د ـــ ګټلو د
ـــ پاره اۏپه ناچاری کی خپله خبره په بل چا په روغه

جوړه منلولپاره په زّياته په چاژوړور ــــ ډوډی نه خّوړل اؤ وړی اوسېدل که څه هم اوس وپښتنوته څه نوی کاراؤ د ــــ هېندوانو دوړ ښکاری خوپه لوے سرکی داد ــــ اینسان زات په زّیاته د ــــ آرین کامونو اؤپښتنو د ـ کار لپاره دغه ډېره زړه اؤزوړوره اؤبے ختاوسله راغلے ده هرچابه لیدلی وی چی واړه بچی چی کله په کوړکی په موړ اؤ پّلار خّپله خبره یاهوډه منی نوډوډی نه خّوری اؤ زّیاتره یه موړ اؤ پّلار هغه خبر وه هم منی ــــ یاکله یوسړے په زّیاته زوړورسړے چاته یوشے ووړکوی اؤد ــــ هغه شی بل نیمے یابل شے چی دابلے د ــــ خان ګنی تّرے ګرزوی نوځان خّوښه (خودداره) سړے دانه کوی چی څه که ګرد نه وی دانیم یا لږ هم ګټه ده واپے خّلم ــــ هغه دانیم ګړی شے چی هغه زوړ ورے ووړکوی هم نه اخلی اؤ پّړے یه ږدی که. ګرداکوے ښه کنی داهم نه کوم په ارین کامو اؤپښتنو کی خو دا دومره زوړ دوړ دی چی د ــــ خوداے په کیتاب (قرآن مجېد) کی چی د ــــ ښاغلی براهیم پیغامبر چاردے ښه وی ( ښاغلی ابراهیم چاردی ښه وی نه تازی وو او نه سامی آریا یا پښتون وو ــــ) د ــــ مېلمنوکمه خبره راغلے ده چی هغوے

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

کباب کړی سخوندرکے وړر وّړاندی کی اوُهغوړلاس نه
وړرواچاوه اوُخّورکے پہل نه کی نوبناغلی براهیم خلیل
چی خّپله پښْتوړن یا آرین وودستی شك باندی وکی اوْ
وہ (داڅه دی ؟) زّموړ خوزّړه درڅه راوغوړخېدی ـــ
داځکه چی د ـــ هغوے ګومان سوچی دامېلمانه لکه
چی په څه مّراد شوميادرباندی نیسی ـــ اوړس چی
څوك پښْتوړن چاله ننواتے ورسی نوترهغو ډوډی نه
خّوری چی د ـــ کوړ خاوندہ ننواتے نه وی منلے که
څه هم اوړس خوداکار ننواتی وال د ـــ ډرامے په توګه
د ـــ لړدم لپاره کوی خبره یه مځکی لاغّوڅه کړہ
وی خوپه سرکی داسی وه چی ننواتے به یے له څه خبرو
نابوبره ورغله اوْهم دغه د ـــ شوميايه وسله یے خّپله
خبره په کوړوالامنله ـــ څکه زه شوميا د ـــ بنه
کارلپاره ډېره بنه اوْ پښتنی کارمنم ـــ اوْزوړووره وسله
یه بوړلم ـــ تراوړسه می دّوه خله په جېلوکی وسرکارته
اوْنوړروخلګوته شوميانیوړلے ده یوځل ښّپاړس رّوزی
اوْبل ځل یویشت رّوزی اوْڅوځله می د ـــ شوميا
ګوّابن هم کړی دی چی بیان بہے وّړاندی راسی ـــ
داځل چی مارشلا والوبندی کړم په سی کلاس کی وم
د ـــ مچ په جېل کی د ـــ هغه ځانے واك والانوړد ـــ

نورو بندیانو څخه یه بېل ساتلی وم چی دوے خورابده سزا ګڼله اوماوولجه بلله ــ د ــ اختر په ژوزیوه پنجاپی واکوال بابوسردارمامد د ــ لمانځه د ــ پاره هم پرے نه ښووم نوما سم دستی د ـ هغه خاے پرنګی واك وال ته ولېکل چی له ما سره داډېره ناروااوزیاتے وسو چی هیڅ بېے هیڅے وه لمانځه ته پرے نه ښووم څکه زه شومیانیسم چی د ــ دے خبری تپاس وسی لېږدم پس هغه سردارمامد راغی اوزے پرېښووم ــ د ــ اختردواړی ژوزی می د ــ نورو پېژاندو بندیانو سره په تلو راتلو اوْ اختر موبارکوتېری کړلے ــ چی پکښی د ــ کلات شازاده اودول کریم جان هم وو ــ چی لماڅے مخ له بېل ساتلی وو ــ سباله د ــ پولیسوپرنګے کپتان هغه اوکانر راغی موږے د ــ لین دوترله وغوښتووے «له تاسی سره څه شرمناك سلوك (Obscene) سوی دی ؟ ښاغلی ایوپ خان زموږ په درخواست کی دغه توری لیکلی وو ــ پوردے ډېره څېړنه (بحث) وسوه چی دا سلوك شرمناك نه دی سخت به وی ډیکشنری یه راوغوښتله خوموږووے چی موږے شرمناك بولو» وے «نوتاسی څنګه سلوك غواړی؟» موږووے موږبه د ــ شپے بند

نه يو ـــ نه به په خونه کې اودس مات ته ناچاره يو
دباندي به بيديږواؤد ـــ پخواپه شان ګانټه ډوے به
ګرزو ـــ اخبارونه به راکوي ـــ د ـــ پوليس سپاهي
يابل څوك به له موږ سره نه وي ـــ دايه وليکل اوولا
ـــ ترډروزوزووړاندي د ـــ لاټ جواب راغی چې
پولټيکل ايجنټ به تاسي ژرجرګے ته وړاندې کوي
اوتاسي چې څنګه کيپتان ته ويلي دی هغسی سلوك
به درسره کيږي ـــ داشان د ـــ هغے بلانه بچ سو چې
دومره خواری چې په دغه ډرے روزوکی د ـــ هغه بده
مله (قرين بد) څه موږولېدله بياموپه ژوند کی په
جيلوکی هم نه ده ليدلے ـــ څوروزی نوردلته وويوه
روزے دنولسوتوپك والوپوليسوسه چې څوك مووړاندی
تله اوڅوك وورستته څوك يوے خواته اوڅوك بلی ته
راروان کړو او د ـــ کوټی د ـــ ښار د ـــ مجسټريټ
ښاغلی اميرامدخان کورتے راوستو ـــ هلته موخپل
هغه بل تربورښاغلي مامد ايوپ خان وليد چې ناست
وو اوزموږپه شانے بيان له راوستلی وو د ـــ هغه سرے
سره د ـــ نورو بنديانو ډير بدرورااخيستسی وو ـــ د
ـــ ښارپه بيلو بيلو تانو کے د ـــ نورو بنديانو سره
ترلی وو د ـــ بازارد ـــ هوټلانو څه بيے د ـــ بنديانو

هومره خوراك وورکاوه چې هغه وخت (٥) آنې د ـــ ړوزی وه ـــ چې ټله راټله به په لاسوکی پې هتکړی وراچولې اوډوې چې ټول ارزمن خانان وه دایه په ژوند کله لیدلی هم نه وو ـــ که چیری بېې د ـــ چاپښتانه مړی هم وکی یابېې د ـــ چاپښتانه ښځه بدنامه کړله هم داسی به نه وورسره کېده خوهغه خوبه د ـــ پښتنو ننګ اوشرم وو د ـــ انګرېز سرکارلپاره ترهغوخانانو اوخان خېلو ژړه ساتل ښه وو او دا خل خو د ـــ انګرېزاوډ ـــ انګرېزی ښځی تېښته وه ـــ نو انګرېز سرکار ګوناهګار خو پړېږده د ـــ بېې ګوناه سره هم نرمی نه کوله ـــ دغه وخت هم د ـــ ده په لاس کی کړی وه چی ده د- شرمه یه پټو باندی اچولی وو ـــ اوپټی کړی یه وه دغه ایوپ خان د ـــ کندهارله جنګه پس د ـــ ښاغلی مامد انورخان لېدوله کندهارله ټللی وو ـــ چی د ـــ اڅګزو سر لښکر وو اوټللی هم په ده مرادوو چی که ـــ دغه مامد انور خان له مخی د ـــ هغه خاې سرکار په ښه توګه هوری هستولم نوبه په کېه ورسم ـــ یادمی نه دی چی ژموږ تر نیولو وړاندی واپس راغلی اوکه ژموږ ترشا چی داماره پېښه سوله نویه ونیو ـــ هم د ـــ دوې له

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

خولې خبرښولوچې ژموږ يو کشر ماما ښاغلی ايساخانې پوردې نيولی دی چې د ـــ ښاغلی مولاخېرمامد د ـــ ماری پس هغه موږته د ـــ پوليس لاين پورپته ________ خت ليکلی وو اۆداخبرې پکښې ليکلې وه ـــ اۆهغه خت پوليسوموږته نه وو راکړی چې موږګوا کی دوې داسی ناخبره ساتلی يو چې په هېڅ هم خبرنه يو اۆروشتياداوه چې د ـــ هری ږوزی خبرونه به په اخباروکی راتله اۆيابه ځپله د ـــ لېن د ـــ سپاهيانو اۆ واکوال څخه موږته رارسېده ـــ سردارامیرمامد خان دننه ناست وو موږې يويووورېللو اۆبيانې راڅه اخيست د ـــ مانې د ـــ نامه ـــ پلار ـــ زات ـــ اۆمېنی د ـــ خوشی اۆې ښې سرکاری تپوسونه پس تپوس وکی، چې « ته مولا خېر مامد پېژنې ؟» وې می « نه »«چيری دی لېدلی دی ؟»ماوې «نه» هم داشان ښاغلیايوپ خان ۆروږمی وورته ويلی وو چې «هوکې زه پېژنم اۆلېدلی می دی » وې « ښتاسی اړېکی (تعلقات) سره څنګه دی ؟» د ـــ هغه جواب وو «چې پکارخودی چې ښه نه وی ولی چې هغه ماته ځپله خور راکوله اۆماونه غوښتله په دې خبره ژياتره

پښتانه ځوابدی سی نوزه وایم چی دے به هم په زړه
کی لماځوابدی وی »له دے پس ېیاهم موړپه لاین کی
ناست وو ـــ په دے نېژدے ډوے مّیاشتی کی چی
موړپه لاین کی ناست وو اوسرکارد ـــ اځکزوپه
نیولوپېل کړی وو اځکزی هم ہے غمه ناست نه وو
سرکاری تاوانونه شوکی اوډاکے ہے کولے ـــ اوُد ـــ
هری ماری پس به سرکار لانور هم د ـــ خلګوپه
نېولوزوړوکی ـــ لوپی وړے نیژدے شل ماری وسولے
ـــ چی پکنېے دایوه څه د ـــ خنداأوُد ـــ سرکار ی
خلګو د ـــ کارنمونه اوُبله د ـــ ناپوهه پښتنو د ـــ
ژوند لا نه په کامی لار کی د ـــ پټ کاراوُ د ـــ هغه
د ـــ ہے بنہے والی نمونه ده :

(۱) د ـــ ښبین هغه ترین ای ـــ اے ـــ سی چی
زیاتره به په موټرکی یاپورآس په ډاکوپسی زغاست
اوُچی ډېربه ستړی سو نوہے ماله اوُایوپ خان له بنېرے
کولے چی داګرده د ـــ دوے له لاسه دی اوُ چی چېری
ہے اځکزے ولید نیوہے اوُد ـــ ښبین اوُکوټی په
جېلوکی ہے اچاوه ـــ یووخت په موټرکی د ـــ
دووکسوټوپک والالېویزوسره ګویستان ته روان دی په
لارکی د ـــ سړک پرژی ډوه کسه اځکزی ناہت دی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

اۋد ـــ لهزمه په اوبو اودس کوی ـــ ده موتهروورته درولی دی اۋتپوس مه ترمه کهری دی «چی څه کوی ؟» هغو ومه «چی لاروی یولّمونځ کوو» ومه « چیری ځی ؟» ومه «گولیستان ته خو» ده ـــ ومه «ژراودس وکی چی زه موپه موتهرکی ورسوم» په دومه کی یوداوخت له اودسه اوزگارسوی دی اۋنابلده دی دمه نه پیژنی چی هغه ای ـــ امه ـــ سی دی چی اځگزی سلابلاهم نیسی وورغلی دی اۋپه موتهرکی کښیناستلی دی ـــ هغه بل چی دمه پیژنی اۋپه هسکار لاس مخ خنهه وی چی کوندي دمه به روان سیچی ده لیدلی دی چی مل گری می موتهرته وخوت ۆروغوندی راولاړ سوی دی اۋتوپك تپه دانه وورکمه ده چی ّخوځی به نه دازّما مل راکوزکی ای ـــ امه ـــ سی دخان له بدی سرمه ورکوز کری دی بّیا یه ٞبږغ باندی کری دیچیدا توپك راواچوی نو هله به روغ ځی کنی ولم مو ـــ دلته ای ـــ امه ـــ سی په زارو اۋ دـــ خودامه ـــ نبیپه رو یو پیل کری دی خو سرمه کلك دی ـــ بّیا ای ـــ امه ـــ سی ـــ د ـــ تّرخ نه ۆزرمگ پارکمه (قرآن مجید)راولیستی دی ـــ چی دمه ۆزرمگ کیتاب ته وگوره زه هم پښتون یم مه

مى شرمه وه توپك سركارى دى كې دركم سركارمى د ـــ نوكرى باسى ـــ د ـــ غرواځګزى د ـــ نورو پښتنورنګه د ـــ خوداے كيتاب ته ډېرګوري ـــ سړے څه نرم سوى دى اؤپه پاے كې په دے باندى جوړه كړے وه چى سل ياڅه زياتى روپى چى هغه وخت د ـــ اى ـــ اے ـــ اسى سره وے هغه يه وركړى وے اؤد ـــ خوداے په كلام ے لوړه سره كړے وه چى نه به دا خبره ته بيا يادوے اؤنه ې موږ ياده وو ـــ ته به په خپله لاره ځې په موږ به كارنه لرے اؤموږبه خپل پورلارخو اؤپه تابه كارنه لرو ـــ دالوزهغه وخت خو ډوارو ډلو وپاله خوڅه وخت پس دے ـــ سړى څخه چى په اودولاخان كلاكى اوسېده يو بې پاسه توپك ونيؤسو اؤ دغه اى ـــ اے ـــ سى په جيرګه كى وورله ډېره زياته سزاوركړله ـــ

(۲) د ـــ اؤدولاخان كلاپه تانه كى د ـــ لېويزو په ځاے پوليس اوسېده شاشرپ نومېده يوپنجابې يه تانه دارو ـــ اؤپه سپاهيانو كې لس ډوولس تنه اڅګزى وو ـــ يوه دباندينى اڅګزى داسپايان لمسولى وو ـــ اوپه ګده يه جوړه كړے وه چى په پلانكى ژوز چى پوروسله د ـــ اڅګزى سپاهى نوكرى وى سپاهيان به ونيسو

www.kitabtoon.com كتابتون ټولنه

سرکاری تانه اوٌبازاربه لوټ کړو خود ـــ ده جوړی پس سمدستی اڅګزی سپاهیان څه پې باکه سوی دی چی څه سباخوهغسی هم داماره کوو نواوسپې څه پرواکوو ـــ اوپه ده میان کی به ډوه ډوه ډرے ډرے غوټی غوټی کېده اوٌپټی خبری پے کولے ـــ تانه دارشکی سوی دی ـــ دستی یه کوټی ته تاروهلی دی د ـــ کوټی څخه اوٌسران وٌلاړل اوٌموړلاپه لین کی ووچی دوے یه راوسته ـــ څوٌرخی بندیان وو خوچے باندی پورنه کړل زه وٌروسته په خبرسوم چی داکاردوے کاوه اوٌد ـــ پلانکی په لمسون خوونه سو ـ

په ده میان کی سرکار د ـــ کوٌټی په پولیسوکی ډوه سوه کسه اپرېدی د ـــ شپږومیاشتولپاره نوکران کړل اوٌڅه خایی خلک هم د ـــ ګولیستان شااوخواپه غٌروکے واچول ـــ په دغه اپرېدوکی هم د ـــ یوه پیکټ غٌونهسپاهیان چی ګومان می دی اتلس کسه وو سرهـ د ـــ وسلو د ـــ اڅګزو په مرسته اوغانیستان له واووښتل اوٌوٌلاړ

۲۰ جولایی کے یوهـ روزموږبیاد ـــ ګنهپولیسوپه پارهـ کی روان کړو اوٌد ـــ کوٌټی د ـــ اوڅار سندهمن هال په باغ کے کښېنولو په هال کی جرګه ناسته وله اوٌباغ ټول

زموږ په ملګرو اوخپلوانو ډك وو چې د ـــ بېلوټانوڅې
جلاجلا راوستلې وو ـــ اودلته يې هم هره ډله بېله
کښېنوله وه ـــ لکه د ـــ انګرېز په وخت کې چې به
تل کېده اوتراوسه لا هم کېږي پوليسو هم خپل ګواهان
راوستلي وو چې نيژدې ټول ډروغ جن وو ـــ ټوه ټوه
ډله يې پېشوله اود ـــ خينوسرېې ګواهان هم پېشول ـــ
ترماپښينه ناست وو خوپه دغه ژوززموږ.وارنه راغې
بيرته راوستو سباله يې بيا بوتلو اوڅه ډېر ډرنګ پسې
پېش کړلو دغه وختې جيرګې والوله چايي راوړې وې
اوپيسټرياني چې څه ناشوده خبره وه ولې د ـــ پښين
چمن اوکوټې د ـــ خايي جيرګو غړو ته بې لغړي دوې
بلغمې پيالې شنې چايي وورکولې ـــ خودلته خبره څه
ډرنه وه په جيرګه کې د ـــ ټول بلوچيستان د ـــ
پښتنو د ـــ سرجيرګه بازان ناست اوټول د ـــ شاهې
جيرګې غړي وو ـــ څلورخوپکښې د ـــ اڅګزو غټ
ملکان وو ـــ اونورد ـــ نوروپښتنو ـــ د ـــ سرکار له
خواد ـــ چمن اې ـــ اې ـــ سې ښاغلې سردارنورامد
خان وواوډوه د ـــ پولوسواوسران هغه خان
بهادربازګول خان اوسرداردلدارسينګ چې څومياشتې
وړاندې زمابيان اخيستي وو د ـــ دې پرته نو هيڅوك

www.kitabtoon.com كتابتون پوهنه

هم نه وو ـــ خلک چی دباندی ډېرولاړووهغه یه بند
کړی وو دننوتوسره ژموږیوشانته جامو ـــ ټوپو ـــ یو
شانته رنګو اوخوانو په ژیاته ژموږ پے پروارووزی د ـــ
جیرګے پورغږوډېر برید وکی چی چاپیژاندو هغه
ولاړسول روغ بړے راسره وکی بیاهغه نورو هم روغ بړ
وکی سره د ـــ سرکاری اوسرانو چی کنبېناستو د ـ
مخے چایی راکړے ماداهال دننه تراوسه نه وولیدلی
ـــ ولی تل به بند وو ـــ لغړد ـــ داسی جیرګولپاره
پے کله کله پرانست چی چایی مو وچښلے ماچاپیره
هال ته کتل چی ډېرښکلی جوړوو ـــ ماته مخامخ
لوره ـــ د ـــ رهمان بابا دامیسره په زرین خت لیکلے
وه «په دونیا کی بدی نسته که بدی نه وی له تا»
داسی چاپېره نوربیتونه هم لیکلی وو ـــ چی اوس می
یادنه دی ـــ د ـــ چایوپس سردارمیرامدخان د ـــ
میانځګری (عدلت) کارپه دے راز پېل کی چی
داخوانان د ـــ ګولیستان دی داپلانکے اوداپلانکے
دی‌دوے د ـــ ګاندی ملګری دی اوس به تاسی ته
داسردارساب چی د ـــ پولیسود : اینسپکټر یاډپټی
سوپرینټینډینټ دی سردار دیلدارسینګ د ـــ اودول
سمد خان یوبیان ولولی چی ده خومیاشتی وړاندی

ودوے ته وورکړی دی ـــ دابیان ځپله سردارساب د ـــ بازګول خان په مخ کی لیکلی دی ـــ موږتپوس تړے وکی چی موږ لومړے په دے پوے کی چی پورموږباندی د ـــ څه نالبنت اؤتوردی ؟ زموږداتپوس وه جیرګے ته څه ناپېښه شانته وایسېده ـــ خووے هوښه وایی ـــ خوسردارنور امد خان وے چی خان تاسی ودرېږی ځپله به خبرسی ـــ اؤجواپے رانه کی ـــ سردار دیلدار سینګ هغه زما اوږد بیان په انګریزی لوستل پېل کړ اؤ سردار نوړامدخان به یه مرادپه پښتو وجیرګه ته وایه ـــ چی څے ولوست نوایوپ خان ووړته وے «دابیان خوپه انګرېزی دی اوږېره ښه اواوچته انګرېزی ده اوډ ـــ اوډوږ سمدخان خودومره انګرېزی نه ده زده ـ» سردارجی وارختاسوخووے «دا مالیکلی دی ده به خبری په پښتوپیا اوردو کولے اؤ ما په انګرېزی تهایپولے» ایوپ خان وے چی «نو دا خو ستا خبری دی د ـــ ده خونه دی» وے چی «خان بهادرهم ناست وو چی مالیکلے» ایوپ خان وے «خان بهادرخوهم په انګریزی نه پوهیږی هغه څه خبردی چی تاڅه لیکلی دی» ای ـــ اے ـــ سی ـــ وویل «ایوپ خانه د ـــ پولیسوداومره

www.kitabtoon.com کابتون پوټنه

ښتر اوسران خومو ړ ډروغ جن نه سوبللا ے» اوهغه بیانے
ښیاپېل کی ـــ ایوب خان ښیاوړغاوه چی «داخو ډیری
اوړدے خبری دی اوڅه بده خبره خوتراوسه نه ده پکښی
راوتلے که څه بده خبره پکښے وی هغه وکه چی جیرګه
یه واوری» د ـــ جیرګے والو هم تلوار وو وے «ښه
وایی که څه بده خبره پکښے وی هغه وکه» پوردے
سردارساب یوخاے ووایه چی ماویلی ووچی د ـــ
مو ړسره دادازښاتے سوی دی اوکېړی داخوزمو ړد ـــ
بارولو کاروته دی ـــ «سردارجی په انګرېزی ( To
Leave On Border ) لیکلی وو او خان بهادر ویل چی د
ـــ بارول ویلی وو ـــ نوسردارجی وے چی بارول د ـــ
کوره جنګ ته د ـــ راوتلو مراد لری» جیرګے وال چی
ټول پښتانه وو موسکی سواوېوبل تے وکتل خوڅے ونه
ویل ـــ په دے کی ارباب خودایداد خان چی د ـــ
جیرګے مشراومخ کښه ښکارېده وویل چی له دے
خبروهیڅ نه جو ړېږی خانانوتاسی ګاندی څه کوی ؟ چی
د ـــ سرکارنه ده خوښه پړے یه ږدی کارمه په لری د
ـــ ډروکالولپاره دالاس ګری ورکی چی د ـــ ګاندی
سره به کارنه لری نه به وورله خی اونه به ختونه وورته
لیکی ـــ د ـــ آب خلګ یاست په دے ښے ارزه خاے

کی موږنه یاسټ پیرزوږ ـــ تاسی ګاندی څه کوی بس دانښه خبره ده تاسهے ومنیٰ» نوږروجیرګہے والوهم وہے «ارباب ساب ښه وایی ژموږهم داخوښه ده ـــ» موږ یو بل ته وکتل ایوپ خان وورته وہے «ښه دیٰ چی تاسی ټوِل وایاست موږ به داومنوږ » دوِے خپلی پړېکړی لیکلوږته جوږسوږ خوږمیرنوږرامدخان وویل «چی ارباب ساب داپړېکړه داسی نه کېږی په دہے کی به پوِلټیکل ایجنټ لیدل اوپوښتېدل غواړی» هغه وہے «ښه دیٰ دوِے دی وِلاړسی سبابه بیا راسی» موږبیرته لین له راغلوږ سباله چی راغلوږ جیرګہے ته ورغلوږ د ـــ وورتلوسره ښاغلی نوږرامدخان وہے چی تاسوږته جیرګہے دوهـ کاله بنددرکیٰ اوِد ـــ دووږ کالو پس به بیاد ـــ دروِکالوږ لپاره د ـــ نیک چلانیٰ لاس ګری (ضمانت) وورکویٰ ـــ موږ چی جیرګہے والوږته وکتل هغوږ ټوِلوږ سروِنه کوِز خوږ ولی ووِ مخکی تہے کتل ـــ په دہے کی ارباب خوِدایداد چی نیژدہے د ـــ اتیاکالوږ سپین ږیری سرِے د ـــ کوِټی د ـــ کاسیانوږ مشراوزموږ خانی اوزموږد ـــ کوږنیٰ ښه پیژاندوِے ووِ راولاړسوږ ـــ ژماپه خواکی کښېنوږست په غاړه کہے لاس راواچاوه، ترزنه یه ونیوم اوپه زوږره وږغېده چی تاسی خبریاست

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

چی موږ پې وسه یو پړوند لاتې غوښتی وم چی دوې ډرونه به هرومرو سزاوورکوی چی دوې بخښ (معافی) ونه غواړی سرکارې نه پړپېږدی وه خوداے ته وګوری که به بخښ نه جینی غواړی پرنګیان زوروردی خوداے زوروورکړی دی د ـــ ارز خلک یاست د ـــ ښواو ډرنو خلکو زامن اوٝلمسی یاست دازموږ لپاره هم مخ توری ده چی تاسی جهل ته لېږو خوموږ پې وسه یو په وس کی مو هیڅ نه دی زماپوردې سپین ږیری پښتانه ډېر زړه وسو وورته می وې چی خیردی ارباب ساب که تاسی پې وسه یاست اوانګرېززوروردی خوداے خولوې دی موږد ـــ هغه بندګان یو د ـــ انګرېز بندګان نه یو موږ خان پې وسه نه ګڼو تاسی پروامه کوی ګوری چی خوداے لاڅه کوی ؟ اوتړې راولاړسو چی دباندی راوواتو زما ماما ښاغلی مامد ایساخان یه هم د ـــ موږ سره راروان کی لاین له یه راووست ـ

# ایساخان اوتاریاك (اپیم)

دغه ایساخان چې زماماما اویوکال اوبل نیم تر ما مشر وو — ګوا دغه وخت د — پنځه ویشتو کالو وو — څوکاله پخواپه تاریاکو لېدلی وو — اوپه لږ وخت کې تاریاك دومری زیات کړه چې نیژدې یوه توله یې د — روزی خوړله — ځکه زرد — ژوند د — هری لاری پاته سو اود — ډېروویلو اوپوه کولو پس موږ په کورنی کی مخ له په مړی شمارلی وو — اوچاڅه کارنه په کاوه — ځکه په پای کې ده کوښښ پېل کی چې تاریاك پرېږدی — وروورویه ډېر لږ کړی وو — چې څه وختې د — موږ سره پولیس لین له راووست ده ډیرلږ تاریاك خواړه خوپرېښواې یه ځکه نه سوچې یوځود — نوړو تاریاکیانو رنګه د — خلکو زړو خبرو دومره بېرولی ووچی دایه پوخ باور وو چې که دی بند کړل مړی اوبل د — تاریاکو د — پرېښوولو سره چی د - بندولو سره درداود — ختمی کمه د — څوروزو ورانی اوخواری چی تېرلې ده له هغې نه ډېریرېده — زموږ دا

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

باور وو چی پولټیکل به د ـ جیرګې هغه د ــ بې وسی او ناچاری سّپاربنت په څوړوزی کی منی اومورېه جېل ته لیږی.لېدلی خومونه وو خواوربدلی مو وو چی په جیل کی نشې بندی وی اونشیی سړے په ډېرو کړاوو اخته وی ــ موږ ډرو خو څه نشه نه کوله یوبېړی مو څکولے چی پړېښوولے راته اسانه وو ــ اودالته مولاپړېښولے خود ــ ایساخان راسره غم سوچی د ــ دے به څه کېږی ده له ځان سره د ــ ریلوے تانړ نه چیری چے دے وړاندی ساتلی وو د ډوو ډرومړوزوتاریاك راوړی وو ــ هغه یه خواړه اوزموږ هغه د ــ پولیسو سړے چی پخلے یې راله کاوه هغه به ازاد بازارله تی راتی اوزموږ سوداپې راوړله نودے ډاډه ووچی څه که خیروی چی دا راسره تاریاك وخورم نونوربه راوغواړم اوڅکه چی نیژدے ډوے مّیاشتې د ــ تانړ په بند هوالات کی ځان له تیری کړی وے نیے څوك لیدلی وو او نیے د ـ چا سره خبری کړی وے ــ چی موږته راورسېدی نوډېر خوشاله وو دّرسته ژوزېې د ــ باهر خبری راته کولے ــ خوموږډرو په خپلوکی دا وورته جوړه کړے وه چی دا وورسره تاریاکې تمام

سي نوربه نه ووړله راغواړواؤدې ته يې ناچاره کوو چې
ټرې پاته سي اوَوړاندي په جېل کي دته اوَموږته
کړاونه وي ـــ هغه د ـــ پوليسوسپاهي موهم پوه کي
چي تارياك به نه ووړله راوړې ـــ چي دے درته ووايي
ږوزدوې خودلي دوري پلمې ووړته کوه چي هېر مي
سو اوزګارنه سوم دوکان بند وو ياځه چي دا ووړسره
يه تمام سي نوبه غوټ ووړته ووايو چي داکارنه سي
کيداے پرېږدې يې ـــ اوس لا څه لږ ډېر ازادي سته
موږدرسره يو په درد مرد اؤ کړاو کي به څه کومك
درکوو ـــ سم خوراك به دررسوو درنه پاته به سي په
جېل کي خوښيادا هم نسته ـــ وړو وړو مو پوهاوه اوَ
دې کارته موتياراوه ـــ چي هغه تارياکې ولګېده اوَ
ووړسره پاته نه سو څه وخت خولتي وتکولې ـــ بېلاري
اوخوابدي يه وکړله موږته اوَهغه سپاهي تې ګوابنونه
وکړل خوپه پاے کي ناچاره سو ـــ دږې ځلور ږوزي
خوډېر سخت په زاوال سو ټول بدن يې دومري دردکاوه
چي دږسته ږوزاوشپه به موږ يالاس پښوله زوږ ووړکاوه
کښېکښل به مو اوَيابه موپه چادرانو ووړله ټينګ
تړلي وو ـــ د ـــ خېټي يې ويني راتلې سات په سات

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ې چايي اوتوده شيده چيښلې ډريمه ژوزچي ډېرپه
زاوال سو وه مړم که موتارياك رانه کړل نو زما مشر
ورور چی د — ډېرنرم زړه خاوند اوخواخوږی سړے
دی هغه یه هم سیله پېل کړله اوماتې وه چی خیردی
وربې کومربه سی خوزه اوایوب خان تینګ سولوچی
ورزډوه لاکتل په کاردی ډره څلور ژوزی پس سړے
ښه سو دردہ کم سو خولاپه زاوال وو — د — ده
ښېګړی سره د — سړی یره لری سوله چی که خیروی
نه مړم اوبیایه په خوښه داکراووژغامه اوپه څوروزوکی
سم سړے سو — اپیم جینی پاته سو — نې بیاپه جېل
کی خوږلی دی اوڼه د — جېله پس — په جېل کې روغ
واله نوږهم ښه سو په لس میاشتی کې (٢٣/) پونهه
تول زیات سو — په جېل کی ښه خوشاله اوکلك
ووخوبیاورووسته د — مېرکی په رنځ اخته سو اوس هم
ډېرناجوړه دی ناجوړی چی په سرکی لږوه کله کله
وورپېښېدله ورو ورو ډېره سوله اوډېر ژر ژر
وورپېښېږی نی چی ولی ؟ د — ډیرونشوله مخی اوکه
خکه چی پلارہ هم دارنځ درلود — موږ ډوولس ژوزی
په لین کی نوری تیری کړلې ورو ورو به خبرېدلوچی

هغه نیولی نوړخانان ملکان اۆژموړ. خپلوانې ژیاتره د
ــ نېك چلانی په لاسګری (ضمانت) پرېښوول ــ
اۆښاغلی ایوپ خانې پینځه سوه یازرروپی ډنډ کی ــ
د ــ چمن مولاموتلیب (مطلب) یه د ــ کوټی د ــ
پلو (ضلع) نه ویوست ــ په بوړی کی به اوسی ــ د
ــ ښاغلی مامد انورخان چی په اۆغانیستان کی
ووټوڵ توڵ (جایداد) چی دلې پاته وو یه سرکاری کی
موړ. څلوړ به ډوه کاله بند یو اۆبیابه د ــ ډرو کالو
لپاره لاس ګری ووړکوو کنی ډرې کاله به نوړبند یو.
ــ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

# جېل

موړے یوْھ رْوزد ـــ جوڵایی کال (١٩٣٠) په اوِسترو شْپوکی ماپْښین بْیاد ـــ ګھو پولیسوپه پارھ کی روان کْرو اوْنیژدے ڎْرے میله یه پوږپښو د ـــ کوْتی جېل ته ورسولو د ـ کوْتی جېل چی تراوِسه نه موږ لیدلی وو نه مو کله څه اړېکے ووږسره راغلی وو اوْنه موخه رے پکښی وهلی وو ـــ یوھ بېله دونیا وه ـــ د ـــ باهرنه مولاولېده چی چاپېره لْوړاوم دېوال وو د ـــ اوِسپینی لویه دروازھ یه وه چی کله کله بے پْرانیستله اوْسرانوته یا د ـــ سامان وګاډی ته ـــ د ـــ بندیانوله پاره په لودروازھ کی ووړوکی ورګے (کھړکی) ووچی تګ راتګ له بے پْرانیست اوْسم دستی بے بېرته کولپاوه (جندرھ) هغه یه پْرانیست او موږ ووردننه سْولو ـــ ورګے بېرته بندسو اوْموږد ـــ نوری دونیانه پْرے سْو لو ـــ دننه یوه لوخونه شانته (هال) ووچی هغه بل سرے هم دغونه لو دروازھ اوْداشانته ورګے درلود د ـــ هغے نه هاخْواد ـــ جېل

غولۍ وو په دې لوپه خونه کې څوسړي وو ځینې د - سپاهیانو په جامو کې او ځینې په څه بېل شانته لنډو تنګو جامو کې دا بندیان وو - د - هر یوه په پښو کې څه اوسپنې وې چې دوی به تله او پښې یې اخیستې نو شرنګا یې ختله په نورو خو نه یم خبر چې وار ختاسوی یا بېړپدلې به وی که نه زه خپله چې د - لینه را روان شوم د - وړاندې ژوند په چورت کې څه ډوب شانته وم - خو چورت مې د - ژوند په بنه او روڼا خواکې وو چې په دې بند به اولس وپښېږي بیا به ازادی راځي هېواد به آزادوی انګرېز به نه وی او زموږ به خپل سرکار وی په بېره یا خوابدی نه یم پوی سوی باور می دی چې دغه وخت کې دار (پهانسی) له بیولاے اودغه زړه او دغه چورت می واے هم به په هیڅ خوابدی او بېره نه واے پوه سوی - خو ګرده لاراو تر دغه وخته موږ تهول چوپ وو څه بړغ بړوغ چا نه دی کړی - یوه بندی مونشی په ولاړه ولاړه زموږ نمونه دوی وپوښتل او په یو کیتاب کې ولیکل او یوه بل د - دننه نه څه جامې راته راوړلې وې دا خپلې جامې وباسی او دا واغوندی یو ډوډ نور پښتانه بندیان رانیژدې سو وې هیڅ پروا

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

مه کوی په دې جېل کی هیڅ خواری نسته چی د - کمی رّوزی نه لالا جی داروغه سوی دی په جېل کی نه وهل سّته نه کوټل بس هسی نومې د - جېل دی نور نو داسی دی لکه د پردېسانو (مسافرو) سراے - مور یو بل ته وکتل اوْ ما په جامو ایستلو پیل وکی - کوټ - سدری - (واسکټ) خت (قمیص) اوْ بنین څلور می وایستل او په خاے کې یوه بنده یوه جامه راکړه وې هن دا خت (قمیص) سو د - ټاټ بنانته پنډ - (غټ) ټوکره (دوسوتی) یوشې وو چی نې لستوڼی درلود نه ګرېوان - نه جېب نه لمن - ماچی په غاړه کی زه څه جګ هم وم - لاس چی می تر کموسوړو را ووتل د - هغو ژی می ږیری ته هم نه را رسېدلې - نه لستوڼی وو نه کپونه اوْ نه بّکلی اوګران بټڼ Studds وو چی زه په اموخته وم - سر چی می ترکمه سوړه ووت په هغه کی نه ګریوان وو نه کالر او نه بټڼ - اوږیی غاړه یه وه چی ګرالبې پوره د - یوې اوږې تر بلی شلیدلی وې د - هری اوږې اوْ مخزی تر مّیانې د - مخ اوْ شا پاله نیژدې یوه یوه لوښت تّراتی (چیرړے) وور لګولی وې ما چی هغه بل بندی ته

وکتل هغه دا ټراټې سره غوټه کړی وه پوه شوم چې دا په بټن دی - لمنې ایله د - پرتوګانې تر خایه را ورسېدله پرتوګ چې مې را پورته کې د - هغه ټاټ شانته ټوکره - جوړ د - انګرېزی نیکر شانته یو شې وو خو تر هغه څه تنګ څه پردو مې وکړله - هېر مې دی چې په څه شی اؤ د - خپل پرتوګ په خاے مې دا شے په پښې کې تر کموسوږو چې مې پښې ووتې هغه چې مې راپورته کړلې او پرتوګانې چې د - نوارو شانته یو کلك او لنډ وټې پرې وو د - نور کله په خاے وتاړه نو پایڅې مې ایله په خوارۍ خنګنو ته ورسېدې خو خنګنونه مې پټ نه سو اؤ ما چې په ژوند نه چېری نیکر اغوستی وو او نه مې خنګون خو پرېږده پونډۍ هم چېری د - خلګو له مخه لڅه کړې وه - ډېر وار ختا شوم.سمدستی مې د - لمانځه غم هم سو چې په لڅو ورنو اؤ خنګنونه کېږی خپل د - جګې دړی (قد) نه مې بد راغله خو اینسان ذات د - هری اړی بند راباسی ژر ژر مې پرتوګانې دومره لاندی کې چې په ولاړی مې خنګنونه پټ سول - سر او پښې مې برمنډوو اؤ شاخوا مې کاته چې د - دې به څه چل

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

کېږی ـ هغه بندی یّوه وړوکے چیرړه په لاس راکړّه وہ
واخله دا ټوپیۍ ـ دا هم د ـ هغه ټاټ یّوه غّوبړوره
خّولۍ وه چی خینو پښتنو به د ـ څوڼو د ـ کت ساتلو
لپاره ښه په ناز جوړه کړے وه اوّ د ـ شّپیے ہے په سروله
یا به خینو پښتنو مېرمنو په ژمی د ـ وړو ـ سر اوّ
غّوبړونو له یخه باده د ـ ساتلو له پاره هغوے ته په
سروله ـ په سر کی د ـ ایران د ـ غاړی څه جامه راته
ایسی ـ هغه چی ما په سر کّړله خو نه زّما وه اوّ نه
زّما په سر جوړه سوے وه ـ د ـ تندی خّوا می تر وّرځو
پوری ـ مغزے اوّ غّوبړونه می تر اوږو پکښی پټ سو
خو چی نوړو بندیانو ته می وکتل هغوے له شا پاله د
ـ ګیلګت د ـ ګرمی ټوپی شانته راغښرګه کړے اوّ
پېچلے وه ـ پېزار هغه بندی راته وویل چی خّپل به دی
وی ـ ژر ژر می هغه په پّښو کّړل خو څکه چی پّښے
لاس می برمنډوو اوّ مخزے اوّ غاړه هم تر ډېره ځایه
راته مخ له برمنډ ښّکارېده ـ خو تر اوسه زه په ځان
اخته وم نوړو مّلو ته می نه دی کتلی اوس چی می
ووړته وکتل چی هر یّوه ته ګوړم هغه څه ناپېښه
(عجیب) راته ښّکاری پوړ دے زوړوره خندا راغله ډېر

اوْ ښه مې وخندل اوْ چې يو وار په خندا سْوم اوس نو هر شي ته چې ګورم هغه راته د ـ خندا ښکاري دا زْما خندا په هغه نورو مْلو بنديانو اوْ سْپاهيانو هم ولګېدله خو خبر نه يم چې هغوے په ما پورې خندل که هغوے ته هم د ـ جېل په ټولو شيانو کې د ـــ خندا خْوا ښْکاره سْوله ماخوپه دغه رْوز تر ماخوستنه چې بيدېدم خندل مې کله کله به مې مْلوهم راسره ملګرې وکړله ځکه چې ماته د ـــ پېښورد ـــ خلګويو بودھ رایاده سْوله چې ماچېرې لْوستے وه خوهغه هسې د ـــ چاجوړه کړے ټوکه راته ښْکارېدله اوْپه دغه رْوزمې روښتياوګڼله هغه داچې وايې چې يوسړے اوْ د ـ هغه زوے بنديان سوې وو د ـ جېل په وْره کې چے زْموږپه شان خْپلې جامے ترْے ويستې اوْد ـــ جېل دايه ووراغوستې‌وے هغه سړې په زوره خْپل زوے ته نارې کړل چې «يا پْلانکيه ته څه سْوے چېرته لاړے ؟» زوے يه چې خْواکې ووږسره ولاړوو وورته وويل چې « بابا زه خودايم ته مانه وينے ؟» وے «هن داته يے ما خو وے چې څوك دې» ځانې جامے اوْخپل ټول څېزونه کلم کيتاب ګړې پيسے هرڅه يه رانه واخيستل

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

وہ لیکل اوُیویه وړل اوُموړتے د ـــ دننه غاړی ورګے (کھړکی) لری کی اوُد ـــ جېل غوړلی تے وورکهٔکړلو -

# ښناخته خلک

چې دننه ورغلود ــ ښېښین ګولیستان اوچمن نېژدې ښپېته کسه اڅګزی زیاتره خود ــ تازه شوربت په تورکی اوڅه په نوروخبروکی ناست وو ځینی پکښې ښناخته هم وو ــ نورهم نیژدې سل کسه پاخه بندیان (سزایافته) اوهغه خلک ووچې لایه پرېکړی نه وې سوی ــ رازرازاورنګ رنګ خلک وو ــ هیندوان موسلمانان ــ بلوڅ ــ پښتانه ــ پنجاپیان ــ هیندکیان ــ پوجیان اوښاریان ــ ټول راغونډ سواوښه په مینه یه روغبړ راسره وکی نوره میلمستیا خو هغه وخت په جېل کی وه نه خوڅواخوږی یه ډېره اوپه رازراز راسره وکړله او ډاډېې ډېر راکاوه چې خیردی داجېل اوس ډېرښه دی اوسران ډېرښه دی اوډوډی هم اوس ډېره ده اوهم ښه ده وهل ټکول نسته ــ که دلې یه پرېښووېلاست نوهیڅ خواری نسته ــ

www.kitabtoon.com کتابتون پوهنه

# بېړۍ

لږآن پس یوسّپاهی چی جمادارہ باله د ـــ هزارہ پښتون وږخان زمان نومېده اوېوبندی راغله وہ راخی بېړۍ ولګوی ـــ یوہ خّواتے روان کّړو په یوه کوټه کی ډېری بېړۍ پّړتے وہ جمادارہ چی دوے له سّپکی اوزړہ بېړۍ پکښی وګوره دانوی خوډېری ډّړنے دی بېړۍ یه راولګولے چی یوناپېښه زاوال وږ ـــ په دواړوپّښوکی څه غټی شانته کړۍ وہ چی پوړمّیان یه سروڼه ځله بېل وږ چی په پّښوکے راواچولے نویه په یوه مېخ سره بندی کّړلے ـــ د ـــ مېخ سروڼه یه ښه پکښی وټکول اوٌ پاخه یه کّړل ـــ په دہ هره کړۍ کی بیّاد ـــ اوسپنی ښه غّورسه (پنډه) بنده وه ـــ اوډ ـــ ډّواړوډنډوسروڼه بیاد ـــ وّرنوسره په یّوه بله کړۍ کی یوځاے سوی وږ ـــ چی سرے به ته نوهغه بره کړۍ پے یاپه لاس نیولے وه اوّیاپے په پرتوګانں یابل مّلابندکی بنده کړہ وه کنی نوڼه نسو ټّلاے اوچی کّښېنوست به نوبیے لومړے هغه بره کړۍ رالری کړله اوّبېړۍ پے د

ـــ ځان نه وړاندي ځمکی ته واچولی نوهله به
کښېنوست کنی نه سوکښېناستلای په پړوته
اوځملاستوکی به لابله خواری وه ـــ سړی به پوریوه
اړخ یاده ځملاست اوښی به راغونډ ولی اوبیری به د
ـــ ډواړو ورنو ادمو یا پتولونو میان کی سنبال
اینښوولی اوچی ډېره به بدلوله نوبیا روبي
بیری سنبالولی بیابه پوراړخ اوونت ـــ د ـــ شپی یاد
ـــ روزی چی به بندی ګرزېده یاخوځېده نوشرنګابه
ختله خکه چی یوبندی به ډېره بدلوله نوربه هم زیاتره
وورسره وېښېده ـــ په تول د ـــ اووړ اوړ نهو پونډو یا د
ـــ دړی نیمواوځلورنیموسیرو ترمیان وه چی په تنګ
راتنګ کی اوهسی یه هم وړل اوګرزول ښه ګران کارو
ـــ یوزاوالی لاداووچی اوسپینه وه په یخ اوړمی کی به
ډېره سړه سوله اوپه ګرمی او وورې کی به تودھ
سوله جامی خوهله هم نیمګړی وه اونیم ځان به لڅ
وو نود ـــ شپی په هررازډرانه خوب کی چی به دا
یخه یا ګرمه بیری د ـــ برمنډځان سره ولګېدله سړی
به هرومرو راوېښ کی ـــ ترڅولو لوتماشه اوخواری
خولاهغه وخت وه چی سړی به لامبل یابه جامی بدلولی

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

ـــ د ـــ بېړوسرۀ د ـــ پښتونه د ـــ پرتوګ ایستل د ـــ شمارې اوځاے مېچي (حساب اوجومیټري) لوبنده (سوال یامعمه) وه چې زړوبندیانوبه وورو نه ښوولو نوی بندی ګرسره نه سوایستلاے هم داشان بیرته اغوستل ډېرګران اوزاوال جن کاروو ـــ په ژباته د ـــ کچه بندیانوړ ـــ پاره چې خپل لوے لوے پرتوګونړے اغوستی وو ـــ لارې داوه چې لومړے یې یوۀ پایڅه وړو وړو د ـــ کړی اوپښپے ترمیان ترهغه لرځاے وایستله اوبیایې د ـــ هغې پښپے نه وکښله اوخالی پایڅه یې بیرته لوړهترراویستله ـــ بیایې هم داشان ټول پرتوګ د ـــ هغی بلی پښپے اود ـــ کړی ترمیان وړو وړو اوپه زاوال یوست ـــ هم داشان یې اغوست د ـــ پښوکړی چې به د ـــ برمنډی پونډی اوبیجلکی یابډی سره لګېدله نوهغه یې غوڅوله ترڅوچې به د ـــ پښپے دغه ځاے په بېله کپړۀ خرمن یابل شی کی بنده نه وو اوکړی به په هغه پوری داسی نه وه تړلے چې ښوړېدۀ به نه ـــ د ـــ پښپے دغه ترونکی شی ته یې چموټه ویله ـــ

لنډه داچې د ـــ جېل د ـــ ژوند نوری ټولی خواری

ـــ د ـــ خوړو ـــ د ـــ جامو ـــ د ـــ بیسترې ـــ د
ـــ ځاې د ـــ سپړو ـــ اوْد ـــ کاریوې خواته وې اوْد
ـــ بېړو یاجولان زاوال بلی خواته ـــ سیواله بندښته
(قید) اوْد ـــ جیل د ـــ اوْسرانوډ ـــ سپکوسپوړو
وینااوو اوْبد روښت نه بله یوه خواری هم د ـــ بېړوپه
سرنه وه زه دلته داتول خکه لیکم چی اوس چی په
جېلونوکی داشے اوْډېری نوری خواری نه دی پاته سوی
نوکوموخلکوچی یاجېلونه نه دی لیدلی اوْیاکے لیدلی
هم وی نوډااوسنی جېلونه یه لیدلی دی ـــ هغوې په
دې پوې سی چی د ـــ هیواد دااوسنی ازادی چی
دوې یه ګټی خوری په هله اسانه د ـــ انګرېزانوڅخه
نه ده اخیسته سوې داد ـــ زرګونواولکونوکام دوستو
خوانانو د ـــ زړه په وینواوْد ـــ بدن په غوښوګټله
سوې ده ـــ اوْنن چی کوم خلګ د ـ کال ۱۹۳۰م اوْ تر
هغه وړاندی کامی پتنګانو ته خاې بې خایه اوْ وخت
ناوخته ـ په ډېره اسانه د ـ هېواد د ـ ډروهی د ـ کام
دوښمن اوْکام خرڅی وایی هغوې په دې پوې سی چی
کومی خواری چی دوې وړی دی دا د ـ هېواد کام اوْ
دین د ـ زوړوی اوْ لیونی مینی په چپه د ـ بل هیڅ شی

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

لپاره نه سی وّړل کېداے ـ نه د ـ دولت نه د ـ نامه اوْ
نه د ـ چا د ـ زړه (خاطر) لپاره دا کېراوونه ګلول کېږی
اوْ کومه آزادی اوْ هېواد چی چا په دومره خّوارو زارو
ګټلی وی هغه بیا هیڅ کله د ـ هغه هېواد اوْ ازادی
دوښمنی نه سی کولاے ځکه خو زمّا خوّلې له هیڅ
کله هم د ـ هغه سړی بد نه دی راغلی چی هغه د ـ
کال ۱۹۳۰ نه وّراندی د ـ انګرېز سره ډغره وهلې وی
یا یه په بله توګه هم کامی کار کړی که به وّروسته
هغه په هره ډله کی وورّما زړه پے پے واکه ارزکاوه اوْ
سر پے وورته ټیټاوه ـ لکه د پنجاب ښاغلی مولانا زپر
الی خان یا ښاغلی حسرت موهانی خوداے دی دّواړه
وبخښی ښاغلی مولانا اوْدول مجید سالیك ـ خوداے
دی ښه وورسره وکی اوْ ښاغلی مولانا غولام رسول
میهر خوداے دی د ښو لپاره اوږد ژّوند ورکی ـ چی
بیړی یه را ولګولې چا زاړه بندی څه تّراټی یا چیرړے
راوړے چی پورّښې یه راله وتړی چی کړی یه خّوږ نه
کی خو هغه دومره خیرنی ګنده اوْ سّخا وے چی ماونه
تړلې ـ اوْ په لږ دم کی می بیړو ښې راله زخمی کړے
وینی تر روانی وے ـ

## بیستره

د ــ بېروپسې بېابل خاے له بوتلو چې بیسترې واخلو هغه چې راکړې دابېاترټولوناشوده څیز وو یوخویوشے ووچې بندیانوتړپرې باله د ــ زړو بورو اوزړو سخاتورو شړوواړه اولوے ګودړانې یوپوربل تړپلي اوګنډلي وو لکه ډېرخوارپښتانه چې زیاتره د ــ سپي یابل څاروے لپاره لاندیستونې کله کله جوړکي ــ د ــ غوایي آس ــ یاخره څل خو ډېر تړې بنه اوپوړتوګه وی ــ وروسته بېازړوبندیانوراوښوول چې داتربیستره لاندی اچوی ګوا دا نالی وه ــ ډرې یاڅلور زړې هغه توری کمبلی یاشړی وې چې موږبه د ــ غوایو ــ غوا ــ او آس د ــ څل استرکولې ــ د ــ دې سره یه د ــ ترازود ــ پلو (پلړه) شانته یولوے اویووړوکی ډوه زاړه کوډی پــه لاس راکړه چې سرترپایه په زنګوتك سره وو ــ بندیانوتاسری بلل ـ دامود ــ خوږوپلېټونه ــ د ــ اوبوګیلاس ــ د ــ

www.kitabtoon.com کتابتون پوهنه

اوْدس اوْایستینجابدنی ــ اوْد ــ سرد ــ تیلو (عطرفلیل) ښیښې وې ځکه چې داتول کارونه هم په دغو لوښوبه کېده بل نه څه لوښي دوې راکاوه اوْنې پړېښوو ــ

## روټی

په دې کاروکی نیژدې ماځیګرسو — که څه هم د
— دوبی لوېی ږوزی وې څلور څلورنیمی بجې به وې
چی بېغ سو چی ډوډی راغله پېل (فایل) لیکه سی
موږته هم چاوویل چی داخپل لوښی ومینځی اوډوډی
واخلی — زه چوږت اخیستی وم چی داکوډی که
ومینځل سی نوڅه اوکه ونه مینځل سی نوڅه موږوې
چی ږموږ خوداوخت روټی خواته نه کېږی اوښې خوږو
ږموږدابل چاته ورکی وې نه داسی نه کېږی خپله
ډوډی به هروموږواخلی اوبل ته بې نه وورکوی چی
خوری هغه وخوری نوره به وړی په هغه تیم کی بې
چپه کوی — نوموږهم په لیکه کی د — نوروسره
کښېناستو — ډوډی راغله دوې ډوډی چی که څه هم
ښې اوسمی پخې وې خوږکه چی څه بل شانته پېږړی
پېږړی جوړی وې موږته څه ناپېښه ښکارېدې
وورسرې څه دال وو چی خوږک خوږېږده ماوورته
کتلاے هم نه سو — داموواخیستل اوپه تیم کی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

مِوواچول څکه مِوهم نه ده په کِړے ــــ په دے تهِول وخت کی په دے هرڅه پِوری زمِوږ خنداهم هغه شان چالِووه خِوماچی به دے نِورِومّلوِته کاته څه ډېرکِوِرم. جن اوْغم جن راته ښکارېده ــــ ما له لکه چی د ــــ هغه بندو (ضبط شده ) کیتابولِوست په ښه راغله چی د ــــ هغوِپه لوستوِزه څه نه څه د ــــ جېل په ژوند اوْد ــــ کامی لاری په خوارو بلد سوی وم اوُ دا هر څه می په روهوستركوزره منلی ووځکه هیڅ رازغم هم راباندی نه وو ــــ خودے ته چورت اخیستی وم چی دانوی اوْد ــــ داسی خوارو ژوند به پیىنځه کاله وکلوم که نه ؟

# پاخانې اوْاوْدس

د ـــ ډوډۍ پس نوروبندیانو سم دستي خّپل لوښي په
رېګ چي د ـــ نلکې په خّواکي پرّوت وو ومینځل د
ـــ اوْدس مات اوْاوْدس په تکل سو موږتې هم وویل
چي ژرژرلاس مخ وکئ چي بندېږو ـــ ماشاخّواوکتل
هغه یّوه نلکه چي د ـــ غولي په مّېان کې وه بل څه
د ـــ پردې ځای نه ووچي تپوس مې وکئ چي ـــ
ایستنجابه څنګه کوو وې داد ـــ خّورك په دې لوی
لوښي کې به اوبه واخلې پاخانې له بې یوسې اوْکاربه په
وکې ډېرمي وارختاسوچي دابه څنګه کېږي چي پاخانې
له وّلاړم هغه هم ډېرې پردې اوْګنده ځای وو ـــ د
ـــ نېژدې ډّوه سوه کسو لپاره یّوه پاخانه وه چي
پینځه شّپېږخانې یه لرلې ـــ خلګ به چي تّله نویود ـــ
بل مخ ته به تېرېده اوچي څه کسان به دننه وو نوربه
باهرووږته ولاړووچي یوبه راووت بل به ووږته.ډېرمي
بدراله خّوامي شّنه سّوله اوْزّره مې راته وویل چي
داژّوند د ـــ تېرېدونه دی ـــ تردې مرګ زرځله ښه

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

دی ــــ خوږمیاشتی وړاندی په هیند کی د ــــ لاهور د ــــ سازش ځوانانو بندیانو سردار بګت سینګ اؤ د هغو ښاغلو ملګرو د ـ دې لپاره خپله اوږده شومیا (بهوك هړتال) نیولې وه چی کامی بندیان (سیاسی قیدی) دی په جېل کی ښه اؤ د ـ سړو په شان ساتل کېږی اؤ د ـ ښاغلی جیتندر نات داس بنګالی د ـ بې وخته ځوانی مرګی پس چی د ـ ٦٣ ږوزو د ـ لوږی اؤ د ـ جېل د ـ اؤسرانو د ـ وهلو ټکولو اؤ زوږ کی خوراك وورکولو پس مړ سو سرکار د ـ دوې خبره منلې وه اؤ د ـ بندیانو درجه بندی (کلاسپیکېشن ) یه پېل کړی وو ـ دا می تر زړه وکښله چی مل ګرو سره به خبره کوم اؤ سر د ـ سبا نه به شومیا پېل کوو ـ اؤدس مات اؤ ایستینجا دوې خو پاته سو بیرته راغلم اؤدس می پوره نلکه وکی اؤ مل ګری می د ـ پاخانې په شان خبر کړل ـ

# ګینتي

په دې کي بړغ سو جي د ـ ګینتي لپاره لیکه سي ـ هر بندي خپله بیستره نغښتې را واخیستله د ـ بارك په خوا کي یه شاته کښېښووه اؤ وړاندي ووړته په لیکه کي ودرېدي نورو ته خو خپل ځاے پخوا لا څرګندوو زموږ له پاره یوه هندو بندي چي ټاکرداس نومېده د ـ جمادار سره څه خبري وکړې ـ اوبیا یه راته وویل چي تاسي به څلور سره یو ځاے زما په بارك کي یاست نور خلګ د یوې لاري مل ګري په یوه بارك کي نه پرېږدي بېل بېل یه اچوي خو ستاسي له پاره ما لالاجي ته هم وویل اؤ اوس مي د ـ جمادار سره هم خبره وکړله تاسي به یو ځاے یاست ـ موږ ډېره ښې ګړې ومنله اؤ تر اوسه یه هم منم ولي د ـ دغه سړي اؤ خینو نورو بندیانو په ښه ځواني اؤ کومك زموږ د ـ جېل دغه لومړي اؤ ډېري زاوال جني شپې څه په سوان تېري سوې ـ نوموړ هم خپل د ـ بارك وړاندي

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

په لیکه کی ودرېدو ـ جمادار اؤ یو سپاهی راغله د ـ تولو بیسترې په پرانستې اؤ وې شنلې ـ بیا یه د ـ هر بندی بیړی وکتلې چی روغی دی ـ د هر یوه پوره بدنې لاس وتپراوه چی څه څیز خو ووړسره نسته بیا یه د ـ یو کیتاب څه د تولو نمونه اخیستل اؤ هغه به جواب وورکاوه بیا یه لکه پښونه یو یو شمار کړو ـ نو هله یه د ـ بارك ور لری کی اؤ موږ یو یو د ـ خپلی بیسترې سره دننه کېدو اؤ جمادار بیا هم شمېرلو ـ لمر لا لوړ ولاړ وو چی ورې راپسی ـ بند کی ـ

# بارک

دا بارك په بڼه لس پله (فټ) اوٌ په اوږده به شپېته يا اوٌويا پله وي ـ يو ور اوٌ په اوږدو کې مخ اوٌ شاته ډوډې ډړے ورکى (کهړکی) وه ـ لوړ هم نيژدمے لس پله وي ـ لکه د ـکوټې ټولی پخوانی سرکاری ودانی د ـ اومو خنبتو جوړ اوٌ سره چادر وي بده يه لا دا وه چی نسې په پخو خنبتو پوخ کړی وي چی هغه څوك کښېنستلی اوٌ څوك بره پاته وه خکه کډی کډی وي ـ چی د ـ بنديانو د ـ هغه نيمګړو بيسترو له مخی د ـ مّلا ستلو لپاره ډېر زاوال جن وي

ـــ د ـــ ورّه په خّواکې نغری شانته يوځاے په سېمنټو پوخ کړی وي په هغه کی يولوے د ـــ اوسپنی زنګېدلی ډول د ـــ اوبو ډك پروت وي چی د ـــ شپې به بنديانو چنبلې لاس مخ اوٌکله پې سهارد ـــ اړی (ضرورت) لمباهم په کوله ـــ ټوه سرتې يوبل ور وي چی هغه د ـــ شپې لپاره پاخانې ته پړانيست کېده ـــ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

داپاخانه دوړمری خوښه وه چی د ــ بارکه بېله اوپه
پردې وه خود ــ شاپاله یه بیاهم پردې نه درلوده خالی
د ــ سیخانوجنګله وه ــ چی دباندی د ــ شپې د
ــ پارې د ــ سپاهیانو څخه پنانه وی ــ اوپه ژمی
به د ــ کوټی په یخ کی ډېره زاوال جنه وه په بارک
کی دننه ډوې بوخاری (انګېټھی) د ــ ژمی د ــ
اورلپاره هم وې هغه وخت په کوټه کی بریښنالانه وه
ــ د ــ روڼالپاره یې د ــ شپې لالټین بتی دوې بلولې
چی بندیانوته خوهېڅ روڼانه رسېدله خود ــ پارې د
ــ سپاهیانو به د ــ ورکواوورہ ترسوړو چی هم د ــ
دې لپاره یه پکښی جوړکړی وو د ــ بارک نس
اوبندیان لېده ــ چی دننه راغلونوهغه هیندو بندی
چی بیا وروسته موږ په خبر او پوې سو چی لمبردار
وو راغی اویوې ډډی تې موږته ځاې راوتاکه ــ
نوربندیان یه له هغه ځایه بېرته کړل اوموږتې یوپه بل
پسې د ــ ډروبسترو هوړمره ځاې رااوزګارکی څکه
چی په جېل کی بندیان تراندازه زیات وو ــ تول خلک
په یوه لېکه کی نه ځایده چی پښوته څه ځاې د ــ
تک راتګ اوتېرېدو لپاره خالی واې اوځینی کسان به

د ــ نورو د ــ ښنوپاله بیدېده په موړکی دغه ځاے
ښاغلی ایوپ خان په خوښه ونیو چی که څه هم د ــ
خلکوړلاره وه ــ خوځه هوار ( هموار ) شانته وو ــ
دغه جېل د ــ کال ۱۹۳۵م په زلزله کی ونړېدی
اوانګرېزانو یه ده ر ــ تګ وړاندی پور ځاے د ــ
هغه زاړه ځاے په ځواکی په نېژدے دوه لکه روپی
دېربښکلی د ــ نوی نمونے پوځ د ــ زلزلے خوندی
(زلزله پروف) جېل جوړکی ــ
دننه چی وَلاړو خوداے دی ښه وورسره وکی تاکرداس
اوَ د ــ هغه یوبل پنجابے مل نورمامد بابو چی د ــ
پیپلزبینك د ــ دېرشو زروروپو په غلاکی بندوو ــ
موړترښه ناوخته پوری د ــ خان سره کښېنولو اوخپله
دوډی چی دوه د ــ خمادارپه مهربانی دننه راوړه
وه څه پی اوَد ــ تماتروواوپیازو چټنی چی دوے په
غلاجوړه کړے وه ــ اوَخپل لوښی چی ووهغه د ــ
جېل تاسری کلیبی (قلحی) یه باندی کړے وه ــ اوَیاد
ــ تین دبی وو دایه راشریکول خوزموړ هیڅ خواته نه
کېده ــ د ــ دوډی پسے ښایوهزاره او یو موشتاك
نومېده هیندوستانے بندی راوبلل څه بدلی مرلی یه

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

وویلې ــــ تاشې په غلاساتلې وو یوسات موږپه هغه لوبی وکړلې اوېود ــــ بل په تپوسوڅوك پې ؟ د ــــ کوم ځاے پې دلته څنګه راغلی پې ؟ اوځوسزادی ده څنګه کښېوتې اوچا سزادرکړله؟ په داسی خبرو وخت واړاوه ــــ یوبنګالې مداری وو هغه د ـ تاش څه نابلده چمونه راته وکړل چی لمونځونه وسو اود ــــ خوب وخت سونومونږ راولاړسو خپل ځاے ته راغلو ـ نومامل ګری وږغوه ل چی راسی څه سلا خووکو اوس به څنګه کوو ؟ داژوند اوداخواری به څنګه تېروو؟ هریوشې یه تربل بتردی ــــ خوراك ــــ ځاے ــــ بیستره ــــ جامې ــــ جولان ــــ پاخانه ــــ یوشې یه هم د ــــ زغملونه دی ــــ زماخوداخوښه ده چی موږد ــــ سباڅه خبرورکو او شومیا ونیسو چی موږ څه غله تورــــ پیناتیان اوبدچلنه بندیان نه یو چی سرکار سزاراکوی موږپه کامی (سیاسی ) کارکی بند یو د ــــ موږسره دی د ــــ کامی (سیاسی) بندیانوروکېږی ــــ زماکلکه هیله ده چی لکه په پولیس لاین کی چې زموږ خبره ومنله اوترپایه یه ترنورروښه او رو راسره کاوه اوس پې هم ومنی کنی نوترده ژوند خومرګ سل ځله ښه دی

ــــ خوچې ماخبره وکړله اؤیوبل ته مووکتل د ــــ سړوخبره خوښه نه شوله ـ ښاغلی ایوپ خان وویل چې موږ له یو وار اپیل کول په کاردی اؤد ــــ خپلوانوسره لیدل پکاردی موږبه اپیل وکو اؤ هغوے به هم کوښښ وکی که سرکارپړے ښوولوخوښه کنی نوبیابه شومیانیسو ــــ چې مادانه کړله خوښه اؤ وورته می وویل چې سړوچاته اپیل کوی هغه پولټیکل دی اؤهغه لاټ کمیشنرچی په هرڅه خبردی کے اپیل منلاے نو یه بندی کولوڅه له ؟ اؤ په دے اپیل مپیل کی به ډیر وخت ولګیږی اؤ دا ژوند خو یوه روز هم مرګے دی ـ نو مشر وروړ می ډیر په خنبم راته وویل چې ولی تا خو د باندی ډیری خبری کولے اوس په یوه روز بیا تنګ شوے دا نور بندیان هم زموږ رنګه سړی اؤ زیاتره پښتانه دی ـ چې دوے دا ژوند تیرولاے سی نوموږبه ولی نه سو تیرولاے تلوار نه دی پکار هیڅ یے هیڅه تر دے ځایه راورسیدو اؤ هم تا راورسولو اوس زغم پکار دی چې د ـ باهر خلګ ووینو اؤ خبر تړے واخلو بیا به ګورو ـ زه پوے شوم چې زما لار نه خوښوی نو چوپ شوم ـ اؤ خان ته می دا ډاډ ورکی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

چې څه دا جېل اوْ د ـ جېل ژوند خو هم د ـ هېواد
يو ه ځانګه ده اوُ کې تاسی ته ښه کلاس درکی نو د ـ
جېل په ژوند اوُ خوارو به ههو خبر نه سې ښه دی چی
څه وخت په دې خوارو کی واوړی دوے به هم تنګ اوْ
په شومیا به ست سی اوُ د ـ جېل په ژوند به هم څه
خبر سو ـ موږ چی د ـ راتلو سره کمه خندا پیل کړې
وه هغه تر دغه وخته هغه شان روانه وه ان چی پریوتو
ښاغلی ایسا خان چی ایوپ خان ته وکاته چی زموږ د
ـ پښتو پاله د ـ جېل په بیستره کی پروت وو ـ وې
ارمان چی ای ـ اې ـ سی تورېت چی د ـ ایوپ خان
پلارو اوس راغلی واے اوْ تې لیدلی واے چی په
داسی شانداره بیستره کی پروت یې پور دې
موتردېره خندل بیابیده سوی یو ـــ شپه یوډول تېره
سوله سهارسووختی پاڅېدم د ـــ اوبوله ډوله می په
څه خواری لاس مخ وکړل چی لمر پور ختو وو جمادار
راغی ورې پرانیست رادننه سو موږې لکه څاروې
شمارکړو بیاموبیسترې ونغښتلې باهرمود ـــ دیوال
سره لیکه کښېښنولې ـــ لږدم پس د ـــ ډوډی بږغ سو
ـــ ډوډی اوُڅه سبزی مو واخیستل اوُبیاموهیڅ خواته

نه کېده په تېین کی مووا‌چول ـــ د ـــ ډوډۍ سره
یوچوکے وّریتی چنهې هم راکړلے که څه هم باهرهم
پښتانه واړه اوّزاړه وّریتی چنهے خّوری خوژّموږداهم
خّواته نه کېدلے خوچنهے نوروبندیانوته وورکېداے سّواے
اوّ بندیانو غوښتے هم هغه مو خله ورکړه ـــ
دارازموږ شّپږ اووه رّوزی هیڅ شے نه سوخّوړلاے هسی
شامه ګرزېدلو ـــ یّوه هوته پس موچنهے لږلږ پېل
کړه اوّیوه هوته موهم په دے ګوزاره وکړله بّیاوّرو
وّروپه ناچاری مود ـــ جېل ډوډی پیل کّړله چی بده نه
وه ـــ ولی دغه وخت د ـــ جېل سپرنټینډنټ یوپوجی
مېجر انګرېز ووچی کارخود ـــ سیول څیری جه ن
(سیول سرجن) کاوه خوجېل هم وورسره وو ـــ
داسړے د ـــ بندیانو د ـــ خّوړو ـــ جامو ـــ ډوے په
هکله ډېربنه اوّسخت وو ـــ دالاندی هیندوان
اوّموسلمانان اوّسراڼے ډېرسخت بېرولی وو ـــ اوّغّلایه
نه سّوه جینی کولاے نے بندیان وهل تهکولاے سّول چی
بندی به څه نالبنت وورته وکی بنه بے اروېدو چی
چااوّسربه ګّرمه په کړه وه هغه وخت بے د ـــ
بندیانوله مخه وّراته ترده چی یووخت شمشېرسینګ

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

یوسیك ډاکتریوبندی د ـــ ایتوار په ږوز ځکه وواهه
چی بندی وه زه ناروغه یم ډاکترپه ګیلاس کی څه
دارو واچول بندی تہ ول خوله وازه که اوهغه دارویه
پکښی وورواړول ـــ بندی هغه تېرنه کړل بېرتہ
راتوکړل وه داخوکونین دی اوزه کونین نه خورم دارو
ـــ بندی د ـــ خولے نه د ے ډاکترپورمخ اوبیره
ولګېده ډاکتریوکه ډوه پړکه پورمخ ورکړل د ـــ بندی
پزه وینی سوله ـــ خبره ولاړه راغله خو هغه بندی د
ـــ پوزی په وینو خپل خت لړلی وواوپټ کړی یه وو
سهارچی د ـــ ګول په ږوز پرنګے د ـــ نورکله په شان
راغی اوبندیان تول وورته ولاړوو ـــ هغه بندی چادرله
ځانه لری کی اوپه وینولړلی ختہ ښکاره کی پرنګی
چی ولېدنوربندیانہ په ځاے پړېښووهغه له ورغی
ډاکترچی داولیدل ژرژر د ـــ هسپتال خواته روان سو
چی د ـــ جېل نه بېل په جلاهوېلی کی وو پرنګی چی
د ـــ بندی خبره واورېدله نېغ په ډاکترپسی هوره
ورغی اوښہ سپك کی ـــ ځکه د ـــ نوروجېلوڅخه
چپ داجېل ارام وو ـــ همہ خواره ښه وو ۔ هم وهل
ټکول نه ووپکښے سرېښته (انتظام) په زیاته د ـــ

درمانتون سرېښته په دومره ښه اوپورتوګه وه چې بندي به د ــ شپې ياد ــ ورځې هروخت رنځورسو هغه دم به ډاکټر ورته راته اودرمان به ې کاوه ــ د ــ جېل دغه ډاکترچې کارخويه په سيول هسپتال کې کاوه ــ اوجېل ورله پينځوس روپۍ مياشت ځياتوب (الاونس) ورکولې اويوکوړ ې ورکړی وو ــ ډېره خله ټيك پوروخت يوار سهار او بيا ماځيګر جېل ته راته او ټولو بنديانو رنځورانو له يې دارووورکول بيابه ته ــ د ــ شپې که څه هم د ــ جېل په کوړ کې نه اوسېده په ښارکی به وو ــ خوموټرسايکلې ساتلې وو اوکوړته نېژدې يه د ــ ټليپون څه بندوبست کړی وو چې د ــ شپې به چابندي نالښت وکي جېل والو به هغه وخت ټليپون ورروکي اوزيات نه ځيات په نيمه ګانټه کې به راورسېده داسې شپې به هم وې چې په يوه شپه به ډېره ډېرې ځله راوغوښت سو مجال ووچې نه واې راغلي ــ زه چې هغه وختونه رايادکم او د ــ دې خپل واکه هيواد جېلو اوډاکترانوته وګورم نو ډېرارمان راسې چې خودايه پاکه هم دغه هيندوان اوموسلمانان نوکران وو په ډرست ښاراوپلو(ضلع) کې به يونيم

انګرېزاؤسروو د ــــ هغه د ــــ يرى به هرچاخپل كارد ــــ مشين په شان پوروخت اؤسم كاوه نن څه وسوچى يوخواته سركارلګيادى د ــــ جېل دوړ سموى اؤهېرخرڅونه باندى كوى خوسريښته (انتظام ) ژوزپه رژوز درپه دره كېږى ــــ داخل د ــــ مارشل لاپه دوران كى چى وايى هيوادسموو اؤسم موكى په باهرخوزه نه يم ښه خبر په جېلوكى خوداشان دى كه په مچ كى وو ــــ كه په مولتان كى ــــ اؤكه په هرى پوركى چېرى چى زه داكرښى ليكم ــــ چى بنديان په غلاغولتى اوخپل خرڅ خوهرڅه ته ازاد دى كه خپلى جامې اغوندى اوكه خپلى كتهوى پخوى دا روا شيان خولاپرېږده نشو ــــ شرابونو اؤ بچه بازوته هم آزاد دى خوكم څېزچى سركاروورله ايښى دى هغه هيچاته نه رسېږى كه خواړه دى كه جامې دى اؤ كه نور څه تر دې چى سركارى ختونه هم بنديانو ته نه رسيږى اؤ هغوې په خپل خرڅ ختونه ليږى !

نن د ــــ دسمبر نمه ژوزده ماته اونوروبى كلاس بنديانوته لاګرمى جامې نه دى رسېدلى چى د ــــ نومبر په رومبى ژوزې راكولے د ــــ جېل موسلمانان

اوسران په ډروغوهم نه شرمېږی ـــ ماته وه چی ګرمی جامه سرکاربندی کړی دی ـــ ماوه بنه دی زه به سرکارته ولېکم نوپه وه بنه دی موږبه وګوړو ـــ بره اوسران هم هېڅ نه اروی نه کوی ـــ هغه بله ژوزماد ـــ اینسپیکټر جنرل نه چی زماپېژاندوے هم دی اوچی راسی ماته راغی هم ـــ تپوس وکی چی ګرمی جامه سرکاربندی کړی دی ؟ وه نه چا وه ؟ ماوه داد ـــ جېل اوسرانوماته وه ـــ چوپ سونه د ـ هغونه بیا تپوس کړی دی اونه خپله څه وکړل ـــ د ـــ دارودرملو خوپه هرجېل کی دا شان دی چی د ـ کوټی د ـ جېل د ـ هغه نیمګړی ډاکټر په ځاے اوس په هر جېل کی یو دوه بېل ډاکټران دی ـ دلته دوه دی ـ او درے څلور کمپوډران وی ـ دلته څلور دی خو سهار یوه یا دوو ګانټو له ځینی راسی او بیا هر یو ځی کور ته شپه خو پرېږده د ـ روزی د ـ یوولسو بجو نه پس بیا که بندی مری هم نه دارو ستته او نه ډاکټر په کاغزو کی هر څه د ـ انګرېز د ـ وخت په شان دی اوس هم لیکل کیږی چی پلانے پلانے به دا وخت دننه وی او پلانکے پلانکے دا وخت خو وی هیڅوک نه !

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

خو خیر په دغه ڑوز موږ داروغه ته پېش سو ـ ډاکټر وکتو اوُ هر یوه پوړ یوه انګرېزي چاپ سوې دوتې (ګټه) څه ولیکل چې تپوس مو وکې چې دا څه دي وې دا سْتاسي ټیکسان (ټکټ) دي تاسي چې ترڅو په جېل کې یاست هر څه چې تاسي کوئ یا په سرکار اوُ د ـ جېل اوسران درسره کوي ښه یا بد هغه به په دغه دوتې کښې لیکل کیږي دا ستاسي د ـ چارو څیره (اعمال نامه) ده ـ داروغه مو نوم ـ د پْلار نوم ـ کوړ دوې وپوښتل او هغه ځاني جامې ـ څیزونه اوُ پیسې چې هغه بله ڑوزې په دروازه کې راځخه اخیستي وې ـ ډاکټر توُل کړو (وزن) اوْ وې لیکه ـ دړه (قد) مو ومېچه وې لیکه اوُ یْوه بیله نخښه یه ولیکله ـ هغه دوتې چې مو راواخیستله د ـ هغې نوم په روشتیا چې د ـ بندي د ـ چارو څیري (اعمال نامه) وو په انګرېزي (Convict History Sheet)باندي لیك وو ـــ داروغه اوډاکترهرڅه په انګرېزي لیکلي وو ـــ داروغه د ـــ پْرونه راسي روشتیا هر څه لیکلي وو ـــ د ـــ پْلانکې مْیانځګري راورسېدې ـــ نوم ـــ د ـــ پْلارنوم اوْکوړې دادې دومره جامې موورکړې دومره لوښي

اوْدومره شړی ـــ دا دا شّیان اوَ دومری پیسپے موټرے واخیستے ـــ داسی پوړمخ د ـــ بندی هرڅه ـــ ختونه ـــ د ـــ خّپلوانوليده ـــ د ـــ بندسوړوان (Remission) اوَ د ـ جېل سزاګانی ـــ د ـــ هری پینځلسمی ژوزی توړل چی هرومروبه ډاکترکاوه لیکل کېده ـــ خو اوس نه ډاکتران د ـــ چاتوړل کوی اوْنه اوَسران په ټیکېس کی څه لیکی رالیکی هرڅه په خّوله کېږی ـــ ټیکیس خواوس هم وی ـــ خو هغه پوړوخت اوَتوګه کاراوس څوك نه کوی ـــ سړی اوَسران اوَ نوکران چی هیڅ نه وی ترپخوایوپه ډّوه سوی دی اوَکارد ـــ پخوایّوه لسمه هم نه کېږی که څه لږ ډېر کېږی هغه هم بندیان مونشیان کوی اوَسران هسی ګانټے نیمی له خّپلو ګپو له راسی اوَبّیاخی کوړته خو چی هر یو ووینے دغه نالښت کوی چی« د ـــ کاره مرسّوم دومره کاردی چی سراوَپاے نه لری » ـــ خوداے خبرچی د ـــ نوروبدوخویو دا لوموړینه به د ـــ موسلمان کام نه کله خی ـــ هم د ـــ دے بیکاری اولتې داپاے دی چی ټوړل واړه اوْغتې اوسران یوپه بل پسی لګیادی نورخوپړېږده د ـــ یوبندی سره هم چی څوك اوسر د ـــ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

پنځولسومنتهودپاره وینی هرومروبه د ـــ بل اؤسر نالښت کوی بدبه وورله وایی ـــ روشتیایاډروغ تورېه پوری تړی ـــ

په تیکیس کی چی می د ـــ تورو کور (خانه) وکوت هلته لیکلی وو E . P . Y 363 B 120 R . E .7 ( 12) خو موږپه پوهـ نه شولو چی د ـــ دود ـــ (قانون) او مّیانځګری (عدالت) سره موڅه اړیکې راغلی نه وو اؤ د ـــ پولتیکل او د ـــ مامد یاکوب خان کاکو ـــ د ـــ جیرګې د ـــ غړواوهلته کی سرکاری خلکو سره چی کومی خبری ژموږ سوی وہ هغه د ـ کامی کار (سیاست) په هکله وہ نو خکه مو ګومان وو چی څه کامی تور (سیاسی جرم) بې راباندی لګولی وی خو چی تپوس مو وکی وہ نه تاسی تې د ـ پرنګیانو د ـ تنبتولو ـ جوړی سازش په تور کی سزا درکړہ ده ـ ډېره می خّوا بده شوله ـ ولی تر دغه وخته ژما ګومان وو چی سرکار اؤ پرنګیان به د ـ اولس او خّوارو خلکو په وده ( ترقی ) بیداری اوپوهه خبرتیا اؤ ښېګړہ ناخّوښه نه وی چی ژموږ دستی مّراد وو ـ دوې به خّپل د باچهی سره کار وی او تر څو چی موږ د ـ دوې

په باچهي اؤ سرکاري کار کار نه لرو نو دوے به راسره کومك کوي ـ اؤ مّيانځګړی (عدالت) که څه هم ېږ داغه نه وي ـ خو دومري پے لاري به هم نه وي چي نه ګواه نه اګاه نه خبره نه اتره هيڅ بے هيڅه به د ـ پرنګيانو د ـ تېښتې په داسې تور کی سزا راکوي چي ژّمور د ـ بنده هم شل ژّوزی پس نورو خلګو کړی وي.

ښه مي ياد نه دي چي دغه ژّوزوه اؤکه سباله يه روان کړّوځه نورکچه بنديان (حوالاتيان) ووړے راغي د ـــ جېل په باغ کي به کارکوي ـــ هلته چي ورغلو يو پوړ پے مالي ووهغه تے په لاس ورکړو وړے دوے ته کارورکه هغه وړے راغي د ـــ کوهي څه به اوبه راوکاري د ـ باغ په يّوه ځّواکي کوهے وو ـــ د ـــ څرمني يّوه لو سولاغه (ډول) يه په رسي ربياسته کي بندکي اؤ د ـ غّويانو پورځاے يه مور شّپږ کسه بنديان يوه اوږده لرګي ته ډّرے يوے ځّواته اوډّرے بلي ځّواته ودرولوسولاغه يه څاته واچوله ډکه يه کّړله مورتے وړے کش کي لري ژّلاړسي چي مورلري ژّلاړو سولاغه راوختله ډوو بنديانو هغه تشه کّړله اوبّيايه واچوله ډکه يه کّړله يوسات موداد ـــ غّويوکاروکي چي هغه

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

تیاکرداس نمبرداررا‌غی د — مالی سرے څه خبره وکړله اوموړے د — غویولہ دے کاره بچ کړو خبرنه یم چی د — خپله مخه اوکه د — داروغه په وینا— سباله ایتوارووړد — بندیانو چوټی وه — خوخپلی جامے یے وینځلے چی د — جېل ترکارلاهم ګران کارووړ — ولی چی جامے خوهم هغه یوه جوړه وه وے چی د — بندی به په غاړه وے — نوداپے کنبیے اوییووړوکی شانته دسمال چی تولیه یه بلله اوهربندی تے وورکاوه دااویانوړد — بیسترے شړی یے لنګ کړله — په غولی کی یوه لویه بټی وه هغه یے له اوبوډکه کړله اور یے ترلاندی بل کی څه اشخار (Soda Ash) یے پکنبی واچاوه چی ګرمی به سولے نوبندیان به راتله خپلی جامے یے پکنبی غوپه کولے اوبیاپے وینځلے —— چی پاکیدے خونه —

# سپږی

خوځه نوده به سوله اوسپږی به مړه سوله — چی به جبل کی به اندازه ډېره وه ولی — د — پخوبندیانو سره په جبل کی کچه بندیان هم وو چی خپلی جامې به اغوستی وه له باهر نه به سپږی راوړی وه یا به د - چا جامې زړه اؤ شلېدلی وه د - وینځلو به نه وه په مباشتو میاشتو به په غاړه وه اوسپږی به وکړله — د — داسی بندیانونه ځاے له نورو بېل وو اؤ نه بیستره اؤ شړی بیلی وه یوځاے سره اوسېدل اوچی ځوك به وتی بیستره به پاته سوله — چی بل به راغی هغه ته به ورکړله داشان په ټول جبل کی به شماره اوډېری بدی بدی سپږی وه — نوږ — ګرمواوبوپه دوه غوپه به هغه مړه سوله — سابون نه جبل والاوو ورکاوه اونه چاته خپل هم وورېږېښو — خالی سیکانوته به په ایتواریوه توله یادوه تولې وورکاوه نوروته به د — لمبا لپاره مېټ (ملتانی متی) اؤ تېل وورکول چی د — ګرموهولکوږ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ـــ بلوڅانو دوددی هغوی په دغه لامبی ـــ اوډ ـــ سر اوْ ږیری وېښته چی هغوی یه لوی ساتی هم په دغه وینځی ـــ نوځینی بندیانو به وهم لامبل اوّچی چابه جامې مینځلې هغوی به په غّلاغّولتی سابوڼ پیداکاوه ـــ ولی د ـــ جېل پرنګی به چی د ـــ کوم پاخه بندی به جامې پاکی وې هغه ته پې ډّوی ڒّوزی بند پڒّېښوو (معافی) ژّموږ جامې خوپاکی اوْنوی وې وینځلې نه غّوښت اوْ روشتیاداده چی ډّرسته ڒّوزبه برمنډاوسېدوزوږهم راته غّوښت نوجامې مووڼه مینځلې د ـــ هغه په خای مود ـــ بیستری شړی وه مینځلې اوّپه تشو یخواوبو مو و لامبل چی د ـــ بېږوله مخی ډېرګران کاروو ـــ بله ڒّوزد ـــ ګّول ڒّوزوه ـــ پرنګې راته ـــ سهاروختی یه ټول بندیان راوایستل د ـــ جېل په غولی کی د ـــ ډّروبارکانومخ ته د ـــ اوږدکی (مستطېل) په ډّروپلو ودرول هربندی به یّوه شړی هوار کڒّله اوْډّری نوری یه سمی کت کّړی یوپوربلې و اوډلې اوّودرېدو ـــ نوی بندیان به بېل یّوه سرته ولاړوو پرنګې چی راغی وارله واره نوو بندیانوته ودرېده ـــ تېکسانې وکتل د ـــ داروغه څه پې څه

تپوس مپوس وکاوه اوډ ــ بندي نه يې تپوس کاوه چې اپيل کوې که نه ؟ په دغه ژوزموږ نوي وو وورته مو وويل چې اپيل کوو ــ داروغه تې وويل چې د ــ پرېکړې (فيصلې) سوت (نقل) وورته راوغواړه ــ وې نور څه نو ما يو خت جيني وغوښت اوړايه کې ــ د ــ خت لپاره بنديانوته يوکاټ وورکاوه هغه هم په ډېره مبياشتي کې يو ــ د ــ خپلوانوسره ليدل (ملاقات) هم په ډېره مېشاتي کې يوځل کېداے سو

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

# غـلا غـولتی اؤ بدی

په جېل کی تمباکو نسوار ـ سیګریټ ـ نوری نشې اؤ
خپل هر څیز ـ سابون ـ غابن ـ ټومبونی ( دانتوں کا
خلال ) آینه ـ ډبې مېې هر څه بند وو ـ خو موږ لیده
چی زیاتره بندیانو به په غلا نسوار کول ـ چا به
تمباکو کول اؤ چا به لا چرس ـ اپیم اؤ نوری نشې
کولې د ـ ټاکر داس نه مو تپوس وکی چی دا خلګ دا
څیزونه د کمه کوی ـ وې چی په غلا یه راغواړی اؤ دا
د ـ جېل نوکرانې وورته راوړی په دې شپو کی موږ
مخ له وری ګرزېدو ـ ډویمه ډریمه روز ټاکر داس دوې
څه نیم سېر هومره شیدې راکې وې دا وچیبنه د ـ
لوړی به مړ سې ما هغه واخیستې ایسا خان یا ایوپ
خان ته می ورکړې اؤ د ـ ټاکر داس نه می تپوس
وکی چی دا دی له کمه وې ول زه د ـ هسپتال ډرې
څلور سېره شیدې رنځورانو اؤ کمزورو بندیانو ته
وېشم نو هر یوه ته لږ لږ کمی ورکم نو ماته پکښی
نیم سېر هومره هره روزرا بچ سی ـ ما وورته وې چی

دا خو غلا ده بله ږوز دا پې ماته مه راکوه ـ هغه راته وې چې خانه باهر هم دونیا د ـ غلا غولتې ـ ډروغو ـ چل ول ـ اوْ بهو موکو خاے دی ته پام وکه چې یو سړے هم پې دې ناروا لارو چلېداے سی ؟ دا څومره چې ته غټ اوْسران ماړه سوداګر اوْ ښته من خلګ وینې یو خو ماته وښیه چې له دې کارو پاك وی اوْ بیا د ـ جېل دونیا خو ده هم د ـ غلا غولتې اوبهو ـ ډروغو اوْ خوشامندو ـ دلته پې دې کارو ښه خو ږېږده مخ له وخت نه تېرېږی ـ اوْ په لوموړی ځلے د ـ جېل د ـ اوْسرانو ـ اوْنوکرانو ځینی غلاوی اوْ د ـ غلا لاری اوْ چلونه راوښوول اوْ وې چې دا اوس خو په دې جېل کی څکه څه ګوزاره کېږی چې دا پرنګے خانی ښه سړے اوْ سخت دی کنی تر دې پرنګی وړاندی چې دلته پور بندیانو کومه بده ږوز وه وهل ټکول اوْ تنګی وه ښته من سړے خو تر هغو ګرسره اوسېداے نه سو چې اوْسرانو ـ جمادارنو ښپاهیانو اوْ نمبردارانو ته پې بهی نه وورکوله لږ ږوزی وړاندی دلته ملك تاج مامد بړوهے بندی وو چې هیڅ نه وو د ـ ښیاشتې ډوه ډرې سوه روپی په بهو لګېدې ـ اوْ چې بهی وی نو بیا ښه

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

په آرام وخت تېرېږي - خو اوس هغه څرګندي اؤ ډېرې بډې نسته په پټه اؤ لږ لږ دا سپاهیان جمادارا ن اخلي اؤ چې د - چا سره پیسې وي نو هغه له نسوار اؤ نور شیان را رسوي اؤ بیا دلته هم چې ډېر څرګند نه وي یا بل بندي یه چوغلي ونه کي نو هغوے یه نه نیسي - دا خلګ په روپي کي د - اتو انو سودا راوړي اؤ اته آنې دوے اخلي - پخوا بے هر څه راوړه اؤ ملك تاج مامد اؤ د - هغه ډلي به دلته هر څه پخول اؤ خوړل خو اوس ډېر څېزونه نه رواړي دغه نسوار - ګوره یا داسي شې که راوړي - تاسي هم که پیسې ولري یا یه خرخوي نو زه درله بندوبست کولاے سم - په وروسته ژوند کي بیا څومره غلاوي - بډې - زیاتوب (ظلم) بدکاري - بچه بازي - نشې - شرابونه چې ما په جېلو کي د-جېل د- اؤسرانو اؤ بندیانو ولیدل دومره مي د باندي هم نه دي لیدلي زما ازموده اؤ پوخ باور دي چي د - انګرېز په وخت کي هم اؤ اوس په پاکیستان کي هم لا څه نور هم زیات جېلونه له بدو نه د - بچاو په ځاے د - هر راز بدو بنوونځي (سکولونه) دي غلا - دروغ - خوشامندي - بډې اؤ موکونه خو ځپله د - جېل دود اؤ

اوٌسران بندی ته په زور ښيي - چې پيلامه يه يوٌه خوا ته د - بندی تر اند د پاسه لاچاری خوٌاره برخه (بدبختی) اړی اوٌ بندښت وی اوٌ بلی خوٌا ته د - جېل د - اوٌسرانو سٌرابنی (حرس) پې کچی واك (اختيارات) اوٌ پې غوړی وی - بندی د - ژوٌند د - هری اړی (ضرورت) څخه پې برخی اوٌ ورته اړوی د - ارام د - څيزونو څې را ونيسپې ان تر خوٌراکه - جامو اوٌ بېستن پوړی اوٌ دا هر څه د - جېل د - واك والانو په لاس وی چی په سل کی نيوی (۹۰) ډېر ناپوهه نالوٌستی کم لوٌستی ناخبر اوٌ څکه پې اندازې سرابنی خلك دی - نو له بندی اوٌ د - هغه له خوٌپلوانو څه پيسپې شکوی اوٌ بندی ته هغه څه نيمګړی اړی رسوی چی بندی يه ولجه بوړلی د - بندی د - کارګرانی اسانی - د - ځاے ښه والی اوٌ بدوالی ارز اوٌ پې ارزی ښٌکنځل اوٌ وهل ټکول دارو درمل تر دې چی مرګ اوٌ ژوٌند هر څه د - جېل دننه د - اوٌسرانو تر لاس وی نو ځرګنده ده چی دا هر څه سړی ته خوٌاره وی اوٌ د - بندی خوٌپل هيڅ واك اوٌ پاروی نه نې کله خبره تر ځايه رسی نه څوك په خبريداے سی نې روشتيا هم څوك منی يا پوهېداے

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

سی ځکه هغه هر وخت د ـ اؤسرانو په لاس کی ناچاره وی اؤ اړ وی چی که په ډروغو وی که په چل ول وی که په خوشامنده وی اؤ که د ـ نوړو بندیانو په وهلو ټکولو وی که د ـ اؤسرانو لپاره د ـ بندیانو د ـ راشن په غلا وی که یه دروغو ګواهی وی که د ـ خان په پیسو اؤ بډو وی اؤ که د ـ نوړو څه د ـ بدو په دلالی وی چی اؤسر خوشاله کی ـ اؤ خان له څه سوږان اؤ ارام اؤ ارز پیدا کی ـ وړاندی به د ـ دې ټولو خبرو هغه نمونې راسی چی زما په ازموده کی راغلی دی ـ

# مېچن

ماښام جمادارخبرکړوچی سباله ستاسی د — مېچنی
واردې دے جېل له هرنوې بندی چی راسی لوړې
هوته به مېچن کوی اوبیانوخپل پوړوارباندی مېچن
کوی اونوړی وزری نوکومارے له خی — ستاسی
خوډېربندډې تاسی خودلته نه سې پاتېداے مچ له به
خې خوتراپیل پوړی به دلے یاست — موږډروتنوتے
اتلس(۱۸)سېره غنم پورسېړی راکړل اوایساخان تے لس
سېره چی کم واکې وو — دانے یه ماځیګرلاپه
ټیمانوکی واچولے وے سبانے سهاروختی واخې اوپه
هغه کوټوکی چی مېچنی دی هلته به په لګیاسې
اوماځیګرله پے ښه سم اوړه کوی — ټاکرداس دوے
اوځینو نورو بندیانو داهم وجمادارته ووییل چی
څلوروسروته په یوځل مېچن مه وروکوه ډووتنوتے
ورکه اوهغه نور ډوه به سهارترخپل نورکاروړاندی
اوبیاماپښین د — کار نه روستو خپل د — ملګروسره
کومك کوی — خوهغه وے نه داسی نه کوم —

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

سهارموړد ــــ مېچنی کوټپے ته ورغلونوکمه مېچنه
چی موړکوړته د ــــ وّرایه لیدلپے وه چی د ــــ کلی
چاخّواری ښخی به په مزدوړی کله کله څه داروګان د
ــــ کتهوی دارو (مساله) یاد ــــ اوګرہ لپاره غنم
(دلیه) یاد ــــ پېرینو (فرنی) لپاره وّرجی په ناستی یه
میدول داهغه شان نه وه داڅه تّرہ لوپیه وه په ولاړی
کېدله اوّزّیاتره به ڈّووکسانوپه ګهه ګرزوله ــــ چی
موړپه لګیاکیدوګن کچه بندیان اڅګزی اوّنوړراغله
چی تاسپے مه کوی موړتپے راپڑّبېړدی خومابه هغه
نوړوملّوله ولېږل اوّخّپله می یوازی کوله چی دوے تهول
د ــــ لّمانځه اوّدهودی دوے رااوزګارسواوّتنګپے کّړم
نومی ووړته وویل چی که نوړنه وی نن خوزه هیچاته
نه ووړکوم اوُنه له چاکومك اخلم چی زه وګوړم چی زہ
کولاے سم که نه ؟ دلته خوښه دی تاسی یاست په
نوړوجېلوکی به څه کوم ؟ نونیژدہ تر روېا ماځیګره
په لګیاوم خوپوړھ می کّړله اوُروشتیاداده چی ښه
کّلك پوړی سّتړی سّوم لاس می هم خاے ڈّوھ تنهاکی
( پوکی ) سو ــــ خوزّړه می ډاډه سوچی خه که
خیروی که ووړته اړسّوم کولاے یه سم ــــ نوړی ژّوزی

به ژموږ څلورو سرو کار نورو خلکو څخه موږ ته کې
موږ ته له سره راکاوه هم نه — موږ به بیاهم څه نه څه
ورسره کاوه خوداسې لکه کارچې د — بل وی
اوموږ هسې کومك ورسره کوو — ماته بیاپه جېل کې
نه چا مېچن راکړه ده اونه مې کړه ده خوپه دغه
یوه روز را څرګنده شوله چې څومره ګران اوزاوال جن
کارو اوهم د ـ هغو خلکو — ګلك باور — د — کام
اوهیوادپخه مینه اوټینګار رابنکاره شو کوموچې د
— کام د — خسمانې په تورکې په کلوپر له پسې
مېچنې اهلې دی لکه باچاخان بناغلی هسرت موهانی
اوځینې نورو بناغلو —

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

# پیاځه

په لومړی ځل می په جبل کی د ـــ جوارو پیاځه هم ولیدله هغه غټ شانته جواری چی ژمورړخلګ وورته ترغړی وایی اوځوکړے باجری هم بولی ـــ ژموړد ـــ غاړی پښتانه یه نه خوری اوړے کری د ـــ بلوڅوپه خواپیداکیږی اوهغوے یه خوری هم پښتانه د ـــ غنمو له نیستی غټ سره اوسپین جواری لاکله کله اوپه خینو غروکی خوری غته تیکی یاروټی‌ټے سوړسك (سوکړك) یاګربټ وایی ـــ داجواری اود ـــ هغوروټی چی پښتانه یی پیاځه بولی مانه وو لیدلی خوپه جبل کے بندیانوته په هوته کی ځلورروزی غلمینه ډوډی وورکوله او ډرے روزی دغه پیاځه د - نورو پښتنو رنګه ما هم دغه تر پایه نه سوه خوړلاے بلوڅانو خوړله خو پښتانه بندیان به د - پیاځی په روز لغړ په چنو او دال پایدل نو به د - غنمو ډوډی‌ته بنه وړی وو او پوره یے خوړله ځکه چی ډرے روزی به په نیم نس وو نو به کمزوری کیده او تول یے کمیده څه وخت پس

جېل والاوړو دا چل وکی چی ډرې ږوزی پرله پسپې یه
جواری ووړکول اؤ څلوړ ږوزی پرله پسپې غنم چی خلګ
به جوّاری هم د ـ لوّړی خوّری خو زیاتره پښتنو بندیانو
بیّا هم نه سوخوړاے او ستری ږوز پې غلمینه روټی
مابښام پټه کړله سهار پې د ـ جوّارو په ځاے وخوړله اؤ
ږوز پې په تېره کړله نوری ډوهے ږوزی پې په چڼو اؤ لغړ
پاتی (پېټی) تېری کړلے ـ دغه شے وروسته په جېلو
کی انګرېزانو لا بند کی ـ د خوراك په هکله یوه بله
خواری لا دا هم وه چی اوس هم ستّه چی په جېلو کی
د ـ غوړو په ځاے په کتغ (پخ کړی) کی تېل اچوی ـ
که څه هم د ـ ایران ـ سوهېلی اوغانیستان ـ لوېدیځ
پاکیستان ـ اؤ کوتبی هیند نه سېوا په ټوله نړی کی
ټول خلګ پخلے یا په تېلو کی کوی اؤ یا په وازګه
(وازده) کی ـ خو یو خو زموړ خلګ مخ له تېل نه
خوّری اؤ بل په جېل کی تېل هم پاك نه وی نو په
بندیانو کی ځینی روشتیا اؤ دروغ ناپېښه خبری پېل
سوی دی چی د ـ روغواله ټول تاوانو نے په تېلو پوری
تړلی دی ـ زیاتره بندیان داسی ګڼی چی تېل د ـ سړی
بدن پړسوی ـ د ـ سړی د ـ سترګو دید کموی ـ سړے

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

نامرده کوی په سړی (باد+ګاوټ) لګوی خکه به
زّیاتره بندیانو د ـ جېل پخ کړی نه خوړ که څه هم ښه
به پوخ وو ـ ډېر داسی بندیان وو چی په کلو یه په پخ
کړی ځکه هم نه وه کړے په زّیاته سابه چی یو خو د ـ
غرّو خلک په روږد نه وی اوْ بل په هغو کی به تېل
ښّکارهٔ ولاړ وو ـ دال خو هسی هم د ـ پښْتنو نه وی
خّوښ متلونه یه پوړی جوړ کړی دی چی تر ټولو اوخار
اوْ اوچت یه دا دی چی وایی " د ـ مېلمانه جواب پاتے
(پېتی) دی ګّوا پښْتون خو دا ننګ ګڼی چی مېلمه
ته جواب ورکی اوْ له کوره یه و شړی خو که چېری دے
ته اړ ( مجبور ) سی نو پاتے (دال) دی وورله پوخ
کی په دے به مېلمه پوهٔ سی چی سړے را خّوښ نه
دی اوْ ځی به ـ پښُتانه دال ځکه هم نه خّوښوی چی په
نس کی باد پیدا کوی اوْ د ـ خېټی د ـ باد سره
پښْتانه ډېر په زاوال دی په زّیاته بّیا په جېل کی چی
د ـ شّپیے یا د ـ ّروزی هر وختی اوْ په هر ځاے کی
ډېر ګڼ خلک سره یو ځاے اوْ یو بل ته نیژدے وی
هیڅ پردهٔ نه ځله کېږی اوْ د ـ بندی خّوراك وو هم دال
که به دّواړه وخته نه وونو یو وخت خو هرو مرو دال وو

داسی ګڼوا د ـ جبل د ـ خوړو سره پښتانه تل په زاوال
وو اؤ اوس هم دی خو اوس دا سوان سوی دی چی
بندی ته خپل په خرخ سپر ډوه غوړی څه ګوړه
پړپړدی اؤ د ـ زړه (سرحد) په جبلوکی د ـ چنی په
خاے چاے وور کوی اؤ هره ژوز یو غتھ (چکی) ډوه
ګوړه هم ـ زیاتره بندیان په دغه خپلو اؤ بلدو څیزونو
ګوزاره کوی ـ څه غلا غولتی اؤ بډی هم زیاتی سوی
دی اؤ بندیان د ـ هغو په زور خپل اخلے پخلے هم کوی
خو په دے کی تاوان دا دی چی د ـ بندی د ـ خپلوانو
ډیر خرخ راځی چی د ـ خوار سړی له پاره سخت کړاو
وی ـ چی بندی له خرخ نه لیږی نے خپل زړه درېږی اؤ
نے نور خلک په روغه پړپړدی په زیاته د ـ کوړ اؤ
خپلوانی بسځی ولی د ـ بندی سره د ـ هر چا زیاته خوا
خوږی وی اؤ چی وور لیږی یه نو یو خو د ـ ګڼی سړے
بندی سوی وی سل خرڅونے نور په سر راغلی وی اؤ
بل لا د ـ هغه د ـ جبل خرخ هم سی چی وه خوار سړی
ته خورا ګڼرانه وی اؤ هغه په پوهېداے سی چی باندی
وورړغلی وی ـ خو چی تر څو په جېلو کی تېل بند نه
سی اؤ د ـ تېلو په خاے بندیانو ته غوړی ورنه کول

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

سی دغه خوّاری به وی ځکه خو په جېلونو کی د ـ ښه درمانه اوْ ځینو نورو ښیګړو پاکی دوے سره نرے رنځ (دق) ډېر زّیات وی چی لغړ د ـ لّوږی پیدا کیږی ـ اوْ لّوږه په جېل کی هسی هم وی چی سړے د ـ خّپله واکه ګټی اوْ خرڅه بند وی اوْ سرکار هم پوره اوْ ښه خّواړه نه سی وورکولاے اوْ زّیاتره لّوږه ځکه وی چی بندیان د ـ تېلو اوْ ځینو ناوړه شّیانو له لاسه هغه د ـ جېل خّواړه هم پوره نه سی خّوړلاے ـ

هم په دے هوته کی مو خو تنه خّپلوان لیدو (ملاقات) له راغله ـ هغوے په جېل اوْ د ـ جېل په دود خو خبر نه وو د ـ مېوے یو ډّوے ټوکری یه راله راوړی وے خو هغه جېل والو را پّرے نه ښوولے ـ اوْ چی هغوے وورته وویل چی ښه دی که په دوے باندی بند دی نو تاسے واخلئ څه پے اوس بیرته وّړو نو هغوے هم بېرېده وایه نه خیستے ـ هغوے د ـ نورو خبرو سره دا نوے راته وکّړله چی موږ څو کسه لاټ له سّتاسی په هکله وورتلو خو لاټ راته وویل چی ما سّتاسی د ـ ډّوو کلو ـ ګولیستان اوْ ناتولا کاریز ـ پوړ خانانو ډّوه زره روپئ ډنډ (اجتماعی جرمانه) ایښے

ده چی تر څو تاسی هغه نه وی ښندلې زه سّتاسی سره نه وینم اؤ نه موخبره اروم ـ موږ ډېر وورته وویل چی دا ډنګ مه وورکوی پّرېږدی چی سرکارته په زوړ درنه وکاږی (وصول) خو هغوے نه منل ولی چی د ـ هغوے دا ګومان وو چی که موږ دا پیسې ورکو نو تاسی به راپرّېږدی ـ اؤ سّتاسی تر راوتو پوری موږ دا پیسې هیڅ هم نه ګنړو ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

# کومارړه

د ـ میچنی (چکۍ) د ـ هوټې نه پس یه د ـ ګول په ړوز موږ د ـ پینځویشتو دېرشو تنو نوړو بندیانو سره د ـ ګڼو پولیسو په پارړه کی روان کړلو وړه کومارړه له به ځۍ کومارړه ځه وه پینځه پینځه تنه بندیانې د ـ یّوه یّوه غټ اوسر ـ لاټ ـ کمشنر ـ پولټیکل ـ د هسپتالونو اؤسر (سی ـ ایم ـ او) اؤ سیول سرجن بنګلو ته ولیکلو ـ دړه ټولۍ ته بې پنجه ویله ـ د ـ هری پنچې سره به ډړه څلور تنه پولیس وو ځوك توپك والا اؤ ځوك بې توپکه ـ جېل د ـ ښار له دغو بنګلو نه څلوړمیله لری ووبېږی په پښو کی یه دا مزل راباندی وکی په لاری ټول بندیان اؤ پولیس یو ځاے را روان وو چی ډېره بده اؤ د ـ ارمان وو تماشه وه خو چی ما کاته زاړه بندیان دغی کومارړه ته ډېر خوشالېده ـ چی د ـ کار ځاے له ورسېدو نو بېل بېل سو موږ ډوړه ډوړه په ډوو بېلو پنجو کی وو ـ زه د ـ پولټیکل په پنجه کی وم ـ یو ګړوالے مالی راغی بیلچې کولنګ اؤ څه سامانې راوی په باغ کې یّوړه خوا ته څه پټی

راوښوول وې دا به مات کې ما بيلچه واخيستله اؤ په
کار لګيا سُوم ـ سړی ډُوه نوړ را سره ولاړ سو ـ لږ دم
پس هغه ګُنبښناسته نوړ راولاړ سو بيا هغه هم دمې ته
ګُنبښناسته خو زه لا لګيا وم ولی ما خو وې چی دا
کار به نو ټوله ژوز لګيا وی لکه باهر چی به زموږ په
باغو کی مزدوران ډرسته ژوز لګيا وو ـ لږ دم پس يو
راغی وې تې اوس بس که ډېر کار دی وکی ما وې نه
زه لا نه يم ستړی ـ لږ دم پس هغه پوليس والا موږ
ډواړه وبللو چی ورغلو وې ګُنبښنی چی ګُنبښناستو وې
چی تاسی نوی ياست تاسو په دې کار نابلده ياست دا
نوړ بنديان وايی چی دا کم زموږ د ـ پلار کار دی چی
دوې داسی په زړه په لګيا سو ـ دا د ـ سرکار کار دی
پاې نه لری رو رو دمه دمه څه کار هم کوی اؤ ارام
هم يو مخ کار نه کېږی که دا مو تمام کی نو مالی به
بيا بل خاې راکی ـ ما ورته وې چی ما کم دی چی
ډېر کار وکی خو ايله نيمه ګانته لا نه ده سوې اؤ زه
لا نه يم ستړی ـ خير زه به څه کار لا وکم بيا به دمه
سو ـ وې نه دا نوړ بنديان وايی چی که دې نن ډېر
کار وکی نو بيا خو مالی هره ژوز د ـ بنديانو نه

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

هغومره کار غوّاړی دا خو دے له موږ سره دوښمنی کوی - ما وے ښه دی تاسی په دے کار بلد یاست چی تاسی وایاست مه کوه نو نه به کوم - د - دغی ژوزی پس به بیا تل موږ کوماروی ته تلو راتلو خو د - تګ راتګ نه سیوا نه چا کار کاوه اؤ نے په موږ کار لاره - لږ سات پس چی دوولس بجے شوے چوټی شوه د - پولټیکل د - باغ په یوه ګوټ کی چی برمه وه موږ هم هغے له راغلو اؤ نوری پنجے هم زیاتره دالته راغلے اؤ د - توتانو په ګڼ سوری کښیناستو - د - ځینو بندیانو لیدو له یه ښځی اؤ نر خپلوان راغله چا څه د - خوراك شیان هم راوړی وو - پولیس والا اؤ ځینی بندیان په خوراك لګیا سول - ځینو بندیانو په سرکاری باغو کی میوے غلا کړی وے هغه یه راوایستلے دوے اؤ پولیس والا په لګیا سول موږ تے هم ست وکی خو موږ وے د - غلا میوه نه خورو څوك هغه وخت هم ولاړ سو د - پولټیکل له باغه اؤ د - کمشنر له باغه چی نیژدے وو څے میوے غلا کړے رایه وړے اؤ پولیس په لګیا وو - دالته زه پوه سوم چی بندیان وکومارے ته څه له خوشاله وو - یو خو

وګرزی را وګرزی بل د ـ خپلوانو سره یه دید وسی څه د ـ کوره اؤ څه د ـ غلا شے مے وخوری ډوډ بچے یا څه وروسته وړاندی بیا ولاړ سولو ګوا کار کوو چا څه لاس ماس خوخولی یا نه څلور بچے بیرته جېل ته را روان سو اؤ په لاری سره یو خاے سو ـ په لاری به خینو بندیانو د ـ خینو مړو اؤ پیژاندګلو خلکو څه پیسے غوښتے یا د ـ چا خان مان نه چی چا به ورکړه خو بنه د ـ دوے اؤ پولیسو شریکی وه کنی نو یے بد وورته ویل اؤ سپکول یے یو وخت یوه بندی و ملك لونګ خان اکا ته یے اندازه بد وویل هغه ناچاره پټه خوله روان وو کله کله به چی په لاری د-مېوه ختکو اؤ هیندوانو بارونه په مخه راغله بندیانو به د-پولیسو په خوښه لوټ په ګډ کی اؤ ډېر تاوان یے وور واړاوه ـ چی واپس تلو په لاری اؤ بیا هلته په جېل کی تر ډېره مور پور ده خبری کولے چی سرکار د-میاشتی په سوونو روپی پور ده دېرشو بندیانو خرڅوی اؤ بیا د ـ ده لسو پینځلسو کسو پولیسو تنخاوی اؤ خرڅونه دی چی دوے بیایی راولی اؤ زمور کار هغه وو چی د ـ یوه روپی هم نه وو ـ نورو به هم دغومره کړی وی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

چی ډېر وه نو د ـ پينځو روپو کار نه دی سوی اوْ خرڅې دېرش ځلوېښت روپی دی ـ اوْ بل دا چی دا غلّه ډاکوان اوْ وورسره ځينی نور خلګ سرکار دلته دے له تړلی دی اوْ د ـ هېواد پيسې باندی خرڅوی چی سم سی اوْ دلته خو دوے چی د ـ باهر نه غلّه راغلی وی هغه خو پرّېږده دا نور هم ټوله غلّه اوْ پاخه غلّه سی دا غلو به هم باهر د ـ يو بل غلّا وکړله خو د ـ سرکاری اوْسرانو د ـ غلّا به زّيات يرېده ـ اوْ دلته خو هغه دی خّپله د ـ لاټ ـ کمشنر ـ پولټيکل اوْ نورو اوْسرانو مېوے د ـ پوليسو په وّړاندی اوْ د ـ هغو په شراکت غلّا کوی ـ په دے لړ کی يو بل وخت زه د ـ سيول سرجن په پنجه کی د هغه بنګلے له تّلم ـ دغه بنګله د-پوليسو د-سّتر اوْسر (سپرنټنډنټ) په ګوّانډ کی وه ـ دغه پوليس اوْسر د ـ بنګلے په شا کی د ـ شوتالو يوه ډّرخته لرله ـ هره زّوز بے ښځه غرمه راغله ډّرے څلور دانے بے ټّرے پّرے کّړے يو بے وّړے ـ د ـ موړغيو (چنچڼو) نه د ـ ساتلو لپارے پور ټوله ونه تور (جال) اچولی وو د ـ شّمار پينځوس شّپېته دانے به پکښې وے خو چی هغه ميمی به خّپلی دانے يووّړے

ژمونږ په ملو کی به پالوان لوړی - چی اوخار غل اؤ د - بشام لوړی زوے وو چی هغه هم د - کوټی مستنګ اؤ کچی د - هولکے اوخار غل وو - هغه به خپلی زولنے (جولان) په پښو پوری داسی بندی کړلے چی شرنګا یے نه ختله د - سپاهی جوړاپی یے په پښو کړے چی پلے نه ښکاری اؤوره به غی سپاهی اؤ مل ګرو له یے سری سر یوه دانه جینی راوړله ما به هر څه وورته وویل چی دا غلا ده بد کار دی مے کوه وبه می یراوه چی د - شمار څیز دی ښکاره به سی وبه دی وینی اؤ وبه دی نیسی نوره سزا به درکی خو هغوے به هیڅ نه منل اؤ داپے یوه غاړی ته د - انګریز نه اؤ د - دغه پولیس اؤسر نه بدله (انتقام) ګڼله اؤ بلی خوا ته یو ساتیرے (Relexation) زما ګومان وو چی دا به هرو مرو ښکاره. سی خو چی ژمونږ هوته پوره کېدله ونه هم نیژدے تمامه سوله اؤ څوك خبراؤ پوے نه سو -

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

# غوړلام مالی

څو وخته پس د ـ پولټیکل په باغ کی یو بوډی ښتون مالی چی غوړلام نومیده پوخ سړے وو موږ ته راغی اوډیر په مینه یه روغ بړ راسره وکی ـ وے چی بخښه غواړم ما څو تاسی نه پیژانداست څو چا راته ویلی وو چی هغه د ـ ګولیستان څلوړ خانان چی انګریزانو بندیان کړی دی هغه د ـ بندیانو په پنجو کی باغو له کار له راځی ـ اوډیر په ارمانے د ـ انګریزانو زوړ زیاتے اوډ ـ پښتنو ناخبری اوبے خوندہ روز ورتهل بیا یه څه میوه راوایستله وے دا ما ته د ـ دے باغ د ـ میوے تیکدار راکړے دہ ستاسی لپاره اوډ هغه تاسی پیژنی ماتے ویلی دی چی هر کله چی دوے راسی ته به میوه وورکوے ـ موږ ډیر وورته وویل چی موږ دانه کوو څو هغه تینګ وو اوډ بیا هغه پولیس والا جینی واخیستله ـ غوړلام اکا به تل راته خواخوږی بے کوله اوډ د ـ باهر خیر خبر بے راکاوه زو رو زموږ خپلوان هم په دے لار خبر سوی وو ـ یوه روز حاجی غپار خان

راغې اؤ په دغه باغ کې له مونږ سره ولیدل - بّیا زو زو به ځینی نور ځّپلوان هم راغله - یّوه ژّوز چې هغوې واپس ولاړه مونږ غولام پسی ولیږه چې یو اخبار به در واخلی را یې وّړې - غولام اکا اخبار راوی - اؤ پوړ مخ یې هره ژّوز اخبار راووړ اؤ مونږ به لّوست - دغه غولام بّیا ما ډېر ولتهاوه خو پیدا مې نه کې نې چا درك راکې په کال ۱۹۵۸م کی تر دې اوس بند یو څو ژّوزی وّړاندی په اکتوبر یا ستمبر کی یو وخت زه د - نیشنل پارټې له دؤتره راولّوېدم یو سّپین ږیری سړې لاندی ولاړ وو - ما ونه پېژاندو خو ده لاس راکّړه روغ بړې راسره وکې چې ما تپوس تّرې وکې وې زه غولام یم - ماته د - دېرشو کالو وّړاندینې غولام رایاد سو اؤ تر غاړه وتم بېرته وورسره دوتر له وّلاړم ښه سات سره ناست وو ډېر بوډا سوی وو - په لیدو یې ډېر خّوشاله سّوم ولی دېرش کاله وّړاندی یې لغړ د - خوداې د - پاره اؤ په پښتنی ننګ ژمونږ خسمانه کړې وه -

# پړېکړه (فیصله)

په دې کی زموږ پرېکړه (فیصله) چی موږ د ـ اپیل لپاره راغوښتې وه جېل ته را ورسېدله چی رایه کړله اؤ موږ ولوستله نو هك پك پاته سولو چی دا لا څه دی اؤ دا مّیانځ (انصاف) اؤ مّیانځګری (عدالت) دې ته وایی ؟ د ـ جیرګې په مخ کی پولیسو د ـ پرنګیانو د ـ تېښتی په هکله ډېر ګواهان تېر کړی وو چی په هغو کی زموږ په هکله هم ګواهان وو ـ خو موږ ته یه نه وو مخامخ کړی ـ دا شاهیدان ځینی خو مخ له ډروږغ وو ـ اؤ ځینو به څه بې تاوانه خبره روشتیا کړې وه خو وورسره بې تاوانی تکی ډروغ ګډ کړی وو ـ لکه دا چی زموږ د ـ کلی یّوه سّپین ږیری سید ـ سید هسن چی د ـ پولیسو تنخاداره ښکومی (مخبر) وو ګواهی یې وه چی "مولا خیر مامد ما ـ د لوې اختر د ـ مېلې پس په کلی کی ولید چی واپس روان وو چمن له ته ـ ما تپوس ترې وکی وې بېګا شپه می د ـ اؤدوږل سلام خان سره وه" تر دې ځایه روښتیا وه ـ مخکی

وایي چې ما وے څه خبري کېدے هلته یا څنګه.هغه وے چې "خپله لار مو جوړوله پرنګیانو سره به ګوړو" یا څه داسي خبره وه ـ څه نور ګواهان د ـ دے خاے د ـ بېلو خلګو په هکله وو ـ بیا څه ګواهان په کندهار کي د ـ شالامار د ـ میلے په هکله وو چې ویلے وو چې هلته ښاغلي مامد انور خان کاکا مولا خیر مامد اؤ نورو دا خبره وڅېړله چې اوَدول سلام خان دوے ډّرے کسه پرنګیانو نیولي دی ـ او بّیا یه دا جوړه (سازش) وکاوه چې څوك پرنګیان اوسران به ونیسو را بے ولو" ـ جرګے د ـ بېلو خلګو په هکله د ـ بېلو سزاګانو یا لاس ګرو (ضمانتو) سپارښت کړی وو ـ ژّمور څلورو لپاره بند ـ ژّمور پور کلو اوخپّلوانو دّوه دّوه زره روپیۍ شریك ډنډ ـ د ـ مامد انور خان کاکا د ـ پینځو سو شپېتو زرو روپو تول (جایداد) چې دلے وو هغه یه سرکاری کړی وو ـ ښاغلی ایوپ خان زر روپیۍ ډنډ ـ اؤ هغه نورو ټولو لپاره لاس ګړی (ضمانت) مولا موتلیب د ـ کّوټې د ـ پلوّه (ضلع) بند ـ ناپیښه لا پکښي دا وه چې د ـ اڅګزو ډّرے څلور ملکان ـ پکارخان ملېزے ـ الی جان خان اشېزے

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ـ مامو‌ت خان الی زے ـ اۇ بایك خان بادین زے چی د
ـ جرگے غړی هم وو د ـ هغو پور کامو یه هم شریك
ډنډ (جرمانه) لگولی وو ـ پولتیکل خپل په پرېکړه
(فیصله) کی لیکلی وو چی دا یوه جوړه (سازش) ده
چی سر خو په گولیستان کی اینبوو سوی وو او کار
پرے باندی په کندهار کی سوی دی ـ بیایه نو ببل
ببل کسان ـ پیښی (واقعات) اۇ گواهی څېړلی دی ـ
اۇ په پاے کی وایی چی زه د ـ جیرگے سپارښت منم
او دا دا ایدا دونه وورکوم ـ تر دغه وخته زما دا
گومان وو چی که نور نه وی نو په میانځگری
(عدالت) کی به پور لوړه (قسم) سربېره ځوك دروغ
نه وایی ولی دغه وخت لا هم د ـ کلو غرو او رېگو
پښتنو سمو خلگو خو پرېږده غلو ـ خونیانو ـ (قاتل)
او ډاکوانو به هم زیاتره پور لوړه (قسم) باندی دروغ
نه ویل ـ اۇ هسی به هم پښتنو دروغ او دروغ گواهی
ډېره بده باله نو ځکه زما په میانځگری ډېره زیاته
بروسه او باور وو ـ خو په دغه وار اۇ بیا وروسته نور
هم می داسی ازموده وسولے چی د ـ میانځگری
(عدالت) څه خو نه خو د ـ انگرېزی دود اۇ ونکی له

مّیانځګری نه می مخ له باور واخیست سو چیری چی پولیس دا د ـ ځان کار ګڼی او سوبه چی په هره توګه چی وی که د ـ ډروغو په ویلو وی اوْ که د ـ روښتیا په پټولو خو چی نیولی سوی سړے بچ نه سی ـ په زّیاته بّیا په اولسی (سیاسی) نالنبتو کی ـ ځینی نمونی یی وړاندی راسی دا ځل چی د ـ مارشل لا کومی پوجی مّیانځګری ماته څّورلس کاله بند راکړی دی چی زه اوس تیروم یو کال ډوړے مّیاشتی می پکښی سوی دی پوره خبری خو یی ځّپل په ځاے راسی خو تر تولو ناپیښه پکښی دا وه چی د ـ پولیسو یوه شاهد چی د ـ پولیسو اوسر هم وو هغه به د ـ مّیانځګری د ـ کوټی په برانډه کی ماته روښتیا خبری منلی اوْ کولی یی خو چی دننه به راغی پور لوړه باْندی یی ښّنه ډّروغونه ویل ګّوا د ـ دوے لپاره دا هم د ـ تاش یا شترنج یّوه لوبه وه ـ د ـ روښتیا او ډّروغو پکښی هیڅ خبره نه وه ـ د ـ دغه پس زه ځّپل په خّوښه هیڅ کله مّیانځګری ته نه یم تّللی اوْ چی کله به سرکار ونیولم او مّیانځګری ته یی وّړاندی کّړلم نو مانه کله د ـ مّیانځ هیله تّرے کړه ده او نه می د ـ دوے د ـ

www.kitabtoon.com کتابتون پوټلنه

لارو سره یا د ـ وکیلانو په خوله هم کله ډروغ یا د ـ
چل ول خبره هم کړے ده ـ روښتیا خبره چی به څه
وله هغه به می کوله اؤ نور می کار نه په درلود ـ
وروسته بیا خبر سولو چی په دغه ګواهانو کی څه خو
د ـ پولیسو پخوانی نوکران اؤ جاسوسان وو لکه سید
هسن او زبردست کاکوزے هغوے ته خو چی خپلو
اوسرانو ویل خاپے ناچاره ګانه چی هم هغه شان یے ویل
او ځینی نورے په زور او یره جوړ کړی وو لکه ادرامان
خان د ـ چمن ـ خو د ـ پیښی په هکله چی کومه خبره
دوے جوړه کړے وه هغه دوے روښتیا بلله او نه
روښتیا وه هم ـ تر ډېره وخته دوے وس هم کاوه خو په
روښتیا خبر هم نه سو ـ په روښتیا خبره مورږ یو څو
کسان ډېر وخت پس چی د ـ بنده واپس راغلو خبر
سولو چی دا وه چی د ـ پیر الی زو په کلی کی
بناغلی هبیبولا ـ یو ډېر روښتونے او ننګیالے سړے
وو ـ په یوه پښه ګوډ وو ـ خلګو به ګوډ هبیبولا باله
ـ ډېرد ـ تګ راتګ نه وو ـ په ډېره خواری به پور لکړه
تر نیژدے ځایه ټلاے سو ـ دغه هبیبولا خان د ـ هغه
حاجی اؤدول الی پیر الی زی اکا ( ټره ) وو چا ته چی

د ـ مولا خیر مامد خوړ واده وه دے ژموږ د ـ لومړی سر پیژاندوے اؤ خواخوږی وو چی ژموږ د ـ نیولو خبر سوی وو ـ نیغ اؤ ریشتونی سړےخوووه چی خان بد راته ښکاریده چی تاسی بندیان واست اؤ موږ نوړ پښتانه هسی ناست وو ـ نو خپله په بدن نیم ګړی وم څه می نه سو کولاے نه لوستیوم چی خپله می څه لار ایستلے واے اؤ نه تاسی څه لار (پروګرام) پړېه اینبے وه چی باندی تللی واے نو یوه زړه پښتنی لار جنګ پاته وو بس پور هغه روان سوم مولا خیر مامد چی غبنتلی پښتون اؤ ژموږ خپلس (رشته دار) وو هغه ته می وویل چی داسی څه کار کول په کار دی هغه می ست کی اؤ هغه دا کار وکی ـ وروسته هم ناست نه وو بیا یه د ـ اؤدولا خان د ـ تانے هغه اځګزی پولیس سپاهیان لمسولی اؤ د ـ تانے لوټلو ته تیار کړی وو چی تر کار وړاندی ونیول سو ـ دغه هبیبولا خان اوس مړ دی خوداے دے وبخښی یو زوے یه اؤدول خالیك خان نومیری د ـ کوټی په مارکېټ کی د ـ مېوه د ـ آرت کار کوی اؤ بلے مامد رسول نومیری په کلی کی وی هغه وخت ډېر

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

واړه وو خو ګومان مې دی چې دوے اؤ د ـ دوے نور ډېر خپلوان ـ د ـ یوه ډوو چپ نه هغه وخت د ـ ښاغلی هبیبولا په دے پښتنی ننګ خبر سوی دی اؤ نه اوس به خبر وی ـ زمونږ تر نیولو لږ وړزی وړاندی مې د ـ مشر زور چې لومړی ښځه یه مړه وه ډویم واده تیار وو ـ تیار لا نه هرو مرو په کار وو چې ژر وسی ولی د پښتنی دوده سره سم هغوے د ـ خوسر کره په ګردنو تله راتله اؤ ښځه یه په هیله وه اؤ په دود کی داسی واده د بچې تر پیدایښت وړاندی هرومرو په کار وی چې وسی اؤ دا ډېره بده ګڼله کېږی چې د ـ پلار کره یه بچے پیدا سی ـ څکه چې مونږ ونیول سو نو د ـ پرنګیانو تر تېښتی وړاندی هم اؤ روسته هم ډېرو خلګو اؤسرانو ته ویلی وو چې دوے دواړه یا یو مشر وړور که نور نه وی خو زوزو له پرېږدی چې دا واده وکی خو هغوے ونه منل په سر کی خو دا ګومان وو چې ښاغلی یاکوب خان به ژر راسی اؤ جوړه به وسی او د ـ پرنګیانو د پېښی پس بیا په خښم وو ـ نو زمونږ د ـ بنده پس چې زمونږ د ـ وتو هیله یه وختله نو زمونږ مور اؤ خپلوانو د ـ واده په هکله د ـ سرکار

دا زّیاتې د ـ سرکار یو شانته خرکې (چیلنج) وګاڼه اوْ په ډېره بهادرۍ یه د ـ دوړه چپ دا لار وورسره راوایستله چی د ـ زوږم په ناویسیا (غیر حاضری) یه واده وکی اوْ که څه هم زّموږ په کوړنۍ کی د ـ کندهار د ـ ایرانی اوْ پارسیوان ژّواك (تهذیب) دا بّرید (اثر) ووږ چی د.غم اوْ ویر پې ډیره پالنه کوله چی په کوړنۍ کی به څوك مشر سړے مړ سو اوْ یا به چاته څه بل غم اوْ خّواشینی پېښه سّوله نو یو کال به هیڅ رنګه خّوشالی په کوړنۍ کی نه کېدله واده ـ خّوشالی اوْ ټنګ ټکوږ خو پّرېږده په کوږدۀ یا د ـ زوړے په زوکړه به چا ډزی (ټکان) هومره نه سو کولاے چی ډېر پوخ دوږ دی ـ خو دا واده هغوے په هسکار ډېر په ډّرب ـ خّوشالی اوْ ټنګ ټکوږ وکی چی ګّوا دا بند موږ هلوږ غم اوْ خّوابدی ګنهو هم نه ـ په دې واده اوْ زّموږ د ـ موږ اوْ خّپلوانو په دې کار هم موږ د ـ چا له خّولې په دې کومارۀ کی خبر سو خّپلوانو مو په زّیاته ښاغلی مامد تاهیر خان اوْ سّمایل جان یو بل د. مړانی کار دا وکی چی زّموږ تر شا چی کوږم باغونه اوْ تیاره مېوۀ پاته وه د ـ هغه لپاره موږ وورته ولیکل

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

چې پښوا خو موږ به ځپله لیږله خو اوس داکار نه سی
کېداے تاسې هم نا اوزګاره اؤ په ځپلو کارو اخته
یاست نو داسې وکی چې چاته په لږ یا ډېره په ټیکه
ورکی اؤ پیسې به زموږ موږ ته ورکی هغوے به ځپل
د-کوږ خرخ په کوی - ولې زموږ په کوږکی بل لوے یا
وړوکی نر ګاړی د - سړه نه وو - ډوبه مو ښځی وه
اؤ یوه بوډۍ موږ دا مو هم وړرته وویل چې که بل
څوکې په ټیکه نه اخلی نو ښاغلی سمایل جان چې هله
هم د مېوه سوداګری کوی اؤ د.- نورو خلګو باغونه
په ټېکه اخلی هغه دی سږ دا زموږ باغونه په ټیکه
واخلی او یا په ترلې ګټه کار ده وکی اؤ سمبال ده
کی - چې د - بل په کارو کی څومره ګټې هغه دی له
موږه واخلی خو هغوے وه چې دا ټولی زموږ لپاره د
- شرم خبری دی تاسی به غمه اوسی ستاسی د - کوږ
اؤ باغو کار اؤ خسمانه به هغه شان کېږی لکه تاسی
چې دلې واست - نو ښاغلی مامد تاهیر خان به زموږ
تر بیرته راتلو پوری د - کوږ اؤ باغو زېرمه زخمه
کوله اؤ ښاغلی سمایل جان به د - مېوه بیلتې او
کاتې ساتلې او کاره هم هغه شان کړی وو لکه موږ

چې دلې وو ـ د کور نوکار زېرمه زخمه اؤ خرڅ مو مورکې په لاس کې اخیستې وو ـ که څه هم هغه وخت زیاتره پښتانه د ـ کامې کار (سیاسی کار) اؤ د ـ کام د ـ خسمانې (قومی خدمت) په هغه مراد نه پوهېده نې کله لیدلې یا اروېدلې وو ـ د ـ کوم لپاره چې مونږ بندیان وو ـ خو خکه چې د ـ انګرېزی سرکاره څخه کړکه د ـ هر پښتانه په ختهه (خمیر) کې اخښلې وه اؤ په دې پوهېده چې دوې د ـ انګرېزی سرکار د ـ دوښمنۍ له مخې بندیان دی نو هر خاے اؤ د ـ هر ډول خلګو د ـ مونږ سره ډېره همدردی اؤ خواخوږی وه ـ په جېل کې بندیان ـ باهر سرکاری نوکران ـ پولیس والا ـ بابو ګان تر مالیانو اؤ بنګیانو پورې په زیاته هیندوان اؤ سیکان چې د ـ هیندی کانګریس د ـ ښوونې له مخې اؤ خپلو نورو کامی ډلو ـ پنچاتونو دوې د ـ کار له مخې د ـ کامی کار په مراد پوه وو ـ اؤ دغه وخت په ټول هیند کې د ـ ګاندی جی د ـ مالګې ښور (تحریك) ډېر په زور روان اؤ خورسوی وو ـ که څه هم مونږ د ـ پرنګیانو په تنبتولو کې هیڅ لاس نه درلود اؤ نه مو دا کار خوښ هم وو ـ خو څکه

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

چې دا کار د ـ پښتنو او بلوڅو د ـ خوښې کار وواؤ پوړ ننګ اؤ د ـ ننګ پوړ توګه سوی هم وو ـ بل ناپېښه کار وو ولې د ـ انګرېزانو مرګ خو به کله کله په بلوچیستان کې تل کېده کله د ـ غزا په ګومان اؤ کله د ـ ډاکې یا شوکې لپاره اؤ یو ځل دړے څلوړکاله وړاندې ندر نومی د ـ بر ښاره یوه کاکړ شازلمی یو انګرېز ژوندے هم بیولی وو چې بیا یه په څه پیسو پرېښوو خو داسې په ډاګه پوړ کامی ننګ تر دمے له مخه چا انګرېزانو ته لاس نه وو اچولی اؤ ځکه چې دا کار زموږ پوړ نامه اؤ زموږ لپاره سوی وو اؤ د ـ انګرېزانو اؤ د ـ هغوے له باچهۍ نه خو کړکه هله هم خوره وه نو خلګو به موږ ډېر په مینه ارز اؤ خواخوږی کسلو (کتلو) اؤ په دړنه سترګه یې راته کاته لکه موږ چې یو کلکه توره کړمے وی اؤ د ـ کام د ـ جنګ توریالی یو ـ په کوماره کې موږ ته نوره خواری نه وه خو په دړمے میله تګ راتګ کې به بیړو ډېر په زاوالولو ـ ډېر ځله به مو پښیے تپی سولے ـ اسلم نومېده یو کابلے زین ساز وو (سراج) ترزلزله وړاندې چې په کوټه کې پوړ هبیب ناله د ـ ښار والی

(میونسپل کمېټۍ) دوکانونه وو په هغو کښې دوکان وو
موړ به کله کله د ـ آس یا ټوپك سامان جینی رانیو ـ
یووخت په څه خبره کی جېل له راغی زموړ د ـ جولان
زاوالې ولید ډوبې ډرې ړوزی پس په لاس ګری
(ضمانت) وّلاړ ـ څو ړوزی پسپې د ـ بل چا په لاس
یوه یوه د ـ څرمنی ډېری پخپې اؤ پستپې چموټې
رالېږلی وې چی هغه به مو لکه د ـ تاوانی آس پوړ
پوټېیو وتړلې اؤ د ـ زولنو کړی به مو ډوه خایه په
سکګانو (بسکسوو) وتړلې بیا یه په تګ راتګ کی
مخ له نه په زاوالولو ـ د ـ دغه سړی دغه نېکی می
تر اوسه لا یاد ده اؤ ارمان دا دی چی بیا می لیدلی
هم نه دی نې په درك خبر یم چی څه سو ـ
د ـ اوس په شان هله هم د ـ جېلو اوسران اؤ نوکران به
زیاتره نالوستی یا لږ لوستی وو اؤ بل به وېریا بندیان
ووړپیدا کېده نو د ـ لیك کار پې زیاتره خپله نه کاوه په
بندیانو پې کاوه چی موږ جېل له راغلو هغه وخت به
دغه کار ټاکر داس بابو نوړمامد دوې کاوه په لږ وخت
کی هغوې ایله (رها) سو اؤ د ـ جیل دغه کاروته موږ
ته پاته سو ـ ما به د ـ راشن ګودام د ـ لیك کار کاوه

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

اؤ ایوپ خان د ـ هسپتال د ـ دروازہ (ډیوړی) د ـ لیك کار ـ تګ راتګ ( داخل خارج ) اؤ د ـ بندیانو پنچے اؤ کاز به هم موږ کاوه چی ژیاتره په جیل کی ډیر د ـ سوواں ـ ارز اؤ ګتی کارګنل کیږی ډیر مونشیان په جیلو کی خان له هم اؤ د ـ اؤسرانو لپاره هم د ـ بندیانو نه اؤ د ـ هغو د ـ خپلوانو نه ډیری وهنی کوی ـ چاله اسانه کار ووړکړی ـ څوك د ـ خوښی بارك اؤ مل ګرو ته بدل کړی ـ چاته بے واری (سپیشل) خت یا د ـ خپلوانو لیده (ملاقات) ورکړی ـ د ـ چا د ـ خانی جامو یا سامان نه څه شے پټ کړی ـ اؤ پوړ بندیانو ډیره سختی اؤ ژیاتے هم کوی ـ

# اپیل

د ـ پولی د ـ تورو په دود (قانون جرائم سرحد) کی سم اپیل خو وی نه ـ کمشنر یا ایجنټ ګورنر جنرل ته ـ پور پرېکړه (فیصله) باندی د ـ بیا پام کولو درخواست (نګرانی یا نظرثانی) وی ـ چی زما په سر کی هم نه وو خوبښ اؤ بیا زموږ پرېکړه د ـ مامد انوړ خان کاکو د ـ تول (جایداد) د ـ سرکاری کولو اؤ د ـ مولا موتلیب (مطلب) د ـ پلوه د ـ ایستلو (ضلع خارجی) لپاره هسی هم ایجنټ له تللې وه ولی چی دا دواړه کاره د ـ پولټیکل تر واك و تلی وو ـ یوازی ایجنټ کولاے سو خو د ـ نورو مل ګرو خوښه وه نو ماهم اپیل وکی ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

# مچ جېل

په دغه کال په مچ کې چې له کوټې شپېته میله په بولان کې کوز یو ځاے دی چې پخوا یو ډېر وړکوټې کلی د - بولان د - تاسیلدار ځاے اؤ د - ریل د - اینجنانو شیډ وو - نوی نوی د - بلوچیستان لپاره سنتر (سنټرل) جېل جوړ سوی وو - پخوا به د - بلوچیستان لوے بندیان په کوټه اؤ سیوی کې ساتل کېده اؤ تر دے زیات به د - هیند بېلو بېلو جېلو ته لېږل کېده په دغه کالې جېل جوړ کړی وو اؤ د - هیند د - جېلو څے زاړه بندیان هم راغوښتی وو اؤ نوی بندیان چې بند ېے تر شپږ میاشتی زیات وو هغه ېے هم هلته لېږل د - کوټې جېل له به ځینی بندیان د - مچ څخه راتله اؤ خبری ېے کولے چې هلته ډېره سختی ده - هم د - کار - هم د - دوړ (قانون) هم د - وهلو ټکولو اؤ هم د - خوراك څښاك - اؤموږ ته ېے ویل چې تاسی کوښښ کوی چې دلے پاته سی - زما مله خورا ډېر وار ختا وو خو زه په زړه کی په دے خوشاله وم چې هلته مو

ولېږي ولې هيله مې وه چې څه ډېره سختۍ راسې نو کوندي دوے شوميا ته غاړه کښېږدي او موږ خان له کلاس واخلو چې د ـ ده خوارۍ اؤ سپکتيا ووزو -

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

# کوټه کی ځینی ناپېښی

هسی خو د ـ جېل ټول ژوند د ـ خوارو او زیاتوب (ظلم) نه ډك وو خو د ـ دوو کسو خبره ډېره ناپېښه وه یود ـ کوټی خوا کی د ـ هوډے د ـ کلی یو بابے وو چی نومے رانه هیر دی هغه خپله ښځه اؤ د ـ هغے یار په تورو کی یو ځاے وژلی وو ـ چی په دوډ کی هیڅ بد کار نه وو ـ نے څه سزا درلوده ـ خو د ـ بده مرغه دے د ـ خواری پېښے پښتون وو اؤ ښځه یه د ـ کوټی کاسی وه ـ په جیرګه کی د ـ کاسیانو نواب هغه ارباب خوېداد خان چی زموږ د ـ جیرګے هم مشر وو ـ وورته ویلی وو چی د ـ ښځی خپلوان خوشاله که ـ څه پیسے ورکه ـ سړی وورته ویلی وو چی نه دانه کوم اؤ نے کولاے سم ـ څه پوړه را باندی نسته ښځه می په تورو (بد کاری) باندی وژلے ده ـ اؤ بل دا چی که دوے ته نېکه ورکم نو خو مادا ومنل چی ما خوشی وژلے ده چی د ـ دے مړک خوشی سی نو خو د ـ سړی مړک هم خوشی سو نو د ـ سړی خپلوان ما بے مړکه

کله پړېږدی ـ وے چی ارباب راته وے چی د ـ ښځی کوړنیۍ زّما خّپلوان دی ماله کوړته راغلیۍ دی زے ډېر ناچاره کړیۍ یم هغوے ته پټ څه ورکه د ـ سړی ټبر به خیر دی نه خبره وو نه به په پّرېکړه کی دا شپے لیکوۍ ـ چی ما وے دا نه سم کولاے نو هغه وے "ښه دی ګوړو به" هغه رّوز اؤ نن رّوز زّما د ـ پېشیۍ په رّوز ارباب جرګے له نه راځی یا چی راسی هم ولاړ سی وایی زّما کار دیۍ اؤ هغه نوړ غړی وایی چی ارباب نه وی دا خبره نه سی غوڅېداے ـ بله پیشی راکی ـ سرکاری اؤسران می هم خبره نه اروی ـ دا شان دغه وخت د ـ ده شّپږ یا اووه کاله سوی وو ګوړمان می دی چی ډّرے خلوړے نوړ هم وسو د ـ زلزلے پس می یو وخت ولید پّرے اسبیۍ یه وو ـ بل هم څه دغه شان خبره د ـ کلندر نومی د ـ برښاره د ـ یّوه کاکړ بندی وه د ـ هغه هم ډّرے څلوړ کاله سویۍ وو ـ نے پېشی کېدله اؤ نے خبر غوڅېدله ـ ډّریم سړے سیدو نومېده په اوغانیستان کی د ـ مېل نومی ځاے کاکوړزے اڅګزے وو ـ یا که نوړ نه وی ده داسی ویل بل‌چا نه پېژاند اؤ نه ده د ـ چا سره ناسته پاسته یا ډېری خبری

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

کوڼې ـ نې دا درك لګېد ـ چې پوړ څه بندي دي ځومره بندي دي خو وو پښتون ـ کوټې جېل له د ـ بله جېله په چالان راغلي وو ـ ګوندي سزا يه تېره کړې وه اۋ ايله کېدو اۋ لاس ګري يا اوغانيستان ته اړولو ړې راوستي وو ـ ماته ډېر زوروړ غل اۋ ډاکو ښکارېده چې ډېر بندې ګاللي وو ـ دغه وخت سپين بږيري اۋ بدنې پې واکه شانته وو ـ دې سړي د ـ ژوزي د ـ ډوو روپو تارياك خواړه ـ يوه پيسه يه هم نه درلوده اۋ نې کله څوك خپل ليدو له راغلي وو نې درلوډ ـ خو د ـ تارياکو (اپيمو) دغه پيسې يه پيدا کولې ـ د ـ هغه ډوې لاري وې يو خو چې کومارې له به ته راته نو هلته يا په لاري چې پې څوك سپين روني (سفيد پوښه) سړې وليد خواست پې جيني وکي چا به څه ورکړل خو هغه دومري شې نه وو چې د ـ ده ګوزاره په سوې واې ـ ژياته پنګه پې داسي ټولوله چې پينځه شپږ مياشتي د ـ دوبي (اوړي) چې به روزانه کومارې له راته هلته پې په بنګلو اۋ سرکاري باغو کې مېوه اۋ سبزي غلا کول اۋ يو ډوه پوليس والا پې د ـ خان سره ميلاو کړي وو هره ژوز پې غټه پلنډه ورکړله

هغوے به په بازار کی وورله خرڅه کړله پیسے به نیمی د ـ ده وہے نیمی د ـ پولیس والا ګوا ده هره رّوز دومره شے غلا کاوه چی سم دلاسه وخت بے هم په اړاوه اوْ د ـ ژمی ګوزارہ پے هم ساتله هسی خو ډېر پټ خولی سړی وو په هیچا یه کار نه لاره خو د ـ تاریاکو یا د ـ پیسو لپاره بّیا په هیڅ هم بند نه وو چی ـ اپیم بے نه وو یا پےچا د ـ اپیمو اوْ پیسو لاره بندوله بّیا سیدو په هیڅ هم بند نه وو ـ اوْ ډاکټر خو پرّېږده یّوه رّوزہے په کومارہ کی د ـ پولیس والا نه توپك واخیست اوْ سنګینے تّرہے وکېښں سرے یه واژه خو په څه خّوارو مو تّرہے بچ کی ولی چی هغه دے د ـ مېوہے غّلا ته نه پرّېښوو ـ یو وختے په جېل کی مور ته هم ډېر بد وویل ـ د ـ ده څه اپیم اوْ پیسے نه وہے یا نه وہے وورته را رسېدلی ګومان می دی چی د ـ ایتوار رّوز وه چی تنګ سوی وو نو یه ګومان کړی وو چی دا خانان دی د ـ دوے سره به پیسے وی راہے کی ما تہے وویل ما وہے مور سره پیسے نه وی د ـ ده لکه چی زّړه ته نه وولّوېدلی مور یّوہے ډډی ته ناست وو ـ دے راغی زّمور تر مخ تېر سو بدی بنّکنځا یه د ـ خانانو په

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

نامه وکړلے زما مل ګری چی ناخبره وو ډیر خوابدی سو اؤ وخبمیده خو زه وور ولاړ سوم سیدهٔ اکا می خان له بوت اؤ پوړے می کی چی د ـ موږ سره پیسے نسته که واے درکړی به مو وے په دے بد ویلو څه جوړه ده ـ هغه ولاړ اؤ سهار له بیا راغی ډیر پښېمانه وو چی زه په خوږ کی نه وم بد می وکړل اؤ ډیر شرمینده یم ـ

# په جېل کې ناوړه مّله

د ـ کوّټې په جېل کې راز راز خلګ راسره اوسېده ـ ښاري ـ بازاري ـ بانډېڅي (کلي وال) پښتانه ـ بلوڅ ـ هزاره ـ پنجاپیان ـ هیندیان ـ بنګالیان ـ موسلمانان ـ سیکان ـ کریشتانان ـ لوّستي ـ نالوّستي ـ پوه ناپوه ـ دّرانه سّپك ـ بې ګوناه ـ ګوناه ګار نوی اۋ پاخه وّران کاري ـ خو زّموږ لپاره لویه خّواري په دوې کې د ـ خینو خلګو سّپك خویونه په زّیاته پوچه خّوله وه ـ د ـ زّیاترو به هره دّویمه خبره اۋ د ـ ناز خبره سّپکه ښّکنځا وه ـ چې دا خوې یې نه درلود نوږ نو خیر وو ګوزاره ووږسره کېداې سّوله هر څوك چې به وو تر دې چې یو وخت موږ ته په بارك کې تر ټولو رانیژدې ـ رهمان ډار کشمیرې اۋ اوّدول کادر نامې دّوه د ـ چکلې کنجران وو ـ ځکه چې هغوې هر څه چې وو سّپك خویونه اۋ پوچه خّوله یه نه لرله نو ټوله رّوز اۋ شّپه به دوې اۋ خینې نوږ پښتانه بلوڅ اۋ هینکې غّله راسره ناست پاست وواۋ ټول وخت به مو که ښّکنځل

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

نه وو نو د ـ غلا ګانو اؤ نورو راز راز بدو خبری اروېدلې ولی په دوے کی د ـ زیاترو کسانو ټول ژوند هم په دغه کارو کی اؤ د ـ دغه شان خلګو سره تېر سوی وو په جېل کی یه د ـ خوداے د ـ کیتابه سېوا بل هیڅ کیتاب یا کاغز هم نه پړېښوو چی سړی دی وخت په تېر کړی واے نه څه داسی بېل یا سم ځاے وو چی سړی دی زیات وخت د ـ خوداے کیتاب لوستلاے په زیاته د ـ شپې چی دېرش څلوېښت کسه به جوخت ناست پاست وو ـ اؤ هر سړے د ـ خپلی خوښی وو هر راز خبری چې کولې ـ دا کار که څه هم د ـ هر لوستی یا دانه سړی لپاره زاوال جن وی خو ایوپ خان به ډېر سر جینی ټکاوه وه چې سړو خوے (اخلاق) مو وړانېږی ـ

# مچ ته چالان اؤ د ـ

## ایوپ خان پښېمانی

په دې مّیان کی یّوه ړوز هم په کومارۀ کی ښاغلی غپار خان چی د ـ ایوپ خان د ـ تّره (اکا) زوې وو راغلی وو د ـ نورو خبرو سرې ایوپ خان ته دا هم وویل چی سّتا پّلار چی تّللی دی بّیا یه سّتا د ـ بچو هیڅ خبر نه دی اخیستی اؤ نې خرڅ وورله رالیږلی دی ـ که څه هم دا خبره د ـ ښاغلی یاکوب خان کاکو سره هیڅ ناپېښه نه وه اؤ غپار خان داهم وورته وویل چی تې غم مه کوه پّلار دی هر څه چی کوی سّتا بچی به هیڅ ته نه اړېږی اؤ نه به په څه درمانده کېږی ـ خو د ـ ایوپ خان څّوا ډېره بده سّوله ـ اؤ زهیر سو ـ خوداې به خبر وی چی د ـ دې خبری بّرید اؤ د ـ بچو د ـ اړی زّغم وو که د ـ جېل د ـ ژّوند بّرید اؤ تنگی ښاغلی ایوپ خان په تېینگه داخبره پېل کّړله چی موږ له د ـ جېله وتل پکار دی کنی دلته مو د ـ دې خلگو په ناسته پاسته خوې خرابېږی ـ خو ما هم په تېینگه

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

جواب ورکی چی تاسی هر څه چی کوی ځپله مو ځوښه زه په سپکه توګه د ـ جېله نه وزم اؤ د ـ دې خلګو د ـ بدو پازو اؤ د ـ جېل د ـ سختو اؤ سپکو څه د ـ بچ کېدو لار د ـ کلاس اخیستل دی نه چی وه سرکار ته سرکوزول په دې کی جېل والاوو یوه ژوز سهار خبر راکی چی تاسی به نن کمارې له نه ځی تاسی مچ له لېږو ـ ښاغلی ایوپ خان نور هم ځوابدی سو وړاړ د ـ جېل د ـ داروغه سرې ولیدل اؤ یو خټې لیکلی هم ورکی چی مور ونه لید ـ داروغه ــــ په دغه ژوز مور مچ ته ونه لېږلو ـ

## د ـ خوٚاشینتی ژوٚزی

ژموٚږ اوٚ د ـ ایوب خان تر منٚیان بېلتون پیدا سو ـ ما خو ډېر باك نه په کاوه ووږسره ګایدم اوٚ ووږسره ناست پاست وم ـ مشر وٚروږ می هیڅ کار نه په لاره نه ښه نه بد اوٚ ښاغلی ایسا خان به تنګاوه پوږی خندل یې اوٚ کږې کینې خبری یې ووږته کولې ـ هله هم د ـ جېل تنګی اوٚ خوٚاشینی وه خو چی تر څو موږ سره په یوٚځ خوٚله اوٚ زژه وونو به مو په خپلو کی ښه وخت تېرېده ـ چی دا بېلتون راغی په مل ګری کی خوٚاږه پاته نه سو ـ زه په دغه ژوزو کی ډېر خوٚاشینتی وم اوٚ دې ته می سترګی وختلې چی سرکار ایوب خان ژر پرېږدی اوٚ دا خبره لنډه سی خو هغوی پرې نه ښوو ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

# د ـ کامی پنجاپیانو
# نیول ـ اوٚ ژموږ مچ له ټلل

په دغه ږوزو کی جون جولایی کال ۱۹۳۰ کی د ـ هیند د ـ کانګریس د ـ مالګی ښوږ (تحریك) ډېر په زوږ کی وو ـ په زرګونه خلګ په جېلو کی وو ـ اوٚ لا په هر ولات (صوبه) کی ټله ـ په پېښور کی ګولی چلېدلی وې ـ اوٚ د ـ آزادی جنګ ښه ګرم وو ـ خو په بلوچیستان کی د ـ اخګزو ښوږښت سوږ سوی وو اوٚ له موږ اوٚ د ـ ښاغلی یوسپ الی خان مګسی په چپه چی بندیان وو نوږ هیڅ کامی بږغ نه وو ـ ناساپی یوه ږوز په یو هیندو راووست د ـ یو ـ پی د ـ مراد آباد لوستی سړے وو په کوټه کی د ـ یوے پلټنی سره کلرك لګیدلی وو ـ کانګریسی وو اوٚ په پلټن کے د ـ کانګریس څه خبری کړی وے پوجی میانځګری (کورټ مارشل) څلوږ کاله بند وورکړی وو سبا له یه مچ له ولېږه ـ بله ږوز یو بل سړے ځوك شبیر شا

نومېده په کوټه کې چا د ـ لور د ـ واده په هيله ځو
پيسې جيني خوړلي وې اؤ بيا وورته ناکاره سوی وو
چې لور نه درکوم اؤ ده په دې تاو کې هغه پې ګوناه
نجيلۍ وژلې وه د ـ مور سره د ـ کوټې په جېل کې وو
ـ شاجي به مو باله ـ يو وختې زوروره تبه وه ځه پرکاله
غوندي وو په هسپتال کې په کټ کې پروت وو ـ ببېری
يه په پښو وې ما ډاکټر ته وويل چې دا ببېری خو ټرې
ايستل په کار دي دې پې خوده شانته دې پښې لاس
ښوروي اؤ ډډه په ډډه اوړی ببېری پې ډېر په زا والوی ـ
هغه زولنې جيني ماتي کړې بس د ـ هغې ږوزې له ما
سره مينه پيدا سوله ـ اؤ خپل تورې هم ماته خان له
ومانه چې ما هغه ښځه پې ګوناه د ـ پلار او مور د ـ
خبمه مړه کړله ـ سيشن جج وورله شل کاله بند
ورکی مچ له راغی د ـ جېله يه اپيل کاوه ما ډېر
وورته وويل چې اپيل مه کوه مرګ دی ناروا کړی دی
هسی نه چې پانسی سې نې منل وې تر شل کاله بنده
مرګ ښه دی اپيلې وکی کمشنر پانسی ورکړله اؤ په
کال ( ۱۹۳۱ ) کې پانسی سو ـ د ـ پانسی په کوټه
زما مشر وروړ هم خوا کې وورسره بند وو ولی مور

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

شومیا (بهوك هړتال) نیولې وه په اوستری ږوز زما
لپاره سپرنټینډینټ ته ډېر ویلیٰ وو چی ترمړګ له
مخه دے لیدل غواړم خوهغه وورته ویلی وو چی دے د
- ډېرو ږوزو شوم دی تاله راتلاے نه سی - سهارے
غرغړه کی - په دغه شپه یخ هم ډېر وو سهار له د -
جېل د - لنګر په خوا کی یوه یا دوه مورغی مړے
سوی وے بس بندیانو خبره جوړه کړله چی دا د - دغه
سید د - مرګ په غم کی مړے دی - چی په کال (
۱۹۳٤) کی زه بیا جېل ته ورغلم د هغو یوے یا دوو
چڼچڼو څه په سیلونو لوے سپین مارغان جوړ سوی
وو او نوری ډېری خبری د - دغه خونی د - برخی
(بزرګی) په هکله روانی وے اؤ د دغه سړی ځلی اوس
هم په مچ کی لوے زیارت جوړ سوی دی ملنګان
باندی ناست دی په منونو چرس اؤ بنګ باندی څکول
کېږی اؤ خوړل کېږی او په زرګونو نر او ښځی مرادونه
اؤ اړی (حاجات) وورته راوړی دا شان زما په مخ کی
یو خونی سړے د - خلګو په ناپوهی او سوست باوری
د - خوداے په خودایی شریك د خوداے دوست او د -
شلو رنځو دوا سو - بله ږوز یه څو کسه پنجاپیان

بنایان (راج) د ـ کوټې جېل له راوستل اؤ د ـ نورو
بندیانو ځنې په بېل ځاے کې واچول پاره یه باندی
ودروله هیڅوک نه ووږپرېښوو په ژیاته ژموږ لپاره د ـ
جېل والاوو دا وینا وه چې دوے به مخ له نه
ووږپرېږدی چې وورسره ووینی یا خبری وورسره وکی ـ
دغه خلک یه ځپله هم ځله ډوبے ډلی اؤ بېل بېل
ساتلی وو موږ په دے خو پوے سو چې دی خو کامی
(سیاسی) خلک چې د ـ موږه یه بېل ساتی ـ خو د ـ
ډېره کوښښه سره مو هم پوره خبر پیدا نه کی چې
خبره څه ده ـ ولی دوے هم ډواړی ډلی ډېر بېرېدلی وو
اؤ یو له بله هم ډېر بدګومانه وو چې موږ به څوك
سپاهی یا بندی ووږولېږل د ـ دوے به دا شك وو چې
دا کنی سرکاری چوغل دی ژموږ خبر اخلی یا به د ـ
یوے ډلی ګومان وو چې کنی هغه بلی ډلی به
رالېږلی وی څه پے ویل نه چوپ وو ـ په دوے باندی
بیا د ـ کوټې په پنجاپیانو کی سرکاری خلکو جرګه
وکړله نورے له بلوچیستانه وایستل اؤ یو چې ګومان
می دی مامد یوسپ نومېده هغه ته یه بند ووږکړی
وو په موږ پسے مچ له راغی ـ د ـ دے خلکو مشر بیا

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ما ډّوه کاله پس په لاهور کی دُ ـ "مجلس احرار هیند" د ـ کاریندہ جرگے په غّونډه کی یو وخت ولید ـ مامد شپی نومیده د ـ سّیالکوټ اؤ جموں پوړ پوله چی د ـ کشمیر ـ د آزادی د ـ جنگ د ـ شهیدانو په یاد کی کوم ماجت ولاړدی هغه هم دغه سړی جوړ کړی دی اؤ هم د ـ ده په نامه یه د ـ شّپی جوماټ بولی دی بّیا مړ سو خوداے دہ وبخښی بل مشرہ پیروز نومی اوس هم په کّوټه کی اوسی ـ دے اؤ زوے یه د ـ بنایی اؤټیکداری کار کوی ـ دغه شّپی اؤ د ـ هغه لسو اتوخّوانانو ّملو چی ټول د ـ سّیالکوټ بنایان (راجان) وو اؤ په کّوټه کی بے خّواری مزدوری کوله ـ دوے په خّپلو کی دا جوړه کړہ وه چی په ټول هیند کی د ـ انګریزی سرکار د ـ دود (قانون) ماتولو ښوړ (تحریك) روان دی اؤ په بلوچیستان کی نسته نو دلته بے موږ روان کو خّپله به که نوړ نه وی د ـ کّوټی د ـ ښار په هیندوانو اؤ موسلمانانو ځوانانو کی څه ښوړ پیدا سی ـ چی ډیر ښه اؤ د ځاے کاروو ـ لاړہ دا ووړله اینښے وه چی هره ّروز به په موږ کی یو سړہ ماځیګر وخت د ـ کّوټی د ـ سنډیمن هال په باغ کی

چېرې چې په سوونو نر ښځې ـ هیندوان موسلمانان سیل اؤ لوبو له راځی ـ درېړی اؤ د ـ هیند د ـ آزادی اؤ کانګریس په مرسته کی به وینا کوی اؤ خلکو ته به وایی چی پاځی تاسی هم د ـ هېواد د ـ نورو ځایو د ـ هیندوانو اؤ موسلمانانو په شان د ـ انګرېزه د ـ خپلی آزادی د ـ ګټلو په کار کی لاس وکی ـ خو د ـ بده مرغه په دوے کی د ـ دوو کسو خوانانو خپل په مّیان کی وّرانه وه ـ هغه یّوه پام کړی دی چی اوس دی وار دی پولیس به خبر کړے اؤ دے به په جېل ورکړے خپله دوښمنی به سر کړے ـ نو تّللی وو اؤ دا ډروغ چوغلی یه کړے وه چی داسړے بمان جوړوی اؤ په کوټه کی سرکاری خایونه الوزوی ـ دا شان پولیس په تړله خبره خبر سو دوے یه ونیول هغه نوړے وایستل اؤ دغه ښکومی (مخبر) تپے په ډروغ رپورټ باندی بند ورکی ـ چی دوے یه جېل له راوستل نو جېل والاوو زر زر موږ په ډوے ډړے ژوزی کی مچ له ولېږلو اؤ دا شان هغه د ـ ایوپ خان خبر اؤ ژموږ خواشینی هم ورکه سّوله ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

# مـچ جـپـل

د ـ اکتوبر د ـ مّیاښتی په کمه ژوز چې مچ له بیولو ډڕے ځلوړ کسه پولیس د ـ یّوه هوالدار سره راغلی وو ـ موږ ته زولنې خو وړاندی لا لګیدلی وې اوُ چی تّلونو خّپل څه کالی مالی یه هم په لاس راکړل چی دا به وّړی په دروازه کی پولیس والاوو ویل چی "په لاسو کی به کړی هم در لګوو اوُ ډوه ډوه به سره تړو" خو مشر وّروړمی وورته وویل چی "موږ خو دا یوپه زولنو تړلی یو نوړمو څه تړی بّیا به تګ ګّران سی دوړ (قانون) خو هم دا دی چی د ـ بندی په پّښو کی زولنې وی نو په لاس یې نه تړی ـ موږ هره ژوز له تاسی سره کمارې له ځو اوُ تاسی کړی نه رالګوی نن بّیا څه وسو ؟ خو هغوے چرته منل بس وّروړ می وورته وویل چی "ښه دی که تاسی کړی رالګوی نو موږ بّیا ځو نه تاسی به مو وړی هغوے څه جنه جنه وکړل چی موږ تیښګ سو اوُ دوے پوه سو چی نې لګوی نو یه وې ښه دی راځی ـ روان سو په لار کی

چې د ـ چمن پاټک سره د ـ پولیس کپتان د ـ بنګلې
مخ ته ورسېدو نو بیّا سړو وې "اوس به هرو مرو کړی
لګوی دا زمونږ د ـ اوسر کوړ دی که چا ولیدو نو بیّا
مو رتې مونږ خپله په ارزی سټاسی لپاره نه کوو"
مونږ بیّا هم هغۀ خبره وورته وکړله ـ او هغوی بیّا
ناچاره سو ـ چې تېسن ته ورسېدو بیّا مو جګړه
وسوله ـ خو راوځ نه لګولې او دا شان مچ ته ورسېدو
هلته چې ورغلوه شې د ـ کوټې نه بدل وو ـ څه یره او
ترهه وه چې د ـ جېل پور هر شی او هر سړی پړوته وه
خینی بندیانو ـ سړه ـ توری او ژړی جامې اغوستی
وې ـ نورو به نمبردار ساب وورته ویل ناوخته ماخیګر
وو زمونږ نمونه دوی په زغرده ولیکل او یوه خوا تې
روان کړو یو خای لې بوتلو چې ۱۱ یوولس ۱۲دوولس
په باله مونږه په بېلو بېلو ورو کوټو کی بند کړلو دا
بېلی کوټې بندیان چکی بولی بیسترې یه تر کوټه په
دې نېپې وې چې شړی یه نوی نېپې پاکی وې کوټې
پخې جوړی وې نسوپې سم او په سیمنټو پاخه وو د ـ
کوټې په یوه خوا کی د ـ پړوتی لپاره څه اوچته
دوکانچه وه چې بندیانې وتله بولی ـ د ـ رڼا لپاره په

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

هره کوړه کی د ـ بړېښنا څیراغ وو چی ډرسته شپه به بلېدو ھ م دا شان په غولی کی ھ م ډوډۍ یه د ـ غنمو دا پتیره وه خو ښه پخه وه ـ شپه تېره سوله سهار هغه د ـ کوټی د ـ جېل لار وه خو دلته هغومره آزادی هم نه وه هر څه د ـ بل په لاس او خوله وو ـ سهارې وختی د ـ لمانځه پس دستی ډوډۍ او چېړې راکړل او بیا یه په کوټو کی بند کړلو ـ ورې راپسی کوه لپ کی ـ ډوولس یا یوھ بجه به وه چی بیا یه راویستو وې راخی کار وکی بوری یه په لاس راکړې وې په غولی کی کاڼی ټولوی او د ـ کوټو شاتې اچوی ـ جېل نوی نوی په غریځه مځکه جوړ سوی وو غولی د ـ غټو غټو کاڼو ډک وو ـ او هر چېرې بندیان لګیا ووپاکاوه او سماوه یې جنډا نومېده یو لوړ دینګ مرې نمبردار وو او بسنت سینګ تر هغه لا هم لوړ دینګ سیك سپاهی ووهغو کار راوښوو موږ لګیا سولو کار مو کاوه او په خپلو کی ګایدو پوړ څه خبره مو سره وخندل بس نمبردار په ډېره بده توګه را باندی ناره کړل چی "ولی خاندی تاسی کار کوی که خاندی ؟" موږ له پوړ دې نوره هم خندا راغله او نمبردار

راولاړ سو نیژدې راغی ډېر په خښم یې راته وویل چې "خاندې به نه کنی نو ښه به نه وي" موږ ډېر په نرمۍ اوُ شوه (عاجزی) وورته وویل چې موږ خو دا یو کار کوو کار مو نه دی پړے ایښی نو ته زموږ په خندا ولی خوابدوې ژړا نه راځی کنی ژړلی به مو وو" هغه لاړ کورې ودان نوړ وهل ټکول یې ونه کړل ګوندی ځکه چې موږ هم څلوړ تکړه خوانان وو کنی زیاتره دغه وخت په مچ کی دومره خبری د - وهلو ټکولو لپاره بس وې زموږ کار خبری اوُ خندا هغه شان چالو وو نمبردار تنګ سو سپاهی تې رپورټ وکی هغه راغی اوُ په سختۀ یې ر ته وویل چې " نه به خاندی اوَ نه به خبری کوی دا ښتاسی ښوونځے (سکول) یا پوهنځے (کالج) نه دی دا جېل دی جېل دلته به سم ښوری"موږ بیا ډېر په سمه اوَ لېزمی وورته وویل چې "موږ خو د - ښوونځی یاپوهنځی څه دلته نه یو راغلی له بله جېله راغلی یو نوړ بندښتونه خو مو لیدلی دی اوُ منو یې هم خو د - خبرو اوُ خندا بندښت مو نه اوَرېدلی دی اوَ نے منلاے سو او په دې کی ښتاسی تاوان څه دی ؟" سړی یو سات سوچ وکی وُلاړ

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

اوٌ نمبردار تہے څه وويل هغه يه د باندی ولېږه ـ لږ دم پس د ـ نمبردار سره يو بل سړے راغلی په دړه (قد) ډېر ګردے لوے او تاو کړی بړېتونه ډېر په خيال ـ خيال را روان وو ناپېښبه لا دا وه چی څه ډېری کيلی (کونجی) يه په غاړه وے چی په بېلو بېلو زنځيرانو کی غوټی غوټی څو په يوه بغله کی او څوك په بل کی خړېدلی او چی دے به ته نو هغو به ښه کٌلکه شٌرنګا کوله ـ يو شل غوټی دا کيلی به وے د ـ سپاهی سرے څه خبره وکړله بيا موږ ته راغلی ډېر په سخت بږغ يه له مانه تپوس وکی چی " تا ولی د ـ دے سپاهی سره سپين سترګی (ګستاخی) کړے ده ؟ " زه ووړته راولاړ شوم اوٌ ډېر په لېزمی می ووړته وويل چی " ما خو څه نه دی کړی ده وے تاسی به نه په خپلو کی خبری کوی اوٌ نه به سره خاندی " ما ورته وے چی دا بندېښت خو په هغه بل د ـ کوټی ـ په جېل کی نه وو " چی ما دا خبره کوله نمبردار راته وے "کوز ګوره جمادار ساب ته داسی نېغ سړے نه ګوری" خو ما باك په ونه کی ـ اوٌ هغه بيا بيا دا خبره راته کوله ـ دا سړے جمادار بسنت سينګ د ـ کانګړے هيندو وو ـ د

ـ جېل لوړے جمادار خونه وړوکی چکر جمادار وو چی لوړے جمادار به غرمه لاړ نو ده بہ په خاے کار کاوه ـ خبر نه یم چی ولی خو جمادار څه نرم سو ځکه راته ونه ویل وہ " کار کوی شور شر مه کوی دا جېل دی" بیا یه خپل د سرو سره څه خبری وکړے او لاړ ـ هغو بیا په موږ کار نه لاره ـ سبا له سهار وختی نمبردار د ـ اوبو لوړے ډول په لاس راکی وہ په غولی کی اوبه وپاشی (چړکاو یا پرخ) موږ لګیا وو هغه مو کاوه د ـ غولی ور مخامخ پرانستی وو ماچی وکاته د ـ کلا د ـ دیوال په څوا کی د ـ لیری نه یوناپېښه شانته غوټه سری را روان وو ـ سرے توری ژړی او راز راز جامے یه اغوستی وہ د ـ یوه په لاس کی پرانستی رنګه چترے هم وو ـ او ځینو څه دسمالونه هم بنوړول ماداسی چل کله هم نه وو لیدلی ګومان می سو چی دا خلګ اتڼ کوی او په اتڼ اتڼ را روان دی ـ ایوب خان ته می وہ "دا څه دی ؟" هغه هم راغی چی موږ دا ننداره کوله ـ د ـ نمبردار راته پام سو را نیژدے سو وہ "څه ګوری ؟" چی وہ کاته وار ختا سو وہ " ساب راغی رامنډه کی ژر په خپلو کوټو کی بند سی " موږ هم

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

په تلوار راغلو اؤ دے هم څه تلولے تلولے د ـ یوه خایه بل ته کېده هغه ډول اؤنور شیانړے له مخه بیرته کول چی هغه ۆرا راورسېدله ـ یو ګردوتی پرنګے په تور سر را روان وو ټوپی یه په لاس کی وه ـ یۆوه سۆپاهی یه چترے پور سر نیولی وو څو کسه د ـ جېل اؤسران ـ جمادارا ن ـ سۆپاهیانړے ۆروسته ۆراندی ټۆله او یولس دوولس نمبرداران په رنګ رنګ جامو کی ترۆه چاپېره وو اؤ خۆپل په رنګه دسملو یه چی په جېل کی وورته ساپه یا تولیه وایی ـ موچان جینی شرل د ـ جېل ډاکټر چی د ـ چمن هیندو وو ګوپال داس نومېده هم وورسره وو ـ پرنګی د ـ ما په انګرېزی تپوس وکی ـ نوم څاے دا هغه ـ بۆیا یه راته وویل چی تاسی زه د ـ لیری ولیدم نو څه له مو منړه کۆل ـ ما وړه مور کار کاوه نمبردار چی تاسی ولیداست وړه شاباش هله ژر سی بند سی نو مور تلواری راغلو ـ وړه "تاسی څه کار کاوه ؟ " ما وړه " په دړه غولی کی مو اوبه نوستلړے " وړه " څومره وخت مو اوبه پاشلړے ؟ " ما وړه " ګانټه. به سوړه وی " په خنبم سو وړه جمادار " یو بوډا سیك ورا ۆراندی سو سلامړے وکی ـ

وې "ما چې تا ته ويلي دي چې د - کوارنټين بنديان
به کار نه کوي تاسي ولې نه اورې او دې نوو بنديانو
ولې کار کاوه ؟" هغه وې "باداره (حضور) ما نمبردار
او سپاهي ته ويلي دي او زه خو دلته نه وم" وې
نمبردار دستي بوزې په چکې کې بند کې اؤ سپاهي
بدل کې " دا مسټر ريلې نومېده ډاکټر وو د - ډېره
سمايل خان د - جېله راغلې وو - او دلته سپرنټنډنټ
وو- ډېر ښه او پوهه سړے پوره دوه (قانون) ډېر ټينګ
وو چې دغه بره خبره يه يوه نمونه وه خکه ټول لاندې
نوکران ډېر جيني بېرېده خو د - جېل داروغه لاله رام
کرشن په څه توګه - خلګو ويل چې د - غلا په شراکت
- په لاس کې کړې وو د - هغه پې ډېر منل او ځکه
چې هغه ډېر وخت په بلوچيستان کې تېر کړې وو او
پرنګې دلته نوې وو نو هغه دے زيات بېرولي وو چې
د - دې خاے بنديان ډېر سخت بد او جنګړه وي -
دوے پې سختې او وهلو ټکولو نه سمېږي خکه په جېل
کې پوره بنديانو ډېره سختي وه وهل ټکول او سپکول
وو خو ښيا هم د - جېل خواړه - جامې - درمان - دوے
ډېر ښه اؤ پوره دوه سم وو - هر نوې بندي چې به جېل

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

له راغی لس وّرزی پے خان له بند ساته چی جېل له د ـ باهره څه ناجوړی رانه سی نو دا شان بّیا لس زّوزی په موږ هیچا کار نه لاره او چی د ـ ما او ایوپ خان سره پرنګی په انګرېزی خبری وکړے اؤ دومره ژړے زّموږ پوړ سر نمبردار اؤ سّپاهی ته سزاوی ورکړلے نو نمبرداران او سّپاهیان ډېر ویرېده اؤ بّیا یه کار نه راسره لاره ـ

# په جېل کې جنګ اؤ الارم

موږ لا په کوارنټین کې وو چې يو وخت سهار په جېل کې هر پاله شپېلکان (سيټي) وږغېده او د باندې په دروازه کې او دننه په بّره ج کې پرله پسې ترنګ (ګهړيال) وږغېده چې تپوس مو وکه چې دا څه دي ؟ وې په جېل کې جنګ وسو بنديانو نمبرداران ووهل - سات پس خبر سوچې خينو بنديانو پينځه شّپږ نمبرداران چې کوم ډېر بد وو بنديان يې وهل ټکول سّپکول اؤ بد يې ويل هغه يه ښه په ډنډو او کاڼو ټکولي وو - ډّوه هيندوان - يو سيك اؤ ډّرې موسلمانان نمبرداران کّلك ټپيان وو - اؤ څه بنديان بّيا سّپاهيانو وهلي اؤ ژوبل کړي وو -

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

# پرنګی ته پیشی

لس ځوزی پس یه سهار درمانتون له راوستلو د - خینو نوروبندیانو سره لیکه کښېنولو وے ساب مو ګوری (ملاحظه) هغه پرنګے راغی لږ لیری کښېنوست بندیان به یو-یو ولاړېده - نوم دا هغه ﭙے تړے پوښتل اؤ پرنګی به خپل د - کیتاب اؤ تېیکس سره کتل - بیا ﭙے د - خانی سامان تپوس کاوه چی پوره لیك سوی دی که نه - چی ځما وار راغی زه ولاړ ښوم یوه سری می د - شا پاله لاس تهینګ ونیولم ما هغه ته مخ راواړاوه چی لاس می پرېږده دا ته څه کوے ؟ دایو ډېر جیګ او غټ پښتون نمبردار وو بنګل نومېده د - ږوب مردان زیے کاکړ وو - ما هغه ته وے "لاس می پرېږده دا ته لا څه کوے ؟" هغه وړو راته وے "خیر دی ته پرنګی پاله مخ که" ما لاس تړے کش کړه جینی پرامی نستل د - پرنګی می ږغ واروېده چی نمبردار تے وے "پرېږده لاسے" چی هغه لری سو ما مخ پرنګی پاله کی هغه موسکے موسکے

کېده ماتې په انګرېزي وه چې په ده خوا مه بدوه دا زمونږ دوډ دی مونږ هم ناچاره یو دلته سم خلک خو راخي نه زمونږ ژوند د - خونیانو (Ruffians) او ډاکوانو سره وی - ګوره هغه روزه دلته جنګ وکی څو کسه یه زخمیان کړل - بیا یه هغه څپل تپوسونه رانه وکړل په پاے کې راته ویل "زه خبر یم چې تاسی په څه تور (جرم) کی راغلی یې - خو د - دې باك مه کوه چې زه انګرېز یم که د باندی تاسی انګرېزان وژلی هم وی زه په هغه کار نه لرم زما کار دلته دننه دی که دلته تاسی سم اؤ پور دوډ چلېدلا ست نو دانه چې تنګوم به دی نه زه به بېه در سره کوم اوس ستاسی بند هیڅوك یوه روز هم نه سی کمولاے خو زه کمولاے سم او زه یې هله کموم چې تاسی سم چلېږی" زما له پاره د - جامو وینځلو (دهوبی) کار ولیکه - هغه نور مل ګرے کارخانې له ولېږل -

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

# په کوّرنتهین کی جوړه

د ـــ کرم تهیل ( کوارنتهین ) په لس ژوزی کی موږد ـــ مچ جېل ښه وڅاره اوُخان موټږم خبرکی ـــ دستی خونوږه څه د ـــ زّغملوږتلې سختی نه راته ښکارېدھ خودایّوھ خبرھ وھ چی دوږے وہے « دلته دیّوہے لاری مّله خله بېله وی اوّپه بېلوبېلوخایوکې اچوی لوے جېل دی چی یوارخله بېل سی بّیاسره لېداے هم نه سی » نوموږ داجوړه کړله چی که روشتیاداسی وھ چی موږ سره لیداے نه سویاموږلېده کاته ګّران وږ نوپه اته ژوزی کی به د ـــ جېل د ـــ اوسرانوسره ویناکوږ چی داخّوشی بېلتوږن اوّبندښت موږ نه سوژغملاے کې و منل ښه کنی اتمه ژوزبه هریوخّپل په خاے شوږمیانیسوږ اوترهغوږبه شامه یوچی بیرتې یوخاے کړی یه نه یوږ ـــ اوّکه موږسره لیداے سو نوهره سختی چی پوږر تهږلوږ یاپوږر یّوه وه هغه به ګوړوچی څه کېداے سوږکووږبې ـــ زه چی دوږبی ګاټ له ورغلم هلته ډّوھ نمبرداران یولوے د ـــ توږروږجاموږبراهیم نوږمېده د ـــ

کندهارپښتون خوان وو په کوټه کی د ــــ نوروډروملوسره یوه غټه غلاکړه وه نیژدې ډرې لکه روپی یه د ـــ چاله کوره ویستی وه ونیول سو. ډوو د ـ چمن ملېزوملو یه بېلګه ورکړله په لربند بچ سویودې اویوبل کندهارې ملې چی مالې نه وو وورکړی لس کاله بندیان وو ـــ بل وروکی د ـــ شرو جامو نمبردار لنډك نومېده ډېر لوړ اوُ غټ مراڼې خوان وو ـــ پینس انګرېز یه وژلی وو چی د ـــ بروب پولټیکل ایجنټ وو ـــ دغو پښتنو نورو بندیانو ته د ـــ جامو وینخلو کار ورکی اوُ زه کار ته نه پرېښووم د ـــ بیلو بیلو اوسرانو جامې می په کیتاب کی ولېکلې اوبس ـــ د ـــ دوې سره ناست وم خبری اتری به موکولې ـــ مابنام چی بېرته راغلو د ـــ نوروملګروسره می ولېدل هغوړتې هم څه د ـــ نامه کاروورکړی وو د ـــ ښتریانه وو ـــ اونه ژموږ پور لېدوکتوڅه بندبنت وو ـــ شپې لې زه په بیل بارك کی بند کړم اوُد ـــ جېل د ـــ ژیات باوری نمبردارهغه بنګول مردانزی چی ماوراندی هم یادکړی دی په خواکی لکه چی د ـــ هغه ترکالخوایی اوپام لاندې

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

خاے راکی ـــ دغه بنګول اوُد ـــ هغه نوړمّله د ـــ
هغه انګرېزسیول سرجن د ـــ مرګ په توړکی بندی
ووچی په توړخان غّره کی چاوژلی وو ـــ درکپے نه
ووچی چاد ـــ دوے یوملګری توړه باز شیرین خان ای
ـــ اہے ـــ سی ـــ په دے غّوله هیله اولوۆړو(قسم)
ست کړی وو چی تاسی به پّرېږدو او د ـ خینو نوړو
پراریانوړنګه به تنخا هم درکوو اوُهغه په
ډّروغودامرګ منلی وو اوډّرہے ثلوړملګرے نوړهم
یادکړی وو ـــ جرګپے ده ته (٤٥) کاله اوهغه نوړوتپے
(٢١) کاله بندوورکړی وو ـــ بنګول به په جېل کی
بېتوړنه هم لګول ـــ خکه ده ته تل یوپاوغّوښه
اویوسپرشیدہے روزانه رسیدہے ـــ مابنام چی بند سولو
هغه دغه غّوښی ډوډی اوپی راواخیستپے اوماتپے
کّنبېنبولپے وہے «خّورھ یه» ماډپرووړته وویل
چی ماډوډی خّوړلے ده» خو تنګپے کّړم اووېلپے «بّیابه
ډوډی خان له نه خّورہے اوله ماسره پہ یوخاے خّورہے»
نوماپه دغه ژّوزخه لاس ورسره وواهه چی د ـــ ډوډ ی
اوزګارسولونوماساپی ووړته وویل « بنګوله وّروړه
ژّمایّوھ خبره واوره ـــ ژّمالوړه ده که زه بله ژّوزښّتاپه

ډوډۍ غوښه یاپیوشکه وکم پورماناروا(حرام) دی
بیابه ماته ست نه کوې » ـــ هغه اوشا اوخوا نور
بندیان زماپه دې خبرې ډېرهك پك سوولی په جېل
کی خوبندی اوپه زیاته بیاداسی بندی چی باهرسوکه
ژوند لری ډېروړۍ وی او په غلا وی کی په ښکارې په
بهووی که په خوشامه نده چی څه خواړه پیداکی نې
پرېږدی ـــ بنګول به بیاتل زمادغه خبره اوخوې
یاداوه ـــ څوروزی پس چی په جېل کی د ـــ غوښی
واروو ـــ دغه وختې نیم پاوغوښه په هوته کی یوې
روز بندیانوته وورکوله ـــ چی بندیانوته خونه رسېدله
ـــ زیاتره به اوسرانو نوکرانو او نمبردارانو اؤ
مخورو بندیانو وخوړله ـــ بنګول مانبام د ـــ جېل
یوې تالی د ـــ غوښی ډکه راوړله یوسېربه وې اوماتې
وې «زما غوښه خونه راسره خورې اوداخود ـــ جېل
غوښه ده اوماخان له ستالپاره راوړې ده هن داوخوره»
ماوورته وې «دا خو د ـــ غلا ده اود ـــ نورو خوارو
بندیانو برخه (حق) ده - چی زه ستاخپل څېزنه اخلم
نودابه خنګه وخوره م» نوسرې پوې سو چی داخه بل
شانته بندی دی د ـــ نوروشانته نه دی ـــ دغه وخت

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

په جېل کی ډرے ډرے نیم سوه بندیان وو — چی د —
بلوچیستان د - بیلو بیلو خایو څخه نیولی وو — اوږده
اوږده بندونه یه وو — اوښاخکه چی په بلوچیستان کی
ښترجېل نه وونود — هیند بېلوبېلوجېلوته لېږل سوی
وو اوچی داجېل جوړسونویه بېرته سره راغونډکړی وو
— په هیندکی د — دکن کنانور - بروډا— ایندور—
ناګپور - هزاری باغ .الی پور.کلکته. کانپور. انډیمقان -
لاهور — ایدرابات — اونوروډېروجېلونو نه بندیان
دالته راغلی وو — زموږ په بارك کی ډوې لویی کوټې
وې — په هره یوه کی څلوېښت کسه بندېده — د —
بڼېښنا روڼا زیاته وه — خاے پاك — ډېراود —
هربندی بېل وو — بندیان هم څه خوزاړه اود — جېل
په بندښتونوبلد وو — اوڅه د — جېل سرېښته
پوړتوګه وه — د — کوټې په شان ایلکی اوګډه ګډوله
نه وه — خکه به ماد — شپې اود — روزی په
اوزګاروخت کی زیاتره د — خوداے کیتاب اود —
هغه توسیرونه په زیاته د — سرسید احمدخان توسیر
لوست اویابه می د — بېلوبېلوبندیانو څه د — هغوے
د — بند اوهولکې خبراخیست — اویاد — هغه

جېلونوچي دوے پکښې اوسېدلی وو د ــ ژوزی مې د
ــ کارپه ملګروکی اوُدولاخان نومېده د ــ بوب
یوکاکربندی وو ــ ډېروختہ په جېل کی سوی ووبنه
پوړه اوډېرسوکرسړے وو ــ د ــ ده سره به مې وخت
اړاوه یا یو لّوستی سیک درزی وو سرکاری نوکرد ــ
هغه سره به ناست وم هغه به د ــ نوروخبروسیواد ــ
اخباروتوتازه خبرونه راته راوړل داشان مې ډېربنه وخت
هم تېرېده اوُد ــ بلوچیستان د ــ بېلو بېلو خایو ــ
اوُ د ــ بلوخو اوُ پښتنو لویو لویو تپو په خبرو شان
(حال) دودو او خویو چی ځومره زه په دغه
ځومّیاشتی کی خبرشوم دومره نه پخواخبروم اونه په
وّروسته ژّوندکی خبرسوی یم ــ ولی بلوچیستان
دومری ارته اوویره هولکه ده چی ترنورتهول پاکېستان
ــ سیند ــ اوُپنجاب ژوه (سرحد) اوُبنګالے مّخکه
ډیره ده اوُخلګے دومری لږ اوُداسی رنګی پّراته دی چی
که سړے دّرست ژّوند بل کارنه کوی هم نه په تهول
بلوچیستان ګرزېداے سی اوُنه د ــ تهول بلوچیستان د
ــ بېلوخایواوتپوخلګ لیداے سی نه ماتراوسه چیری
یوهم بل داسی سړے لیدلی دی چی هغه دی داتهول

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

خلک تش لیدلی هم وی ناسته پاسته اوبلدتیاخولالیری خبره ده ــ زمابه گومان خالی‌جېل یوداسی ځای وو اودی چیری چی داواړه مېندلای سی چی داټول خلک ښه د ــ نیژدی ووینی اووی پېژنی ــ د ــ نابلدوخلکوخوداگومان دی چی جېل له د ــ یوه هیواد ــ بد سپك ناپوهه اوبدخویه خلک راځی خوروشتیاداسی نه ده په هرجېل کی ماډېرداسی پوه ــ نېك اوسم خلک لیدلی دی چی باهربه هم کم وی اود ــ جېل اوسران د ــ چاپه لاس کی چی بندیان د ــ ښوونی اوسمولولپاره وورکول کیږی خود ــ یوه مخه تربندیانوډېرزیات زلنده ــ بدخویه غله بدکاره اوناپوه خلک وی ــ په زیاته بیاپه بلوچیستان کی چیری چی نه ډېرښاروته سته اونه د ــ ښارونوسپك ژوند اوبدکاری ستة دی ــ نه په ټول ولات (صوبه) کی چپ د ــ ډېرو کمو ځایو چی ښاروته وورنېژدی وی غلاسته ــ نه جېب وهل ــ کنډر (نقب) یاچلو ل اودوکه بازی (٤٢٠) وی ــ په سلوکی اویاکسه بندیان پورپښتنی اوبلوڅی ننگ بندیان وو ــ چاپی د ــ ښځی خور یا لور وشرم ته زیان اړولی وو ــ

پښتنی یابلوڅی جوړه اوپردهٔ پې نه وه سوې په ناچاری پې د ــــ هېواد د ــــ انګرېزی دوړه چپ کارمرګ یاژوبله کړې وه بندی به وو ــــ یاپې چاوړورخپل په ناروا وژلی وو ــــ وهلی او یا زهیر کړی وو یا پې مالی تاوان وورارولی وو ــــ سمه جوړه پې نه وه سوې سرکار او د ــــ جرګې ملکانوپه بهو یا لوری (طرفداری) زیاتې وورسره کړی وو ده ته به ژوند تېرول ګران وو ـ یاغی یاپراری به سو اوږد ــــ دغه شان ژونده سره تړلی بد پې کول ــــ ډاکې اومرګونه چی کله به ګیرسونوبندی به وو ــــ ځکه زمایه ګومان د ــــ انګرېز د ــــ سپېره راج چپه دوړ پې وسه بدو او خوشامندګرو جرګو له لاسه د ــــ بلوچېستان زیاتره ننګیالی (غیرتمند) پوهٔ ژوندی اوبهادر خلګ په جېلو کی ناست ووچی نې دروغ زده ووڼې چل ول یاخوشامندی ــــ نه بېربېده اونه غم باندی ګوته وو ــــ ښه ډاړه ووچی د ــــ پې غیرتی اوسپیتانی ترژوند دا د ــــ جېل سختی اوکړاو په سل خله لاښه دی ــــ د ــــ ښځوړ ــــ توروبندیان هم ډېرلږ ووکه څه هم د ــــ تېښتی (متېزی) به کله کله وو ــــ په دې لارکی هم نه د ــــ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ښاروړنګه د ـــ ډیردولت اوډېرى غريبى څخه پېدابدكارى وه اوُنه كله پوربښخوباندى د ـــ زورزّياتى اوُناچارى توررو ـــ د ـــ سرى اوُښخى په ختهه اخښلى مينى اوُاړى (ضرورت) به كله كله ښخه اوُنرپه خّپله خّوښه اوُد ـــ زّره په مينه يې لارى كرى وو يا به په پټهه سره يوځاے كېده چى څرګند به سو اوُ د ـــ مرګه به بچ سو نو بنديان به وواوُيابه په څرګنده سره وتښتېده چى ګيربه سو اوُ جوړه يې ونه سّوله نوبه بنديان وو ـــ دالته به هم كله كله نراوښځى خّپل د ـــ زّره د ـــ نّيازمين د ـــ مينى په لمبوسّول اوُهغى رّوزى ته يې كاته چى كله به وزى اوُبّيابه خّپل د ـــ زّره په ارمان پسې كېرى يّوه ډېره خّوندوره اوُاغېزناكه نمونه يې وّراندى راسى ډېرخولاپكښى هغه غازيان هم ووچى يايې خان له اوُياد ـــ خّپل كام اوُتپې د ـــ غوټى سره انګرېز د ـــ راج د ـــ خان لپاره ننګ ګڼلى وواوُسرېې جينى واخيست (بغاوت) په څرګنده يې پورچاانګرېز اوُسروارى كرى وو ـــ ياوژلى يابچ سوى پوردې به بندى وو ياپې په كامى جنګ كى لكه د ـــ مرى اوُجالاوان غزاپه نره د ـــ انګرېز سره جنګ

[illegible]


www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

خوږمنه وو ـــ انګرېزی سرکاروورله د ـــ ناخواله
مرګو "Out Ragious Murders"زلنده دوږد (ظالمانه قانون)
لاندی وورله د ـــ تهول ژوند خان له بند (قیدتنهایی)
اوډرې سوه بیتوږنه چی ځوځومیاشتی پس به شل شل
وورلګېده ـــ وورکړی وو ـــ داهغه دوږددی ترکوم
لاندی چی په کال (۱۹۳۰) کی انګرېزانوهبیب
نوږغازی په پېښورکی د ـــ چارسدې پوږرانګرېز
وړوکی کمیشنر باندی د ـــ واری کولوږپه بدله کی چی
هغه هم مړنه وو ـــ په یوه ږوزکی دننه په
غرغړه وځړاوه ـــ دې سړی وې چی ډوه یاډرې کاله
پس د ـــ ایدرابات په جېل کی د ـــ خان له بند
اوشاموږدام بیتوږنوږنه تنګ راغلم اوترژوندمی مرګ ښه
وباله نوږد ـــ یوه بل بوږری وال پښتانه ملګری سره چی
هغه هه م دغه شان بندی وومی داجوږره وکړله چی نن
چی موجېل والالمانځه اوداسه له باهرباسی داسی چل
به وکوږچی هریوچی وړاندی ویوږست هغه به له اودسه
پس د ـــ کوږټې په وړه کی لږ شان ځنډوکی چی دوږې
ده د ـــ تربندولو وړاندی هغه بل هم راوباسی او بس
پوږر سپاهی او جمادارب کاری ګوزاروکوږمړه یې کوږچی

پانسی سواؤد ـــ دمه غمه ووزو ـــ ومه چی د ـــ
مېچنی په بره ږله موپه هغوکی یویادوه مره کړل
چالان سوپه مبانځګری کی موهم دغه شان بیان
ورکی چی دامرګونه موخکه کری دی چی مور پانسی
سوخومیانځګری (جج) بیاهم پانسی نه کړلواؤشل
کاله نوربندمه راکی خوخپل په پرېکره کی زمور د ـــ
جېل د ـــ ژوند اؤتل بیتونوډېره غندنه کړمه وه
اؤمورمه ناچاره منلی ووخکه‌ا‌د ـــ هغی خواری بچ سو
ـــ اؤ په جېل کی ناست یودغه سرے ځوکاله پس
انګرېزانود ـــ جېل د ـــ انګرېزواك وال اؤډاکتر په
سپارښت پرېښووخو هم هله چی د ـــ ګورنر جنرل
ایجنټ خان بهادرشربت خان اپرېدے چی د ـــ سیوی
پولتیکل ایجنټ وو د ـــ هغه د ـــ لېدو لپاره جېل ته
راولېږه چی ومه ګوره چی روشتیاکم زوری اؤسپین
ږیری دی که نه ؟ مادومری پوه ـــ ښه ـــ نېك اؤپه
سریتوب پوره سرے په نالوستوبلوځوکی باهرهم کم
لېدلی دی د ـــ جېل دغه دوډچی سپین ږیری
یاناجوړه بندی پرېښووه ل په کاردی اوس هه م د ـــ
جیل د ـــ دوډ په کیتاب کی ښته دی ته ر شپږ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ٚمیاشتو پوری بندی یاچی د ــــ چاشٚپړ ٚمیاشتی بندپاته وی خود ـــ جېل واك وال ( سپرنتېینډېنټ) اوٚد ــــ پلوٚمیانځگری ٚمیانځگه ر(ډستېریکیټ مجسرېټ) ځٚپه ل په ځٚوښه دستی د ـــ مرگ یادرمان لپاره پٚرېښوو اے سی خوارمان چی ہے دینه اوٚ پٚردو انگرېزانو به ته ل داسی بندیان پٚرېښوو که ہے څه هم انگرېزان وژلی وو ـــ خواوس د ــــ پاکیستان موسلمانان واکوالان اوځٚپه ل سرکارداسی بندیان نه پٚرېږدی که څه هه م درمانیان لاد ـــ پخواپه زن (عادت) د ـــ ډیروږنخورانوپه هکله وورته لیکی خوزه وینه م چی زٚیاتره داسی بندیان د- ہے غوری له مخی په جېل کی ٚمړه سی اوٚد ـــ لاهورد ـــ ایراکه د ــــ ایله کېدوجړی (تریاق) وورته راونه رسېږی ــــ د ــــ جالاوان د ـــ سردارنوردین اوٚنورا د ـــ جنگ ځوکسه غازیان ـــ گومك ناړی سردار ـــ سٚپین ږیری کمزوری اوٚپه پٚښوشل سردار شابازخان ـــ د ـــ هغه زوے شېرالی خان ـــ غازی سولېمان مېنگل اوٚیوبل ملگری هم په جېل کی وو ـــ سردارشابازخان شل ووگرزېدا ے نه سوغازی سولېمان اوٚهغه بل ٚمله به په

شاګرزاوه خودغه وخت اؤپه دغه شان بے هم هره ژوز
کارخانے له بیو اؤ هلته بے کار په کاوه — د — پوج
هغه کانګرېسی کلرك چی موږپه کوټه کی لیدلی
ووهغه د — جیل په دوترکی کارکاوه — دے د —
کانګرېس د — خینولیډرانوپه نغوته په پوج کی د —
کارله پاره راغلی وو — ډېرجوشی اؤبهادرسړے وو —
دے یه په ګاندی اروین لوزنامه کی نه ووپږه ایښی
چی زه راووتم اؤهیندته لاړم په بمبی کی مې پنډت
جواهرلال ته وویل هغوے ولېکل اودے یه د — کال
(۱۹۳۱) په پاے کی پرېښووڅه وختے لاماله ختونه
راتله بیابندسوچی څه سو — سردارشابازخان اؤد —
هغوے ملګه بیاپه کال (۱۹۳۱) یاکال ( ۱۹۳۲) کی
د — کلات نوی خان ازم خان پرېښوول — دغه
کانګریسی ملګری به هره ژوزد — دوترنوی خبری
رارسولے اؤد — اخبارخبرونه چی ده به په دوترکی
لوست — زمانوړملګه هم په کارخانه کی په زاوال نه وو
— اؤد — شپیے یه د — ډووباوری سیکانونمبردارانو
ګورموک سینګ اورام سینګ سره اچولی ووهغوے بے
ډېرازرکاوه اووخت موږنه تېرېده -

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

# د ـ بابوهپه

یووخت زه په دوبی ګاټ کی خان له ناست وم نورو
بندیانو کار کاوه چی د — کارخانے د — اوودو
اوستاد " Weaving Master " چی بابوساب یے باله راغی
نمبردارتہے وے چی دے ولی یے کاره ناست دی ؟ هغه
څه وورته وویل زه په پوهـ نه سوم بابوپه خنبم ماته بړغ
کړه ل چی دلته راسه — دغه بابوډهرپوچ خولی وو
اوبندیان یے وهل هم — چی زمے وبللم زه
ډیروارختاسوم چی کے بددرته وویل یایه لاس درولګول
نوخکه چی ماپه خان کی تاوان نه لیدولی زه خوکارته
تیاراوکارمی غوښت خوچی د — دوے نمبردارانونه
راکاوه نوماڅه کولاے سونوداسی په زړه کی جوړه کړله
چی کے سمه نه کوله اوبدمے ویل بدبه وورته وایے کے
لاس بنوراوه لاس به وورسره لګوے زه وورروان وم چی
ترمادمخه هغه سیک درزی ماسټر ووروړاندی سوپه
منډه منډه ورغی وے ګوسایس جی ګوسایس جی

ښيايه ړوڅه ووړته وويل چې مانه واورېده خوهغه لېزمه سواؤماتې څه ونه ويل لايه ښه د ـــ خوشالى خبرى راسره وکړلې د ـــ دې ټولى نرمى اؤپټپټونى پيلامه ښياماته نيژدې يوکال پس څرګنده شوله چې د ـــ جېل لوې داروغه (ډپټى سپرنټينډينټ) لاله رام کرشن زموږ د ـــ ايله کېدو (رهايى) پوروخت رانه تپوس وکى چې تاسى پلانکې سړې پېژنى په امرتسرکې کوردى زموږ په مالت کى اوداوخت په شمله کى د ـــ پلو اوسر (ډسټريکټ مجسټرېټ) دى وې چې ماهغه نه دى ليدلى خوهغه زماد ـــ کوروخلګوته هغه وخت ويلى ووچى تاسى دې جېل له نه واست راغلى چې داکامى خلګ دى په جېل کى به ډېرپام ووړسره کوې چې په هيڅ ګون درڅخه تنګ نه سى داسړې په موږ کى يوه هم نه پېژاند اؤنه زه په دې هم خبرسوى يم چې کنى هغه ته زموږ بل چاپېژاندوې سړى به سپاربنت کړى وى ـــ نوزموږ د ـــ راتلوسره دغه لوې جېلر خپل ټول لاندى نوکران پوې کړى ووچې دوې به نه تنګوى نه به کارپه کوى اؤپام به ووړسره کوى ـــ د ـــ نوروبندیانورنګه ېې نه

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ګڼی ګومان می دی چی درزی ماسټرایشرسینګ به هم داخبره بابوته کړے وی چی هغه داسی یودم نرم سړ ـــ له دے څه هغه وخت ماته څرګنده شوله اوٲوس هم اندازه لګېداے سی چی له دے هیواده د ـــ انګرېز باچهی د ـــ هیندوانو په څومره یومخیځ (همه ګیر) کوښښ وڅکه شوله ـــ د ـــ دوے هرسړے هرچېری چی وواٶهر کارچے کاوه که نوکر ووکه سوداګرووکه لوے نه لوے اوسرووکه په پوج کی ووکه بل ځاے خپل پورځاے اوخپل په توګه یه د ـــ انګرېز سرکارریښے غوڅه ولے کانګریسے جنګ کاوه ـــ سوداګروړله پیسے ووړکولے سرکاری نوکرانو خپل په رنګ کی د ـــ کامی خلکو کومك کاوه اوډ ـــ دوترو خبروڼے ووړکول ـــ اوستادانو اوٓ ماسټرانو ځوانان شاګردان نر او ښځی په کامی لارپوهول ـــ هم دغه یوه لاراوډ ـــ یوه کام یومخ ژوند ـــ ویښ والی اوکوښښ دی چی د ـــ دوړ (قانونی) جنګ په لارخپل کام د ـــ بل د ـــ مریتوب اوباچهی له ډرانه چخه لیاکولے سی ـــ یووخت بل ماولیدل چی په ډیلی (دهلی) کی د ـــ دویم لوے جنګ پورپېل کېدوچی د ـــ تهول هیند

کامی خلک راغونډ سوی وو ــ پنډت جاهرلال د ــ
یوه آیی ــ سی ــ ایس اؤسر آر ــ کڼې نهرو په
سرکاری بنګله کی د ــ هغه مېلمه وو اؤ هلته
اوسېده هم داشان میسټر جوشی د ــ کمیونیسټ ډلی
مشرهم د ــ بل ایی ــ سی ــ ایس مېلمه وواؤد ــ
هغه په سرکاری بنګله کی اوسېده ــ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

## د ـــ جېل پېښې

په دغه شپوکې په لومړي خل يوه ورځ زه د ـــ دوبې
ګاټه نمبردار روان کړم وه په دوترکي دی بابو بېلي رام
داروغه غواړي ملاپه تولیه بنده که اوسم به دربیږه (
ATTENTION ) هلته چې ورغلم بابوتپه ودرولم هغه يو
اوږده وینا پیل کړله چې" زه یوتپوس درخه کوم ډروغ
به نه وایې دا جیل دی دلته ډیري سختی سزاګانی وی
ته نوی سړه یېې ناخبره به یېې که دی روشتیا راته
ووېل زه به میهرباني درسره وکم کنې نوبه ساب ډېره
سخته سزادرکې" اوداسی نوري چې ده بس کړله
ماوورته وه «چې ته خپل تپوس وکه زه به هیچېري
هم ډروغ ونه وایم ته مانه پېژنې که دي پېژاندا ده
خبروته اړي نه وه» ـــ وه چې «ته په کوم بارك کي
اوسې ؟»ماوه « د ـــ بنګول په بارك کي»وه «هو
په څلرم بارك کي ستاپه خواکي د ـــ چاکړي
(بیسترهـ)ده ؟» ماوه « یوه خواته مي بنګول دی

بلی ښّواته می آغامامد کاکړ" دا د ـــ بربښاره کاکړ وو ژّمورږ د ـــ کلی خودایداد بلوڅې وژلی وو اوښځه یه چی د-ده ترله وه تّرې ګرزولې وه ـــ په هغه کی بندی وو ـــ وې « د ـــ سید اوتوره بازکړی چپرته دی ؟» داد ـــ بنګول مرګری وو ـــ ماوې ژّماد ـــ سره پاله په هغه بله کیله (قطار) کی » وې (د ـــ شّپې تاسی خبری سره کوی ؟» ماوې « هوکې» وې «څه خبری» ماوې « خّپل د ـــ هولکې د ـــ کېسواویوې ښّوابلی ښّوا» وې « د ـــ جېل اوډ ـــ جېل د ـــ اوسرانو او سختو خبری مو هم کله کړی دی ؟» ماوې «نه» وې « ولی تاته سید نه وویلی چی زه به څیری کلم اوکڅوره (لفافه) درته راوړم ته به خت راولېکې چی سرکارد ـــ جېل په سختواوډ ـــ اوسرانوپه پېّرو او ژّیاتی خبرکو؟» ماوې « نه داخبره ماته چانه ده کړې اوزه په دې پوهـ یم چی د ـــ جېله خت لېږل بنددی » داسی څه تپوسونې رانه وکړل خوپه پای کې وې چی ماته خوډّروغجن سړی نه ښّکارې خوکه دی روشتیاراته ویلی وونوپه ډېربښه وی کنی سخته سزابه مومې » ماوې «روشتیامی درته

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ویلی دی چی تېرنه ؤزے » بېرتہ راولېږلم ـــ مانبنام چی بارك بندېده جمادارراغی وہ سپد او آغامامد دی بیسترہ راواخلی « هغوواخیستلے بنگول ووړسره ؤلاړچی واپس راغی وہ « هغوے یه په چکوکی بندکړل څه پېشی مېشی بہے کېږی » مانبنام خوږ ــــ ځان له خبروار(موقع) نه ووسهارمی ځان له ووړته وویل چی « پرون د ـــ مانه د ـــ آغامامد اوٗسید په هکله بابوبېلی رام داسی تپوسونه وکړل » د ـــ بنگول اوٗ نورو بندیانو دا ګومان ووچی بل چابه په دوے ډوارو پوری څه ډروغ تړلی وی خوڅوړوزی پس بنکاره شوله چی سید کال ډوه ؤړاندی په هزاری باغ جېل کی په آغامامد څه ګرمه کړہ وه ـــ د ـــ هغه پېشی سوہ وه اوٗځه سزایه میندلے وه د ـــ هغه د ـــ بدلے لپاره آغامامد داډروغ په سید پوری تړلی وو ـــ په دغه وخت کی بناغلی مامد انور خان کاکا د ـــ کابل د ـــ سرکار په مرسته اوٗ کومك کوټی له راغلی سره د ـــ پخو ګواهانو اوٗ دلته یه بیا جېرګه راوغوښتله جرګے هغه د ـ پرنګیانو د ـ تښتولو د ـ جوړښت (سازش) نه سپین (بری) کی سرکارہ تړل

(جایداد) واپس ورکی ـ اؤ دا شان د ـ جوړښت (سازش) کمه اډانه چی د ـ بلوچیستان پولیسو جوړه کړې وه د ـ هغې لویه ښتن اؤ بونیاد وخوت اؤ هغه ټول ګواهان چی په کندهار کی د ـ مامد انور خان کاکا په هکله پولیسو تېر کړی وو ګرد ډروغ سو ـ اؤ دونیا ته او ښپله د ـ کوټی انګریزانو ته ژموږ د ـ توررولو هیڅ پلمه پاته نه سوله ـ هم په دغه وخت کی یوه ږوز ژموږ ځینی ښپلوان لیدو له راغله ډېره لو ډله وه ـ څو تنه ښوانان مل ګری وو اؤ دوه ډرې پکښی ډېر سپین بږیری وو چی یو خو به د ـ اتیا کالو نه هم اوړېدلی وو ـ موږ چی ورغلو د ـ لیدو د ـ ځاې د ـ ډواړو پینجرو چی په یوه کی د ـ بندی ښپلوان د ـ باهر نه بند ولاړ یا ناست وی اؤ په بله کی د ـ دننه له ښوا بندیان بند وی ـ په مېان کی چی به نوږ کله ووکی داروغه ناست وو ـ هلته د ـ جېل پرنګې اؤ لوې داروغه ولاړ وو چی موږ ورغلو پرنګی راته ویل دا ښتاسی مشران راغلی دی دا زاړه اؤ د ـ ارز (عزت من) خلګ دی ـ دې تاسی له د ـ سرکار اؤ سرکاری خلګو یو پیغام راوړی دی دوې ښتاسی ښپلوان او

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

ځواخوږي دي اوموږ د ـ جېل واك والان هم ستاسي دوښمنان نه يو نه ستاسي په تاوان خوښ يو اؤ نه مو څه ګټه پکښې ده موږتاسي ته دا وايو چې تاسي د ـ دوے خبره ومنئ دا ستاسي لپاره ښه ده تاسي ځوانان ياست ازموده مو نسته موږ اؤ دا ستاسي خپلوان ازموده کړ يو اؤ داسي نوري خبري "بيا هغوے ولاړ او خپلوانو د ـ روغ بيره پس چا ژړل چا د ـ يوه سره خبري کولې چا د-بل سره ځوانانو مل ګرو راته د ـ کوږ اؤ هولکې خبرئ کولې خو په پاے کي سپين بږير مشرانو ته وويل چې "دا ځل موږ خپله هم نه يو راغلي د ـ پوليسو کپتان خپله راوغوښتلو اؤ راته وې ويل چې تاسي ولاړ سي که دوے د ـ سرکاره بخښنه وغواړي نو به موږ هم سرکار ته ووايو چې پرې يږدي"او د ـ سرکاره بخښ غوښتل څه بد کار نه دي سرکار خو زوروور دي اؤ دا ځل په خبره کي شك هم نسته خبره پخه ده موږ تې ليکلي درخواست راکړي دي خو بس تاسي پې لاس ليك کي موږ پې يو سو اؤ تاسي به راپرېږدي" چې دوے خبره وکړله موږ ټولو ووړته وويل چې دا تاسي څه واياست بخښ خو موږ

هیڅ کله نه غوارو دا خبره ګرسره پرېږدی نوری په کور د - کاله خبری وکی مور دلے بنه یو ستاسے په مخه بنه مور مو ډېر بنه منو - په دے شان خبرو تاسی یوازی زمور لا نه د - خان اؤ د - ټول پښتون کام سپکه کوی اؤ لا دا هم چی مور ته په جبل کی هم نوره خواری زیاتوی - د - څه نورو خبرو اترو پس دوے ولاړ مور بیرته جبل ته روان سو دوے چی باهر وتی دی یوه سپین ږیری ویلی دی چی "ارمان دی لاس مو نه وو سره ازاد کنی چی ما دوے تر ږیره اوپښو نیولی واے او زاری مو وورته کړی واے نو پښتانه وو هرو مرو بہ زما و سپینه ږیره ته کتلی واے" هغه نورو وورته ویلی وو چی راځی چی پرنګی ته وواېو چی که ته دوے د - مور سره په ازاد ځاے کی یو ځاے کے نو مور به خبره په ومنو- پرنګی له ورغلی وو اؤ هغه هم وسره خوښه کړے وه نو لږ دم پس مور خپلو ځایو ته نه وو رسېدلی چی بیرته دوتر له راوبللو دا ځلے دننه بوتلو اؤ بره یه د - وارنټ دوتر له وخېزولونو - هلته مو هغه دوه سپین ږیری اکاګان (ترونه) اؤ دوه خوانان مل کړی یو بناغلی مامد

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

تاهیر خان اوٗ بل ښاغلی غپار خان ناست وو - یو
کلرك بابو ادرامان کشمیرے په کورسی کی ناست وو
چی موږ ورغلو کښېناستو هغه یو سپین ږیری اکاموګ
بګړی وکښله اوٗ زما په ښپو کے راواچوله اوٗ سم
دستی یه زما ښپے ونیولے وہے "چی په خوداے لوړم
چی سر به دی د - ښپسو نه لیری نه کم چی ته زموږ
خبره ونه منہے" زما لپاره دا په ژوند کی تر ټولو ګران
وخت وو - اوٗ هر پښتونے اندازہ کولاے سی چی د -
سړی مشر سپین ږیری اکا په تور سر د - سړی په
ښپو کی سر کښېږدی نو به د-څلپرویشتو کلو یو سړے
څه کوی ؟ ماووړته ووہے "ته پګړی په سر که زه
ستاسی هره خبره منم که څه هم زما مرګ پکښے وی
خو تاسی زما یوہ خبره واروی نو بیا چی تاسی ویل
هغه شان به وکو" د - خوداے پاك لویه میهربانی وه
چی دغه وخت د - دوہے د - پام وړ خبره په زړه کی
راغله اوٗ د - بابو ادرامان کشمیری ډېر ښه منم چی
هغه می کومك وکی اوٗ دا شان زه د - ټول ژوند د -
مختوری بچ سولم کنی زما له لاسه واك وتلی وو -
ما ووړته وہے "تاسی خو خبر نه یاست سرکار موږ پوړ

موړ بد کړی وو اوس پښېماني کوو اوْ بخښنه غواړو اوْ دا هم روښتيا ده چې د ـ دې ليکلو پس هم د ـ سرکار خوښه چې بخښ کوی کې نه کوی اوْ نوره سزا کوی"بس سړو چې دا واروېده اوْ هغه هم د ـ سرکاری سړی د ـ خولې نو نرم سو خو ښيا يه هم وې چې "اوس موړ هغوې را لېږلی يو اوْ را خوار سوی يو خير دی تاسی بل داسی درخواست را وليکی چې پکښی توړ (جرم) مه منی موړ بې وروړو اوْ ښتاسی خبره به ووړته وکو چې هغوې وايی موړ دارټ توړ چې کړی مو هم نه دی،نه سو منلاے اوْ نې پور خان د ـ خپلی خولې پوروِلاے سو" نو موړ ژر ژر دالته يو شے ووړ وليکی چې "موړ مو بيګونا اوْ سلا بلا بنديان کړی يو ډېر وخت مو په جېل کی راباندی تېر کی اوس هم که مو خوشی کی نو ښتاسی ميهرباني به وی" هغه دوے يووی اوْ لاړ اوْ دا شان موړ د-دې بلا نه بچ سو ـ هم په دغه وار مو د ـ ښاغلی مامد تاهيرخان اوْ غپار خان نه تپوس وکی چې تاسی څله په ارام نه کښېنی چې سرکار مو نه پرېږدی نو تاسی څله تر ابده ځان کړوی لږ بند دی ډېر تېر سو لږ پاته

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

کامی کار خو تړلی نه یو چی په بخښ (معافی) مو پڅپړدی - هغوے خو موږ ته سلا بلا د - پرنګیانو په تېښته کی بند راکړی دی چی دوے هیڅ پوړ نه راباندی لری نو ځکه یه لږ بند لغړ ډوه کاله راکړی دی کنی د - پرنګیانو د - تښتولو سزاخو ډېره وی دومری لږ نه وی پانسی هم پکښی کېداے سی اؤ شل کاله بند هم - پولیس والا اوسرانو چی تاسی راغوښتاست اؤ دلتہ رالیږلاست کېداے سی چی دایه مّراد نه وی چی موږ وباسی دایه مّراد وی چی په موږ د - پرنګیانو تښتول په ځپله ځوله ومنی اؤ بّیا یا پانسی کی یا ډېر بند راکی ولی د - بخښ (معافی)غوښتلو سره دا تړلے ده چی موږ به ځپل توړ منو اؤ ځان به ګرّم بولو - کنی دا دی تاسی د - بابو ساب نه تپوس وکی چی موږ په څه کی بندیان یو دوے چی وپوښتېده د - هغه یه کوړ ودان وېو "دے سمه خبره کوی دوے په کامی کار کی نه دی بندیان د - پرنګیانو په تېښته کی بندیان دی - اؤ د - بخښ غوښتلو سره دا تړلے وی چی ځپل توړ به منی تاسی چی کوم خت راوړی دی په هغه کی دا لیکلی دی چی

دی دا به هم تېر سی ـ هغوے راته وېه "چی سړو موږ سّتاسی غم لا دومړی نه یو اخیستی لکه د ـ خان ـ موږ ته دا ننګ ښکاری چی تاسی بند یاست اۉموږ دی په ارام ناست یو چی دا کنی موږ ته پېغوږ راکوی چی ګوری هغوے یه درنه بند کړّل اۉ تاسی ارام ناست یاست د ـ سرکار دی خوداے رینبېے (جړی) وباسی چی موږ نه نیسی چی موږ‌ے هم نیولی واے نو دا شرم به مو نه وو په غاړه"ما چی د ـ دوےپوړ دېه وینا پام وکی یا اوس رے پکښی وهم د ـ پښْتو دغه ننګ دی چی دوے یه د ـ نړی د ـ ټولو کامونو بېل کړی دی اۉ په دوے یه په نړی کی ډېر سّتر کارونه کړی دی ـ خو هله چی ننګی پوړ سمه لار سم سی کنی نو دوے هم د ـ دغه ننګ پوړ نامه د ـ جهان بد کارونه هم تر هر چازیات اۉ په بیړه کوی ـ پرید ـ همید اۉ امد شاه بابا هم د ـ پښْتنو دغه ننګ پوړ سمه کامی لار روان کړی وو چی پښْتانه یه د ـ هولکو باچهان کړّل ـ اۉ د ـ پښْتنو دوښمنانو اۉ ناپوهه مشرانو هم دغه ننګ پوړ بده روان کړی وو چی په لږ وخت کی د ـ امد شا زامنو اۉ لمسیانو د ـ شاه بابا ګټلی ولات اۉ باچهی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

پوړ سیکانو اؤ انګرېزانو بایللو اؤ پایه د ـ خپله لاسه د ـ بچه سکه غونډی غل پوړ خان اؤ پوړ هېواد باچاکی ـ روشتیا چی پښتو ننګ اؤ ننګ پښتو ده څه ژوزی پس د ـــ باهر نه ژموږ خپلوانو خبر راکی چی د ـــ ایوب خان پلارزموږ په هکله د ـــ کرنل بروس سره خبره کړې وه مالی (ریونیو) کمشنراؤد ـــ جېلولوے اوسر (انسپکټرجنرل ) هم وو ـــ هغه وورته ویلی وو چی زه په سرکار(ایګزیکټوحکومت)څه کارنه لرم زه خویومونشی یم نوپه جېل کی به دوے له څه کاروکم

# د ـــ ښته منو بنديانو ډلی (کلاسيپيکيشن)

لږږوزی پس هغه کانګريسی مونشی د ـــ دوَترنه خبرراوی چی کميشنرد ـــ بنديانود ـــ ټولیود ـــ (کلاسپيکيشن) څيری (مسل ) راليږلی دی اوُليکلی دی چی دادوږدموږ. دلته هم چالو کووتاسی وليکی چی ښتاسی سره څواوچت بنديان ښته دی ؟ جيل والاوو خپل تپاس پيل کی‌اوُد ـــ (۱۸) اتلسوکسوسپاربنتی وکی چی څلوږپکنبی موږوو ـــ يوهغه کلرك يوسردارشابازخان يود ـــ هغه زوے اوُځينی‌نوږداسی ووچی دوے هسی پکنبی اچولی وو ـــ

www.kitabtoon.com کتابتون پوټنه

# مونشي ګرت

لږږوزي پس یه ایوپ خان په هسپتال کی اؤزه په دوترکي مونشي ولګولم اؤد ـــ موږ څلورو‌سرو څے بیږی لیری کړلے چی د ـــ بلوچیستان په جیلو کی لومړے خل وو چی بندی (CONVICT) دی پے جولانه پړیښو سوی وی ـــ د ـــ جیل پرنګی هم ډیره ژیاتنه (احساس جتانا) راباندی وکړله چی دازه څومری لوے ښه د ـــ تاسی سره کوم داشان زه ګوا د ـــ جیل نیمه خواری له تاسی لری کوم ـــ اؤروشتیاهم داسی وه ـــ څوړوزی خوموږ ته پے زولنو ګرزیده ډیرګران وو ـــ ولی چی په ډرے څلورمیاشتی کی ژموږپښپے په هغه باراموخته سوی وه ـــ په څومره زورچی به پخواډوه پله (فتہ) ګام اخیست کیده اوس به پښه ډرے پله (فتہ ) وړاندی ولاړه ـــ اؤد ـــ غوخارېدووېره وله ـــ په دوتر کی ژما ډیر لږ اواسانه کاروو د ـــ وارنټ له داروغه سره به می کومك كاه یابه می د ـــ جیله څه

د ــــ بندیانو درابللوپلپاره پرچې لیکلې ـــ چې لوې داروغه په دوترکی ولګولم » ماوورته وویل چې زه دلې بنه یم دوترمی نه دی خوښ »وې « ولی ؟ » ماوې هلته بابوګان دی ټول خلګ خویوشان نه دی مالیدلی دی خینی وبندیانوته ډیرپه سپکه سترګه ګوری اوبدوورته وایی زه دا شپې نه سم زغملاے » هغه راته وویل « چې ته یې غمه سه د ــــ دې چارې ماکړې ده تاسره به څوک سپک روُنه کوی» ـــ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

# پرنګے غل اؤبندی

په دغوښپوړکی د ـــ کوټی د ـــ چاوڼی څه رابرټ
نوميده يوانګريز پوجی سپاهی بندی راغی چی په شپږ
غلاووکی يونيم کال بندی وو ـــ په جيل کی د ـــ
انګريزانوبنديانولپاره يوبيل بارك جوړ ووــ اؤدوے خان
له وړے کوټے ـــ (چکی) چی پکښی ووړی له ببوزی
(پنکے) اؤد ـــ ژمی لپاره بوخاری (انګيټی) وے ـــ
سمی د ـــ سړوپه شان جامے ـــ کټ بيستره ـــ ميز
کورسی ـ ډيربنه خواړه اؤسيګريټ يه وورکول ـ زمابه
ډيرکاهښت کيده چی داولی زموږ ښه نه ښه سړے په
دے خپل هيواد کی د ـ پرنګيانود ـ غلو اؤ بدو خلکو
هومره تول هم نه لری ـ خوسړے ډيربنه اؤخوشاله وو ـ
د ـــ ماسرے په دؤترکی کارکاوه ـ ډوه خويونه ډيربنه
پکښے وو يوخوپه هيڅ کارباك نه کاوه اؤنه ستړی
کيده بل که به تهوله روز ولاړوونه به پوړمڅکه
کښبنوست نه پوړميز په ورګی (کيړکی ) يابل پے
ځايه ځاے چی ترڅوبه زمااويياد ـ داروغه کورسی نه
وه اوزګاره سوے په ولاړی به ولاروو ـ

## د ـ بندیانوﺍوچتی ډلی (کلاسپیکشن)
## اؤد ـ جېل د ـ هیندوانونوکرانو چل

په دغه وخت کی د ـ وړوکی داروغه (اسستېینټ سپرنتېینډینټ) د ـ خاے لپاره سرکار د ـ سردار میر امدخان دوے کشر وّروړ سردارازیزاهمد خان لندن له د ـ شّپږو مّیاشتو د ـــ زّدکړی لپاره لېږلی وو ـ اؤدلته د ـ هغه پوړخاے یّوه هیندوجمادار (هیډوارډر) ببلی رام کار کاوه چی د ـ ازیزاهمدخان د ـ راتګ وخت رانیژدے سونو یووخت د ـ جېل هیندوان اوسران سره یوخاے سودوے ډّرے ژّوزے په خّپلوکی غّونډی اؤسلاوی وکړے اوُد ـ جېل له خّوایه کمیشنرته یوخت ولیکی چی تاسی چی د ـ بندیانود ـ اوچتوډلو (اے او بی کلاس ) جوړولو په بارﻫ کی پّلانکے خت رالېږلی وو اؤ موږ د ـ اتلسو بندیانو سّپاربښت درلېږلی وو که تاسو هغه جوړه ول غّواړی نوموږ ته ژرولیکی چی موږ هغوے له د ـ خاے سامان

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

لوبنودوے سریبنته وکو اؤبل داچی د ـ دغو اوچتو بندیانو د ـ کارو نیگرانی لپاره به ژمور یوبل وروکی داروغه هم په کاربري ـ د ـ دوے مراد داووچی د ـ ازیزاهمدخان ترراتلو وړاندی لاد ـ بیلی رام له پاره ځاے پیداکو چی هغه بیرته جمادارنه سی اؤپوراؤسری پاته سی ـ خوچی ځنگه داخت وّلاړ زه په دے پوے سوم چی داکاروّران سوولی بّروس داکارلغرژمور ځلورولپاره په لرخرخ پیل کول غوبنت اؤد ـ جیل والواندازه نیژدے زرروپی د ـ مباشتی خرخ جوریده ـ داخبره بّیامایوٌوخت وه لوے داروغه ته وکړله چی بنه پوه سره ووهغه وه «نوتاهغه وخت ولی ماته نه ویل ستاگومان سم دی که مور په سرکی سل یونیم دمباشتی خرخ بنوولی واے نوهغوے به پیل کړی وواوچی یووارپیل سوی واے نوبّیابه موّرووّروژیات کړی وو»

ژمااؤد ـ ایوپ خان د ـ مونشی کړی پس مورته په جیل کی د ـــ تگ راتگ هم ازادی سوله اؤپه هسپتال کی د ـ اورد ـ تودواوبود ـ بندچر چوبی (غسل خانه) اؤلمبا یا جامو وینځلو لارهم پیداسوله مابه د ـ

بندیانوکاراؤد ـ میچنی وارهم لګاوه ـ نوما اؤ ده ـ په سمه توکه د ـ بندیانو ډیره خسمانه هم کولاے ښوله اؤهم مو سوران وورمیندلاے سو ـ ده ـ په درمانتون کی اؤ ما په دؤترکی ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

## د ـ بړوس سره لیده

په دسمبرکال(۱۹۳۱)بړوس د ـ ګورنرجنرل ایجنټ سوهغه موږ.کوټی ته وغوښتواؤد ـ کریسمیس په ږوزې د ـــ موږسره اؤ د ـــ مولا موتلیب سره بېل بېل وکتل د ـ دې لپاره یه موږ د ـ مچ څه د ـ کوټی جېل له راوستوډ ـ یخ ږوزی وې د ـ کوټی په جېل کی د ـ بندیانوجامې نوری هم خندنی (شرمناك) وې د ـ توری شری یوکوټ رنګه شې چی نه د ـ سری پورګچه وواؤنه تود زیاتره زاړه اؤخیری یوهم دغه شان پتلون یانیکروو ـــ یوه د ـ توری شری (کمبل) غوړه وره خولی اؤیو نیمچه پوستین پکښی زیات سوی ووچی سری به واغوستل نوبه د ـ زنګله وه جیناورته ترسری زیات نیژدې ایسېده ـ د ـ شپې به په بارك کی ډوې بوخاری (انګېټی) بلېدې ـ یوې یوې ته یې پیېنځلس سېره لرګی یاډبرین سکاره وورکول چی نیم به د ـ جېل نوکرانو یووړل اؤنیم یې ورکړل نیژدې شل کسه به په

یوه بوخاری وه ڈرے ځلورکسه مشران یامخوربندیان
خوبه وورته ناست وواۋهغه نورېے هسی په لیدوژړه
خۆشالاوه د - ژوزی چی به هرځومری یخ وواورېے نه
وورکاوه دومری به وسوچی د - یخ په ژوز به
سهارپرنګی ټلیپون وکی چی په بندیانو کارمه کوی
په جېل کی دی ځومنډی وکی چی ګرم سی اۋ بس
چوټی ده - د - یخنی او ګرمو جامو له مخی په جېل
کی شپېږی نوری هم ژیاتی سوی وه - مور چی د -
مڃ پاك روڼا اۋ ارت جېل لیدلی وودلته نورهم تنګ
وو- ډېری ژوزے پسے یه د - کریسمیس په
ژوزسهارروان کړود - لاټ بنګلے لے ورسولوهلته یه
دباندی په چمن کی یوځاے وه پیتاوی ته
کښېنولومولاموتلیب هم د - پولیسوپه پاره کی
راغی نیژدے دوولس بجے یه مولا موتلیب دننه وباله
څه وخت هورے وو اۋ بیا را وووت ولاړ بیا یه زما مل
ګری یو یوباله اۋڅه وخت پس چی به راوووت هغه بے
بېل کښېناوه اوسترے یه زه وبللم اودننه یه د - لاټ
مخی ته ودرولم - دننه نورهیڅوك نه ووبروس بنه
پښتوویله څه پاڼبے مخ ته پرتبے وه هغوته بے کتل

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

اۆله مانړے پے سرو پایه تپوسونه کول اۆڅه پے لیکل اۆماتړے کتل نه تپوسونړے ډېراوڅه داشان وو۔ نوم ۔ د ۔ پّلارنوم ۔ کور۔ زات ۔ څومری لّوستی ېے ۔ څه دی لّوستی دی ۔ چېرته دی لّوست کړی د ی ۔ واده لرے ۔ ښځه دی څوك ده ۔ بچی دی سّته ۔ هیندله کله تللی ېے ۔ چېری چېری ؟ چی ماوورته وے "چی په تهول کوتبی (شمالی) هیندکی ګرزېدلی یم" وے «تهول خایونه چی دی لیدلی دی هغه راوښیه» ماوے «هغه خوډېراووارہ وارہ ښارونه دی » وے « وی دی که نه تهول راته ووایه » ماهم د ۔ جوکماباته (جیکب آباد) ترکراچی وورته پېل کړل چی ایدرابات (حیدرآباد) می یادکی ماتړے بره وکتل وے دالهونتوب دی دالته زّدہ کی ؟ » ماوے « ماخوڅه د ۔ لهونتوب کارنه دی کړی د ۔ خّپل کام اۆهیوادمینه به لهونتوب نه وی ؟» بّیایه ماته وکتل اۆوے « ښه نور؟» د ۔ پېښوره ترډېلی به می یوسل خایونه ووریادکړی وی ۔ د ۔ څه نورو داسی بېے سره تپوسوپسړے راته وویل «ښه چی اوس سرکارتاته لږ ازادی درکی نوسّتاخّوښه ده ؟» ماوے «لږازادی څنګه وی زه پوے نه سّوم زه خو وام سړے یا

ازاد وی اؤ یابندی» وے «زمامراد دی چی تاد ـ جېله راوباسو او باهر د ــــ خپلو خلګو سره کورته یابل ځاے اوسے اوبل چېری لری لری نه سے تلاے » ماوے «ستاسی مرادد ـ جېله باهربند(نظربندی) ده؟» وے «هوکے » ماوے « هغه خوزمانه ده خوښه په ناچاری خونودایم په جېل کی هم ناست یم » وے«ولی؟» بیایه کښته پورته راته وکتل وے ته خان ته خولبوګوره دے جاموته دے جولان ته خو وګوره چی د ـ دے نه بچ سے نودانښه نه ده ؟» ماوے «نه» وے «ولی؟» ماوے ځکه چی اوس چی زه چېرته اوسم هلته ټول خلګ زماپه شان بندیان دی داشان جامے اغوندی اؤهم داشان اوسی اوچی باهر یم نونورخلګ به آزاد وی اوزه به بندی یم دوے به په خپله خوښه خی راخی اوزه به نه شم » یومینټ دوه یه راته کاته وے « نوستاخوښه بس سلام » زه ترے راووتم اؤبېرته جېل له راغلو ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

## د ـ خوّاخوږوژړا

په دغه ړوز سهارچی موږ د ـ لاټ بنګلے ته روان وو ـ ژموږ خینی خپلوان د ـــ هودے په بازارکی چی ژموږ په لارکی ووږد ـ یوه دوکان په مخ کی ژموږ د ـ لیدوڵپاره ولاړووموږ په خنداﺅښه ژړه سلام ووږته وکی اوپه تګ تګ کی موستړے مسپے ووږته وویل خوږپه دوے کی ډووډروتنو په ژیاته ښاغلی ابیدولاخان ډېربد اوپه ارمان ژړل اوړد ـ خولے پے بږغ نه خوت لږ دم پس د ـــ شا پاله په یوه ټانګه کی ښاغلی مولاوُدول الی کاکړراغی ـ په تګ تګ کے سلام وکی وے خوداے به خېرکی خوهغه هم ډېربد ژړل اوُاوښکے بهېدلے ـ ماهغه وخت هم اوُوروسته هم په دے کی ډېرسوچ کړی د ی خوپوه نه یم چی داژړاولی وی ؟ ژیاتره می داګومان سی چی دابه د ـــ ناچاری اوُبیکاری نخښه وی چی د ـ سړی یوکاریوځېزیایوه لارخوښه وی خوخان ناچاره وګنی اوُځه کاروورله کواے نه سی نه

لاس پښنه خوخه وی نوبه په دې ارمان کی ژاړی چی کشکی زه هم داسی وای یاماد ـ دې مراد لپاره څه کارکړی وای اوچی کله سړی د ـ هغه مرادلپاره په څه کارپیل سی یاپه زړه کی تکل وکی چی د ـ دې مراد لپاره به داسی کوم نوښیانه ژړا ورخی اونه ژړاته اړی پاته سی ـ

له دې پس هم موږخه ژوزی په کوټه کی وو کوندی د ـ بروس د ـ څه نوی پربکړی لپاره خوبیایه بېرته مچ له ولیږلو ـ د ـ کوټی په جېل کی د ـ ژمی دغه ژوزی څه ډېر ګرانی وې په زیاته بیاپه یخ اوواوره کی د ـ کمارې سهارتله اوماخیګرراتله د ـ جېل په جاموکی ډیرګران کاروو ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

# په مچ کی د ـ پرنګی خنبم

موړ چی بېرته مچ له راغلو په کوړنتېين کی لاپرنګی تپوس راڅخه وکاوه چی څه وسو؟ ماوورته وہ « چی لاټ مانه تپوس وکی چی د ـ جېله باهربنددی خوښ د ی ؟ماوہ نه » نوړپه پته پوے نه يوچی څه ووا‌ؤڅه وسوبابه څه کېږی که نه ؟ » چی د ـ کوارنټېين نه راووتلو زمہ بېادوبی ګاټ له ولېږلم ـ اؤنوړملګری کارخانے له د ــ شپېے به داخل د ـ څلرم بارك په خاے په ډويم بارك کی وه م ـ دلته يوسړے زماپه خواکی په وټله اوسېده ـ اميرجان نومېده د ـ بروب د ـ کلاسيپولا کاکړوو ـ په سرکی خوبه خکه زماووړته زيات پام وو چی دته یے په جېل کی سړہ جامے ووړکولے چی د ـ دہ نخنبه وه چی دہ کله د ـ جېله تنبتېدلی د ی وورسته می بېانوړهم زړه وورسره ولګېد ی يوخوښه پوه بېغمه اوشرمناکه سړے وو ـ بله می يوه ډېره ناپېښه خبره تړہ وليدله چی‌که‌د.هر چا می ليدلے واے

اندېښنه پې کېدله هغه داچې دے سړی به په باره ك
کی مابنام ته ر هغه وخته چی بیدېده یّوه پنسوړه
مه خ ته نیولې وه اوډیرخیرپې ووړته کاته چی ګواډېرپه
مینه (استغراق) یه ڵولی چی څه ناپېښبه کارنه وړ-
ولی د ـــ موڵاد - چپی ښوونی له مخی په جېلوکی
زّیاتره بندیان غّله خونیان ډاکوان اوبچه بازان ډیرزّیات
ڵمونځونه کوی اوډېرزّیات د - خوداے کیتاب ڵولی
خوزّیاتره دے له نه وی چی زّړه یه بدل اوْ خوداے ته
نیژدے سی یا پوړ بدوپښېمانه وکی هغه خکه چی
دوے د - موڵاپه ویناد - خوداے کیتاب د - ژّوه ند د -
یّوے اوچتی لاری اوْ د ـــ یّوے اوچتی ډلی د - دوړ اوْ
پوهنی یاد - پارونی اوبندونی(امرونهی) کیتاب نه
ګنی د - کوډو (جادو) یوپرِیه ګنی چی د - هغه په
ڵوستلوناجوړان جوړېږی بندیان د - بنده ایله کېږی د -
جېل واك والان باندی میهربانه کېږی په یّوه یّوه تکی
(حرف) یه لس نیکی ګتلی کېږی چی هره ڒوزپه
خومّباشتی اوْکلوکی په لکونو اوْکڒوړونو نېکی سی اوْ
خود به تریّوه اوْډوه خوڅه کوے ته رلس شه ل خونه
هم زّیاته ګټه لری اوداشان به دغوتوکوته کاته اوْد -

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

توتی په شان لږه ست دے د ـــ خپلو تولوبدود ـ زاواله
هم بچ کی اوهغه جهان به هم وکتی کے اپیل چلیږی
هغه به هم ومنه ل سی اوایله به سي په دے هکله
زمامخی له د ـ خینو بندیانو ډیری بدی ازمودے
راغلی دی چی وړاندی به راسی خولنډه داچی په جیل
کی اوږده اوږده مونخونه روژے ـ تسپیے اود ـ اوزه رک
پارکی شپه او روزبیے نیے په تورووبل ډیرزیات وی نو
زما گومان وو چی داسرے به هه م داکوی خوخبرته
ردے ناپیښه وله یووخت زه بیے پامه د ـ ده ته رشا
تیرسوه م څه کار می وو چی وه می کاته ده د ـ
پنسورے پورمه خ څه اوږده ویښتان پراته وو اوده ـ څه
لوسته ل نه لغړے هغوته کته ل ـ زه ډیرهك پك پاته
سوم چی دالاڅه دی گومان می سو چی چا تګ به
ختا ایستلی وی اوڅه کوډی موډی یه وورښوولی وی
خکه چی بیرته راغله م تپوس می ترے وکی چی ته
لوستی یے که نه ؟ دے پوه سو چی ده زماپنسوره
لیدلے ده څه هاں هوں جوابے راکی اوچی ما نیغ تپوس
ترے وکی چی داویښتان څه دی نویه وے خانه دروغ
نه سه م ده رته ویلاے خوچاته به وایے نه داجیل د ی

هسی نه چې څه تاوان راورسېږی اوّیادالې ډېر ساتېری (تفریح) هم م راباندی ودرېږی - ماوې " ښه نه به وایم" وه ل" نه لوّه ستی نه یم اوّنه څه لوّله م داد - هغی ښځی وېښتان دی د - چاپورسرچې زه بندی یه م چې جېل له راتله م د - نوښانی په توګه می تړې راوړه ل - ښځه بخت نامه نومېدله ده راتښتولې وه په لاری نیوه ل سوی وو - دې بندی سوی وواوّهغه پاته اوّد - ده لپاره د - یوّه سردارپه کوړکی ناسته وه دې یووارد - سیوی له جېله غوږخېدلی ووخوبېرته نیول سوی وو- وې بس په جېل کی می ژوّه ند د - دغو وېښتانوپه دید تېرېږی خکه می ته وینې چې ته رخو وینښ یه م دوې ته ګوره م د - روّزی په کارخانه کی هم چې کله وار پیداکه م راوایه خله م اوّوورته ګوره م خلګه چې وایی دې پنسوړه یایی زه دوې ګوره م" ماوې په دې دی څه سوده کېږی ؟" وې " هودومری سوده می په سی چې زیاتره چې دوې ته ګوره م په خان اوّپه شاو اوّ خوّاجهان نه یه م خبر- اوس هم چې ته ولاړسوی یې زماترشاتېرسوی یې او بېرته راغلی یې زه نه یه م ده رپوړه سوی کنی مابه داوېښتان پتوه ل" وّروستومو

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

تّرہے وّلاړواۏامیرجان دالته پاته سو ۔ دغه امیرجان
بّیاجېل والاووپه وهلوټکولووژلی وو ۔ هغه داشان چی
په کال (۱۹۳۱) د۔جېل واکوالانو یوّہے خّواته د ۔
بندیانو د ۔ راشه ن په ډېره غّلاکوّتی پوړی کړی وہے ۔
له ږ له ږ غّلاخو دوے ته ل کوی خوکله کله ځینی
واکوالان ډېره زّیاته غّلاپېل کی ۔ په دغه کالہے
غّلادومری زّیاته کړہے وه چی ته ر ډېره یه بندیانودغه
کال دلّوړی کال باله بلی غاړی ته چی به بندیانود ۔
لّوړی نالبس کاوه نوهغوے به په وهلو ټکولو اۏشرمولو
لکه جامہے تّرہے ایسته ل یا اینمه ووړکول اۏ داسی
کارو بہے چوپ کوه ل ـــ په دغه وخت کی د ۔ دغه
امېرجان به پزه وینی کېدله هسی هه م د ۔ جېل د ۔
واکوالانو اۏ درمانیانو د ۔ بندی رنځ زّړه ته نه لّوېړی
وایی " ټکی کوی" یا یه خّپله کړی دی" چی کله کله
روشتیا هه م وی ځینی بندیان په زّیاته زاړه بندیان چی
تنګ سی نود ۔ ناجوړی په پلمه څووخته خان په
درمانتون کی غلی کی خوجېل والاهروخت هربندی
داسی ګڼی ۔ زّماله مخه د ۔ یّوه بندی (۱۰۳) تبه وه
اۏدرمانی وہے« بدبخته خّپله کړہے ده» چی ما تپوس

ټرمې وکړی چې تبه يه څنګه ځپله کړمې ده ؟» ومې «ټپې پړپړده ته د ـ دوې په چلوڅه خبر يپې ؟» نود ـ اميرجان چې به پوزه وينبپدله دله داخبره لانبه جوړه وه څه وختپې په درمانتون کې هه م ساتلی وو اوډرمانپې وورله کړی وو اوّ چې وينه يه نه وه بنده سومې نويه داجوړه کړمې وه چې دادې په هسکارکوی اوډ ـ درمان په خاې يه د ـ جپل سزاګانی او وهه ل اوکوټه ل وورپپل کړی وو ـ ته ردمې چې دې په دغه خوړو (نکيسر) هلته مه ړوو دا ګکه ردی خبری څه نانبوده نه وه ـ ناپپنبه داوه چې کله بخت نامه د ـ ده په مرګ خبره سومې وه نوله دمې ډاره چې اوس خوبه پښتانه هيڅ کله مابپې واده پړپړدی نه اوزه د ـ اميرجانه پس به ل مپره نه کوه م اوپې کولاې سه م ـ داخوانه ـ سنکلې اوډپره سوکړه بنخه وه نورخوپړپړده ځپله سردارزرغون خان جوګيزې دمې ته ناست وو چې داد ـ خان کی خکه دمې د ـ ډپره سوچه پس داپړپکړه کړمې وه چې زه د ـ اميرجان غم ته به ل ځاې نه سه م اوزګارپداې بپې جپله اوجپل له ماڅوك نه بپايی ترڅوچې ماډپرغټ تورپه زياته بياسرکاری تاوان نه وی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

کړی نوپیه د ـ سردارله کوره چېری چی د ـ جرګې له
مخی د ـ امیرجان په ژوه ند اوسېدله د ـ هغه
توپنګچه رااخیستې اوډ ـ کلاسیپولابازارله راغلې وه
زړه یه داووچی څوك سیك سرکاری نوکر به وژنې ـ
سیك خکه چی یوخوډ ـ امدشابابا او سیکانو د ـــ
جنګو راهیسی د ـــ سیکانو اوپښتنو ته ر مّیان ته ل
جنګ راغلی د ی نوپښتانه په ټول هینکی کاموکی
سیکان خپه ل زیات دوښمنان ګڼی اوبه ل خکه چی په
دې اوامیرجان پسی د ـ تېښتی اونیولوپه ېلاچی کوم
پولیس وتلی ووډ ـ هغو اوسراوّیازیاتره سپاهیان
سیکان وو ـ دغه وخت د ـ کلاسیپولا سرکاری درمانی
هه م سیك وو ـــ نوبخت نامه وارله واره هغه له
وورغلې وه چی مړې کی ښه نیژدې وورته ګښېنستلې
وه اوپه پرونی کې دننه توپنګچه وورته برابره کړې وه
چی ویشت یې خوځکه چی بیاهم بهادره پښتنه وه پامې
کړی د ی چی داسړې که څه هه م سیك اوسرکاری
سړې د ی اوزماد ـــ جېل مراد هه م په پوره کېږی
خوځکه چی دې د ـ پښتنواوډ ـ خوداې د ـ پیدا
(مخلوق) خسمانه کوی نهد ـ ده مرګ بدکارد ی

چېرې به ل سیك کته ل په کاردی نوهغه یه پړه ایښی وو اؤ تړه راوتلې وه اؤپه بازارکې ډوډ که ډړه نورسیکان ویشتلی وو - چې یوپکښی د - پولیسوسپاهی وواوهغه مړسو - دایه ونیوله اوجیرګې اورد بندورکې چې د - ده مرادوو - چې زه په کال (۱۹۳٤) کې بیاجېل ته ورغله م داهوره وه یووخت سپرلې نومېده یو کاکړ بنډی چې په درمانتون کی بې کارکاوه اود - درمانی سره به ګه رزېده د - تول په زوز زماځاے ته د - درمانی سره راغی ماچې رنګ ته وکاته سرې ژړلی وو - تپوس مې تره وکی چې هلکه ولی دی ژړلی دی ؟ ګومان مې ووچې د - جېل واکوالانو به وهلی یاکنځلی وی دے بیاپه ژړاسووه خانه خوداے ده کوروران کی د - ده ښځی چې هرکله زنانه جېل ته ورسه م تهوله زوز مې په ژړاتېره سی ماوه « ولی څه چل د ی اوخوك ده ښځه ؟ » وه «هغه بخت نامه څه ده کلونه یه په جېل کی دادی وسو خو بس چې کله دغه د ـــ درمانتون تله مور د - تول لپاره وروړو دایه ژړاسی اوراسی داتله مه چ اوښکه ل کي په زوره زوره ساندي وایی چې

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

زماامیرجان به هه م په دې تله باندی د ـ توپل په وخت خپلی ښکلی پښې لګولی وی اوداسی په ارمان ژاړی لکه امیرجان چی نه ن مه ړاو د ـــ دې نه بیل سوی وی خکه زما او د نورو پښتنو بندیانوزړه هه م اوړ وکی او بیا مو دړسته روز ژړانه درېږی ـ زه چی د ـ بخت نامی اوامیرجان په دې ـ ریشتنې اولیونی پښتنی مینه کی رې وهه م چی د ـ امیرجان له خواپه کلوډ ـ دې له ویښتانوسره مینه اود ـ دې له خواخپله رویښتنې پښتنی مینه د ـ به ل میږه د ـ شرمه د ـ ساتلوډ ـ پاره په هسکار جېل ته راتګ اوبیاپه کلو د ـ جېل د ـ هغی تلی په ښکلولو زړه سوده کول چی امیرجان به کله پښې باندی لګولی وی ـ دواړه ماخپله لیدلی دی نوزه د ـ دوې مینی ته ر هغه تهولوکامی بودو(قصو) هه م اوچته ګنم چی په کیتابوکی لیکلی دی اود ـ کلوراسې په غونډواومرکوکی لولی ـ لکه ادم ده رخانی ـ پتې خان اورابیا ـ ولی جان اوشاپوری یالیلې مجنون او جولیټ او رومیو خپله می ته ل په زړه کی وی چی که می پې غمه وخت وو میندلاې واې نوداپښتنی اوروشیا بوډه به په یو کیتاب کی

لیکمه خو که په ماداکارو نه سونوهیله می دھ چی به
ل ثوك بیے ولیکی د ــــ بخت نامی خور د ــــ
ریښتنی مینی او پاك ژوه ند دا خوندوره بودھ به
نیمگرے پاته وی که دا لا هه م ونه لیکه م چی که ثه
هه م دے میره مخی پښتنیے خپه ل د ــــ او ثاری
ښکلی خوانی ډیر کلونه د ــــ یو ناچاره بندی په توکه
د ــــ جیل د ــــ بدو اؤ بیے سره بندیانو او بدکارو
سپاهیانو ،جمادارانو اؤ واکوالانو په میان کی د ــــ
مچ په زنانه جیل کی تیر کړل چیری چی ډیرو نورو
زنانو ته بدی بدنامی پیښی شولے خو د ــــ دے پور
پاکه لمه ن خپله ما هلته لس میاشتی سرھ د ــــ
نورو ملو داسی تیری یا کړے چی یو دیوال مو ته ر
میان وو خو مور د ــــ دے پښتنیے په زوره بڼغ هه م نه
دی اوریدلی اؤ به ل وخت چی ښاغلی ارباب اودول
کاده ر خان کاسے په ثه کامی تور کی دالته یو کال
یوازی بندی وو اؤ یو وختے ښومیا نیولے وه نو دغی
میره مخی پښتنیے خپه ل د ــــ پښتنوالی اؤ کامی
ننگ له مخی ځان په خبر کړی وو مور ے باهر په
خبرکړلو اؤ ته ر پایه یے د ــــ ده اؤ باهردونیا ته ر

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

مّیان د ـــ خت خبر کار کاوه ـ څه وخت پس دا د ـــ جېله ږّوندی ووتله خو هله چی سّپین سرے سوے وه اوْ د ـــ میږه نه وه ـ

سبایابله ژّوزچی پرنګے دوبی ګاټ له راغی زہ وه بللم وہ « ته څه کارکولاے سے ؟ » ماوہ "هرکارچی ته وایې" وہ « نه ژّمامّراد دی چی تاباهرڅه کارکړی د ی ؟» ماوہ « باهرخوماد ـ لاس هیڅ کارنه د ی کړی چپ د ـ لیك اوْلّوست نه » وہ ـــ« په جېل کی خو د ـ لیك اوْلّوست کار خو ټولو بندیانوته نه رسېږی تاله څه کارکول په کاردی ؟» ماوہ « بنه څنګه چی ته وایې » ماځیګرله موږلوے داروغه وغوښتلودوْترله ځان له یه راته وویل« تراوسه خوماتاسی له ګرّانو کارو نه بچ ساتلاست خواوس پرنګے وایی چی دوے په جېل کی هیڅ سختی نه ده لیدلې ځکې د ـ لاټ خبره نه ومنله په دوے کارکول په کاردی چی د ـ جېل د ـ ژّوند په سختی پوه سی اوس زه ناچاره یم تاسی ته به کاردرکوم موږوہ تې باك مه کوه څنګه چی پرنګے وایی هغه شانی کارراکه موږ یې تروسه کوو ـ مشروّروږمی چی دباندہ ډېربنه بدن ووپه جېل کی

څلوېښت پونډه په تول کم سو ی. اوډېرتپ ټيپ وو۔ اوښاغلی ايساخان چې له وړاندی نه هم تپ ټيپ وو هغوے ته ډاکټرنرم کار ( LIGHT LABOUR )ليکلی وو هغوے تہ په هغه کارخانه کی څه نرم پخوانے کارورکی مااوښاغلی ايوپ خان تہ د ۔ ټوکر اوډل (کهډی) راکی چی ډېرزاوال جن ګران اوډ ۔ ژدکړی کاروويل دغه وخت ډېرژيات يخ وو اوپه دے کارکی نه سړے لمرته وتاے سو اوٴ نه په شړی (کمبل) اغوستلاے سوله کارهم د ۔ ټيکے وو څوژوزی خوږے نوی سړی ته څه نه ويل خو وروسته بيا د ۔ جېل نمبردارانو اونوکرانو بنديان سپکول او وهل هم ۔ اومور خو د ۔ پرنګی په خنبم هم خبر وو ډېرے څلور ژوزی پس ديوان رتن چند چی پېشنی ای ۔ اے ۔ سی وو باهرمور پېژاند ده هم مور پېژاندلو خبر نه يم چی په سرکاری توکه که د ۔ سيل لپاره جېل ته راغی د ۔ ايوپ خان کړ ی ته ودرېده وے « ته څوك يے ؟ » د ه وے « اڅګزے » وے « څه دی کړی دی ؟» ده لاجواب نه وو وورکړی هغه خپله وے « خره دی غلاکړے ده ؟ وے خندل اوروان سو » په دے ټولو خبرو ښاغلی ايوپ

خان ډېر خوابدی ووماتېے وہ « چی کار خوډېر ژران سو که نن نه وی سباپورسېکه برابرېږو دابه څه چل کوو؟ » ماوہ « زه خوښتاسی خولے ته ګورم زماخوتاسی نه منی تاسی لوے یاست چی داد ـ جنګ اؤ غورزو پرزو وخت دی سختی اؤزیاتے پورسری ترهغوکېږی چی سرے یه وړی چی نے وړی نویه څوك نه سی باندی کولاے خود ـ روان زیاتی (ظلم) نه د ـ خان بچ کولو لپاره به سرے خان څه نوره م کړه وی نوهله به بچ کېږی که موږ په سرکی شومی نیولے واے اؤد ـ دہ سختو د ـ وړونه مو ناکاری (انکار) کړی واے نوداسختی اوسپکی نه سوہ راسره کېداے نوره خواری اؤسختی کېداے سوه چی لاډېره سوہ واے خوسپکه به نه وه اوس هه م هیڅ نه دی سوی د ـ دہ هرڅه چاره شومیا (بهوك هړتال ) اؤد ـ ښه رو (سلوك) په کلکه سره غوښتل دی » وہ « ښه د ی زماخوښه ده که د ـ هغه نوروملګروهه م خوښه وه ؟» هغه مووپوښتل اؤخبری مو وورسره وکړہ هغو هم خوښه کړله موږ لاوورته وویل چی ښاغلی اؤدول سلام خان کمزوری د ی هسی

نه چی په شومیانوړتاوان وورپیښ سی خبردی دے
دہ نه کوی یادہ څوړوزی پس بیاوکی خوهغوے دانه
منله وہ زه یې هم کومّ جوړه موداوکړله چی ډرہ
څلوړروزی پس به په ایتوار درخواست وغواړواوُد ـ کُول
په ړوز به پرنګی ته ودرېږودرخواست به ترہ وغواړو
کې وہ څه درخواست ؟ نوبه خبره ووړته وکو چی موږ
سرکارته لیکوچی موږ نوړ دالار اوُروُنه وړو موږ سره
به سم د ـ کامی بندیانو وړ روُ کوی کنی موږ ډوہ
هوتې پس شومیانیسو اوُ کې درخواست رانه کی نوبه
ووړته وایوچی خیرد ی موږ داد ی تاته وویل که
درخواست راکوہ ښه که نه راکوہ تې خبرچی موږ به
ډوے هوُتې پس ډوډی نه خورو ـ داکاریوازی ماته و
سپارل سو چی د ـ خان اوُد ـ ټولوله خوابه دا خبره کوم
د ـ خوداے کاروڼه د ـ کُول په روز چی زه د ـ خواست
(عرض) وال بندیانوسره پرنګی ته په چکرکی ناست وم
دومری خوله اوُد ـ مچ اوڅارتېز باد ووچی ټېك نه
کېده خوموږ ناچاره ووناست ووګانته ډوہ پس
خبرراغی چی پرنګے نه راځی ـ زه کارخانې له ورغلم
مله می خبرکړه هغوے هم د ـ کارخانې د ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

نوروبندیانورنګه د ـ یخه ډېرپه زاوال وو ـ په کارخانوکی چی نه بندېدلے اوُڼے له سره چاپېره دېوالونه درلود څپر شانته وے چاپېره یه غتهه جالئ وه ډېرسخت یخ ووډرے ځلورسپین ږیری سیندیان اوُبلوڅان د ـ یخه بیے هوښه سوی وواوُهسپتال لے وړی وو دوے ډېرخپه سوچی اوس به بیابل ایتوار ته ګورو ماوے « نه که ستاسوخوښه وی جمادار به ولېږو اوس به ورسوداروغه اوُپرنګے به ووینو » وے « داښه ده » جمادارموولېږه چی زموږ تلواری کاردی داروغه وینوهغه هم دستی وغوښتو چی ورغلوخبره موورسره وکړله هغه ډیرخوشاله سوخووے « داډېرګران کاردی څله ځان کړوی ؟ » په پاے کی پرنګی له وُلاړبیایه موږ هم ووروغوښتود ـــ پرنګی خبره خوښه نه سوله ډېری دلی دوړی خبرے وکړلے چی موږ نه اووښتو

وے مو « یادرخواست راکه چی سرکارته ولیکو یا پنځلسمه روز موږ ډوډی پرېږدو » نوپه وے « ښه دی تاسی وُلاړ سی زه به بیاجواب درکم»موږ واپس را روان سو چی کارخانے ته لا نه وو رسېدلی نمبردار راپسی راغی وے « داروغه موغواړی »

واپسې راروان کړلوچې راواپس سوداروغه د ـ جېل ؤره ته نېژدې د ـ يوه بارك په څوله کی خپل د ـ نمبردارانوسپاهيانواؤجمادارانود ـ لښکر سره ولاړوو ـ نوركله چې به جېل والاووڅوك بندی واهه اوشرماوه نوبيې په دغه هوېلی دننه کی چې د ـ نوره جېله څه بېرته اؤهم دغه کارله تشه ولاړه وه زموږ ګومان سوچې لکه چې زموږ سره هم دغه کارکوی نو دا مو سره وويل چې کې داسی راسره وکړه نوسم دستی به ډوډ ی پرېږدواؤترهغوېبه نه خوروچې د ـ باهره څوك راغلی نه وی اؤد ـ هغه بلی خبری سره يه داخبره هم نه وی ښپينه کړې اوکې خان خان له کړلونوهم دغه ده اؤترهغوبه هيڅ د ـ جوړی خبره نه کووچې بيرته يوځاے کړی نه يو ـ داجوړه مووکړه اؤترداروغه وروورسېدو ـ په ؤره کې تپوس رانه وکی «چې ښتاسی بيسترې لوښی اوکيتابونه دوے چېرته دی؟» موږ خپل خپل بارك ووريادكی ـ جماداراؤڅوکسه يه ولېږل چې د ـ دوے ټول څېزونه راوړی موږ تې وې «دننه شی» موږ دننه سوهغه نوروسړوتې وې "تاسی دلې ودرېږی" خپله يکړ دننه راغی په خنداسووې" موبارك موسه

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

نیم جنګ خوموږګاڼه اوس به تاسی دلته یو ځاے اؤ
د ـ نوروبندیانونه بېل اوسی دلے به څه کارمار کوی ـ
په دغه ځاے کی اته (۸) یا(۹)وړے کوټے (چکی)
وے اؤموږ خان له پکښی اوسېدوماښام بیے بند
کړواؤسهاربیے پړانستونورنوچاڅه کارنه راسره درلود ـ
د ـ ډوډی پوروخت به جمادار ډوډی راوړله ـ څوړوزی
خود ـ جیل اؤسرانودرخواست نه راکاوه چی موږ به
هره ړوز غوښت خوپه پاے کے راکی اؤموږ سرکارته د
ـ ښه اؤوړ (مناسب) رولپاره ولیکل ـ کنی نوموږ ډوے
هؤتے پس شومیانیسود ـ سرکارجواب رانغی نوموږ
ډوے هؤتے پس ډوډی پرېښودله اؤداجوړه موږکړله
چی ماته ووبیے هله چی یاخوموږپه اوچته ډله (کلاس)
کی واچوی اؤیاموږ سره یو ځاے کی اؤ موږ په ګډه څه
پرېکړه وکود ـ شومیاپه لومړی ړوزے موږ ځله بېل
کړو ـ زه دالته وم ایوپ خان اؤایساخان په یوه بېل بارك
کی خوځله بېرته اؤپه بېلوکوټو کی وو اؤ مشر وړوړ
می د ـ پانسی د ـ بندیانوپه خواکی وود ـ ړوزی
اؤشپے به یوبېل سپاهی پور څلورو سرو ګرزېده
کتلوبیے ـ ډوډی بیے ډواړه وخته راوړله اؤد ـ کوټے د ـ

باندی یے مخ ته راته اینښوولہ ۔ ډېرے ږوزی پس به هره ږوزپرنګے اوٚداروغه کله یوځاے اوٚکله بېل بېل راتله اوٚراته ویل یے چی روټی وخوری په سمه توګه اوٚپه څواخوړی یے راسره اوړ. ده اوړده څېړنی کولے ډاکټربه هم،لس یادوولس ږوزی پس ېوه ږوزداروغه په ډېره څواخوږ ی راته وویل چی " ګوره مه ځان ورځنه اوٚمه دانوړملګری په جېل کی شومیاداشان وسرته نه رسیږی داهله کېږی چی دباندی هم خلګ د ۔ بندی په همدردی اوٚپرے پېژاندھ (پروپېګنډه) کوی تاسی له هیڅوك باهرهیڅ کارنه کوی نه څوك خبر هم دی ستاسی څپلوان خبردی هغه هم داشان چی څوك مولیدوله راغلی وونوړلته ماخبرکړه ل خوهغوے هم څه کارنه دی کړی " ماوے" ته ټیك وایے خوداهله چی سړ ے په پړے پېژاندھ (پروپېګنډه) باور لری خو زه نه په لرم ږما باور خو په خوداے پاك دی اوٚځپل په تینګاریاد ۔ سړی د ۔ زړه په نیکی ۔ که نن نه وی سبابه سرکاری خلګ زموږ د ۔ خبری په روشتیاوالی پوھ سی اوٚوبیے منی" په نوروځونه یم خبرزه خوډوے ډېرے ږوزی لالړ لړ په لوړه پوهېدم بیانه یم په پوھ

www.kitabtoon.com کابتون ټولنه

سوی ـ ډّوے دڑے ڑوزی به می زڑه ګرزلاو اؤ ولاړېدوته غّوښت بّیاهغه هم نه ووپه پّروتی به خّوښ وم ـ چی څه به بېے ارامه اؤپّلتهنده به سّوم اوبه به می وچښلے ډېره سوده به می په وسّوله پام اؤسوچ می ڑوزترڑوزی تېزیده اؤپاکېده کیتاب می لږ لږ نیمه ګانتهه پوړله پسے کتاے سوااؤترپخوانښه په پوهېدم اوهم می ښه په یاد پاتے ده خوب می لکه د ـ واړه بچی داسی سوچی لږ لږ دم پس به بیدېدم اؤویښېدم ـ د ـ اوبوچیښلولږ دم پس به می روڼی بولی کولے اؤپه هغه به می هم څه ارام مونت غتهی بولی د ـ لومړی ڑوزی څه نه وے ان ترهغه وخته چی دوباره می لومړے خل شیدے (پی)چیښلے ـ

# ناپیښه پیښه

لسمه یا یوولسمه روزد - شپې لال مامد نومی یوه بروهی سپاهی راویښ کړم وې چې ستاورورچی په (۱۱/۱۲) کی بند دی هغه لیونے سوی دی نن ډروزی څو ځله ډاکترورغلی دی اوهغه وایی چې زمورخپلوان جیل ته دننه راغلی وواوپلانے - ای - ایے — سی - هم ورسره وو زمانور ملګری جیل والاوو وروستل خوزې ورنه ویستم ډیره می خوابده سوله او ګومان می سوچی هغوے کمزوری وواود - دې لوری اوشومیانه داخواری وورپیښه سوله - یوسات ډیره خواشینی راباندی تیره سوله خوبیامی وې چې څه څه چې کیږی کیږی به په جنګ کی تل بنګړی ماتیږی دا خو لا ناجوړی ده که سبا له دے یاته په لوړه مړه سواست نوبه څه وی ؟ او بس په آرام سوم څورلسمه روزداروغه راته وویل چی ایوپ خان د - پرنګی سره جوړه وکړله - پرنګی بول وورسره وکی چی په جیل کی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

به ځینی سوړوانونه (رعایات) درکوی اوهغه اوایساخان پی وشکلی تې هم وشکه » ماوې « زه خونه خورم» وې « ولی‌زماپه خبره دی باورنسته چی زه کنی دروغ درته وایم ؟» ماوې« نه د ـ باوریانه باورخبره نه ده موږ په خپلوکی لوزسره کړی دی چی شومیابه هله ماته ووچی تهول یوخاے سو» وې « داخبره هغوې هم پرنګی ته کړې وه خوهغه وورته وویل چی « تاسی دپرکمزوری سوی یاست خپله تلاے نه سی اوچی پرکتهونوموړودابه څه هنك شانته وی نوهغوې ماته کړله-ماوې دوې به داسی کړی وی خوزه خپل بول نه ماتوم چی هغوې تهول ماسره یوخاے نه سی زه نه خورم » بیا سپاهی د ـ ایوپ خان د ـ خولې خبر راوی خوماوې "زماهغه بول دی" مشر وروړ می هم دغه جواب وورکړی وو ـ په پینځلسمه روز پرنګی دوې ډواړه بناغلی اودول سلام خان له لیږلی وو اودوې هغه هم ست کړی وو په شپاړسمه یه ډرې سرې ماله راوسته نوماهم شومیاماته کړله په دې تهول وخت کی به ماتهول لمنځونه په ولاړی اوپوروخت کول تشوبولو ته به په اسانه پورته کېدم او پورنلکه به لمبېدم په

هیڅ رنګه کمزوری نه یم پوے سوی ـــ ناپېښبه
خولاداوه چی ښنګه می وویل چی ښه دی ماتومے
دستی می لوٚره چی پخوامړه وه داسی په زور
راژوندی سٚوله چی ترڅودوے د ـ جېل د ـ لنګره پی
راوړے لس پنځلس مینټه وخت به ووزه د ـ لوٚړی
دومری تنګ سٚوم چی په تیری شٚپاړس ٚروزی کی نه یم
تنګ سوی چی شیدے می وڅکلے لږ دمه سٚوم نومی
د ـ روړنه تپوس وکاوه چی هغه څه چل ووماته سٚپاهی
ویل چی دے لېونے سوی دی هغه وے خبرنه یم خوپه
دغه ٚروز زه روغ موړ وم ناست وم ناساپه می د ـ
بارك نه باهرد ـ ٚپلانی ماماٱوسردارامیرامد خان بږغ
ترغوږ سواوٚبیاسٚتاسی ٚدرووا ړووارپه وارخبری می
اروېدے ګومان می سوچی دا ای ـ اے ـ سی اوٚزموږ
ٚخپلوان لکه چی د ـ باهر نه سرکار ٚزموږ تپوس له
رالېږلی دی تاسے ٚوړاندی ووړته راوستی یاست اوس به
نوماهم وورولی زه تیارناست وم په دے کی نیمه ګانټه
تېره سٚوله اوٚږغ ٚورك سو نو ما وے چی ولی ورنه
وستم؟ او تپوس له می جمادار راوغوښت چی «تاسی
ولی هغه ای اے سی دوے له ٚزما هغه نوړمٚله ورروستل

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

اوزه مونه بوتلم ؟» هغه وې "هیڅوک نه دی راغلی تاته چاویل "ماوې "ماخپله د ـ هغو بزغ واورېده ته ماتېرباسې که څه ؟"چی زه تېینګ سوم نو جمادار وارختاسو اوْ ولاړاوډاکټرې راووست ـ ډاکټرتپوس رانه وکی اوراته یه وویل چی « هیڅوک نه دی راغلی » خومانه منل اواوس می هم باوردی چی راغلی دی خوچی تاسی وایاست نه دی راغلی نومی زړه ته ولوېږی چی نه به وی راغلی اوزماګومان به چپ وی ـ هغوې تراوسه هم وایی چی زمااوس هم باوردی چی ماداهرڅه په روشتیااورېدلی دی » د ـ ایوپ خان اوپرنګی ترجوړه لاندی یه زموږ زولنې لری کړلې دالته خان له اوسېدوکارې هسی د ـ نامه لپاره څه نرم کارسپنهسی (مزی) راکول هغه به موتاوول یاپړانستل ـ چاکارنه رادرلوږ ـ

# ایله کېده

د - جون کال (۱۹۳۱)په سرکی د - ګاندی اوُاروین د - جوړی څومّیاشتی پس یّوه ژوز یه موږ و بللو چی خّپلوان مولیدوله راغلی دی مل ګری می څه وخت وّړاندی د - لیدوکوټهې ته دننه سوی ووِ ما په لاری دچاسره څه خبره کوله زه چی ورغلم بّیا بلاډیرکسان ناست وو دوې خبره کړې وه وه ماته د-روږغ بړنه وّروسته ایوپ خان وویل چی "دوې وایی موږ لاټ غوښتی وو اوُ یوخت یه راکړی دی چی که تاسی هغه لاس لیك کی نوِ موِ پّرېږدی چی تاسی به نیك چلنه اوسی د ډّرو کالو لپاره به د-ډّوو زرو روپو لاس ګری (ضمانت) ووِ رکوی که په دې وخت کی تاسی څه بد کول نوِ د-پوِلیسو اوُسران ترتاېه داره پوری به موِ بېې وارنټه نیولاې سی اوُکه څه توږ (جرم )دربان‌دی پوږ سوِ نوِسرکار به دنوی سزاسره داپاته سزا هم درکولاې سی" سّتا څنګه خّوښه ده ؟ په دې کی ژموږ خّپلوان چی لری په هغه بله جنګله کی بندووپه زارو پبل سو

www.kitabtoon.com کتابتون پتولنه

اوّ زه ویرېدم چی بّیاده‌هغه بل ځل چل درسره کوی ماوې تاسی زّماخبره واوری "چی‌دوې غّوږ سونوماوې چی "زه سّتاسودتهولو کشریم سّتاسی خّوا هیڅ کله نه بدوم خوګومان می دی چی زّماده‌ځان واك پکاردی چی زّماوی زه خو وایم مادلې پّرېږدی لږ بند می پاته دئ دروبه وّزم اوّکه نه تاسی می ناچاره کوی نوزه دادرته وایم چی زه به راووزم خو بّیا پور ما نور ژّوند ناروا دی زه به هرومروځان وژنم اوس نو سّتاسی خّوښه ده څه وایاست دلې ژّوندې موخّوښ یم که نه باهرمر؟" چی ما دا وویل سری تهول غلی سوهم می مل ګری‌اوّهم خّپلوان هغه خبره دم پاته سّوله څه د - کورد- روغ جوړخبری مو وکړې اوّځله ښېل سودباندی ښاغلی غپارخان ووړته ویلی ووچی "ده خوداسی خبره وکړله ځان وژنی نه ځان وژل څه دومری اسان کاردی - که څه ؟ پروامه په کوی راوې باسی بّیابې ګورو پوې پې کو ست به سی » خوښاغلی مامد تاهیرخان ووړته ویلی ووچی « زه هغه پېژنم د - یّوې پښتوسړې دی څه چې وویل هغه به هرومروکوی دلې کې په خبره پوه کولاې سی ښه کنی پاته به وی موږ چی دننه راغلو

کڼبيناستو اؤ په خپلو کی مو د ـ سرکار پور دے نوی پیښنکښ ( OFFER ) باندی خبری وکړلے په پاے کی موداجوړه کړله چی خکه چی دګاندی ارون جوړه سوے ده اؤپه لندن کی د ـ غونډمېزجرګه کېږی په دے وخت کی د ـ بلوچيستان ږغ دهيند تر مشرانوړسول په کاردی د ـ سرکارپه پیښنکښ کی هم څه نوے یاد-شرم خبرنسته.پاته بندښيا راکول خوجوړه خبره ده بېے وارنټه نیول هم په بلوچيستان کی څه نوے نه ده داخلے کله وارنټ راکی پاته سوله لاس ګری نو څوك چی د ـــ کام په لارکی خان اؤسربښندی هغوله د ـــ ډوو ـ زروروپوپه داسی وخت کي پروانه ده په کار ـ په موږ کی دی ډوه کسه د ـ دے کارلپاره ووزی اؤ ډوه به ناست وی که سرکار هغه ډوه کامی کارته پرېښوول نوېیابه داډوه هم ووزی یابېے بند پوره سی کنی هغه ډوه به دلاس ګری (ضمانت) دپيسو باك نه کوی کاربه کوی که سرکار وينول نوبيرته به راسی پرېکړه داوه چی مشروړوړ می اؤ ښاغلی ایوپ خان به وزی زه اؤ ښاغلی ایساخان به ناست یو ـ د ـ دے پسی مو ماځیګر جمادارته وویل چی لوے داروغه موږ له

www.kitabtoon.com کتابتون پوهنه

راوبولی چی هغه ته ووایوچی زموږ خپلوان چی لانه دی تللی هغوی ته خبرورکی چی ځی نه دلے سی اوسهاریاراسی ـ داروغه چی راغی موږ بندسوی وو ـ دباندی راته ودریده وے" څنګه کارمووزه موږابللی وم ؟" موږ وے"هغه زموږ خپلوان به میهربانی وکے خبرکے چی لاړنه سی اوسبایوځل بیاله موږ سره ووینی » په خنداسووے«هغوی دلے دی نه ځی د ـ هغوی هم داخوبنه وه چی سبابیاتاسی ووینی» مخ کے وے چی که څه هم زه سرکاری نوکریم تاسی به زماخبره په څه اړی (غرض) ګنی خوزه هم د ـ دے هیواد سړے یم زه هم داغواړم چی موږ ازاد سو اوانګریزولاړسی که زمامنی تاسی خان وباسی په بلوچیستان کی کامی خلک اوکامی کارنسته دغه تاسی یاست که موڅه ژوند په خلکوکی پیداکی » وروسته یه هغه تهولی خبری وکړے چی موږ سنجولی وے نوموږ وورته وویل چی "موږ خوداجوړه کړے ده چی ډوډ وزواوډوډ پاتیږو" وے "داډیره ښه ده خوپه دے کی یوتاوان داسته چی که سرکارډوډ نه پرېږدی اوشك وکی نوستاسی مرادبه سرنه سی" د ـ شپے ترنو (۹) بجو

پوړی مو خبری سره وکړې اوپه پاے کی موداجوړه کړله چی تهول به خوکاربه کووکه سرکارنیولواو یا یه د ـ لاسگری (ضمانت) پیسپے راخخه اخیستپے خیردی ودی کی روشتیا داده چی په روشتیا (عملی طور) زما کامی ژوندهم د ـ دې شپپے څه پیل سوچی په کلکه می ملاوتړله چی په نېغه به کامی (سیاسی) کارکوم تردغه وخته می که څه هم په پام کی می څه شے گرزېده اوزړه می څه کول غوښت خولارمی تهاکلپے نه وه په دغه روزمی لارخرگنده سوله چی د ـ انگرېزی سرکارد ـ ناخوښی سره به د ـ هیواد د ـ آزادی کارکوم سهارموخپلوان ولېدل اوهغه کاغزان چی څلورچاپ سوی پاڼی وې هغه مورلاس لیك کړلپے دوے یووړلپے اوپه خو روزی کپے موټر رالېږلی وومور د ـ نیږدې یوولسو میاشتو د ـ بنده پس د ـ جېله راووتو شپپے له کوټی له ورسېدو او سهارکور ته ولاړو ـ خوړوزی موتیری کړې د ـ بلوچستان اوهیند په شان موځان خبرکی چی یوه پکښی داوه چی د ـ بلوچستان سرکارزمور په ایله کیدوکی خکه تلوارکاوه چی خوړوزی وړاندی د ـ لاهورد ـ

www.kitabtoon.com كتابتون تولنه

زميندار اخبار چلوونکی ځپل له ځوا دا ليکلی وو چی د - بلوچستان داخلو رکسه نومونه موهم وورکړی ووکامی (سياسی) بنديان دی د - ګاندی ايروين لوزنامه لاندی د - دوے پړ ښنوول پکاردی - داکارد - کوټی يوه پنجاپی مامد شريپ کړی ووچی په سورج ګنج بازارکښے د - امريکن بوټ شاپ په نامه د ـــ بوټانو دوکان وو موږ به کله کله بوټونه جينی اخيستل ځکه موسره پېژانده - دے د - مولانااخترالی خان اشنائے وو - هغه تے ويلی ووداوداکاره په کړی وو- بله داچی د - ټول هيند مشران سره د - کانګريس د - ډلی په ډويم ځل لندن ته د - غونډمېزی جرګے لپاره ژرروان وو - چی هلته به د - هيند نوی د وخت ( آئين )جوړيږی -

## د ـ مشرۆرورسره جوړه


هم په دغه ړوزوکی می مشرۆروړراته وویل چی" ماته داسی ښکاری چی داد ـ کامی کاراو آزادی لاربه اوړده وی په دې کی به ډېرخله بند اوخواری راخی اوداد ـ پښتنوهولکه اوپښتني ژونددی ـ داکوړمځکه اوتول هروړمرویوسړے غواړی داخل موهم د ـ کوړخلک سپین سرے موړ اوخپلوان ډېرزیات کړېدلی دی اوخوترخوبه زموږ کوړد ـ بل د ـ غاړی وی موږ دواړه کامی کارنه سوکولاے یوبه هروړمروکوړته پاتېږونوستاخوښه ده ـ که ته کوړته پاتېږې زه به کامی کارکوم ته می کومك کوه اوکه ته کامی کارکوې زه به کوړیم ـ"ماوې "ښه دی زه به کامی کارکوم ته د ـ کوړکارکوه" هغه ړوزاوداړوزپه ځان خونه یم خبرچي خپل کارمی په سمه توګه کړی دی که نه مشرۆرورمی دی خوداے ژوندے اوښه لری خپله برخه کار یه په ډیره ښه توګه سامبال کی ترننه یه زه

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

د ـ کوړپه یوّه غم نه یم خبرکړی یومځے د ـ کوړه ہے
غمه کړی یم نه په کوړخبریم نه په خّپلوپچواوَنه د ـ
پیسے په لږیاډیراوږس خوږد ـ خوداے پاك میهربانی ده
زّما اوْ د ـ ده هلکان غټ دی خّپل کوراؤتوڵ
سمبالولاے سی خوھغه وخت چی په کوړکی بہے موږ
ډّووبل نارینه نه ووکه د ـ ده کومك زّغم اومړانه نه
واے ماهیغ هم نه سوکولاے چی خّپل د ـ کوږ موږ ـ
وّروږ او ښځی زّغم اوناکام می ولید اوپه کامی ژّوند
کی د ـ دہے کّتی نوهله د ـ خوداے پاك په دہے خبره
پوے سّوم چی هغه په خّپل کیتاب کی وایی چی
"ماد ـ ښاغلی ایوپ پیغامبر سره د ـ نوروښوسیوادابنه
هم کړی ووچی هغوته می (نیکه)کورنی (اهل)ورکی"
د ـ بلوچیستان په اوسنی کامی ژّوند کی چی زّماکمه
برخه ده د ـ هغے زّیاته ونهه زّماد ـ دغو څوّ تنو
خّپلوانو ده چی ہے څه هیلی نامه یا کّتی یه شاپه
شاکړاوَونه کّالل ړوتاوانونه په زّیاته د ـ پیسواوارام یه
وّړل اوُزہے کامی کارته پّرہے ایښی وم خوداے پاك دی
داهرڅه د ـ دوے د ـ نیکی په تاله کی واچوی ـ ډّریمه
خبره داوه چی دغه وخت د ـ بلوچیستان په بلوڅوکی

هم یّوه خّواته د ـ ښاغلی نواب زاده یوسپ الی خان مگسی بندوو بلی خّواته د کلات د ـ سّتر وزیر میر شمس شا ژّیاتوب (ظلم) اوّسختوڅه ژّوند پیداکړی ووخولاښه څرګندنه وواوّڼے پوره کامی رنګ اخیستی وو۔

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه



حاجی اؤدول سلام خان اڅکزے (د- بابا ے پښتون مشر ؤرور)

# هیند له تّلل

د ـ کال (۱۹۳۱م) د ـ جولایی په پاے کی د ـ مل ګروپه خّوښه د ـ سیند په لاربمبی ته روان سّوم چی هلته د ـ غّونډمېزد ـ جرګې د ـ غېږوسرهٔ ووینم اوٗد ـ بلوچیستان په خّواری اوٗد ـ سرکارپه سختواوٗناخّوالی یه خبرکم ـ د ـ کوره ایدرابات له وّلاړم په ایدرابات کی می په اخبارکی د ـ ګاندی جی پّروګرام ولید چی دغه وخت په ماردولی کی وواوٗپه خوړوزی کی بمبی له روان ووپه لاری دّوو ړوزوله امد آبادته راته ـ نوماوې چی په امد آباد کی یې ووینم د ـ ایدراباته می په اهمد آباد کی ایساخان نشتراوٗغانی ته تاوروکی چی هلته زّموږ د ـ مېوې دلال وو ـ پښّتون وود ـ اوٗغانیستان غیلجې سلېمان خېل وو ـ پلارې اهمد آباد له راغلی وولاژوندے اوٗډېربنه پښّتون وو ـ د ـ ایساخان لاپښّتوزّده وه خوړ ـ زامنو ځې وّرکه وه ـ ایساخان ډېرژوندے اوٗکامی سړے وو هغه وختې د ـ ټّول هیند د

www.kitabtoon.com کتابتون پوهنه

ـ پښتنوجرګه" (ال انډیاافغان کانفرنس) په نامه یوه ټولی جوړه کړه وه دے یه سرپنچ (صدر) وو ـ په دے هکله یه ډیرزیات کارکړی ووپه زیاته په دکن کی د ـــ هغه ځاے د ټولو پښتنو سر شمیره کړی وو د ـ ټولو پښتنو راجواړو (ریاستها) لویوزمینداران‌و اؤ سوداګروسره کښل راکښل (خت اوکتابت) وو ـ د ـ جرګے ډوے ډرے خورا ډرنے کالیځی غونډے کړی وے څه وختے په کانګریس کی هم کارکړی وو اؤد ـ ګاندیجی سره په آشرم کی هم اوسیدلی وو بلوچیستان له به د ـ میوے د ـــ کار له پاره راته ماته یے ډیرویل چی د ـ هیندد ـ پښتنوجرګه په لاس کی واخله داډیرډروند اؤښه کاردی ـ زه خپل د ـــ کاره اوزګارنه یم ـ په هیندکی ډیرماړه نوابان اؤسیټهان پښتانه دی که څه هم پښتوجینی وړکه ده خود ـ پښتونګلوی لمبه یه لامړه نه ده ـ د ـ هیواد د ـــ آزادی په جنګ کی خونه سی شریکیداے خود ـ پښتنو لپاره د ـ زدکړی (تعلیم )اؤودی(تعمیروترقی) په کاروکی هرډول کومك ته تیاردی ـ په دے هکله یه د ـ ډیرو پښتنو نوابانو نرو اؤ ښځو ختونه ماته ښکاره کړل چی ده تے

لیکلی وو ـ خو ماوې "چې د ـ پښتنو غوښته په هیندکی نه سی جوړېدای داغوښته به په پښتونیستان یاپښتونخواکی جوړیږی اوپوار به آزادی ګټی بیابه د ـ وڈی کارکوی» ایساخان ته چې زماتار رسېدلی وو هغه یو د ـ پړې پېژاندې ډك ایشتهارپه اوردواو ګوجراتی چاپ کړی وو په ښارکې وېشلی وو۔

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

# لومړی ویناآوورا (جلوس)

چی ګاډی ټېسن ته ورسېدله ډېرموسلمانان اوُپښتانه سره د ـ ایساخانه راغلی وو د ـ ګولانوهاروڼه یه په غاړه کی راواچول اوُد ـ ډېروخلګو په مخ کې دباندی بوتلم د ـ چاکاغزی سېټ لوټخه سُرگ (کهلا) د ـ آسو په بګی کې کښېنولم د ـ سابرمتی روډپورژی یه د ـ دغه کاغزی سېټ یو لوی بنګلې ته وروستم چی زما لپاره یه خالی کړې وه مانه داچل کله لېدلی وواوُنه په بلوچیستان کی دوډ چړی وو زه د ـ سره ډېرسخت پرېشانه وم اوُ ډېر شرمېدم چی خاے ته ورسېدو ایساخان وې ته به دې خلګوته ویناکوې ـ زه ولاړشوم په بګی کی می په ډېره ګړانه اوُ زوړ په شماریو څو ټکی وویل چی زه ښتاسی ډېرښه منم چی تاسی دومری خان کړولی دی چی هغوے ولاړما ایساخان ته وویل چی "زه د ـ ګاندی جی لېدوله راغلی یم بندوبست راله وکه" هغه په ټیلیپون تپوس وکاوه وې سبا سهارد ـ باردولی څه راځی اوُمانبام بمبی له روانېږی تاسی به سباسهار تپوس وکی ـ ړوزاوُشپه موډ ـ ښارپه سېل اوُد ـ څینوخلګوپه لیدو کتو تېره کړله ـ



باباے پښتون د. ښاروالۍ په و ښن د کړکۍ اولس ته وینا کوی.

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

## د ـ ګاندي جي لومړے ديد

سهار له ګاندي جي وخت راکی په ګوجرات ويد ياپيټ نومی کامی پوهنځی (کالج) کی اوسېده هلته ورغلوايساخان هم راسره وواوډ ـ ايساخان پرونے ايشتهارد ـ ګاندي جي مخ ته پروت وو ـ ماچی تراوسه د ـ موسلمانانوکم مشران ـ اوسران ـ خانان پيران مولايان ليدلی وونوګومان مي وو چی ګاندی به هم د ـ دغوشانته غټ سړے وی خوچی ومی ليد دے مخ له بل شانته اوسم د ـ سړوپه شان سړے وود ـ ځاے جامودوے سادګی خوخبرپورتمامه وه چی زه هم په خبر وم خونورهم د ـ هيڅ راز لويی اولوے مړی (کبر) نه وه پکښې ـ په ډېره سادګی اوخندايه راسره خبری وکړلے اوچی ماوورته وويل چی"زه دے له راغلی يم چی تاسی ټول د ـ هيندمشران روان ياست غونډمېزی جرګے ته لندن له ځی چی د ـ هيند نوی دودجوړکی اوبلوچيستان هم د ـ هيند يوه برخه ده

ډيره خوّاره اوْنتلې (مظلوم) ماوړې چې زه تاسى د -
بلوچيستان په اوسنى شان (حال) اوْد - سركارپه
ناخوّالى اوْزّياتوب (ظلم) خبركم » وړې« داخوډېربنه
كاردی خوداالاپخه نه ده چې زه لندن له وّلاړسم كه نه
زّمالاد - سركارسره څه كارونه پاته دى خبرى اترى
موروانى دى كپے هغه كارونه ومنل اوْوړې كړّل نوبه خم
كنى نونه ځم خوته هغه نورمشران هرومرو ووينه
اوْداخوډېرى خبرى دى په نن ژوزكى خونه سى كېداے
زه هم مابنام بمبى له روان يم ته هم ماسره وّلاړسه
هلته به بّياخبره وكوپه خنداسووړې هوهغه بل ځل چې
زه بمبى له تّلم هم يولوړے خان باچاخان مى مل ګرى
وو داځل به هم يوخان راسره وى » ماوړې «بنه دى»
اوْتّرے راولاړسّولو ـخوماته د - سړى خوے اوْ خبرو
دومرى خوّندراكى چې ماځيګر بّيازه اوْ ايساخان د -
هغوے د - لّمانځه (پرارتهنا عبادت) پوروخت ورغلو
ګاندى جى هم نى چې ولى له دغى ژوزى بّياد - ژّوند
ترپايه له ماسره ډېر زّيات بنه رؤ كاوه په دغه لومړى
ژوزېے د - لّمانځه پوروخت يكړزه د - ځان په خوّاكى
كنّبېنولم نوروډېرخلګ نراوْبنځى چې پكنبى د -

www.kitabtoon.com كتابتون پښتو

بنارزّیاتره غټ غټ هیندوان وویّوې غاړی ته نراؤبلی غاړی ته ښځی لیکه ناست وو۔ دے یّوه سرته د ۔ ډّواړولیکوپه مّیان کی ناست ووچی زہ ولیدم خان ته وبللم اؤخّپل په خّواکے کّښېنولم ۔ چی خّپله لمّانځنه (عبادت) یه پوره کی بّیاد ۔ آشرم د ۔ شاګردانوڅه د ۔ څرخے د ۔ مزو شمېر یّوه ښځی وورته واوراوه چی پّلانی دومره ګزه مزی جوړ کړی دی اؤپّلانی دومره ۔ خبرنه یم چی د ۔ ژّوزی ووکه د ۔ هؤټے یا د ـــ مّیاشتی ۔ هم داسی څه نورکارچی اوزګار سو بّیا یه له ما تپوس وکی چی ته تیارېے؟ ماوې «هو» وې «ښه نوګاډی پوردومری بچے روانېږی خان راورسوه» موږ تېسن له په ټیك وخت ورغلوچی ګاډی ته ډّوه ډّرے مینټه پاته وو۔ مهادېوډیسایی د ۔ ګاندی جی سکرټری په مخ کی ولاړووزہ ترلاس ونیوم وې نن د ۔ ګاندی جی د ۔ ګونګی ژّوژې (خاموشی) ژّوز ده هغوے نورکله وختی لا خبری بندی کی نېے وې چی دے راسی زه څه خبروورته کوم نوهله به روژه پېل کوم» زہ وروستم ګاندی جی وې «خان ماتاته هغه وخت داخبره نه وه کړې چی ته به په بمبی کی اوسے

هم له ماسره ولی هلته به ډېرمشران ماله ځی راځی اوْتاته پې لیده کاته اسانه وی » ماوېـ « ډېره ښه ده » وېـ تاکوم ټېکیټ اخیستی دی ؟» ماوېـ «د ـ دریمی درچې» په خنداسو وېـ «نوښه تاته به د ـ مهادېو په ډبه کی ځاے درکی» اوْبس ګړی یه وکتله په خوْله یه ګوْته کښېښوْوله اوْخبرېـ بندی کړلې ـ سهارډېروختی زه پاڅېدم لاس مٔخ (اوْدس) می وکړل چی پوړمانځه درېدم په یوټېسن باندی سرېـ راغی وېـ « ګاندی جی وایی چی "که خان ویښ وړنوورته ووایه چی زه په لاری په ډاډرټېسن کوزېږم یوسات به ګرزم که دے ګرزی نوماسره دی کوزسی ـ دانوړخلک اوْکړه به وړاندی ځی اوْپه بل ټېسن به کوزېږی " چی ډاډر راته زه تیاروم کوز سوم اوْد ـ ګاندی جی سره چی د ـ ټېسن نه باهر راووتم موټر تیار ولاړوو بس موږ ډوه وختو ـ موټر د ـ دریاب غاړی ته (چوپاټی) ته ورسېده اوْو درېده موږ راکوز سو اوْ د ـ دریاب په غاړه غاړه د ـ سیمنټپه پخه لاره روان سو ـ ماوېـ ګاندی جی ښپین ږیری دی په لکړه ځی اوْکړاوېـ یه په پښوْدی دم سات له به وړووټپریږی خوچی هغوے روان سوپه تک دومره

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

تېزووچی ماد ۔ باچاخانه ݰرته بل سرے دومری چابك نه دی لیدلی ۔ زه ݯپله هم بنه جلك خم خوزه ایله په ݯواری پسی رسېداے ݰوم ۔ نیمه ګانته یاڅه بالابه ګرزېدلی یوموټر هم ݯواکی په سرك ݰرو ݰرو راسره روان وو ۔ چی روښا ݰوله اوٗخلګو ګاندی جی وپېژاند په یوغرپړے رامات سوهغوے هم ژرموټرته د ۔ لکړی اشارت وکی اوٚچابك موټر ته وخاتو چی خلك رارسېده مورږ روان ݰولوااوٗځاے ته راغلو ځاے یه په ګام دېوی کی د ۔ یوه ګوجراتی جوهری څلورمانی کوروو په بره مانی کی د ۔ کورخاوند اوسېده په دانورکی د ۔ ګاندی جی مل ګری ځاے سوماته یه په کوز منزله باندی ځان له خونه راکړله د ۔ ګاندی جی زوے دېوی داس ګاندی چی ژماهمزولی وو او ژما پور هرشی بیے ݯپله پام کاوه د ۔ ݰپیے به ژیاتره دباندی د ۔ دریاب غاړی له راسره ته چی ژموږ ځاے ته نیژدے وه ۔ دالته ماد ۔ ګاندی جی سره پیینځلس ژوزی تیری کړے اوٚروشتیا دا ده چی د ۔ هیواد په هکله چی څومری ژدکړه ماپه دغو پیینځلس ژوزو کی وکړله اوٚد ۔ څومری مشرانو سره می دالته پېژاندګلوی اوٚنیزدېکت پیدا سوهغه په

بله توګه په پینځلس کاله کی هم نه سوکېدلاے ـ دالته ماد ـ ډیرومشرانوپه زّیاته د ـ ګاندی جی د ـ ژّوند د ـ هراړخ ښه ژوره کتنه وکړله لنډه داچی زّماد ـ کامی ژّوند اېرځ (بونیاد) دالته کّښېښېښوولهٔ سّوځ اوٗداسی پخه کّښېښېښوولهٔ سّوله چی بّیاهیڅ کله هم ونه ښوړېدله د ـ ګاندی جی په ژّوندکی د ـ هغوے د ـ ژّوند د ـ پاسه سادګی نه سېوا دپـوړدما ترټولوزّیات د ـ هغوے د ـ پرله پسېے کار (پیهم عمل) بّرید وسوړمابه لیده چی په شّپه اوٗړّوزکی د ـ خوب د ـ ډیرلږ وخته چپ زّیات ترزّیاته شّپږ ګانټے چی هغه به هم ډېرخله کمی سّوړلے په دغو ړّوزو کی ډّوے شّپېے خو داسی هم راغلې چی یّوځ شّپه د ـ سر سپړو اوٗ سر جیاکرسره ترسهاره ناست ووبّیایه د ـ ړّوزی ډّوے ګانټے ارام وکی اوٗبس ـ اوٗبله شّپه د ـ یوه پرنګی سره ناست ووړلغړ یّوځ ګانټه یه ارام وکی ـ ټوړل وخت به د ـ میږی په شان لګیاووړ یابېے څه لیکل یابېے چرخه کوله یابه د ـ کانګریس د ـ کاریندځ جرګے په غّونډه کی ناست وو ـ یابېے چېرته وینا (تقریر) کوله اوٗیابېے د ـ خلګوسره لیدل ـ لّوستېے هم مانه ولیدل ـ اخباروړنه به

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

نوروولوستل اؤد ـ ده د ـ کاریاډرنږ خبری بپږ وورته واوروليږ ـ دادومره کاربه ځکه کولاء سوچی تهول وختږ ډېرکلّك وپشلی وو۔ اوّد ـ وخت سخت پابند وو۔ په دبه کږ د ـ چاڑره هم نه ساته د ـ هرسبری سرهه چی بپږ ليدل هغه ته بږ مېرلی (مقرر) وخت ورکی اؤچی هغه وخت به پورهه سوبيّايه هغه ته هيڅ نه ويل نږ پرواپه کوله د ـ پرله پسبږ کار داخوء يه يوازی په خان لاهم نه وو خپّل تهول مّله اؤشاګردان يه هم داسی جوړکړی وو۔ هرچيری چی به وواؤهرڅوکسان چی به وورسرهه ترلی ووتهول به يومّخ په کارلګياوو۔ اؤهغه کوړکلی اؤبنار چی دء به ورکی اوسېده هغه به د ـ مڅوړ ـ ګربينی يامېږتون رنګه خوځېده ـ د ـ بمبی د ـ دغه کوړنه سيواماېل وخت سېواګرام د ـ دوء د ـ اوسېدو کلی اوّ وار دا-وه دغه کلی ته نيژدبه بناروليدل په زرګونوخلګ تهول داشان په کارلګياووچاپه نوو سادهه اسانه ديسی ګانو تېل ايستل اؤچابه کرباس جوړول اؤ بّيا د ـــ بېکاره اؤ د ـــ امبار اؤ ډېران د ـ شيانوڅخه ځيری (کاغز) جوړولږ اؤدغه د ـ لاس جوړی غتی اؤزيږء ځيری (کاغز) به بّيا ګاندی جی اؤ د ـــ هغو

مّلو په ګرّانه بها رانیو ـــ خپّل کار بېې باندې کاوه ، تردې چې خپّل اخبارونه بېې هم په دغه چغدې باندې چاپول د ـــ پرّدې هېواد بنه اوّ ارزانه چغدې (کاغز) بېې هم نه اخیستله په دې بېې هم خپّل وزرګونو کم خرڅه خوّارې کنبو مّلواوّکامې لنبکرته خرڅ رساوه اوّهم د ـ هیند و زرګونو خوّارو اوّ بېې کارو نر اوّ بنځوته.ما یه یّوې خوّا ته د ـــ دوې دا کار په زّیاته د ـــ لاس د ـــ کار سره مینه لیدله اوّ بلې خوّا ته د ـــ پښتون کام اوّد ـ هغو د ـ مشرانوداخوې سنجاوه چې یومخ ټول د ـ لاس کار سّپك اوّبېې ارزې ګڼې اوّد ـ هریوه د ـ ژّوند مّراد هم داوې چې په هره توګه چې وی رواوې که ناروا سمه وی کی چپه د ـ ځاې وی که بېې ځایه تردې چې په غّلاټګی چل ول زوراوّزّیاتوب هم چې ځان د ـ لاس د ـ کاره بچ کی څوك ځان خان جوړکی څوك موړلا سید یا پیر ټول ژّوند بېې کاره ناست وی اوّ د ـ بل ګټې تې سّترګی نیولی وی خووی په اوّلاد هم ځان ته روابوړلی چې د ـ بل په دې ګټې کی بد خرڅی لا هم وکی ـــ دا لا څه کوې چې زّموږ ټول کام هر هغه سرې سّپك اوّ بېې ارزه ګڼې چې په

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

لاس کار کوی اوٗ د ـــ لاس ګټه خووی که جت دی یا پښ (لوهار) که موچی کومهار ـــ ترکان یا بل مزدور نو به دے ته ډېر پسخېدم چی خودایه کله به په پښتون کی هم ـــ دکار (کسب) مینه پیدا سی چی بیے هغه نه آزادی شته نه آبادی. په سهار پوره پوړ څلور بجے پاځېده د ـ لمبادوے پس پوره پورپنځه بجے پورشپېدوداغ لمانځنی (عبادت) له راووت چی باران به نه ووبره د ـ کوټے پورسربیے ځپل لمونځ کاوه اوٗچی باران به ووپه کوټه کی بیے کاوه ـ دومری وختی به د ښارد ـ لیرولیروځایوڅه په سوونونرښځی راغله زیاتره به راجګان اوٗرانی اوٗغټ خلک هیندوان زیات اوٗځینی موسلمانان پارسیان اوٗپرنګیان به هم پکښے وو ـــ هم داشان بیے ماځیګردغه لمانځنه کوله د ـ لمانځنی رنګے تل یونه وو ـ په دغه وخت کے څه سازاوٗبدلی (بجن) اوٗرېدل اوٗڅه اشلوکونه ـ وروستے بیاد ـ بېلودینونودرهاوی یاد ـ خوند خبری اروېده ـ د ـ موسلمانانو الهمدو(فاتحه) بیے په هره لمانځنه کی لوستله چی زه به وم تل بیے په ماویله چی بل موسلمان به ووهغه به وورته ویله کنی ځپل په

هیندوانو ملګرو کی به چا نر یابنځی وورته ویله ـ دغه وختېـ د ـ لمانځنی سره هرو مرو وینا (تقریر) نه کاوه کله کله بې څه ووېل وروستې بیاهروخت څه ډرنه کامی (سیاسی) یاد ـ ښوونی (نصیحت)وینا کوله سهار اؤ ماځیګر هرومرو څه وخت ډېر جلګ جلګ ګرزېدی ـ په ښارونو کی خود ـ خلګوله لاسه بهرنه سوګرزېداے د ـ کوټې په سریاپه خونه کې به ګرزېده ـ خواړه یه میرلی تللی اوپه ټیك وخت خوړل هیڅ پخ کړی شې یه نه خوړ ـ څه سابه څه مېوه یاد ـ مېوه اوبه دوے پې خوړل اود ـ ووزے پی ـ

دویمه خبره چی پورمایه ډېربرید وکی هغه وه د ـ روشتیااوښوخویوسره د ـ دوے مینه اوتش د ـ خوړلې خبری نه پورهغه باندی پوره کارکول (عمل) چی زما لومړی ازموده دا شان وشوله ـ دوه ډرے روزی پس یوه روز سهار ماوورته ووېل چی «موربه د ـ بلوچیستان په هکله کله خپلی خبری کوو؟» وے«نن د ـ شپې به څه وخت خبری وکو» زه دالته ناست وم چی ډاکټر انساری راغی ګاندی جی زماپېژاندګلوی وورسره وکړله ـ سمدستی هغه ماته وے چی ماښام به ډوډی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

له ماسره وخوړه څه کسان نورمي هم مسلمانه دي
جواهرلال هم دی - اته بجې به زه موټرراوليږم » ماوې
«ښه » اته بجې هلته ورلاړم هغوی د - چارانۍ په
ځای کی اوسېده خپله هم شاخرڅه سړی ووډېره ډرنه
ډوډی وه بیاد - ډوډی پس څه ډرنې کامی خبری وې
داخبره یه څېړله چی ځکه چی کانګریس خوپوازی
ګاندیجی غونډمېزله لېږی اونورهیندوان اوسیکان د -
بېلوډلوله خواخی موسلمانان ټول پکښی سرکاری
خلګ یاد - هغو ډلو دی چی د - هیند د - خلګو یوه
شریکه کام ولی (متحده قومیت) نه منی پکاردی
چی د - کام دوستو موسلمانانو یو کالخوای
(نماینده) هم پکښې وی - وروسته بیاد - دې
مرادلپاره کامی موسلمانانو په تلوارتلواراوډېرژرپوه
بېله ډله هم جوړه کړله خوسرکارهغه خبره ونه منله -
په دې کی لس بجې لاهم زیاتی سوې اودغه وخت
زمارایادسوچی زه خوبه د - ګاندی جی سره لا هم
خبری کوم اوسهاربه وختی څلوربجې پاڅم هم -
نومادوی ته وویل چی« زه به لاړسم ګاندی جی له څه
خبری به وورسره کوم » ښاغلی جواهرلال چی ګړی ته

وکاته څه پرېشانه سوو ے« اوس خوناوخته سوکه ځے نوژرژولاړسه کنی نوهغوےبه ویده سی » ډاکترخپل وسړی ته وے « موټرراوله » څومینټه پس هغه راغی وے «موټررانی لیرلی دی نسته » وے «ژرسه ټیکسي راوبوله» په دے کی باران پېل سواؤد بمبی باران - چی باران ودرېده اؤموټرراغی زه راروان سولم نیژدے په یوولس نیمی خاے ته راغلم څنګه چی زه لوړی سړی ولیدم نارے کړل چی «آکیا- آکیا» (راغی - راغی) اؤپه شایه منټه کړل وورپسے داسی بل اوبیابل زه ډېروارختاسوم «چی څه چل دی؟» په دے کی دیویداس مخی له راغی ماوے « داڅه چل دی چی هرڅوک ماووینی واے راغی راغی اؤماته هیڅ نه وایی په شامنټه کی ؟» هغه وے « ګاندی جی نورکله په یوولس بجے ویده کیده نن تراوسه ناست دی وایی ماخان ته ویلی ووچی نن د ـ شپے به خبری کووخت می نه دی وورښوولی اؤشپه خوترسهاره پوری ده ـ که زه بیده سم نوژمابول (وعده) به مات سی اؤزه به دروغجن سم څکه به زه ترهغوناست یم چی دے راځی که ترسهاره وی هم ـ»زه چی ورغلم دے په خونه کی

www.kitabtoon.com کتابتون پوهنه

ګرزېده ماوې «ګاندي جي تاولی تردې وخته ماته لاکاته خیروو خو موږ دلې یوځاې ووکه نن نه واې سبابه موخبری کړی وې زما ډېرارمان دی چی زه وخندېدم اوتاسوته می کړاوپېښ کی» وې نه ګرمه زماوه ماتاته د ـ شپې ویلی ووماوې اوس هم خیردی تاسی ارام وکی خبری به بل وخت وکو وې نه نه هم اوس بېې کووخوکه تاډېرخوب نه زنګوی ؟» نوموخبری پیل کړې اونیژدې نیمه ګانټه لازیات موږپه دغه کمره کی سره ګرزېدواوود ـ بلوچیستان خبری موکولې ډیرپه سره سینه یه اروېدلې اوځاې ځاې بېې د ـ ځان پوهولولپاره تپوسونه راځه کول په پاې کې راته ویل چی «زه خوښه پوې سوم که زه لندن له ولاړم که نه زه به د ـ بلوچیستان لپاره هغه هرڅه کوم چی زماله لاسه کېږی خوته داسی وکه داخبری ولیکه پیارې لال تې ورکه هغوې بېې درله چاپ کی اوبیاد ـ هرچاسره چی وینې د ـ خولې د ـ خبروپس دغه داپاړکوتی وورکوه هغوې ته به په پوهېدو اسانه وی اوډېرېږی بېې نه » ماد ـ لومړی روزی بیاترپایه د ـ ګاندی جی سره په اوردوژبه خبری کولې پورماد ـ دوې دې کارد ـ

روښتیامیني اوپوربول (وعده) باندي ټینګاردومره برید وکي اودومري اخیسته مي جیني وکړله اودومره ګټه راواړوله چي بلي هیڅ یوے خبري به نه وی رارسولے - چي له دوے نه خپلي کوټے ته راغلم په هغه شپه کښبنستم اوترسهاره مي د - بلوچیستان په هکله خپلي ټولي خبري ولیکلے - سهارمي د - چایوپوروخت پیارے لال ته چي د - ګاندي جي کشرسیکرټري وو — ورکړلے هغوے ته لاګاندي جي خبره نه وه کړے هغه وختے وروړلے اوتپوسے ترے وکي هغوے زه وور و بللم وے « دادي څه وخت ولیکلے ؟ » ماوے « د - شپے چي له تاسوولاړم » وے « بیده سوی نه یے ؟ » ماوے«نه» وے « بیګاخودي ماته وے چي خپل کارپربړده اوبیده سه اوخپله دي نود - کارلپاره خوب نه دي کړي اوس پیارے لال وایی چي که دے یه ماته لولي نوزه بے انګریزي کم اوته خوبه ښتړي یے ؟» ماوے « خیردي زه کواے سم» وے «ښه لاړسي اوس یاڅه وخت پس داکاروکي بیایه ماته راوړي» موږولاړود - غرمے ترڅودي وراندي موداکاروکي بیرته موورله راوی - پیارے لال تے څه وښوول چي

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ځینی ځایونږ وّروسته وّړاندی که اوتهول څیز چی ماد ـ ګاندی جی په نامه د ـ خت په رنګ کی لیکلی ووه « ژمانوم تړه وباسه نوبه د ـ غّونډمیزی جرګې د ـ هرغړی په نامه خت سی »هغه واخیست اوٌسباله د ـ اتلس مخو (۹ پاڼو ) په واړه اونیژده ټایپ( Single Space ) پاړکوټی تړه تیارسوی ووپنخه سّوه پاړکوټی یه راوړل رایه کړّل مانیم جینی واخیستل نیم می دوه ته وویل چی تاسې وویشی چی د ۰ خرڅ تپوس می جینی وکی په خنداسووه« تاسوپښتانه چیری له مېلمنوڅه خرڅونه اخلی؟» ماوه«داسی خرڅونه خوپه مېلمستیا کی نه وی ؟» وه«نه پّرېږده چی زه هم لږ پښتون سم» خرڅې وانه خیست بل اوچت کار د ـــ هغوه بېې شانه کم خرڅی اوٌ د ـــ بچت خوه وو خّپل پور ځان او کوړ خو هیڅ رنګه بې ځایه خرڅ نه کاوه نیې څه ځان ته د ـــ ګټی وټی کار کاوه په خّپله خّوښه یه خّپله د ـــ خّوانی ټوله ګټه چی لکونه روپی وه د ـــ کام لپاره په خیراتی کارو کی وورکړی وه ـــ اوٌ هم دا شانې خّپل کوړ اوٌ بچی د ـــ ځانه سره کام ته وورکړی وو او په خّوښه یه ځان کامی

ملنګ جوړ کړی وو او ده ته ناست وو چې زه به د ـــ کام کار کوم د ـــ چا به څه نه غوارم که چا څه راکړه خورم اغوندم بيې کنی ناست به يم ـــ ده ته هيندوان سنياس وائی چې زوړ آرين دود دی اوس هم په هيندوانو کی په زرګونو داسی غټ غټ خلګ ماره ـــ لوستی ګټندوے سوداګر شته چې په خوښه يه خپل هر څه پرے ايښی دی او خاپې د ـــ څه کامی کار يا پوهنی (علمی) او پلټنی (ريسرچ) لپاره ملنګ کړی وای ـــ دا خوے پخوا په پښتنو کی هم په ده رنګ کی وو چې په خوانی کی بيې ګټه وټه وکړه او د ـــ پينځوسو شپيتو کالو په وخت کی ـــ بيې د ـــ ګټې کار پرېښوو په هيڅ پې کار نه لاره سپوا د ـــ کلی او اولس د خسمانے جوړو روغو ـــ روغ ـــ ر نخوړ يا زړکړی او ښوونی ـــ خو د ـــ موږه دا هم اوس پاته دی او کپے ځوك کوی هم په ټکی او پينات تر پخوا به لا د ـــ اولس لپاره شر او تاوان زيات سی ـــ دغه وخت د ـــ ګاندی جی ټول خرڅ سېټ جمنا لال بزاز وورکاوه که د ـــ ټک راټګ وو که د ـــ جامو وو که د ـــ ملو او شاګردانو وو که د ـــ ختونو تارو يا ټيليپون دوے

www.kitabtoon.com کتابتون پوهنه

وو ـــ چې په زرګونو روپو د ـــ مّیاشتی لګېدې ـــ که داسې وېږیا اۇ بې مېرو زه د ـــ بل د ـــ خّوا خرڅ چا موسلمان یا پښتون ته ورسې نو خوداے خبر چې څه به پکښې وکی ـــ او دوے به په ډّریمه ګاډۍ کې تله راتله کرباس بې اغوستې هغه بې هم خّپله وورتل او اوودل او هیڅ شے بې ّزیان ته نه پّرېښوو ـــ تر دې چې په ټپال کی به د ـــ چیټو کومې کڅوړی ( لفافې ) وورته رالې هغه بې هم نه غورځولې په خّپل لاس بې پّرانیستې پور بله خّوا بې واړولې خّپل ټول لومړے لیك (مسوده) یا رف کار) بې پور هغو باندې کاوه اۇ چې ډېرې به ّسونې ّورنې کّړې بېرته بې په تېزابو ّوراستې کّړې نوی خیری (کاغز) بې تّرې جوړې کّړلې ـــ هم دا شان هر شے.

د ـــ ګاندي جی بله خبره چې پورمایه بّرید وکی د ـ هغه بې شانه بهادری وه د ـ هیندوانوپه هکله خوهسې هم ټول موسلمانان په زّیاته پښتانه داګومان لري چې هغوے بې زّړه او یروندوکی دی او زّما هم دغه وخت داګومان ووپه زّیاته بّیاد ـ ګاندي جی په هکله چې وچکوټې نروټې هیندو وو۔

اوُد ـ جنګ جګړې بېزارې (عدم تشدد) په خپل ایمان
باله ـ اوُخلګوته یې ښوو ـ نوړماګوسان ووچې
داکارکنې دوے له یې ژړه والی کوی ـ خوپه
دغوړوزوکی یووخت کامی (نیشنلیسټ)
موسلمانانوپه جیناه هال کی چې د ـ کانګریس د ـ
لوے دوتر په خواکی وویوه غونډه راوبلله خود ـ
خیلاپت د ـ مولانایرپان (عرفان) په لمسه نوړو
موسلمانانو شر شور جوړ کی څه خلګے ووهل څه
ټپیان سوچی یو پکښی د ـ پیښورهکیم اودوُل جلیل
خان هم په خښته پوُرسرډېربد ولګېده سرے مات
سوډېری وینی تربهیدلې جلسه خیلاپت والاووجینی
ونیوله اوُد ـ مولانایرپان په مشری کے خپله غونډه
پکښی روانه کړله ښاغلی هکیم جلیل اوموږ ټول په
دغه سات ګاندی جی له راغلو ژما ګومان ووچی
ګاندی جی به ډېرویریږی خود ـ هغوے د ـ رنګه
اوُخبروهیڅ شان بېره ماته ښکاره نه سوله لامی په
هغوے کی ډېره بروسه ډاډاوډیره اوچته بهادری ولیدله
ـ هم په دے ړوزوکی بل وخت د ـ کشمیر د ـ
نتلو (مظلوم) موسلمانانوپه همدردی کی خیلاپت

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

والاوو یوٙه ډېره لویه اوٚتواریخی وٚرا (جلوس) یوست تیاری یه کوله اوٚپه اخبارو کی بېے پٚرے پېژاندہ کوله دا اوازے (افواه) خوٚرے سٚوڸے چی پہ دغہ ژوزبه پہ بمبی کی د ـ هیندو موسلمان جنګ کیږی ـ د ـ ګاندی پورخاے به هم یرغل کیږی ـ موسلمانانوداسی تیاری کړے ده چی د ـ لنډرو (غونډګان) وه پٚلانکی مشرتے دومره پیسے وورکړی دی ـ اوٚد ـ پٚلانکی خایه ځے دومره لنډر راغوښتی دی اوٚداسی نوری ـ اوداځه ناپښه خبره هم نه وه پہ هیندوانو کانګریسی موسلمانانو اوٚ نورو موسلمانانو کی هرچیرے لږ یاډپرداسی خلګ ووچی پہ دے کاروجنګ جګړو یه باور وو او داپے کول هم ـ ځومٚیاشتی وٚړاندی هم پہ هم دغه بمبی کی هم دغه موسلمانانود ـ کانګریس پوریوٙه اولسی (عامه) غوٚنډه یرغل کړی وویوتن ډوه یه وژلی هم وو ـ اوٚډیر پکښی ژوبل وو ـ پہ دغه غوٚنډه کی باچاخان هم وو لاغوٚنډه هم د ـ دوے پہ ډرناوی کی رابللے سوے وه ډېره بده لاداوه چی داشان شرونه جنګونه به هم زٚیاتره د ـ روه (سرحد) پښتنوپه پیسوباندی کول ژٚموږ د ـ ځاے هم ځینی خلګ ډېر

وارختنا وو ډېر خلک به ټله راټله اوګاندی جی دوے ته بېے رازرازخبری کولې چابه ویل سرکارته ویل په کاردی چی هغوے څه د ـ بچاوبندوبست وکی یاداد ـ کشمیر وړا (جلوس) بند کی چا به وے چی نه موږ له هم خپل د ـ بچاوبندوبست په کاردی ـ موږ له هم لنډهراوسړی راوستل په کاردی خود ـ کانګریس د ـ کارینده جرګې خینی غړی اوګاندی جی بیخی وارختانه وونېے پرواپه کوله په زیاته ګاندی جی چی هرچاته بېے داشان خبری کولې چی هغه به ډېری د ـ بهادری وے په هیڅ توګه یه دانه وه خوښه چی یاسرکارته ووایی یاهیندوانوته چی د ـ خپل بچاوسرینبنته وکی وے بېے په دے خبرو اؤ کارو خو لاشکونه اوجنګ جګړے زیاتېږی او د ـ موسلمانانوپه زړونوکی به داشك پیدا سی چی هیندوان کنی د ـ کشمیرد ـ هیندو راجا مرسته په دے چل کول غواړی چی زموږ وړابنده کی اؤد ـ خپلو موسلمانانو وړوښو د ـ همدردی مو وګرزوی دابېے په کلکه ویل چی بد په بدویاجنګ په جنګ اؤ بدله هیچیری نه وړکېږی لازیاتېږی څکه د ـ بچاوهیڅ رنګه بندوبست په کار نه دی لنډه داچی ترپا یه یه نه د ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

خپل بچاوخه سرینبته وکړله نه ببربده ـ د ـ موسلمانانو وّرا هم وسّوله اؤتېره سّوله اوهیخ شر شورهم ونه سو ـ تردغه وخته ماته هم لکه یّوه ناخبره پښتانه ته د ـ کانګریس زّغم (صبر) اوروغه جوړه (عدم تشددشانتی) څه خوشی اؤخندنے کاراود ـ ببری اوبپے زړه توب نخنبه ایسبدله خوچی په دغوړّوزوکی می د ـ بیلوخلګوسره د ـ ګاندی جی خبری واوربدې سّترګی می روښی سّوې ـ اوپه دې پوے سّوم چی دالارخود ـ بېزړه توب نه د ـ ډېری اوچتی بهادری اوګتمېره لارده په زّیاته د ـ پښتنولپاره چی ډیربهادرخوخنبم جن خلګ دی اوخّپل ټول خان خانی (انفرادی) اؤکامی کارونه اوژّوندې هم په دغه بپے درکه خنبم بربادکړی دی داد ـ زّغم لارکه سړے خّپل مونډیخ باور(ایمان) نه هم جوړ وی لکه ګاندی جی چی جوړه کړې وه خود ـ ډلی جوړولو اؤ کامی کارپه سرکی ډېرګتمیره کاردی لکه څنګه چی نبی سردارچاردے بنه وی اوبناغلی موساچارپیغامبرچی کړی‌دی ـ اؤهم دالته می داترزّړه وکّبنله چی که نورنه وی ترخوچی د ـ پښتنوخّپل کامی سرکارجوړېږی

اؤهغه دالارد ـ ټول کام په خوښه پرېږدی زماد ـ ژوند لاربه د ـ زغم (صبر) وی اوزه به ځان له داسی ملهٔ اوډله پیداکوم چی په دې توګه راسره کامی کارکوی ـ

بل ځېز د ـ ګاندی جی په ژوندکی زماخوښ سوچی هرڅه چې بل ته ویل هغه یه خپله هم کول د ـ زغم (صبریاعدم تشدد) نمونه خوبره ماولیکله بله نمونه یه د ـ خامتا (کرباسو) اؤخرڅې وه چی د ـ هغوې زړه ته ډېرنیژدې شې وو ـ په دې هکله می ولیدل چی هغوې په ځان زوړې یه اؤښځی یه یومخ بېې د ـ خامتابله هیڅ جامه برستن یابل کالې نه درلوډ دالاڅه کوې دې خپله ټول ټبرشاګردان اؤمله بېې لګیاووڅرخې بېې وورتلې د ـ دې شی هم پورماډېربرید وسواؤ هم دالته می د ـ څرخې اوخامتاپه ګټوځان پوې کی چی یوخوډ ـ سړی خرخ په کمېړی په دې مرادنه چی خامتاکنی ارزانه وه نه هغه وخت خامتاترجاپانی اؤانګرېزی ټوکی ډېره ګرانه وه ـ لږ ښه خامتابه ترنری جاپانی اؤانګریزی سان یوپه ډېرې بهالرله خوپه خامتابه د ـ سړی په خوې کی سادګی راتله د ـ نړی د ـ هری بد خرڅی اؤډول (زیبااوزینت) نه به اوزګارشواؤهغه ټولی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

بدخرڅې چې دولتمن خلګې لغړد ـ ډول اؤنمايش لپاره
کوی به د ـ سړی نه يومخ پاته سّوې څکه بې خرڅ کم
سو اؤد ـ کامی کارو لپاره به وورسره پيسې بچ سّولې ـ
بل داچی خامتاپه تهول هيوادکی د ـ کام دوستی اؤد ـ
انګرېزراج نه د ـ باغی کېدونوښان وو اؤ يو داسی
وېريا اؤ بې خرڅه پّرې پېژاندھ وه چی په اسانه د ـ
سړی د ـ زّړه په ــــــ مّراد نور خلګ خبرېده په
زّياته بّياپه بلوچيستان کی چېری چی لانه څه ډله وه نه
اخبارونه اؤنه يوپه بل د ـ خبرېدوڅه‌بل‌شې ـ زّما ډېر
زوړور ملګری اؤروشتنی کام دوسته کسان زّما په
مّراد په لومړی ځل هم په دغه خامتا خبر سوی دی ـ
چی زه بې په ښاريابازارکی يابل چېرته ليدلی وم
نوبس تپوس بې کړی ووچی داڅوك دی ؟ ولی داسی
جامې اچوی؟ چابه وور ښوولی وم نورابه غّله اؤ وّروبه
رانيژدې سو بل د ـ دې څيزمزدوری اؤکتهه د ـ هيواد
تر تهولو ناچاره اؤبې وسه خو همتګرو خلګو ته رسېدله
ـ چی بل بې هيڅ اسره نه وه نه بې څه بله خّواری په
پرده کی اؤد ـ کوردننه ياد ـ کورد ـ نوره کاره سره نه
سوه کّښاے نوبې د ـ خامتامزی غښل؟ لکه کونډی

ښځې یا هغه مزدوړ اؤ کښتګر چې په مزدوری اؤکښت پې ګوزاره نه کېدله نوهغوے اوْد ـ هغوے د ـ کوړښځوبه دغه کارکاوه ـ اؤمزدوری یه هم ډوړے انپې د ـ تهولی ڒوزی وه ګوا داکار هغه خلګو کاوه چې ډوړه آنېځ د ـ ڒوزی یاپاوکم خلورروپې د ـ مْباشتی هم وورته ګتهه اؤلوے شے ښکارېده ـ نوماداالته په بمبۍ کې ځان له د ـ خامتا جامې اؤ اوځاره کامی څولۍ چې د ـ ګاندی تهپی پې بلله جوړی کړلے اوْد ـ ځان سره می دابوړل وکاوه چې پوړمخ به هم داجامه کوم په کومه ڒوزچې ګاندی جی په دے جاموکی ولیدم وے دادی ولی اچولی دی ؟ زه څه پرېشانه غوندی سوم ـ وے می ولی ستاسی نه دی خوښی ؟ وے نه زماخو ډېری خوښی دی خوچې سړے یوارپه خپله خوښه داجامې واچوی اؤبیایه د ـ بل په خوښه بیرته باسی نو بدکاروی اؤستاسی د ـ خاے سرکاربه تادے ته نه پرېږدی» ماوے «داسوچ ماکړی دی هیڅ کله پې د ـ بل په خوښه یاد ـ بل لپاره ونه باسم که می جامه اغوستله هم دابه وی » وے « نوښه کاردی » چې د ـ کال (۱۹۳۱) د ـ اګست پوړ(۱۵) واپس را روانېدم

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

اوٗ اوسترے خلے لیدوله ورغلم راتے وے « که د ـ بلوچیستان سرکارله هغه خایه راوایستلے نوبه نبغ ماله راځے!!!» ماوے «ښه دی» په دغه ټولو وٚرزوکی د ـ ګاندی جی اوٗ سرکار ترمٚیان د ـ باردولی د ـ کنبتګرواوٗنوجیـون پریس خبره څېړله کېدله اوٗګاندی جی وے چی ترڅوداخبری سمی نه وی غوڅی سوی زه به غوٚنډمېزی جرګے ته نه ځم نوهره ژوزبه د ـ سرکارله خٚوااوړده تاروڼه راتله اوٗجوابوڼه یے ٚتله د ـ ټول هیند کانګریس د ـ جرګے (آل انډیاکانګریس کمېټی) غوٚنډه هم راغوښته سوے وه څکه کاریندھ جرګه به ناسته وه اوٗهم هلته د ـ ګاندی جی په ځاے کی لا د ـ هغوے په کوټه کی به غوٚنډېدله اوړدے اوٗاوږچتی کامی څېړنی به روانی وے ژٚمابه هره ژوزکاردا وو سهار اخبارونه بهمےکاته چی د ـ غوٚنډمېزی جرګے څوك غړی به له باهرنه بمبی ته راغی د ـ هغه درك به می ولګاوه اوٗپه ټیلیپون به می وورجینی وخت واخېست هغه به می لید اوٗ خٚپلی خبری به می وسره کولے اوٗ خٚپل پاړ کوټی به می وورکاوه ـــ یا به می یو ڈوھ هغه کسان لیده چی په بمبی کی اوسېده اوٗ یا د ـــ

کانګریس د ـــ کاریندهٔ جرګې د ـــ غړی نه به مې وخت اخیست اوُ وسره لیده به مې نوربه ټوله ژوزد ـ ګاندی جی په خواکی غلی ناست وم ـ اوُد ـ کارېنده جرګې خبری اوُڅېړنی به مې اروېدې ـ که څه هم دوې بل هیڅ ناولده سړې دننه نه پرېښووخوکوړې ودان ماتې څه نه ویل یووخت لایوه غړی ګومان مې دی چې سرداریټېل تپوس وکی چې دې څوک دی ؟ ګواولی ناست دی خوګاندی جی په انګرېزی وورته وویل چې دې پروانه لری دې زمامېلمه دی ماله راځی په تاسی کارنه لری » دغه سوِوان د ـ هیند د ـ وېش تروخته له ماسره کېده چې که څه هم زه به نه د ـ کانګرېس غړی وم اوُنه د ـ کارېندهٔ جرګې » یا ټول هیند جرګې خوچې کله به پېښ سوم نوپه آزادی به دننه تلم راتلم چابندولم نه د ـ کانګریس له غړوسېوامادالاندی موسلمانان مشران په دغه ځل ولېدل اوُشناخته مې کړل خوداې دی د ـ ټولوچارښه کی هم په دغه واراوُهم بیا وروسته هغوې له ماسره ډېرښه روساته مولاناشوکت الی ـ سرسولتان اهمد ـ سرشپاات اهمد ـ سرمامدشپی ـ سرشاهنواز ـ بېګم

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

شاهنواز ـ اوښاغلی میسټرجیناه د ـ بلوچیستان له کامی کاره سره لومړے ترون په دغورزوکی په اخبارونکی راغی چی د ـ بلوڅو د ـ مکسی تپے خلک د ـ کلات د ـ سټر وزیر میر شمس شا د ـ زیاتوب اؤ ناورین له لاسه کډه سو سیند ته ولاړ هم په دغه روز ماخیګر د ـ دریاب په غاړه ګرزېدم چی هلته می د ـ مزدورانو یوه وړه شانته غونډه ولیدله چی وورنیژدے سوم په کاریندو کے یوه سړی وپېژاندم چی د ـ ګاندی جی په ځاے یه لیدلی وم وور وے بللم وے څه وینا وکی ما وے وینا خو نه کوم خو که تاسی یو پرېن (ریزولوشن) وکی اؤ د ـ بلوچیستان د ـ مکسیانو سره همدردی وکی نو ډېر ښه به مو منم ـ یو پرېن (تجویز) یه ولیکه د ـ مشر (صدر) له خوا وړاندی اؤ ومانه سو سهار له په اخبارو کی هم چاپ سو۔



مهاتما گاندی

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

## د ـ باچاخان اؤ نورو پښتنو لیدل

هم په دغه وار یّوه ژوزګاندی جی وورِوه بللم وه سباله باچاخان سهارپه رېل کی راځی ته اؤدېوی داس چی تازه د ـ روِه (سرحد) د ـ دورِه واپس راغلی ووبه تېسن له وورځی ـ سهارله مورِډّوه اؤیوبل نوی څوان چی د ـ یوپی د ـ چالوِے هیندوِجاګیردار (تعلقه دار) زوِے وولندن له د ـ آیی ـ سی ـ ایس په ژّدکړه پسی تللی وو خوِهغه یه په ځاے پّرِه ایښے وو واپس راغلی وو اوّد ـ ګاندی جی سره اوسېده ـ ډّرِه واړه تېسن له ورغلوباچاخان ـ ښاغلی امیرمامد خان ـ خان لالا ـ خوِداے پاك دی ښه وورسره وکی اؤمیا امد شاه د ـ خوِدایی خیدمتګاروِ له څوا راغلل ـ باچاخان ما دالته په لوِمړی ځل ولید ـ امدشاه میاخوِبل ځاے هوِټل ته ّولاړ باچاخان اؤخان لالاد ـ ګاندی جی ځاے له راغلل باچاخان هم ژّماپه کمره کی ډیره سواؤخان لالاهوِټل ته ّولاړ ـ په لوِمړی ّروزډّوے کی زه د ـ

باچاخان نه ډېرتننګ سٔوم خکه چی دے له مانه ډېر مشر وو اؤما به د ـ کشرپه توګه د ـ دوے خسمانه اؤځه ورو‌کی کارونه کول غوښتل خودوے به زه دے ته نه پرېښوم اوُلاپے زماخسمانه کول غوښتل کله چایی راجوړی کړی کله بل څه زه به په دے ډېرشرمېدم خوپه پاے کی زه ډېرکلك سٔوم نوسره بلد اؤخواره سٔولو ـ خوداے پاك دے تردېره ژوندے لری وروسته بیاډېرسره نیژدے اوکلك ملګری سولایواوکه د ـ خوداے پاك خوښه وه یوبه مایه ډېره اوچته پوهه اوډېری ښے ګړی ولیدے اولایه وینم خود ـ دوے په ژوند کی چی کمی خبری په مازیات برید وکی هغه داوه چی د بمبئ نه څومباشتی پس زه په لاهورکی خپل د ـ مېوے د ـ کار لپاره وم چی په اخبارکی مئ ولېده چی دوے روهتك له د ـ کانګریس یوے غونډی له روان دی ـ زه تېسن له راغلم اؤپه هغے ګاډی کی ډیلی ته روان سٔوم چېرئ چی می خپل کاروخوزره می داووچی په لاری به څه وخت د ـ دوے مل ګری هم وسی ـ چی زه دوے ته رسېدم د ـ هغے نه وړاندی د ـ لاهورکانګریسی هیندوان موسلمانان اؤاخباروالاد ـ دوے نه چاپېره

www.kitabtoon.com کتابتون پوډنه

سوی ووزه څه ښه ښېرته یوه ډډی ته غلی ودرېدم چی
څه په ګاڼه کی به وسره یوځای سم - خوپه هغه ګڼه
کی هم دوی زه ولیدم اوهغه ټول پردی خلکې په ځای
پرې ښوول ماله راغی راترغاړه ووت اوراسره په
خبروسو - د - دې ورې خبری نه ماد - دوی په زړه
کی د - پښتون اوپښتو - مینی اندازه ولګوله
اوترننه می بیاڅه تشه ګیله هم نه ده جینی پیداسوې
- په بمبی کی می یوتپوس ترې وکاوه چی زماپه
وړاندی هغه وخت د - کامی ژوند ترټولوګرانه بنده وه
هغه داچی ستاسی په خواد - کامی اواولسی
غونډو (عام جلسو) دودځنګه پیل سو - خودوی څه
لارراونه ښووله وې چی داپخوالاد - هیجرت اورولټ
ایکټ په وختوکی پیل سوی وې - اوروشتیا هم داده
چی ماته ورووسته په خپله ازموده څرګنده سوله چی
داکارخپله د - سری د - خپله مراده سره په مینه پوری
اړه لری - د - اولسی کارلپاره ډېری لوېی غونډی په
کارهم نه وی په زیاته بیاپه کلو کی خو بس چی کوم
سړی خپل مراد سره ښه تېزه اولیونی مینه لری هغه
به په کلوکی په خلکوپسی ګرزی اوهرځای چې

هرخومره کسان پیداکړل ځپله خبره به وورته کوی د -
اولس وګړی په ژیاته بیاد - کلوخلګ ډیرپاك اوروشتنی
وی اوپه ځپله ګتهه تاوان هم ښه پوهیږی ډیرژرد -
روشتیااوګتهمیره خبری د - مرستی لپاره ملاتړی خوهله
چی په سړی کی مړانه ننګ اوروشتیاووینی پښتانه
خوبیازیات په ننګ اوروشتیامین دی - د - ننګیالی
سړی په مخ کی د - پښتنوپه هولکه کی نه دود
دریداے سی نه ناپوه اوپے کاره مولا او نه پے همته
پیریاخان - اونه څه سرکاری یره خوچی هسی سړے د -
اولس وګړی ته خان ورسوی - ماد - دغی ژدکړی په
ناپوهی ډیر کلونه ځان د - کاره ایستلی ووخوچی
یووارمی پیل په وکی بیاد - اولس ترراغونډولو او
پوهولو اسان کارهډوبل وونه - په بلوچیستان رنګه
ځاے کی چی خلګے ډیرلږاوپے شانه تیت پړاته دی -
ښاروونه خوپړیږده لوے کلی هم نسته پکښے د - لوے
نه لوے کلی پے دوه دړے سوه کوره وی اوهغه هم به
په ټول ولات کی لس پنځلس په شماروی - دوه دړے
یاپیینځه کوره یه هم کلی وی اود - سنډیمن د -
چالاکی په دام کی چی ملکی جرګه اولیویزیه بولی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

داسی راګیراوپه سرکارپوری داسی تړلی سوی دی چی په هروړکوټی کلی کی هم د - جرګې د - غړی لېویزنوکر یا ملك په نامه یاد - هغه د - خپلوانوپه رنګ کی د - سرکار تنخا خوړ ایجنټان ناست وی - د - سرکارسختی اوبېره هم دومره وه چی بل خاے به چا اروېدلې هم نه وی - د - ټاك د - توړو دوړ (قانون جرایم سرحد) چی پوه خلګې هډو دوډ نه ګڼی زموږ ترټولواوچت دوړ وو - چی نورټول دوډونه که د - سروجوړوو لـــکه د - هیند توړېزنه (تعزیرات هیند) که د - خوداے جوړوولکه ایسلامی دوداوکه اولسی اؤ پښتنی دوډیاپښتو وه ټول د - سنډېمن ترشپېره (منحوس) پېښکښ لاندی وو - هلته هم موږ ډېرولږومل‌ګرو په ډېرلږ خرڅ اوډېرلږوخت کی ټول اولس په ځان خبرکی لاهم موږ ډېروخت په پردو لارو چارو اخبارو اؤ ډلو پلوپسی خوشی خراب کی او ډېر خرڅونه مو باندی وکړه - که موږ سرد - چاری په کلوکی په ملوپسی د - ګرزلاو اؤ ویناوو خودایی اؤ پېغامبری لارنیولې واے چی خوداے پاك په سورت(سوره) موزمیل(مزمل) کی ښوولے ده چی اے

د ـ مل ګرو(زمیل) لټوونکې د ـ سورت ته ر پایه داکارچې اوس موږ په نیژدې دېرش کاله کې وکې په پنځه کاله کې هم کېداے سو. خوهله لکه څنګه چې ماؤ راندی ویلی دی سرے خپل د ـ مرادسره لېونی مینه ولری اوخوداے پاك د ـ سمی لارې پوهه (هدایت) ورکی د ـ هیند د ـ کانګریس د ـــ جرګې غونډه هم په دغه ورځوکی په بمبئ کی د ـ کانګریس د ـ جرګې (آل انډیاکانګریس کمیټی) غونډه وسوله چې هغې له د ـ هیند د ـ بېلو برخوپه سوونوکسان راغلی وو دالته می د ـ ډېرو خلکو سره پېژاندګلوی وسوله اوډېرڅه می زده کړل ـ په ځیاته د ـ کامی ډلو(سیاسی پارټو) د ـ کارسریښتې (تنظیم) اوغونډو (جلسه واجلاس) چل می زده کی په غونډه کی ډېری ډرنې کامی خبری وخبرلی سوې اوپرېکړی وسولې خوپوره ماترټولوځیات برید هغې څېړنی وکاوه چې د ـ ګاندی جی پورده پرېنې (تجویز) کېدله چې کانګریس به د ـ جنګ جګړی (تشدد)غندنه کوی اوجینی بېزاری هغه د ـ هرچاله خواڅه هره توګه چې وی ولی په دغه وخت د ـ هیند په بېلوبرخوکی ځینی ځوانانو

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

د ــــ پرنګیانو اوسرانو د ـ وژلو د ـ بمانو اچولواوډاکو پېل کړی ووپه زیاته په بنګال کی په دغوشپوکی تازه د ـ بمبیٔ پور ګورنر چا د ـ توپنګچې یاتمانچې واری کړی ووخولګېدلی نه ووډېره اوچته اوډ ـ خوند ښېرنه وه ډېروخلګوپه ډېروپلمود ـ ګاندی جی په پړېن کی د ـ بدلیٔ (ترمیم) وس وکیٔ زیاتره په دې پلمه چیٔ سرکارهم ډېری ناروا سختیٔ وکی اوخوانانوله جوش وروليٰ اودې تې ناچاره کی چی داسی کارجینی وسی ـ خوګاندی جی وې چی په دې د ـ خوانانو ډاډ اؤ مرسته کېږی اوهغوې لاداسی کاروتبه لمسیږی تاسی به یاداکارونه ښه بولئ اويابد کې ښه بولئ نوپه ډاګه ووایاست چی کانګریس دابنه بولی اوډ ـ دې پسی به کانګریس خپل کارهم د ـ جنګ اوجګړی په لاره اوپه وسله کوی اوکې بدګنیٔ نوبې په ډاګه بدبولئ اوخلګو ته به وایاست چی په هره توګه اوپه هروخت اوشان کی دی خان له داسی کاروبچ ساتی د ـ سرکاربدوکاروته بېل بد وایاست دادواړه سره ګهویٔ مه زماپړین(تجویز) د ـ اولس د ـ دغو کارود ـ غندنیٔ (مذمت) لپاره دیٔ کې منیٔ پوره اوبې څه بدلیٔ بې

منی کړے نه منی په ډاګه پے غوږخوی د ـ ډوږ ړوزږ د ـ خېړنی او ډېرږ اوچتږ وینا ګانږ پس د ـ ګاندی جی پړینږ پوږهـ ومانه سږ ـ د ـ باچاخانه سپوابمبی له د ـ کانګریس د ـ ډلی پښتانه هم راغلی ووچی دالاندی بناغلی وږ ـ پیربخش خان وکېل ـ هکیم اودږل جلېل خان ـ لال بادشاه ـ الی ګوّل خان یوډوهـ هیندوان ـ ناپېښبه لاداوه چی دږے ګاندی جی اوکانګریس له د ـ باچاخان اود ـ هغوږے د ـ ډلی نالبنت راوړی ووـ چی داد ـ موسلمابانوبېله دینی ډله ده دږے له په کانګریس کی خاے ورکول نه دی پکارـ مخامخ یه هم خبری سره وسولړے د ـ هغوږے نالبنت داووچی دږے خان ته خوږدایی خیدمت ګار وایی په خّپلږ غونډږ کی د ـ خوږداے لوږے دی (الله اکبر) ناری وهی اوّد ـ «ایسلام برے» کنی دادی مخامخ دی ګاندی جی تږے وږے تاسی تپوږس تّرږے وکی باچاخان وږے چی هږداتوږلی خبری روږشتیادی موږږ داکاروږنه اوږس هم کوواوّبّیاپے هم کووـ ګاندی جی وږے په دږے کی بدوږدی کمه ده څه کانګریس والادانه منی چی خوږداے اوږچت دی (الله اکبر) یاڅه کانګریس والاداوایی چی ایسلام دی لرے

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

(شکست) سی ؟ هم دالته ګاندی جی اؤد ـ هغوے مل ګروډ ـ باچاخان سره په دے هکله خبری وکړلے چی هغوے خّپله ډله جرګه اؤایله جاری (رضاکار) یومخ په کانګریس ګډه (مدغم) کی نوبندوبست اوسرینبته (تنظیم)بهٔاسانه سی هغوے ومنل اؤدستی یه د ـ اخبارو ډ ـ پاره یوبیان لاس لیك کی دغه وخت میا امد شا بیرستهرنه وو ما باچاخان ته وریاد کړل چی هغوے هم راوبولی خو هغوے وے چی داڅه نوے خبره نه ده موږ په دے هکله خبری سره کړی دی د ـ هغوے به هم خّوبنه وی اؤبد بے نه ګنهی ـ خوسباله د ـ امدشاه میابیل بیان په اخبارو کی راغی چی زه دانه سم منلاے اؤد ـ بمبی نه واپس ّولاړاؤهغه ووچی د ـ خّپلی ډلی څه بیل سواؤلابیل دی ـ

# د ـ ښاغلي مسټر جيناه سره لومړے اوُ خوّندور ديد

يّوه ژّوزمېرمنى سروجنى نايدومور ته خبرراکې چې ښاغلې ميسټرجيناه وايى چې داد ـ کانګريس پښْتانه دى څه وخت لماسره ووينى باچاخان دوے ټولو ومنله سباتې څه وخت سره وټاکه ـ سباله هغه وخت زّماد ـ بل چاسره د ـ لېدووخت وراوله دوے سره نه ۆلاړم ۆروسته مى بّياخان له وخت جينى واخيست خوزّماپه ځاے وخت په ټيليپون باندى د ـ ګاندى جى په مل ګروکى بل چا وسره ټاکلې وو ـ زه چې په مالا بارغونډۍ (Hill) باندى د ـ هغوے ځاے له ورغلم هغوے دستى د ـ بنګلے شاته وبللم هلته دوے يکړناست وو ـ د ـ سلام نه پس دستى داګرانه پېښه سّوله چې هغوے په انګريزى خبرى پېل کړے ماجواب خوپه انګرېزى ورکې خوسم د لاسه مى وورته وويل چې زه په انګريزى کې ښه روڼ نه يم خّپل مّراد به

www.kitabtoon.com کتابتون پوټنه

پوڑھ بیان نہ کڑاے سم ۔ ھغوے لڑ دم سوچ وکی وہ
«تہ کنبہنہ زہ پہ اوردو پوھیڑم خوویلاے یہ نہ سم
اوگومان می دی چی تہ بہ ھم زماپہ انگریزی دومرہ
پوھ سے نوخبردی تہ خپلہ خبرہ پہ اوردو کوھ اوزہ بہ
خپلہ پہ انگریزی کوم سرہ پوھ بہ سوتوپہ دہ شان
مویوھ نیمہ گانتہ خبری سرہ وکڑلے ۔ کہ څہ ھم
ھغوے لہ بلوچیستان سرہ د ۔ پخوانہ لا ډیرہ خواخوږی
درلودہ اوود ۔ وختہ یہ د ۔ بلوچیستان بیل خپل واکہ
ولات(صوبہ) پہ خپلو اوثارو ډوولسو ټکو(نکات)
کی اینبے وہ خوتردغہ وختہ پہ بلوچیستان لا بنہ
خبرنہ وو نہ تردغہ وختہ د ۔ بلوچیستان بل کامی
سڑے لیدلی وو ۔

## د ـ ږيرى پرېښوولو ناپېښه پېلامه

دغه وخت لازه نوى خوان ايله د ـ ځلېرويشتوكالووم ـ روغ واله مى ښه ووۀاوْد ـ يّوه ځلمى پښتانه دړه (قد) اوْسيكه مى هم درلوده ږيره مى خريله اوواړه واړه بّرېتونه مى ساتل په بمبى كى د ـ بېلاۀپيربندرله د ـ پنجاب د ـ ښاغلى سرمامد شپى اوْد ـ هغوے د ـ اوځارى لوربېگم شانوازلېدوله ورغلم ولى هغوے نيغ په دغه سهارله پنجابه په رېل كى راغلل اوْسم بندرله ۆلاړپه جهازكى لندن له روان سوزه چى ورغلم هلته يّوه بله ښځه هم وه ـ زه لاهورے وم چى هغه ښځه ۆلاړه لس مينتۀ پس چى زه هم راولاړسّوم د ـ تېسن په دباندينى ۆره كى هغه ښځه ولاړه وه خو څه وارختا شانته ولى چى ورچينى ډير زورور باران ووما وورته وے چى «زه سّتاځه كومك كولے سم ؟» وے«ډېرښه به دى منم كه دى په هغه مخامخ ولاړو موټرو كى زّما موټروان راخبركىۍ» ماچى د ـ موټرو وه اوړدۀ لېكه

www.kitabtoon.com كتابتون ټولنه

ته وکاته اوُد ـ باران وه زورته مى رے وواهه کارګران ووخوماپه خپله په ځان راوستې وه وې مى «ستاسى د ـ ګاډى نمبر؟» وې «په نمبرې خبره نه یم د ـ پلانکى نواب ګاډى ده» خبره نوره هم ګرانه سوله خو چترې په سرروان سوم تپوس تپوس څه وخت پس مى پیداکړله ـ اوُپه هغه ګاډى کى بېرته راغلم چى هغه بلى غاړى ته ځان له ټیکیسى وګورم خوهغې راته وې چى"راځه زه به دى ورسوم څه به اوس ټیکیسى ګورې هله دى هم ډېرکړاووکى اوښه لوندسوى یې » ماهم ومنل په لارى مویود ـ بل پېژاندګلوى وکړله ـ دا ۰۰۰۰ نومېدله ـ اوس هم ژوندى ده په کراچى کى اوسى ـ داد ـ بمبى اوځارتاج مهل هوټل کى کوزه سوله اوزه کراپټ مارکېټ له ټلم چى نیژدې ووځود ـ کوزېدوپه وخت د ـ دې څه څېرى (کاغذات) په موټرکى پاته سویایه په هسکار(قصدا) پرېښوول داګومان مى ځکه سوچى دې د ـ ټلوپه وخت ماته خوداے په امان ونه ویل ـ چى د ـ وره په زینوکى وختله ودرېدله وے "ځان به زهیرکې داژماڅېرى به راکې» چى زه د ـ موټرنه راکوز سوم اوُد ـ دې پاله

روان سوم داڅه په مخ وړاړه زه څه شکې اؤ پرېشانه سوم خوځان مې لاچاره ګاڼه چې هغه د ـ دې شې وور ورسوم وورپسې چابك سوم داپه یوه خونه دننه سوله زه هم وورپسې ورغلم هغه خونه د ـ ناچ (Dance) لوے هال وو ـ دې ځو تنه نوکران شاګردان یامل ګری لګیاووپه پردوشنو بوتو. پاڼو اؤ ګولونو یه خونه ښایسته کوله ـ داسم دستې ماته لګیاسوله چې نن مې دلته د ـ ناچ له پاره ډېرخلګ رابللې دي ـ ماوې داد ـ غونډمېزي جرګې لپاره ډېرغټان روان دي لندن ته خې ناچ له یې راوبولم څه پیسې به ټولې سي اؤد ـ ځوانو په ښوونځي (سکول) یې خرڅې کم ما سره چې ځومره ایله جاري (رضاکار) شته په بمبۍ کې د ـ بل هیچا سره نسته ـ داګوره نرګیس ده ـ دازبیده ـ داپروین ده اؤداسغردي ـ په داسې توګه لګیاوه چې ماته د ـ تېښتې وارنه مونت ډېره شېبه پسې وې ماښام به ته راځې یوسړی تې وې دے زما مېلمه دي د ـ له د ـ مېلمنو یو کاټ راوړه ماښام به ستاځای د ـ اؤغان ایلچي په خواکې مېز باندي وي ـ ماکاټ واخیست اؤتړے را روان سولم ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

زه تردغه وخته د ـ نوو آزادو ښځو په لارو چارو هيڅ بلد نه وم اوُنه مي کله انګريزي ناچ (ډانس) کتلې وونه مي ښياچېرې کتلې دي زړغے وم چي ماښام راسم که نه خوپه پاے کی مي وہ چي ورسه د ـ نړی دارنګ هم وګوره نوماښام راغلم اوُغان ايلچي سلاوو دين سلجوکی او د ـ هغوے مّله مي وليدل اوښياځه وخت روستو چي مېرمن سروجني نايدو راغله نود ـ هغې سره ناست وم نيژدے ډوولس بجے د ـ شّپے يوّه ُنجلی چی ماد ـ ژوزی هم د ــــ دے سره ليدلے وه ماته راغله چی ۰۰۰ بېګمه .وايی چی اوس لږ دم پس ناچ(ډانس) بس کوو اوُ ښيا به لږ آن خلاتونه (انعامات) ويشل کيږی ته به ځے نه ايسارسه ژمادرسره کاردی ـ زه سوچ واخيستم چي خودايه پاکه په دے تېروخت د ـ دے لتاسره څه کارکېداے سی ؟ ـ نے پېژنے نے اېژنے چي څوك دھ اوُځنګه دھ ؟ ـ ځان سره مي وہ چي اوس خوږښے ايستل پکاردی سباله به تپوس وکم که سمه ښځه وه ښيابه ورسم وہے وينم کنی ګوښه د ـ خوداے ښه ـ دستی ولاړسّوم د ـ هوټل بلی کمرے ته لاړم يوبېرھ مي ځان له راوباله اوُہے څه

تندی مې په شپږ ګونه پیسو یو لېمن وچیښه اوڅلوراینڅ مې ببرهٔ ته د ـ یوه خت سرهٔ ورکی چې ببګمی تپے ورکی په هغه کی مې ولیکل چې زه جوړنه یم ایسارېداے نه سم ځم بّیابه څه وخت درسره ګورم چې ځاے له راغلم دہ ته مې سوچ کاوه چې د ـ دہ ښځی په هکله به د ـ چاڅه تپوس کوم سهارمې خپل د ـ یوه نوی موسلمان پېژاندوے ډاکټر ګهوش نه تپوس وکی هغه ښه پېژاندله ډیره اوخاره ښځه وه په یورپ کی هم ګرزېدلے وه د ـ مولاناشیبلی اوښاغلی پوهٔ ډاکټرایغبال سرہ هم ناسته پاسته سوہ وه د ـ غه وخت ډېراوچت خلګ وسره مېلمانه اوسېده ډاکتروہ چې داښه سوی دی چې جینی راغلی یپے ـ د ـ دہ پېښی وّروسته ماد ـ ځان سره ډېرسوچ وکی چې ته کامی کار کوہ نود ـ نوی زمانے د ـ آزادوښځوسره به دی هرو مرو اړیکے (تعلق) راځی په څه توګه به د ـ دہ ازمویښته (ابتلاء) نه ځان وساتے د ـ ډیره سوچه پس مې دہ ته پآم سوچی که ږیره پړېږدہ نوکېداے سی چې نوی اوْ آزادی ښځی به نه درنېژدہ کېږی اوْیووخت مې موږهم په خنداراته ویلی ووچی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

«ړیره ښه ده د - نراوښځی ﺑﻴﻠﺘﻮن په کېږی» چی د -
هغې څه داښکارېده چی د - مورمی داخوښه وه چی
زماړیره وی نومی وې چی څه دواره کاره به وسی د -
موربه می هم زړه ښه سی اوداکهانده به می هم
وخیژی بس هورې می لاړیره ایله کړله - چی کورته
راغلم مورمی ډېره خوشاله شوله اوګومان می دی
چی په دې نوی ژوند کې هم ډیره ګټه رارسېدلې ده -
کورچی می تېرته داخبره وکړله د - هغې هم ډیره
خوښه شوله هم په دغه روزو کی یو وخت د - هیند د
- کانګریسی جرګې د - غونډی پس څوتنه د - پنجاب
کانګریسی مولایان مشران - ښاغلی سید اتاوولاشا
بوخاری - مولانا حبیبو رهمان لودیانوی اؤ نور ګاندی
جی له راغله اؤ ووړته یه وې چی کانګریس دی د -
موسلمانانو خبره له موږ سره غوځه کی اؤ بیادی د -
دې خبری په هکله د - نورو ډلو اؤ مشرانو سره خبری
اتری نه کوی چی د - موسلمان وګړی هیله د - هغوی
د - نورو ډلو اؤ مشرانو څه وشلېږی کنی داشان خوبه
هغوی موږ د - کانګریس په ډله کی شماری اؤتل به د
- زیات ګټی اؤ سووان (رعایت) لپاره هغه نورو ډلو

اوٚ مشرانو ته ګوري اوٚموږ به د ـ موسلمانانوڅه راپېل پاته سواوٚپه هغو کی به زٚموږ لپاره کارکول ګڒان سی ـ ګاندی جی چی کومی خبری وورته وکړلې که څه هم په ډاګه خو نه وورته ویل خومٚرادیې داووچی تاسی نه په موسلمانانوکی کارکړی دی اوٚنې کوی ځکه تاسی د ـ هغوے کالخواے(نماینده) نه یاست خالی د ـ کانګریس د ـ مل ګری په نامه خوزه تاسی د ـ موسلمانانو کالخواے نه سم منلاے تاسی د ـ کانګریس غړی یاست سٚتاسی اوٚد ـ کانګریس خبره یٚوه ده که تاسی څه بله خبره کوی په کانګریسې ومنی نوهغه به هم د ـ کانګریس خبره وی که سٚتاسی خبره موسلمانان ومنی اوکانګریس له راسی لکه د ـ ژٚوه (سرحد) پښتانه نوخپله به د ـ کانګریس خبره د ـ موسلمانانوخبره سی کنی نوچی موسلمانان بېله خبره کوی هغه د ـ هرچاپه خٚوله چی وی کانګریس ناچاره دی چی هغه به اروی سنجوی یې اوٚخېری یې ـ پوردے هغوے خٚوابدی سو اوٚ ٚولاړاوٚ خو ژٚوزی پسې د ـ مجلس احرارایسلام په نامه خٚپله بېله ډله جوړه کٚړله ـ واپس چی کورته راتلم د ـ سیوی نه راسره د ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

پولیسوجگړه ونښتله هغه وخت د ـ بلوچیستان د ـ
پولیسوډادوډووچی پورسیوی به لاپه تهوله
ګاډی (تهرین) کی ګرزیدل اوچی څه ناولده سړے بے
ولید د ـ هغه نوم پته ـ د ـ راتلوم‌راداوداپے پوښتل
چی چیرته څے چیرته به اوسے څوړوزی به کوے څوك
پیژنے ؟ په ژیاته هغه سړے چی خامتاپے اغوستے وه
هغه خوبے ژیاتره بیرته واپس کړل ـ دغه وخت څه
لاخبره اسانه سوه وه تردے څو کاله وړاندی بے
پورسیوی تهول خلګ د ـ ګاډی نه راکوزکړل لیکه
(قطار) بے ودرول د ـ هریوه نه بے د دا بره تهول
تپوسونه وکړل اوچی کوټی له به راورسیده نوناشناخته
خلګ بے بوتله اوډ ـ ښارد ـ اوسنی تانے پورځاے
یوسراے وو "بارنس سراے" چی خلګوبه پولیس سراے
باله هلته بے ډیرډ کړل اوپولیس به پسی کاته ـ د ـ
هغه نه هم څه وخت وړاندی بے د ـ مچ نه یوتپسن
وړاندی پورهیرك د ـ کوارنتین په پلمه وګرزول اوهله
بے یاواپس کول یاپے پڑهښوول چی د ـ شاپاله بے د ـ
هغه سړی د ـ تانے نه اوترمخ بے د ـ هغه د ـ
پیژاندوے خلګونه تپوس وکی تردے ډوډ ډرے کاله

پس په لاهم د ـ ښاغلی ـ آرکې سید هواپارسی رنګه اوږخارسره چی یووخت د ـ کراچی د ـ ښاروالی (کارپورېشن) مشر (میر) هم وو ـ ځکه د ـ کوټی د ـ تهپسن نه واپس کی چی د ـ هغه د ـ کوټ پوړغوټو (بټن) د ـ کانګریس د ـ جنډه نخښه وه پولیسوووړته وه چی داجنډه وال غوټی (بټن) که لیری کوه نوکوټی له ټلاء سپه کنی نوبه واپس څه هغوه بټن لیری نه کړل اؤ واپسه ولېږه ـ ګاندی خولی خوړ ـ چاپوړسرچیرته چی په سامان کی پې ومیندله هغه پې هم واپس کاوه د ـ کال (۱۹۳۵) ترزلزلې پوری یه په دوکانوکی هیخ داسی شے د ـ خرخلاولپاره هم نه پرېښووچی د ـ کانګریس د ـ جنډه نخشه اویاد ـ ګاندی جی چرهه به باندی وله ـ نوړکله خو ځکه ماته څه نه ویل چی یاخوپې پېژاندم اؤیابه مه د ـ جامو اؤ راز نه اندازه وکړله چی د ـ بلوچیستان سره دی په دغه ژوزراغله د ـ جامړله مخی یه رانه تپوسونه پیل کړل ماوه "زه هیخ جواب هم نه درکوم وه « داخنګه کېداء سی؟ » ماوه « مادرته وویل پوړمخ ښتا سی خوښه» سره ناشناخته هم ووراته وګوابېده بتاناپې

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

سی « هرومروبه رابنپه» ماوې نه په دروبنیم هرڅه چې کولاې سی وکه» ٌولاړتانه دارې راووست هغه ډیرپه خبنم راروان ووې «اوکړا اې جیړا سرکاری پولیس نونام پته نی دسداوې اوبلکل نه جاسی» (دالاڅوك دی چې د ـ سرکارپولیسو ته نوم پته نه بنیی هغه تلاې هم نه سی) خو چې راغی زې پېژاندم وې«خان داخو سرکاری کاردی موږ ناچاره یو» ماوې «اوس خونه یبې ناچاره اوس خومی پېژنی» وې «نه اوس خولاناچاره یو»ماوې « زماهغه جواب دی ستا هم لاس آزاد دی څه چې کولاې سې وکه داڅه د ـ ځانه مونوی دود راایستلی دی ؟» څه نوری خبرې وکړې خوولاړ د ـ کوټې پورته‌بسن زه د ـ مېل نه د ـ چمن ګاډی ته روان وم چې یو.هیندو اینسپکټر راغی وې «خان ته به لږدم د ـ پولیسودوترته راسې کپتان ساب به ووینې» ماوې «(زه خوکورته روان یم کپتان نه سم لیداې نه می وسره کارښته که ښتاسی یا د ـ هغوې څه کار وی نو رادی سی!) وې «اوس خودومری وخت نسته چې هغوې راسی ګاډی به ولاړه سی» ماوې «زه چېری بل هیواد ته نه خم خیردی ګولیستان له به

راسی یا موټر لری په لاری به راورسیږی» وې "ته خوهسی زوروری خبری کوې ته نه سے تلاے» ماوې «نراین داسه زه خو به ځم اؤکه ته می نیسې (ګرفتار) یاوارنټ لرې اؤیا واك نوهغه بله خبره ده» وه یوه سپاهی ټې وې ته د ـ ده سره درځه زه به ټیلیپون وکم» لاړخوښیا رانه غی اؤزه کورته راغلم څوړوزی پس د ـ ګولیستان وړوکی تاسیلدار وغوښتم اویو بیانې راڅه واخیست چی چېری تللی وې ؟ څه دی کول ؟ څوك څوك دی ولیدل ؟ ماوې «چی د ـ ټول هیند نوی آیین جوړیږی اؤ بلوچیستان هم خود ـ هیندبرخه ده سرکار خو غوندمېزته د ـ دې ځاے څوك نه دی بللی نوزه ولاړم چی د ـ دغی جیرګې غړی ووینم اود ـ دې ځاے د ـ سرکاراؤخلګوپه شانې خبرکم» څو ړوزی پس زه وروراوُد ـ ګولیستان د ـ مېوې نوړو سوداګرو ولیږلم چی موږ به لاهوړ ـ ډیلی اوکانپوړته د ـ انګوړواوانارو ګاډی ده ر لیږو ته به هلته پام باندی کوې موږ ته به د ـ بازارخبرراکوې اؤهرځاے ته چی ګاډی درځی ته به ځان وررسوې ډوې میاشتی می دغه کاروکی په اکتوبرکی د ـ یوې ګاډی سره کلکتې

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

له ۆلاېم څوړوزی هلته وم اوُد ـ هغه خایه تیاروم رنګوڼ له ټلم زړه می ووچی د ـ برماسیل وکم خوډ ـ ړروړمی تارراغی چی کوړته راسه اوُداشان د ـ برماسیل رانه پاته سواوُبیامی هم وارنه کی پیدااوُتراوسه می نه ده لیدلې ـ



باباے پښتون .



باباے پښتون .

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه



بابای پښتون د. الی ګړ (هند) په او حار پوهنتون کښې دلو ستو نکو سره . غوس بخش بیزنجو په لو ستو نکو کښې ښځلوی ته ناست دی.

# د ـ ډاك پلټنه

په لاهوړکی وم چی یووخت می د ـ مېوې ګاډی پړانستله نوړد ـ بیلټی دوړے سره می د ـ وړوړخت پکښې ووچی د ـ بلوچیستان پولیسوژموږد ـ ختوړنو پلټنه (سنسر) پېل کړی دی ـ خوړد ـ هغه وخت پولیس په دې کار پوړے هم نه وو ـ ولی دوړے خوغوښت چی داکارپه پټه وکی خوپه دې وخت کی چی وړوړله به می د ـ ټول هیند د ـ مېوې د ـ دلالانو نېژدې پینځوس ختونه راتله ځو ځو زوړزانه اوهوته واراخباروړنه دوړے د ـ ګولیستان وټپال ( Post Office ) ته لیکلی ووچی د ـ هغه د ـ نامه ــــــــ ټول ډاك بندکی بېرټې کوټی له ولېږی اوډے دی نه خبروی نوچی ښنګه می وړوړله په دغه رۆزپه ټپال کی هیڅ نه ووړسېدلی هغوړے پوړے سوی ووچی خبره څه ده ؟ اوومانې ولیکل ـ زه به په لاهوړکی د ـ اهرارومشرانوله اوډ ـ زمینداراخبار دوتر له ووړتلم او

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

د ـ ښاغلی زېرالی خان سره به مې لیدل د ـ هغوے سره مې داخبره وکړله هغوے په اخبارکی خبرورکی اوخپل له خوا یه هم باندی ولیکل چی اخبار کوټی له ورسېده نوډ ـ کوټی پولیس لکه هغه پوه لانبه پوه سړے (فیلاسفر)چی په دیوال باندے لګېدلی سپاکی لیدلی وے اؤولاړووپه ګنتهویه دے ته رے واهه چی غوا یا غوایی دومری اوچت داخوشایی څنګه وکړل ؟ هغوے په دے تلاش لګیاسوی ووچی موږ خوداکارپه غلاواوپټه کړی ووداوے څنګه خبرسوپه پاے کې داجوړه کړے وه چی د ـ ټپال واك وال (پوسټ ماسټر) د ـ دوے سره میلاودی اؤخبرکړی یه دی هغه خوارے بے ګوناه په دغه توږکی بدل کې ـ مابه خپل خت د ـ ورورپه نامه نه لیږه د ـ بل چاپه نامه به مې ولیږه پولیس هم تنګ سواوپوے هم سود ـ ورورټپال ے پرېښووخوږمادابے په زیاته چالاکی په پټه پلاټه اوتراوسه یې هم تپاسی ـ زه نه پوهېږم چی ولی دوے داخوشی کارلاکوی په زیاته بیاچی دوے هم خبردی چی زه په دے خبراؤپوه یم چی دوے زماختونه ګوری ـ اوتراوسه هم زماپه ختوکی دوے له هیڅ د ـ ښپے اؤپے

نیے خبره هم په لاس نه ده ورغلې چپ د ـ یوه خته چی
ماد ـ کابل باچاښاغلی زاهیرشا ته په کال (۱۹۵۳م)
کی د ـ شپږو کالوډ ـ پرله پسې بنده د ـ راوتلو پس د
ـ هغوے د ـ اومبارکی په جواب کی لیکلی وو چی په
هغه کی می دوے ته «ګرانه د ـ پښتنوباچا» شاه
اوغان ویلی وو ـ د ـ پاکیستان سرکار هغه خت نیولی
دی نیغ ماته څه نه وایی نے تپوس رانه کړی دی
خودلی دوری کله چا اخباروالا ته ووایی چی ده د ـ
کابل باچاته د ـ اوغانانوډ ـ باچاپه ځاے د ـ
«ښتنوباچا» لیکلی دی لکه اوغان اوپښتون چی ځله
بېل څیزونه وی کله لاخینی اخبارونه داهم ولیکی چی
ده ـ د ـ کابل باچا په دغه خت کی "د ـ پښتونیستان
باچا" بللی دی ـ اوس اوس د ـ پېښور" اخبارانجام
"خپل د ـ ٤ نومبر(۱۹۵۹)په ګڼه کی د ـ چامامد
غیورله خواهم دغه خبره لیکلې وه اوچی ماد ـ هغه
جواب خپل د ـ زوے امدخان په خوله کاوه چی په
پېښورکی اوسی اوډاکټری زده کوی نوهغه ته زماد ـ
خت په لیږلوکی د ـ جېل واکوالانواود ـ
سرکارپولیسوهیڅ پې هیڅه په خوشی پلمودومری

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

خٚنهواچاوه چی ترننه پوری نیژدے دٚوے مٚیاشتی
وسوے لاهغه خت نه دی رسېدلی د ـ جېل واك والان
خوخٚپل په ناپوهی داګنهی چی د ـ مارشل لاشٚپپے دی
اخبارونه هرڅه چی لیکی د ـ سرکارپه خٚوښه یه
چاپوی نو دا خبره هم ګٚواسرکار چاپ کړے ده موږ
څنګه د ـ دے جواب د ـ چاپېدولپاره لېږلاے سو؟
تردے انده سرکاری اوٚسران بېربېدلی دی چی زٚمادغه
خت چی د ـ جېل والاوپولیسوته لېږلی وو هغوے د ـ
کتلوپس امدخان ته رسولی ووخوچی هغه د ـ انجام
چلوونکی له وورووړی ووچی دامی پٚلار سٚتا لپاره
رالېږلی دی تپے چاپ که هغه وورته ویلی ووچی هغه
خوپه جېل کی دی اۋد ـ هغه هرخت خوپکاروی چی د
ـ جیل اوٚسران وګوری لاسلیك یه کی اوٚبیایه ولېږی
اوٚداخت هغوے نه دی لاس لیك کړی نوترڅو چی
هغوے یه لاسلیك نه کی موږ دا د ـ هغوے نه
سوبللاے ـ خبره یه سمه هم وه امدخان خت بېرته جېل
له راوی چی جېل والایه لاسلیك کی خوهغوے بېرېده
نے کی لاسلیك اۋپولیس والاویل چی دازٚموږ کارنه
دی دوے پے لاس لیك کوی د ـ دوے خبره هم په خاے

وه خوجېل والاوونه منله اوس مى بێالېږلى دى خوهغه لا نه یّوه لاس لیك كړى دى اؤنه بل ـ ګرانه داده چى تركمه ځایه د ـ ژى اؤكامولى اړى ده موږ ټول خان پښتانه بولوهرچېرته چى اوسوكه په كابل كى یوكه په زابل ـ كندهار ـ ګندارا یاپښین كى هیڅ پښتون نه خان ته اوغان وایى نه بل شے خوهله چى دے په پښتوګایېږى اود ـ پښتون سره ځكه چى د ـ نړى نورټول كامونه موږ په خپله ژبه په بېلونومو بولى ـ تازى خلګ موسلیمانى لكه چى د ـ تخت سلېمان غره له مخى هینكیان په ژیاته د ـ پنجاب خلګ راته پټان یاپټاڼ وایى انګریزان هم په دے هكله د ـ پنجابیانوشاګردان دى ایرانیان اوپارسیوان راته اوغان یااپغان وایى بلوڅ مواوګان بولى د ـ یوپى یامیانځنى هیند خلګ راته روهیله وایى ـ د ـ روه خلګ چى د ـ اوسنى سرهد(سرحد) زوړنوم دی یاولایتنى وایى ـ بنګالیان اؤدكنیان مو كابلى یا آغا بولى ځوك راته خان وایى ـ موږ هم چى د ـ پښتوچپ چى په بله ژبه ګایېږونوځان په هغه نامه یاد ووچى په هغه ژبه كى دودوى ـ اوژماخت چى په پښتو


www.kitabtoon.com كتابتون ټولنه

وړ نو ما هلته ښاغلی زاهیرشاه هیڅ کله د ـ اوْغانانو باچایاد ـ پټانانوباچانه سوبللاے هروړمروړبه می د ـ پښْتنوباچاباله ـ لکه چی بللی می دی په دے کامی وېش کی ټول پړدی خلګ تیروزی تردے چی کېروړنګه سړے چی ټول ژّوندے په پښْتنوکی تېرکی پښْتو یه هم ښه زّدھ وه خو په خّپل تازھ لیکلی کیتاب «دی پټان» کی په دے خرپامی اخته سوی دی چی پټان اوْاوْغان خله بېل کامونه دی خوهغوے یه هم د ـ مّځکی اوْ هېواد په وېش نه بېلوی د ـ زات اوزیی په توکه یه بېلوی اوْوایی چی دوړانی اوْایسپ زے که په پښْتونیستان کی دی که په اوغانیستان کی اوغان دی اوْدانوړ پټان دی چی خوشی خبره ده هیڅ ایسپ زے خان ته اوغان نه وایی اوْنه دوړانی خان اوَغان بولی ـ هود ـ خاوری په توکه د ـ کابل خلګو خّپل د ـ هېواد نوم اوغانیستان خّوښ کړی دی اومږ خّپل د ـ خاوری یاولات (صوبه ) نوی نوم پښْتونیستان ایښی دی اوْغّواړوچی د ـ پاکیستان نورخلګے ومنی ـ

# د ـ کشمیر د ـ آزادۍ لومړې جنګ

زه په لاهورکې وم چې د ـ کشمیر خلګو د ـــ ښاغلی شیخ مامداوُدولاپه مشرۍ کې خپّل د ـ آزادۍ لومړے جنګ پیل کې اوُد ـ پنجاب اهرارو (احرار) یه مّرسته پیل کړّله ـ زه به د ـ دوے دوتړله وورتلم اوُ د ـ دوے په سلاووکې به شریك وم څه کومك مے هم کاوه که د ـ نورو خلګوډ ـ سوداګرۍ په کارکې بوخت نه واے کشمیرله به تللۍ هم وم ـ د ـ لاهوره چې کوم ډّویم ټولګے دوے پټ په پټه لیږه هغه ما اوُ مولانا هبیبورهمان لودیانوی ترشالدرے ورساوه ـ لومړے ټولګے له شالکوټه یّوه ړّوزوّړاندې تللۍ وو ـ په دغه کې د ـ بلوچیستانه هم میراج دین پنجاپے تللۍ ووخوښیایه بخښ (معافی) وغوښته اوُبیرته راغی ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه



بابائے پښتون. د هند لومړے وزیر ښاغلے پنډت جواهر لال نهرو. باچا خان. (په غیږ کی راجیو ګاندی) د. نهرو لور اندرا ګاندی. اوږبوږ خنده وچے لکشمی پنډت. تر شا. میرزا اوزل بیګ (سری نګر)



ناست: له ښي خوا څخه کین ته -
۱ - ریس غولام موسټپا (سیند) ۲. شیخ اژدول مجید سیندي (سیند) ۳- باچا خان (کوزنۍ پښتونخوا)
۴- بابای پښتون خان شهید (سوهیلي پښتونخوا) ۵ - مامد هوسین اونکا (بلوچیستان)
ولاړ له ښي څخه کین ته -
۱ - هیدر بخش جتوی (سیند) ۲. جي ایم سید (سیند) ۳- ریاز هاشمي (سرایکي سیمه)
د - ډاکټر سرور کوشیک لخوا (نواب شا)

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

## د ـ بلوڅانوږّوند

په دغه کال د ـ کلات د ـ کام دوسته ځّوانانوپتهی (خفیه) ډلی «انجمن ایتهادبلوچان» د ـ کلات د ـ سّتروزیربناغلی میرشمس شاد ـ ناورین (ظلم) له لاسه یوپاړکوتهی (پمپلټ) د ـ شمس ګردی په نامه چاپ کی چی په هغه کې د ـ هغه ډېروّران کارونه اوّسختی لیکلی وے ـ

# د ـ ښاغلی ازیز کوړد سره لیدل

د ـ هینده چی ښېرته راغلم یووخت می په کوټه کی د ـ کلات د ـ کام دوسته خلمی میر اوډوړل ازیزخان کوړد سرَه پېژاندګلوی وسوله اوپه یوه هوټل کی موږ په سرسری توګه سره ولېدل ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

# د ـ پوليسوتنګول

لکه چې ماوړاندې ويلي دي هسې هم د ـ بلوچيستان د ـ پوليسوخوړې ووچې په رېل يالارۍ کې پې د ـ هرناولده سړي نه تپوس کاوه نوم دي څه دي ـ د ـ پلارنوم ـ مېښه ـ چيرې ځې ـ کله راغلى يې ؟ اوُدا پې ليکل ـ خو يا زه خپل د ـ جامولة مخې دوړې ته ډېرناولده ايسېدم ياخکه چې مابه دوړې ته هيڅ جواب نه وورکاوه نودوړې به هم هرچېرې چې زه وليدم تپوس بېې راڅخه کاوه ياد ـــ چاد ـ څارلو(نګرانۍ) په نوو اوُ دوړ (قانونى) لارو چارو نه پوهېده له مانه پې هرچيرې تپوس کاوه چې مابه جواب نه وورکاوه نوځينې به ټينګ سوچې هروړمرو پې راښيپې ـ په زياته په لارۍ کې وړ پې دالارې ترهغونسې ټلاړې چې تاماته جوابونه نه وي راکړي تل به داچخ پخ راسره روان وو ـ يوځل ډوړ ماواك والانواوپوليس اوُسرانوته وه هم ليکل خو هغو هم څه کوړې نه په خوړ ګومان

مى دى چى داشان دوے زما تنګول غوښتل ـ نوماهم پسى ايله کړل خوپه پاے کې داچل پښل کى چى زه به په کوټه کى د ـ چامېلمه وم ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

# د ـ دیتوپنجاپی کومک

هغه وخت په کوټه کی د ـ اوسېدولپاره هیندوستانی هوټلان نه وو موږ به یاپه ایډوورډسرا ے کی اوسېدویابه د ـ چاپه کورکی مېلمانه وو ـــ هغوے به تنګول کله به تاښے له وغوښتل چی دے کله راغلی وو۔ کله ؤلار ـ دلته ځه کوه ل ـ د ـ چاسره ولېده ؟ اؤنورخوشی تپوسونه کله به د ـ شپږے وروتکاوه چی کوربه به وړوه ووت وے به دے دلے دی؟ په دے به ژماشناخته خلک چی خواران ښاری خلک وود ـ پولیسوبېرېده ډېرتنګ وو ـ ماته هم داسېریتوب نه ښکارېده چی ژماله لاسه پردی خلک په کړاو اخته وی ماهاجی پزل الهی دیتو ته وویل چی د ـ ګوجرانوالے زولمے کشمیرے پنجاپے دی د ـ ډېره وخته په کوټه کی اوسی اؤترډېره ځایه ٠پښتنوته نیژدے سوی دی اوس د ـ مېوے د ـ شربتانواؤټیمانو( Tins ) لوېه کارخانه لری ـ هغه وختے یو وړوکی هوټل درلود چی که ته په هوټل کی

یّوه کمره ماته په باړه راکړے نوزه به د ـ دے جنجاله وخېژم د ـ هغه سره دی خوداے ښه وکی یوه وړوکې کمره یه په ډېر کوښښ راخالی کړله چی زه به پکښی اوسېدم پولیسوهغه هم تنګ راتنګ کی خو هغه وورته ټینګ سو چی دا زّما کاروبار دی هغه ماته باړه راکوی یاڅه ـ اوْروشتیا دا ده چی ما هر څه وس باندی وکی باړه یه هم ترپایه راڅه وانه خیستله زّماکه څه هم دانه وه خّوښه چی د ـ خاے باړه دی نه ښندم خود ـ پولیسوله لاسه ناچاره وم پکښی اوسېدم اوْپه کلوپه داکمره تشه ولاړه وه چی ترڅوبه زه راتّلم ـ زه تراوسه د ـ هغه سړی تراندډپاسه ښه منم اوْډېرمی نېت باندی ښه دی ـ د ـ بلوچیستان په کامی ژّوند کی د ــــ ده داکاراوْمړانه ډیراوچت خاے لری ـ

www.kitabtoon.com کتابتون پولنه

په سرکاری نوکرانوکی د ـ ناچاری ژوند
په دغه وخت کی چی یوه خوا ته د ـ نړی اوخار د ـ
مالی کمزوری اؤ بیکاری‌دوروو (A Economic
depressions slump) خود په پنجاپ کی
هم سخته یې روزګاری وه اوُد ـ بلوچیستان سرکاری
دوترونه اؤنوکری یومخ پنجاپی اؤسرانونیولی وه
نوهغو به تریخوا لا هم خپل د ـ خپلوانوکلی
والو(ګراییس) اؤپلووالو(ضلع دار) بیکارانو د ـ
ځایولو وس کاوه اوبلی خواته د ـ پخوانی دوداؤشانه
چپ د ـ بلوچیستان په خلګو کی څه څه لوستی یانیم
لوستی کسان پیداسوچی د ـ چالوزدکړی اوبنوونی
(تعلیم وتعلم) له مخی یې سرکاری نوکری بل د ـ
هیڅ کارنه وو اؤروشتیاداده چی بل د ـ ګوزاره کارهم
نه وو ـ په سرکاری نوکرواودوتروکی سرکارهم په
ناچاری کمی راووست ـ وده(ترقی) یانوی نوکری
خوپرپرده زاره اولګیدلی کسان هم ایستل کیده د ـ

پنجاپ خلک که موسلمان ووکه هیندواؤسیک که څه هم په خپلوکی هم سره جنګېده - خوځکه چی یوخودوے له پخواڅخه لا پورکار ووِ اؤپه دؤترونوتلی وو - بل هریوه باهرپه ډیلی کی هم شاکی درلوډ اؤبیازیاتره سره کلی وال (ګراییس) ووںوپه خپلوکی ہے څه نه څه سودااؤتیروپاته سره کول اؤوه ځایی خلکوته یوشے وو - هم داشان د - روه (صوبه سرحد) پښتانه په ځایی خلکوکی پخوانی نوکران ډیرکم وو که ووهم هغه یاخونوی لګېدلی اؤخوارخلک وویاهغه ځینی د - خانانو ملکانواؤسردارانوځامن ووچی یاخوډ - هیواد خوار خلک بد ګڼل اؤدایه نه وه پیرزوچی دوے په نوکروکی ولګېږی ماره سی اؤسباله زموږ اؤ زموږ د - بچوسیالان سی - لکه د - سیوی یوه وډېراچی د - ښاغلی نسیم تلوی ایډیټربلوچیستان جدید - د - وړه تاسیلداری (نایب تحصیل داری) پوړ درخواست په ډاګه لیکلی ووچی « دے د - خواری پښپے دی ده ته دی داځاے نه رسی » - اؤیاهغه خلک ووچی ہے څه لوستویاپوهنی (تعلیم وقابلیت) په لومړی سرکی سرکارپه ناچاری پوړ ښو اؤسری (ایګزیټیو) ځایو

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

اخیستی وواؤدغه وخت ځینی پکښی ای ـ اے سیان
وو ـ هغوے یاخوپه دے نه پوهېده یاد ـ ځّپلی کمی زّده
کړی اؤناپوهی له مخی ځّپل بالااوسرانواؤلاندی
مونشیانوته اړوو چی زّیاتره پنجاپیان وو ـ د ـ هغوپه
خوشامندوپے ځّپل وخت اړاوه د ـ بل پرھ جنبه
یاڅّرسته یه نه کوله اؤنے کولاے سّوله ـ بله ډله چی د
ـ ځایی لّوستوخلګو کومکے کولاے سو یا پکار وو
چی کړی یپے واے هغه سرداران اؤملکان وو چی د ـ
سرکاراؤانګرېزانو اوسرانو سرے څه مخ درلود ـ هغوے
زّیاتره خونه پوهېده اؤنے ځّپل په زامنولّوست کړی
وونے په نوکروباك کاوه که څه لږ ډیرپوھ پکښی وو
یایه زامنوڅه لږډېرلّوست کړی وو اؤنوکری یه کوله
هغوے دومری ځّپل چاری وو چی ځّپل د ـ
زامنوسیوابه د ـ بل چاپه هکله ځّوله خوځول هم نه وه
ځّوښه کومك خوپّرېږده دایه ځّوښه هم نه وه چی زّماد
ـ زوپه سېوادی بل څوك د ـ سره هم نوکری وموومی ـــ
د ـ سیوی د ـ یّوه ښه پوھ زمیندارلوے زامن نه وو
یووړوکی زوے یه وواؤنوروسکه وّرونو زامن درلود اؤ
لّوستے کول خو د ـ ده دانه وه ځّوښه چی دوے لّوست

وکی په څه چل ول یې هغوی د ـ لوّستوویستل خوییوه پکښې لسم وکی اوّ د ـــ ده د ـ ناخوّښی سره پوهنځی (کالج) ته وّلاړدے ولګېده خپله لوړے هغه هلك ته وادہ کړله ځاپے وورنیژدے کی د ـ پوهنځی یه راویوست نوکری تیے یه هم نه پّرېښوو بېکاره یه کښېناوه یّوه پوه خّواخوږے وورته ویلی ووچی داولی دی داهلك بېکاره کی لّوست یې کړی وو یاپے نوکری کوله یوّوخت یې څه ښه ځاے میندلی وو ؟ ده ـ په ډاګه وورته ویلی ووچی «هوغتې ځاے یې میندلی وو اوّ سباله به زّما پور زوے اوّسروو» د ـ دغوغتهانود ـ غولولو لپاره پنجاپیانو نوکرانو دا ـــ چل جوړکړی ووچی د ـ دوے زامن یې د ـ اوّسری (ایګزیکټیو) د ـ ځاے په هیله واړه تاسیلداران اخیستل خولګول یې نه د ـ تنخاوال اوّیے تنخااوّمیدوارانویوناپایه لاړ (لاین) یې ساته اوّد ـ دوے نمونه یې په هغوکی لیکل چی په کلوپے وارنه راته که به د ـ چاراته هم نوکله کله د ـ لږوخت لپاره یې څومّیاشتی کله یوولګاوه اوّکله بل چی پاخه (مستقل) ځایونه به پیداسونوپے د ـ ازموینی په پلمه زّیاتره خپل خلګ ولګول اوّیونیم یې ځایی هلك

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

پکښې ولګاوه ـ د ـ نوروډوتری نوکروپه زیاته د ـ ورو
نوکرو لیویز مونشی (محررلیویز) اوردو مونشی ـ
سرینبته داردوے لپاره هم داسی په کلوبه داخلګ په
اومیدواری کی ناست وو ـ په دے لړکی داډوے ناپیښبه
نمونے به د ـــ نورود ـ اندازے لپاره بس وی سید رپیك
شاد ـ کرلانی یه ۱۷ یا ۱۹ کاله ښه می یاد نه دی د
ـ لیویز مونشی (محررلیویز) یا اوردو مونشی د ـ
ځاے لپاره کله په تنخا اؤکله بے تنخا اومیدوار
کښینولی وو کله کله بے د ـ څومیاشتولپاره چیری په
اومه (عارضی) ځاے کی ولګاوه اؤبیابے لری کی
دومره کلونه پس چے په کال(۱۹۳۳ـ۳٤)هغه لری کی
اؤهغه دے ته تیارسوچی د ـ پولټیکل ایجنټ
پورکور(بنګله) تر مرګه شومیا (بهوك هړتال) ونیسی
نوهله یه یوڅوکاله پورپاخه ځاے ولګاوه ـ بل د ـ
بلوچیستان لومړے سرے چی د ـ بمبی د ـ پوهنتون
بی ـ اے انرزاؤد ـ لسبیلے د ـ ریاست د ـ جام (والی
یانواب) د ـ کورنی وودغه جام میرنورولاخان یه ډرے
یاڅلورکاله بے تنخاد ـ ورے تاسیلداری (نایب
تحصیلداری) اومیدوارساتلی وود ـ دے زیاتوب

څرګند پاے داووچې د ـ بلوچیستان خوارې ژوز په ژوز
زیاتېدله اؤ وورسره د ـ بلوچیستان خلګ ژوزپه ژوز
د ـ لوستواؤزدکړې څه چې د ـ انګرېزسرکار یکې ېوه
ګټه (فایده) وه ، بېزاره کېده ـ اؤبلې خواته د ـ ولات
په سربنبته (انتظام) کې د ـ کومې لږ ډېرې
خواخورړۍ اؤسووان هیله چې د ـ خایې نوکرانوڅه
کېداے سوه یاد ـ خلګوپه کارپوره هغه هم پاته نه وه
اؤد ـ خوارا ولس سره پړدو نوکرانو ډېرې سختۍ
اؤناخوالۍ کولے چې څه نمونے یه وړاندې تېرې سوې
دي ـ په دغه وخت کې د ـ بلوچیستان نوکران
اومېندواران نوې لوستې بېکاران اؤځینې د ـ
پوهنځو(کالجز)شاګردان چې د ـ هرې خواپے اسره
اؤناچاره سواؤد ـ دغه بره جام نورولاخان په کوښښ څه
ژوند پکښې پیداسود ـ کال(۱۹۳۲)په سپرلې مارچ
یااپریل کې لارډایروِن وایسراے د ـ بلوچیستان په
دوره راته نودغه بړه تهول خلګ ولګېده څومباشتې
وړاندې یه کوښښ پېل کې اؤد ـ بلوچیستان د ـ شاهې
جرګے غړې یه په ډېروخواروده ته تیارکړل چې داخل
د ـ نورکله په رنګ وایسراے ته چې هرکلے

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

(سپاسنامه) وایی نږد ـ نورو خوشامندو په ځاے دی
د ـ بلوچیستان لپاره څه غوښتنی (مطالبات) هم
جینی وکی د ـ دوے پس بیا د ـ هغه وخت ایجنټ
ګورنر جنرل چی کپتهرنومېده ډېر پور زور زیاتی اوزړه
لارمین (مستبتداوقدامت پرست) انګرېزوو په دې
نوی کارست سود ـ شاهی جرګے له خوا یو هرکلے
(سپاسنامه) ولیکل سوپه دغه لړکی زماد ـ خینو
نوکرانواوُد ـ پوهنځی د ـ شاګردانوسره پېژاندګلوی
وسوله چی ماته به د ـ هوټل کمرې ته راتله یابه موږپه
بازارکی سره لیدل اوُپه دې هکله به موسلاوی سره
کولے په دې نووخلګو کی یودغه بره ښاغلی جام
نورولاخان وو چی وّرو وّرو می ډېرسره نېژدې اوُخوّاره
لا یو شانته په زړه پوری مل ګری سوکه څه هم ده به د
ـ انګریزی سرکارنوکری کوله اوُزه په خپل ځاے د ـ
انګرېزسره په جنګ اخته وم خوترپایه موږپه هیڅ
کاراوُخبره کی ترمیان بېلتون نه دی راغلی اوُیوډول به
موږیود ـ بل کمی اوُنیمګړتیاوی پوره کولے کوم
کارچی مانه سوکولاے هغه می دوے ته په ډاډ اوُ
باور سپارلاےسو چی د ـــ هېواد اوُ اولس پوره ـــ

ژورتیا نبغوالی اورو شتینوالی مے
پوره باور وو اؤ چی په ده به نه سوکېداے هغه به ده
ماته پړېښوو ـ تل به سره ناست پاست وواؤ سلاوی به
مو کولے نوکری ته اړوواؤکوله یه ولی څه څرګنده
اؤپخه ګوزاره یه نه درلوده د ـ لسبېلے ژیاست لغړی
سل روپی د ـ مبّاشتی وورکولے ـ خود ـ نوکری
لپاره هیڅ کله هم د ـ هیواد اؤاولس ښېګړه یاد ـ
روشتیا لار نه پړېښوله په ده لړکی ډره خله د ـ
انګرېزانو اوسرانوڅه دومری تنګ سوچی ماته پے
خبرراکی چی بس دی نوکری پړېږدم ډوه خله په وړه
تاسیلداری کی اؤیوځل چی د ـ پښین ای اے سی وود
ـ نوکری د ـ پړېښوولوخت (استعفی) پے لیکلی وو ـ
زه پے خبرکړم چی زه به ورغلم ډېربه تینګ ووځوچی
خبری به موووکړلے بېرته به می ست کی ولی ژماد ـ
سره داګومان ووچی بلوچیستان داسی نوکرانوته هم
اړی لری چی هم پوه وی ـ هم خان خوښه ـ (خوددار)
اؤهم د ـ هیواد اؤاولس سره مینه لری ـ اودے
ماداسی سړے باله اؤهیله می وه چی د ـ بلوچیستان
لپاره به کاروکی کوم چی ساوزاده اؤدول کیوم خان په

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

نوکری کی د ـ روھ (صوبه سرحد) لپاره کړی وو ـ په دے هکله زّمالاداهم خّوښه وه اؤاړی می ګڼله چی د ـ سرسید په شان یۏسرکاردوسته خوپوړکام مین اؤروشتونی کامی سره هم وی خّپله می هم په سرکی څه داشان کارکول غّوښت چی څه د ـــ انګرېزانواؤسرانوډ ـ سرزوری اؤد ـ هیند د ٠ کانګریس د ٠ بېری له مخی اؤڅه زّموږ د ـ نیولوپس د ـ ځینوپیښولہ مخی ونه سو اؤ زّما لار د ــــ سرسید په ځاے د ـ جنګ لار سّوله ـ نو وّروسته می یوځل پوړ ښاغلی نواب زاده یوسپ الی خان وس وکی خو هغوے لارنه ومنده اؤ بل ځل پوړښاغلی کازی ایسا باندی چی لومړے د ــــ لندن نه راغی هغوے ونه منله د ـ دے چپ ډّوھ خله نوړهم یوځل چی په هیندوباغ کی وړوکی تاسیلداروود ـ ښاغلی نواب زادھ شاه بازخان نوشیروانی د ـ مېلمستیاپوړسرچی د ـ دوے اخبنی (د ـ تهبروّروړ)وو خو زّما ملګری اؤد ـ "انجو وتن" د ـ کاریندھ جرګے غړی وواؤبل ځل چی د ـ سیوی ای ـ اے ـ سی وو هم زّما اؤ د ـ شاه بازخان د ـ مېلمستیا پوړسر نوکری پّرېښوولوته تیار

وو ـ انګریزکمشنر تې په ډاکه ولیکل چې زه د ـ دوې
د ـــ مېلمستیا څه چارڅ نه لرم اؤنه سرکاری نوکری
په دې پوری تړلې بولم چې زه به د ـ خپلوانو اؤ
دوستانو مېلمستیا نه کوم ـ بل ځلې چې
لاتاسیلداروود ـ کلات د ـ وزیر مال ځاے اؤنیژدې
ډوولس سوه روپی تنخادوې پړېښوول اوترې راغی
ځکه چې د ـ کلات خان اؤد ـ هغوے ستروزیر ښاغلی
مامد نوازخان څه داسی روجینی غوښت چې د ـ دوے
نه ووخوښ په دغه وارې زماهم ونه منل اوزې دې ته
ناچاره کړم چې د ـ کلات خان ته می وویل چې «درسره
پاتېږی نه نوچې دے په خوابدی ځان بدلوی ترهغه به
داښه وی چې تې واپس کړې» د ـ هغوے یه کوروودان وې
منل اؤدے بېرته خپل د ـ ډوڅ نیمو سوو روپو
تاسیلداری له راغی ځکه چې سرے پوڅ اؤښه لوستی
د ـ بڅو موکو او نورو غلاوو او بدو پاك اؤ زړه ور وو
نو سرڅ ـ د ـ دغو غورځو پرزواؤسرڅ زماد ـ ناستی
پاستی اوکام دوستی (سیاست) د ـ توره اؤد ـ
پنجاپیانواوسرانود ـ شیالی اوغلیمی یه په نوکری کی
وده کوله په کال(۱۹٤٤ـ٤۵)کی ورکوتې پولتېکل

www.kitabtoon.com کتابتون پوهنه

سوزه د ـ سیند په چوپ اخته وم په کراچۍ کی اوسېدم
چی په اخبارکی می ولوستل چی جام نورولاخان
سرکارخان ساب (خان صاحب) جوړکۍ هك پك شوم
چی داڅنګه په دې وخت کی چی انګرېزی سرکاروان
دۍ ځی اوْ هیند آزادېږی ده دا څنګه کاروکۍ یوخت
می وورته ولیکه اوْد ـ لړکانې څه می د ـ سړی په
لاس وورته راولېږه چی سره پوه سوچی دادی څه کړی
دی ؟ خوارمان چی هغه سړے رارسېده جام نورلاخان
مړوو ـ اوْهغه ختې بېرته دغسی بندماته راکۍ ـ تردې
لس کاله دمخه می بل خوړ پوه زوروراوروشتینی
ملګرې ښاغلې نواب یوسپ الی خان مګسی داسی
ناساپه اوْپې وخته مړوو اوس ښیا دے ومړ ډېر زوړې
راکۍ اوْ مخ له ځان تنها اوْ یکړ راته ښکاره سوخوډ
ـ خوداے اوْخودایی هغه لوے درمانی چی په نړۍ کی
د ـ سړی د ـ زړه د ـ هرددرېې ختادرمان کوی چی
موړې وخت بوڵو هغه په څو ږوزو کی زما د ـ دې
درد هم چاره وکړله ـ څومیاشتی پس چی کوټی له
بېرته راغلم نوخبرشوم چی سرکارجام ته د ـ هغه پې
تپوسه اوْ خوښی د ـ خان ساب نوم (خطاب) وورکړی

وواۋچی څنګه یه هغه خپل په دې میهربانی په سرکاری توګه خبرکړی وونو هغه واپس وورته لیکلی ووچی ښتاسی ډېربښه منم خوزه دا میهربانی نه غواړم «ننګ مووه رنګ ته پرېږدم» (عطاے تو به لقاے توبخشیدم) په دې یوې خواته ډېرخوشاله ښوم چی دغه خوږ دوست می ترمرګ وړاندی د ـ انګرېز د ـ مرېیتوب په دې ناخواله نخښه ونه لړل سوبلی خواته می د ـ دوے په ېے وخته مرګ پسی ارمان اۋد ـ زړه ښوے نوړهم زیات سو چی د ـ داسی کام دوسته مېړه اۋنېغ ملګری څه بېل ښوم ـ هغوے له دغی پېښی څه څو روزی پس لږ شانته ناجوړه سوی وو اۋ د ـ چپه (غلط) درمان له مخی په دړې څلوږ روزی کی د ـ کوټی په سېول هسپتال کی مړ وو ـ ځکه تراوسه پوری د ـ ډېرو پښتنو ـ خپلوانو ـ دوستانو اۋ مل ګرو دا کلك ګومان دی چی پرنګیانوپه هسکار (قصداً) د ـ درمان په پلمه مړکی ـ چی کېداے سی چی د ـ پښتنو اۋ بلوڅانو اوڅاره بدګومانی وی چی دوے تل د ـ پرنګیانوپه هکله لرله ـ په دغو ښاغلو اۋکام دوسته خوانانو کی بل ښاغلی مامد هاشم خان غیلجې وو

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

چې هغه وخت لاپه لوستو بوخت وو ـ او وروسته یه
خپل په ځاے اوخپل په توګه په بېلو رنګو کې د ـ کام
ښه خسمانه کوله د ـ وروړپښتون اوښیاد ـ نېشنل
پارټۍ سټر سکتر وو خو تر مارشل.لا یه څوروزی
وړاندی داځاے پړېښوو ـ کلك پښتون دی په
پښتونیستان کلك باورلری اوس هم د ـ پښتونیستان
لپاره کار کوی ـ دغه هاشم خان د ـ بی ـ اے او بی ټی
کولو پس د ـ ښوونی په څانګه کی نوکرسو خود ـ
پنجاپیانو اوسرانو او نوکرانو د ـ لاسه په پنځلس
شپاړس کاله کی هم د ـ میانی ښوونځی (مډل
سکول) تر سټره ماسټری (هیډماسټر) وړاندی نه
ولاړ اوتل به په وده (ترقی) اونوروخبروکی زیاتے
اوناورین وورسره کېده ـ په پاے کی تنګ سوپه
کال(۳۷ـ ۱۹۳۶) کے نوکری پرېښووله الی ګړ(علی
ګړه) له ولاړ چی دود پوهه (قانون) ووایی اووکیل
سی ـ خود ـ هغه وخت لاټ پارسنزاود ـ کوټی
پولټیکل ایجنټ کرنل ایس ـ بی ـ شاماته وویل چی
موږ پوه یو چی د ـ ده سره زیاتوب سوی دی ته دے
بېرته راوغواړه بیابه داسی نه وورسره کیږی نو ما تار

ورکې اوده بېرته راغي خود ـ دغو اؤسرانو د ـ ټلوپس ښیا هم ورسره هغه زیاتے کېده نوېه نوکری پرېښوولهـ د ـ نوکروپه لړکی داسی زیاتےتراوسه هم د ـ ځایی خلکوسره روان دي ـ ښاغلی مامد اکبرخان کاکړایم ـ اې ـ ایل ـ بی الیګ هم نیژدې شل کاله د ـ انګرېز اؤ ښیا پاکیستان نوکری وکړله خوترپایه تر ووکے مّیانځ ګری (سب ججی) وّړاندی نه سوچی په پاے کی یه د ـ پاکیستان نوکری پرېښووله اؤاوس وکیل دي۔

په دغو ویښو خلمو کی بل سړے ښاغلی ډاکټر رمزان خان بابړ د ـ بوډګانودرمانی (وټرنری‌استېټنټ) ووچی تر ډېره پې له مااؤښاغلی نوروٍلاخان اؤ نوروٍ مّلو سره پټ اؤښکاره څه څه کارکاوه ـ په دغه ځانګه (ډیپارټمنټ) کی هم ځوکسه ځایی خلګ نوکران وو خوزیاتره ترډاکټری (وټرنری استیټ) بالانه سوولی چی بره ځایوله پې تل د ـ باندینی خلګ راوستل ډېروخت پس په کال (۳۸ ـ ۱۹۳۷) کی چی په بلوچیستان کی څه کامی ژوند پیداسو اؤپه دې هکله ماپه ځان هم ډېری منډی وکړلے نود ـ بربېمنر په کمېشنری کی په

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

لومړی ځل یوځایی ډاکټربناغلی سید جهان شا یه د -
ځانګی مشر (سپرنټینډنټ) ولګاوه چی د - لومړی
ونکی (۱ ګرېډ) نوکری وه اوبّیاځوکاله پس دغه ځاے
بناغلی ډاکټر رمزان خان ته پاته سو -
مابناغلی جام نوروللاخان - مامد هاشم خان -
اوډاکټررمزان خان ډېروس وکی چی د - وایسراے په
هرکلی کی د - سردارانوډ - خّواداهم وویل سی چی
موږ هم د - هیند د - نوږو ولاتو په شان چوڼلی
(منتخب) سرکار اؤ واك غّوارو ځو هغه چاونه منله
ولی چی روشتیاهم داوه چی خّپله د - شاهی جرګے په
اؤیااتیاغړوکی یوهم نه لّوستی وونه په دے خبره
رسېده اؤ نه یه دا اټکل هم کولاے سوچی زّموږ
وخلګوته د - سرکار واګی هم په لاس وورکېداے سی
اؤموږ هم یوځل بّیاد - انګرېزد - جغه وتلاے سو -
هغوے خوپه دے کی مست ووچی «د - یّوه مریے اؤد -
سلوبادار» دوے به د - ځوتنوپرنګیانواؤد - هغو ے د -
نوکرانو خوشامندی کولے اؤبډی یے وورکولے یاوورله
پیداکولے اؤد - دے په بدله کی به هریّوه ځپل د - کام
په زرګونو کسان ځّوړل ځّوارول سّپکؤل بډی اؤموکونه

پې تړې اخیستل خپل په ګومان پې ښه خوړله ښه پې اغوستله اوښه به اوسېدل ـ دوې ته هم دغه ازادي ـ ابادي ـ واك اوارزایسېده ـ خوښیاهم په دغه هرکلي کي ترپخواډېري د ـ سرېتوب خبري کېدې سوې ـ څه د ـ ښووني (تعلیم) په هکله لکه ښوونځي(سکولز) پوهنځې (کالج) اوډ ـ ځایي شاګردانو لپاره اړې (وظایف) غوښتل ـ د ـ ځایي خلګو لپاره سرکاري تېکې غوښتل اونوکري ـ داهرکلې د ـ سیوی زموږ هغه دوست ښاغلي میراتامامد خان مرغزاني وایسراے ته ولوست چي په دې کیتاب کي وړاندي هم یادسوی دی وایسراے هم لکه څنګه چي د ـ انګریزانودوډ ووڅه ګول موڵ جواب ورکی ـ د ـ دې پسې دغوسرکاري نوکرانوډ ـ«ځایي موسلمانانوډله» لوکل مسلم ایسویسی اېشن ـ په نامه جوړه کړله کارپې دغونوکرانوکاوه ـ په کارینده جرګه او مشرانو کې هم زیاتره دغه نوکران ووـ خوغړی یه ـ هرڅوک کېدایے سو، په مرادو (مقاصد) کې که څه هم د ـ انګریزسرکار، پت (وفاداري) وه خود ـ ځایي خلګوډ ـ خسمانې ډېرشیان پکښې ووـ که څه هم په دوخت(دستور) کې د ـ هېواد

www.kitabtoon.com کابتون ټولنه

په سرکار اؤ کار اړه لرله (سیاسی کار) بندوږ خوږه
غّونډوکې هم اوځان ځانی یه په غږوکی هم کامی ژّوند
وږ ـ لنډه داچی دایّوه نوه ( Original ) ډله وه چی د
ـ هغه وخت سره ډېره وه‌ږه وه ځکه ډېره ژرپه ټوټل ولات
کی خّوره سّوله اوډېرخلګې سره د ـ شاهی جرګې د ـ
سردارنو غړی سوځکې پنجاپیان نوکران هم غلیمان
سواوخینی ژّوندی غړی یه د ـ کّوټی څه لیری لېری
خایوته بدل کّړه خوبّیاهم ډله ښه چلېدله بسپن پې کاوه
پیسې پې ټولولې اوډ ـ خرڅ لوے کاره دا وږ چی د ـ
ښوونځو (سکولز) اؤ پوهنځو وه اړو (محتاج)
شاګردانو ته پې کومك وورکاوه ـ د ـ کال (۱۹۳۲) په
وړی د ـ ده ډلی یّوه ډّرنه غّونډه په کّوټه کی د ـ
**ایسلامی ښوونځی** (اسلامیه سکول) په هال کی د ـ
**نواب جوګیزی ترمشری لاندی وسوله خلګوځوزره روپی**
**نغدی** هم ورکړلې اوډېرو وور وه هم منلې (وعده) د ـ
ډلی په دوخت کی یوځاے د ـ مشری (سرپرست)
اینښوسوی وږ چی په ډّرے زره روپوپوری ترلی وږ په
غّونډه کی داپّرېکړه هم وسوله چی دغه ډّره زره روپی
په ډّره کاله هم وورکېداے سی ـ زّماد ـــ ده ډلی

زیات مشران خوارہ دوستان وو ـ اوْد ـ دوے دہ
خوداے پاری خواروبه ډیر خوند راکاوه چی ډرسته
روزیے سرکاری نوکری کولے اوبیاپے ماخیگرد ـ ډلی
غونډی اوْکارهم په ډیره بیره کاوه ترتیاره مابنامه به
نیژدہ هره روزیه غونډه کی ناست وو ـ جوړی اوْ
توده تودہ د ـ زړه د ـ سوخت ویناوی پے کولے هم
داشان پے په ایتواراونوروچوټیانوکی کارکاوه ـ مل گری
پے خوښه وه اوکومك ته مے زړه غوښت خوغړی یه
خکه نه سوم جوړیداے چی په دوخت کیے د ـ
انگریزیت(وفاداری) وو چی مانه سومنلاے ـ نو دا
لار مے اسانه وبلله چی ډرہ زره په ډرہ کاله ورکم
اوْمشرہ جوړسم چی د ـ انگریز د ـ پت (وفاداری) د
ـ لوړی قسم هم بچ سم اوپه کارہ هم وورشریك سم ـ
نوسم دستی می داکاروکی چی ښاغلی جام نوروالاخان
اوخینی نور کام دوسته خلك ډیر په خوښ سو اوْخینی
سرکاری خلك په خوابدی هم سو ـ زْماپه دہ کارکی
یومراد لاداهم ووچی د ـ هغه وخت د ـ ښین ای ـ اہ
سی سردارجاپرخان چی ډیرښه اوْمیره پښتون ووخو
زما خکه نه وورسره لگیده چی هغوے دا کوښښ
کاوه چی ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

## د ـ اڅکزو د ـ سرداری بچاو

په اڅکزو کی دی هم یو سردارجوړسی چی وړاندی
تېرسوی دی چی موږ په ډېروخوارواوُد ـ خوداے پاك
په میهربانی ځان د ـ انګریزی سرکارله دے تېزندی
(زیندی ) څه بچ کړی وو ـ د ـ دغه سردار هم داژړه
غوښت چی د ـ دغی ډلی د ـ مشری داځاے واخلی
چی زمانه وه خوښه خکه می ځان باندی وړاندی کی د
ـ بده مرغه ترجاپرخان وړاندی مورتوزاخان ترین
(مرتضے خان) د ـ پښین ای اے سی وو اوُهغه خپل
په وخت کی د ـ پښین په ترینانوکی یوسردارجوړکی
نوده ده چی دورانے مامدزے وواغوښت چی دے هم
خپل په دورانواڅکزوخانانوکی زموږ د ـ کامی لاری
یوپوخ غلیم اوُسرکاری ایجنټ پیداکی ډېروسپے وکی
اوُښاغلی اودول غپارخان د ـ ګولیستان چی زماخوږ
دوست اوغښتلی مل ووهغه یه په دغه هیله له موږه
بېل کی د ـ جرګے اوُشاهی جرګے غړی یه کی اوُبیایه

اتیاروپې د
- مّیاشتی د - لیویزوتنخاهم له سرکاره وړرواخیستله
خوړے هم په دہ پوړے ووچی په هره توګه چی وی زه
به د - ده دا کار ترسره رسېدوته نه پړېږدم ځکه یه په
لومړی سرکی ماته ست وکی چی ته سرداری واخله یا
دہ ښتا مشر ؤروړ واخلی ماووړته وویل چی "زه
داکار د - تہول کام د - آزاد ژوند د - ببخ خاته ګنم اؤته
چی خان دوړانے بولے اؤد - دوړانو خواخوږی نو ته هم
خپل کام په دہ زاوال کی مه اچوه - بیا یه د -
ؤروړخوسرملك مامد ایوپ پیرالیزے اؤملك ایوپ
بادیزے راباندی مرکه کړل چی داکاروس په اسانه
کېږی سرکاردہ ته تیاردی چی تایادی ؤروړته سرداری
درکی - تنخالېویز - جرګه دربارډېری ګټی پکښے دی -
په کانګریس (سیاسی کار) څه نه جوړېږی کہے تاسی
نه کوی نوبه زه بل جوړوم » خوماونه منله اؤووړته و
می ویل "بل هم مه جوړه وی داکامی تاوان دی"
اؤهغه ونه منله اوپه غپارخان پسہے سو د - سرکاربه
داسی خوښه وه - خکه چی دہ کارله د - کام د -
ډیروکسانوخوښه اوغوښت په کاروواؤدوے په دہ پوے

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ووچی داکار اسانه نه دی یابه انګریزانوداکارلغږ زماد ـ رانیولولپاره خوښ کړی وۄبل یې په دې بهانه رانیونودوے غلی سوۄروۄرویه غپارخان له موږ بیل کی ـ بیایه جرګې ته بوت ډیرزیات خرخونه اوتاوانونه یه په وکړل تګ راتګ سود ـ واك والانو انګریزانو ډوډی اوښکارونه سواتکلے داووچی د ـ کام یې تپوسه انګریز واکوالان دے ته تیارکی چی دے سردار جوړ کی کال(۳۲ ـ ۱۹۳۱) په دے تیاری کی لګیاوو چی د ـ کال (۱۹۳۳) په دوبی (ووړی) کی متهګاپ چی په ډیلی کی د ـ باندینو چارو سکتروو بلوچیستان له راغی په کوټه کې د ـ خینو پښتنو ملکانو اؤ خانانو سره هم ولیدل چی یوپکښی په لومړی خل زموږ غپارخان هم را غوښت سوی وو ـ زه هم د ـ دے لپاره په کوټه کی وم اؤد ـ ښاغلی یوسپ الی خان سره په دے کوښښ لګیاوم چی خینی پښتانه اؤبلوڅ سرکاری مشران دے ته تیارکوچی له متهکاپه د ـ هیند د ـ نوروولاتوپه شان سرکار (اصلاحات) وغواړی هم دالته یوه روز سهارناساپه ـ په دے خبرشوم چی ښاغلی غپارخان پولتیکل ته داویلی دی چی زه به متهګاپ د

ـــ کوټې په ځاے په چمن کې د ـ نورو اڅکزو ملکانو سره وينم ـ سبا سهار متهکاپ چمن له خې اؤنن ماخيګرغپارخان اؤجاپر ځان هم خې شپه يې هورهے وی اوسهاربه د ـ ليدوپوروخت نابوبره د ـ ملکانوپه وړاندی هغه ته ځپل د ـ سرداری درخواست وورکوی اؤهغه به د ـ ناستوڅلوروپينځوملکانونه تپوس وکی اؤبس ـ دوے د ـ چمن ای ـ اهے ـ سی هم دهے ته تيارکړی وو ـ زه سمدستی د ـ کوټې تهپسن له وّلاړم چې که داسی څوك وی چی د ـ چمن ملکانوته زماپيغام ورسوی اؤپه دهے چلے خبر کی کنی نوناچاره يم اؤځپله به خم اوداسازبنت به خرابوم ـ د ـ خوداے کارونه (اتفاقاً) په ګاډی کی مې د ـ چمن مولابناغلی اودول موتليب پيدا کی چې که څه هم د ـ سرداری په هکله زماد ـ لاری خونه ووخوداية نه غوبنت چی غپارخان سردارسی هغوے د ـ بناغلی مامد رپيك خان چې د ـ کورنی په سرداری خوبن ووچی وه اوستری سردارغولام هيدرخان ته تېرونی وو ـ

هغوے مې پوهـ کړل ـ اؤلارموسره جوړه کړله ـ ګاډی ماخيګرچمن ته رسيدله دستی مابنام د ـ چمن

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

ملکان ای ـ ایہ ـ سی له ورغلی ووچی «موږ سبا متهکاپ له نه سوووړتلاے» وہے«ولی ؟» وہے«غپارخان ولی دلته ووړسره وینی ؟» هغه د ـ چمن نه دی د ـ ښبین دی ـ ای ـ ایہ ـ سی ووړته ویلی ووچی داخوږ ـ سکترخوښه ده هرڅوك چی هرخاے وینی تاسی په دہ ولی خوابدوی » هغو ووړته ویلی ووچی «خالی لیده نه دی غپارخان د ـ سرداری درخواست ووړکوی اؤموږ دانه غواړونوچی هلته د ـ پرنگی په مخ کی جگړه سره کووږدابده خبره ده څکه موږ نه ووړخوتاسی دے وروليـ» هغه دستی پولټیکل په ټلیپون خبرکړی وو اؤپولټیکل ملکانوته ډاډ ووړکړی ووچی درخواست به نه ووړکوی خوښیاهم هغوے ای ـ ایہ ـ سی ته ویلی ووچی کہے ورکی موږہے نه منو او راولاړیږو» اؤښاغلی مامد رپیك خان هم خپل درخواست تیارکړی وو چی که غپارخان ورکی نوزه بہ هم ورکم چی سرداری ده ـ ته نه رسیږی داژموږ د ـ کوړنی شے دی ـ سهارله زه اوښاغلی سرداریوسپ الی خان هم د ـ هغوے په موټرکی پسی روان سوخوموږ پوړلاری وخنهیدومتهکاپ اوجاپرخان دوے پوړواپسی په کوړك

کی په مخه راغله ماچې په روکی د ـ جاپرخان مخ ته وکاته یوسپ الی خان ته می وویل چې کارېـ نه دی سوی»» سړی ډېر ځړاوی وو چمن له چې ورغلومولاموتلیب را ته ټوله خبره وکړله چې درخواستېـ نه کی وراوڼې د ـ سرداری څه یاد کړی دی موږ ړوزد ـ ښاغلی مولاموتلیب د ـ زوې ښاغلی جیلانی سره تېره کړله چې ځموږ مل ګرې اوښه پوه خوان وو ـ په دغه کالې د ـ کوټی د ـ ښوونځی (سکول) څخه لسه م پاس کړی وو د ـ پارسی اواوردو ښه پوهیت (شاعر) وو پورمه خ پې هم لوه ست کوه ل خو په دغه کال په نری رنځ (تب دق) اختته سو او په ډیرلږ وخت کی هم په دغه رنځ مه ړ سو ـ خوداې دې وبخښی په دغه ځلا په چمن کی یوه دانوې پېښه شوله چې ته ر واپس راتلو وړاندی موږ د ـ اوغانیستان ته ر پولی پوری سیل له په موټر کی ولاړو چې تلو د ـ پولیسو یو بلوڅ هوالدار ښادی خان ګرانې هم راسره وو دې هم یوځوان سرکاری نوکر د ـ پنجاپیانو نوکرانود ـ لاسه تنګ او ځموږ مل ګری وو ـ لیدوله موراغلی وواوراسره روان سو دغه وخت هر

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

موږته ر چی به د ـ اوغانیستان پوړلی له ته هغه پے پوړ
باهرنی چوکی دراوه اوکوټ پے چی څوک پکنبے دی ـ
خو ځکه چی هغه وخت موږته ر هم ډیرنه وو ـ او ٔبیا
په چمه ن کی کله کله به خو انګرېز سرکاری نوکر په
موږته رکی راته نوچی ژمورږ موږته ر پوړچوکی ورغی د
ـ پوړلیسو سپاهی وارختاسوچی لاس ورکه م وے دروم
که نه ؟ هسی نه چی د ـ چا انګرېز موږتر وی او
خوابده کی ـ لاسے رانه کی اومورږ ولاړو ـ له ږ دم پس
چی مورږ واپس راغلو د ـ چوکی مه خ ته ګڼ پوړلیس
سپاهیان او اوسران ولاړوو لاسے راکی مورږ ودرېدو
نرایه ن داس اینسپکټر راغی ماتے وے «خان ته به له
ږ راکوزسے ژمادرسره کاردی» زه وورکوز سوم دوترله
سره روان سو چی ننوتو وے «ملګری دی څوک دی ؟»
ماووړرو بنووه ل» وے « میرمامد هوسین چیری دی
ماپه زوره وخندل وے ولی خاندے ؟ ماوے" نرایه ن
داسه داستا تپوس د ـ خندانه دی؟ ژمورږ د ـ هغه سره
څه کاردی هغه د ـ خپل پلارپښے غلاکری دی او د ـ
پوړلیسو څه تنبتېدلی دی ـ په تا دی (پراری) څه
ستاګومان دی چی موږ هغه اوغانیستان ته ورساوه"؟

یاست ؟"ما وې"به ل کار دی وو که دې له دی
ودرولو"؟ وې"نه تاسی چی ټلاست د - پولیسو سپاهی
لاس ده ر کړی وو اؤ تاسی نه یاست درېدلی" ماوې"
موږ ته چالاس نه دی راکړی د - موږ سره ستاسی یو
هوالدار هه م راسره دی د - هغه نه تپوس وکی" وې
"ښه نوتاسی ټلاے سی"- موږ جینی راروان سو سبالې
میرښادی خان په تارد - چمنه کوټی ته راغوښتی وو
اؤښېستی یه وورله وکړله - دغه میرښادی خان هه م
سرھ د - دې چی تر مېڅرکه لوستی وو ترپایه ته ر
هوالداری بالا نه سو اوس یوکال ډوھ کیږی چی
وړوکی تاڼه دار سوی دی - داشان د - جاپرخان
داډارجن (خطرناك) وار رد سو اؤ اخگزی د - انگرېزد
- جوړسردار له پنچې په اوستری وار هم بج سوپه
داسی خبروباندی ښاغلی جاپرخان اؤغپارخان
زماأوزماد - مل گروڼېر کلك دوښمنان سو اول خوږدې
ته ملاوتړله چی د - ښاغلی ایوپ خان اؤد - هغه د -
پلار ترمیانې دوړمری دوښمنی پیداکړله چی یود - به ل
مه خ ېې نه کوت - اؤد - ایوپ خان پلار چی دغه
وختې بل زوے نه درلود د - ایوپ خان میرنی خوږې د

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ـ غپارخان وه زوړے ته وورکړه وه هغه یه دې ته تیارکې چې ښاغلې ایوپ خان د ـ نیکته (میراث) وباسی اوپه یاکوب خان داویناوکی اولیکلی جینی واخلی چې زماد ـ مرګه پس به زمامال زماد ـ زوړے ایوپ خان نه وی د ـ غپارخان به وی ـ دوړے داکارتیارکړې ووااود ـ ایوپ خان پلارهے د ـ دهے لپاره ګولیستان ته راوستلې ووچې ښاغلې ملك مامدایوپ پیرالی زے چې هم د ـ دوړے د ـ جرګے د ـ ډلی پلی سړے وو اوهم زما د ـ مشر وړوړ خوسر او زموږ د ـ ډلی خواخوږې وو په خبرسوی وو اوهغه موږ او ایوپ خان خبرکړو ـ ایوپ خان سمدستی خپله کړه اوبچی کوټی له بوتله ـ څه ګران اود ـ کارساماڼے زموږ کره پرېښوو ـ اوپلارتے په کلکه اومخامخ ووویل چې " ستا تر ژونده مال او توپل ستادی زه کارنه په لرم ښے کوهے که بد خوکه داسی کاردی وکې چې د ـ مرګه پس دی هم ماته اوزمابچوته ›› څه جنجال جوړاوه نوته به هم ژوند نه راځه کوهے ہے مرګه دی نه پرېږدم ›› هغه وبېرېدې څه وخت سره خوابدی ووښیایه بېرته ایوپ خان پوخلاکې اوکوټی تے راووست ـ

# د ـ کلات د ـ خان مرګ اؤ لوړیه بدی

په کال(۳۲ ـ ۱۹۳۱) کی د ـ کلات خان مامود خان مړسو نارینه اؤ د ـ اوجاغی (خاندانی) یاواده کړی (منکوحه) ښځی بچے یه پاته نه سو ـ بلوڅان د ـ سوریتی یامینځی بچے د ـ پلارپه نیکت (میراث) نه ګڼوی ـ ځکه یه کشر میریخ وّرورمیرمامدازم خان د ـ ټولوسردارانو په خوښه د ـ کلات خان سو ـ دغه خان چی په ازم جان اوخاروود ـ ډیره وخته دیرش یاپینځه دیرش کالوڅخه یوارد ـ خپله ښاغلے پلار خان خودایدادخان سره په بوری اؤپښین کی د ـ انګریزانوبندی وو ـ اؤبیاد ـ پلارد ـ مرګه پس کوټه ته نیژدے په شیخ مانده کی بندی وو یؤخود ـ بند د ـ شپوڅخه لاد ـ ده اؤد ـ کلات د ـ اوخاروزیر سرمیرشمس شا نه سره لګیدله اؤبل دغه وخت د ـ بلوڅوکامی ډلی انجمن اتحادبلوچان د ـ میراؤدول ازیزخان کوردواؤنواب زادھ اؤدورهمان خان بوګټی په

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

مشری کی بلی خّواته مگسی بلوڅود ـ ښاغلی میریوسپ الی خان په مشری کی په کلات کی وه ـ شمس شا ته ډیر اور لړلی وو اؤ د ـ ده د ـ ناخّوالوناورین اؤزّیاتوب په نامه یه اولس رااوچت کړی وو ـ ـ څکه هغه نوی خان د ـ وزیری لیری کی اؤبابوګول مامد خانې وزیرواخیست د ـ خان د ـ ده بدلی له مخی یّوه خّواته د ـ بلوڅوکامی ډله انجمن بلوڅان چی پخواپې پټ کارکاوه آزاده سّوله اؤبلی خّواته نوب زادہ یوسپ الی خان مګسی اؤمګسی اولس چی د ـ دغه وزیرله لاسه سیند ته کږه سوی وو اؤپه هیند کی پې د ـ اخباروواؤمشرانوپه مّرسته خّپل بږغ د ـ ډیلی ترسرکاره رساوه د ـ هغه ناورینه بچ اؤبېرته پورخاے سوکه څه هم د ـ خّپل سردارګول مامدخان څخه لاهغه شان تنګ اؤپه ژړاوو اؤدایه غّوښت چی د ـ هغه پورخاے ده کشروّرورنواب زادہ یوسپ الی خان سردارسی ـ ده نوی بدلی د ـ بلوچیستان په کامی ژّوند ډېرښه اؤبد پازه اچولی دی ـ چی خبری پې راسی ولی یّوخوداد ـ بلوڅوخانان د ـ نورهیند د ـ راجاګانو

اؤنواباتو ځخه مخ له بېل ډېرسادہ اؤد ـ اوِلس وه وګړی ته ډیرنیږدې خلګ وو ـ د ـ اوِلس نه دومری بېل اؤاوچت نه وو بل دې نوی کورنی ځېل د ـ ژوند ډېره برخه د ـ بندی په توګه په بوری پښین اؤکوټه کی د ـ پښتنوسره تېره کړې ـ هسی هم انګرېزانود ـ دغه ځاے پښتانه د ـ بلوچیستان په نامه اؤشاهی جرګې په سرینبته (انتظام) د ـ بلوخوسره تړلی وو ـ ترتهولوزیات لاداچی ترخان ازم جان نه پس چی د ـ هغوے کم زوے خان امد یارخـــان د ـ کلات خان سوهغه یوډېر ښے ارامه اوچت اؤژوندے سړے وو ځکه یه ترپایه د ـ کلاته باهرهم د ـ بلوچیستان پورتهول کامی ژوند برید (اثر) درلود ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

## د ـ میراؤدول ازیز

## کوردسره پېژاندګلوی ـ

هم په دغه کال د ـ دیتوهوتل د ـ هستوګنی اؤناستی پاستی له مخی د ـ ښاغلی اؤدول ازیزخان کورد اؤد ـ کلات د ـ خینونوروویښوکسانوسره زمٔاپېژاندګلوی وسوله چی یوپکښی غولام سروربارك زے ملنګ (فقیر) هم وو ـ

# له کوټې بندبست

د - وایسراے ترراتلو لږ ړوزې وړاندې زه د - کوره کوټې له راغلم خوچې څنګه زه پوړتهیسن د - ګاډې کوزشوم د- پولیسواوسی - آیي - ډی په نوکرانو اوْ اوسرانوکی چی هغه وخت به د - کوټې پوړتهیسن ډېرکې ولاړوو—— څه نابلده اوتلواری ښوړپیدا سو یوډوه پکی ترماوړاندی په منډه منډه روان سو چی زه د - تهیسن وره له راتلم انیسپکټرمخی له راغی وہ «خان تاته د - پښین اي - اے - سی د - پولټیکل پرمان(حکم) نه دی درکړی ؟» ماوہ «نه څه پرمان دی ؟» وہ «هغوے کوټې له ستاسی راتګ بندکړی دی» ماوہ «زه خوخبرنه یم اوْدایم راغلم اوس وایه څه دی خوښه ده ؟» وہ «ښه ته درخه موږ به تپوس وکو » زه چی هوټل ته راغلم د - پولټیکل تپوس می . وکی هغه پښین ته ټللی وو- لږوخت پس پولیس والاووهغه پرمان راوی ماته راکی چی داوړچی د - پلانی ړوزی څه بیاترڅوچی وایسراے په بلوچیستان

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

کی وی زه اوْزْماهغه ذْرے د ـ جېل مْله به کوْتې ته نه راځم ـ ما هغه واخیست اوْدوے وْلاړسهارله زه پْښین ته لاړم چې پولټیکل ووینم اوْپوے یه کم چې داخوشي کارولی؟ هلته چې ورغلم هغه د ـ پْښین ای ـ اے ـ سی ته ویلی وو چې ترځوړد ـ ده د ـ ګاندی ټوپی په سروی زه نه وینم» ماوے «خیردی ټوپی به می په سرنه وی،ټوپی می په لاس کی وه ورغلم ټاډنومېده د ـ پولیسوڅخه راغلی وو ـ ډېری اوږدے خبری موسره وکړلې خوڅه په جوړه نه وه د ـ ده لویه نخښه (دلیل) داووچی وخت نازك دی وایسراے راځی هرڅه پېښېداے سی اوْچی تاسی دلته یاست نوپولیس به لومړے توږپه تاسی پوری کوی تاسی به هم په زاوال سی اوْزموږ کاربه هم ګران اوْخراب سی نوداښه ده چې تاسی نیژدے نه یاست ـ چې په پاے کی ماتپوس تْرے وکی چی « دازْماد ـ خْولی دوښمنی څله؟ » سوړسایه وکېښ وے « خان زه په دے پوهېږم چې کم اوږچې دلته تابل کړی دی دابه ژوزپه ژوزْیاتېږی اوْدلته به هم وه موږ ته د ـ هیندپه شان د ـ آزادی جنګ جوړېږی نوماوے چې د ـ اوسه څه لازه داسی کارونه

کم چی سبازٚماپه کام کی څوک ووایی چی په دے
جنګ کی د ـ ده د ـ نرمیِ برخه سْته» ماوے «چی ته
خان له د ـ خْپل کام دوستی دومری ښه ګڼے چی په
کلوْوړاندی لاخان د ـ ګرمی اوپړے خْوندی کوے نوکه
زه خْپل د ـ کام مینه ولرم نوښه نه ده ؟ » وے «زے نه
ښه بولم نه بده د ـ هیواد دود ما خْپل د ـ زْړه خبری
ته نه پْرېږدی چی ترخودود (قانون) تاته څه نه وایی زه
هم هیڅ نه سم ویلاے» زه چی کورته راغلم هغه
نوروْملوته می هم د ـ بندښت پرمان رسېدلیِ ووِ ـ
زْماداخْوښه وه چی زه دابندښت مات کم خومل
ګرومی خْوښه رانه کړله اوْماهم ومانه ـ هم په دے
کال کی چی سردارجاپرخان نویِ د ـ ښْبین ای ـ اے ـ
سی سونوپیْوه ْروزے زه اوْرورګولیستان ته وغوښتلوِ
وے چی «پْروسږ کال په پولیس لاین کی پورتاسی د ـ
سرکاریونیم سل روپیِ خرڅی سوی دی پولټیکل هغه
غْواړی» موږ وے موږ بندیان وواوسرکاربندیان کړی
وواودغه خرڅے راله ایښیِ ووِ ـ بېرتے څنګه غْواړی ؟
» اوْکه د ـ دے شْپوغْواړی نوکال چی بل موږ په جېل
کی تېرکیِ سبابه د ـ هغه هم غْواړی ولی سرکاربندی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

له خرڅ نه وورکوی ؟ اوکه داسی وونوهغه وخت به
مووبلی وو چی تاسی به خپل خرڅ کوی زه خو یوه
پیسه هم نه درکوم ـ» دغه روزخوواپس
ولاړاوزماګومان ووچی یاپې پرېږدی اویابه موڅه مال
ونیسی اولیلام یې کی هره خواچی وه بنه به وی ـ
خوهغوې څه روزی پس بیاراغلی وو اؤ زموږ څه نوروو
خپلوانوتپې ویلی ووچی داپیسپې پولټیکل نه منی
اوسرکارپه لیویز یا پولیس لاین کی کچه
(زیرسماعت) بندیانو ته کله هم خرڅ نه وورکوی» ـ
داکارتراوسه هم په ټول بلوچیستان کی روان دی ترده
چی که څوکې لری هغوې خوخپل خرڅ کوی اوچی نې
لری اوکوره لری وی هغوې په چراوخواست (بهیك)
ګوزاره کوی که تاسی دالږی پیسپې راکی بنه به
مومنم کنی نوزه ناچاره یم خپله یې وورکوم د ـ دوې
مال لیلامول راته بنه نه ښکاری لګولی هم د ـ ښبین
پخوانی‌ای ـ اپ ـ سی دی اوهغه ولاړداجنجال زماپه
غاړه سو ـ »داشانې په خواست اوزارو دا پیسپې د ـ
هغونه اخیستی وه زماهیره خوابده سوله خوپه
پښتواوپښتنوکی په زیاته بیازموږ په کورنی کی د ـ

خپلوانومل ګرو اوډلی ژوند دومری یوپه بل پوری
تړلی وی چی په ځانی ژوند اوخوښه کی ډېرناکام
(برداشت) کول غواړی په زیاته بیاد - کشرسړی لپاره
لکه چی زه وم نو خکه په دهٔ وارهم د -
ډیرونوروواروپه شان غلی پاته شوم -

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

# نواب زادھ یوسپ الی خان

هم په دے کال (۱۹۳۲) کی بناغلی نواب زادھ میر یوسپ الی خان مڭسی چی د ـ مڭسی بلوڅود ـ کڼی (هجرت) په لړکی د ـ میرشمس شا د ـ وزارت په اوُستریوشّپوکی په کلات بنارکی بند(نظربند) وو اوْدوے هم ژماپه شان د ـ کال (۱۹۲۹)په لاهوړکی د ـ کانګریس کالیخی غوّنڼی له په سیل تللی وواوُبّیایه هوړے پوړکلات باندی یوْلیك لیکلی اوْ بے خّپله نامه یه د ـ ډاکټرمامد آلم (محمد عالم) په اخبارمساوات کی خوړکړی وو خوړد ـ دوے د ـ لاس لیك بّیااخباروالاووچانوکر یایه خاوند خّپله د ـ کلات پوړوزیر په ډوھ زره روپی خرڅ کړی وو اوُهغوے دے په اپریل یامی کال(۱۹۳۰) کی وینو ډیر وخت د ـ مستنګ په جبل کی بندی وو بّیایه جرګے ته وّړاندی کی اوجرګے د ـ میرشمس شاپه ڼغوته لس زره روپی ډنډاوُپه کلات کی د ـ ناستی (نظربندی)سزاورکړله ـ دے د ـ میرشمس شاد ـ وزیری په اوستریوشّپوکی د ـ

کېتهرد ـ ایجنټ او د ـ بلوڅي ریاستو ریزیډینټ په
خوښه سره د ـ بندبنته د ـ کوټي څه چیرته چي د ے
د ـ کېتهرد ـ لیدوپه پلمه راغلی وو سیندته ولاړاو هلتے
د ـ کهه سوو مکسوبلوڅو مشري په لاس کي واخیستله
په سیندپنجاب اوډیلي کي به ګرزېده ـ د ـ هغه ځاے
د ـ مشرانو او اخبارو په خوله پے د ـ مکسیانو ړنغ
سرکارته رساوه د ـ دوے په دے کار کي د ـ کراچي
سېټ او ټیا سراودو لاهارون اود ـ لاهور او ښارکام
دوسته مشر مولانا زپرالي خان اود ـ هغوے اخبار زمیندار ډېر
مرسته وکړله ـ نواب زاده یوسپ الي خان خپله هم ښه پوه د ـ
سیندي اوردو او پارسي اوچت پوهېت (شاعر) لیکوال
او ویان (مقرر) وو ـ ډېر تېز پامه ریشتوني ـ زړه
ورنېغ (مخلص) لاس ارتي (خراج) زړسواندي (رحم
دل) اوکام دوسته نوي خوان وو ـ په بلوچیستان کي
ترټولو ماړه (دولتمند) اولوے نواب کیسرخان مکسي
زوے وو ـ د ـ پلارله دولته ډېري پیسے نیژدے پینځه
شپږ لکه روپي په لاس ورغلي وے اوپے دربغه یه
لګولے خکه ډېرژرد ـ لاهورپوراخبارو اود ـ بلوچیستان
پورکامي ژوند وغورېدي (حاوي) د ـ بلوچیستان په

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

هکله ېې د ـ پنجاب په اخبارونو کی ډېر ځوندور او تېز لیکونه لیکل چی په بلوچیستان کی به خلګوډېرپه مینه لوستل د ـ هیندوانواوموسلمانانود ـ جوړی (یونیټی) لپاره د ـ الا آباد د ـ اوڅاری غونډی غړی هم وو ـ موږ نه سره لیدلی وونه مو سره پېژانده اونه موڅه د ـ ډلی (جماعتی) تړون سره وو ـ خوپه وړی کی یوه روزناساپه په «زمینداراخبار» کی د ـ هغوی یوبیان راغی چی «پکاردی چی په پلانکی روزپنځلس روزی پس په بلوچیستان کی د ـ ځپل واکه سرکار (اصلاحات) لپاره د ـ بلوچیستان د ـ روزی (یوم بلوچیستان) په نامه کار پیل سی اوپه کوټه کی یوه وړا (جلوس) ووزی د ـ وړامشری (رهنمایي) دی مولانا اودول سمد خان بی ـ اې وکی که څه هم زه نه مولانا وم اونه بی ـ اې خواودول سمد وم نوزه پوی سوم چی مرادې زه یم په هغه روزمی ښاغلی میراودول ازیزته تارورکی چی سباکوټې له راسه سباماځیګرزه دې اویود ـ ده تربورښاغلی میرهاجی خان د ـ سنډیمن هال په لوی چمن کی جرګه سولواوپوردې خبره موسوچ وکی چی ښاغلی یوسپ

الی خان داخنګه چیغه (اعلان) وکړله په بلوچیستان کی لاکامی ډله کومه ده ؟ کام دوسته مّله چېرته دی ؟ په دې ېږ کسی اوٌدرپه دری کی د - بلوچیستان ژوزخه مٌرادلری اوٌخنګه به وی یو وارمو‌ویل چی خبرې کوچی تېروتلی یېږ بٌیا مو وې چی په دې کی د - ده اوُخٌپله د - بلوچیستان سٌپکه ده - هرڅه چی وی اوس چی یوٌکام دوسته سړی د - پٌردی ولاته داړغ وکی نودابه کېږی - بٌیاموخٌپل د - مل ګروِ سرشمېر سره وکی اوٌایله مولس کسه داسی وشمېرل چی د - دې کارلپاره به هرڅه ته تیاروی اوٌد - کارلار (پروګرام) موسره جوړکی نوپه تیاری پسی روان اوَخله بیل سوِ اوس هم چی دې ته رې ووهم چی داخنګه وخت اوٌڅه شې ووچی موړې په هغه ژوزدې کارته تیارکړو ؟ نوېٌوې خٌواته خوسوچ لېونتوب راته اېسی چی ېږ تیاری ېږ» څه ډلی اوٌمل ګرواوٌېږ څه تړونه هسی یوٌسړی هغه هم نه لیدلی نه کتلی نه ازمویلی مه پېژنه اوٌمه اېژنه چی څوك دی څنګه دی اوٌڅه مٌرادلری ؟ هغه یوٌړغ وکی اوٌموږ بند اوٌسختوته تیارسوِ خویلی خٌواته ډېرخٌوند راکی چی داکارد - هغی

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

خوداے جاتی اؤلیونی مینی اؤریشتین ولی نخنبه وه چه دغه وخت موږ تهولولرله نه څه غوّله هیله وه نه چوڼ(انتخاب) یا سرکاری اؤ د ـ ډلی کورسی وہ ـ نه یوَ پور بله شکونه وو اؤ نه یو د ـ بل سّیالی اؤکسد (حسد) خوبس د ـ آزادی اؤخّپل واکی یّوه تنده اؤلمبه وه چی زّموږ په زّړولګیدلې وه اوَد ـ ریشتونی اؤتړی تندی نخنبه هم داوی چی د ـ هری خّواچی د ـ اوبوړغ وسی تړی به یې واکه هغه پاله منډه کوی هغه د ـ سره داتپوس نه کوی اوَنې کولاے سی چی داړغ چاوکی د ـ سوچ اوَ سنجولو خوهړو څه وخت وی نه واراؤنه د ـ دہ چورت چی کې ڈروغ ویل که زه ورغلم اوبه نه وہ ؟ اوس چی د ـ خّپلی ازمودہ اؤزّدکړی پس پام کوم د ـ کال(۱۹۳۰) وّروسته وّړاندی دغه څوکلونه چی په تهوله نړی کی د ـ لّوړی اومالی کمزوری کلونه ووخکه په تهوله نړی کی د ـ خّواراؤنتلی (غریب اؤمظلوم) اولس د ـ ژّوند اؤ وینبیدو کلونه هم وو ـ خکه خوپه هینداؤروه (سرحد) کی د ـ کانګریس اؤخودایی خیدمت ګارود ـ کال(۳۱ ـ ۱۹۳۰) پرله پسې ڈواړه کامی جنګونه ډېر زوړور

اؤتاوده وو ـ بلی خواته د ـ اوغانیستان شوربښت اؤپه یورپ کی د ـ نازی جرمنی اؤپاشی ایټلی پیداینښت وسول ـ په هیند کی غنم په څورلس (١٤) انے من اؤپه روھ کی ګوره په سواروپی من وه د ـ بلوچیستان ډېربنه انګور انار اؤشوتالو به یوه نیمه اؤډوے روپی من جوړولے ـ پینځه یالس روپی میاشت مزدوری به هم چاته نه رسېدله ـ اود ـ سرکارغمونه (ټیکسز) د ـ پخواپه شان لاځکه روان ووچی په هغو پوری د ـ سرکارټوله سریښته (نظام) د ـ نوکرانوتنخاوی ـ اولښکری ترلی وے په هیند کی ډېری لویی زمینداری په غم کی لیلام سولے په روھ کی چی به څومری لوے زمینداروهغومره زیاتی زوزی شپے ہے د ـ سرکاری غم(مالیه) لپاره هرکال په جېل کی تېرولے خکه په ژوند کی د ـ هیچاد ـ پاره خوندنه وو اؤداهرڅه به خلګود ـ سرکاره ګډل اوخښم ہے سرکارله راته هغه وخت په بلوچیستان کی موږ ټول مل ګری خوانان اؤ ہے ازمودے وود ـ نری د ـ پېښواټکل (قیاس) موسم نه وکی اؤنه موکولاے سوژموږ د ـ هریوه داګومان، ووچی داکم ژوندچی په ماکی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

پیداسوی دی داکنی ځماخانی ښېګړه یاناپېښه اوڼادربه کار(معجزه) ده یاځه د ـ خوداے پاك بې پلمې (بې سبب) ورکړه نو اوس داځمور کاردی چی نورخلګ راوینِس کواوڅوند پکښی پیداکو۔ دے ته موپام نه ووچی د ـ نړی پېښواوډ ـ سری زات د ـ ځوند کمو څرګندو اوُ پتهو بړېښناوو ( Currents & Under Currents ) چی په مور کی کوم ځوند پیداکړی دی هم هغو په هرچاکی داشے لر یاهرپیداکړی دی که په مور کی هغه وخت داکمزوری نه واے اومور خلګوته سمه بلنه وورکړے واے نود ـ بلوچیستان خلګ به هم د ـ هیند دنوروولاتوپه شان رااوچت سوی واے دابېله خبره ده چه هغه جنګ به په سرینښته اوڅرون نه واے ـ اونه به بیاد ـ چاپه وس اوکابوکی ووځکه وام چی هم په دے کی ښېګړه وه چی مور په دے پوے نه وو ـ کنی کېداے سوچی ځمور تېزی لمبې مورد ـ سرینښتے (تنظیم) څخه بې پروا کړی واے ـ

د ـ کوټهی څخه د ـ راتلوپس مابیاهم "زمینداراخبار" ته «د ـ بلوچیستان د-روزی» په هکله یولیك ولېږه چی په هغه کی می غلی شانته داخبره کړے وه چی "که

څه هم ماته داکار څه تروخت ژراندی ښکاری خوښیاهم ښه ښه پېل په وکړ" اخباروالو هغه لیك خورنه کی خوښاغلی میریوسپ الی خان تړ ښکاره کړی وو اوٌ هغوے په بل "اخباری لیك هغه ژوزبېرته بنده کړله اوٌد - هغے په خاے یه څه وخت په مولتان کی د - بلوڅانوییوه غوندړه وغوښتله اوٌماتي خپل لومړے خت ولیکه - د - مولتان غوندړه یوخوهغوے د - بلوڅوپه نامه غوښتي وه اوبل ماته هغه وخت څه کارهم راپيښ سو زه ژلاړم نه خو یو خت می وورولیږه اوپه هغه کی می داولیکل چی «د - بلوچیستان لپاره د - بلوڅو اوٌ پښتنو یوه شریکه ډله (جماعت) په کارده چی هغه دننه په بلوچیستان کی هم کاروکی اودباندی په هیند کی هم خورونی پړے پېژانده (پروپېګنډه ) کوی چی د - بلوچیستان سرکار پوړ دننه ډله زورنه سی کولاے» د - مولتان غوندړی له د - بلوچیستانه د - ویښو خوانانو سپواد - بوګټی بلوڅونواب ښاغلی میهراب خان هم ورغلی وو - دوے داجوړه کړه وه چی په ژمی د - دسمبر په اوستری هوته کی به په جوکما باد (جیکب آباد) کی د - تړل هیندد - بلوڅانوغوندړه (کانفرنس)

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

کوو ـ خکه چی داغّونړه د ـ بلوڅوپه نامه وه
نوماکارنه په درلود ـ په اکتوبریانومبرکی د ـ ښاغلی
یوسپ الی خان خت راغی چی جوکمابادله راسه چی د
ـ غّونړی د ـ هرکلی جرګه (استقبالیه کمیټی) جوړه
کو ما وورته ولیکل چی ـ خکه چی غّونړه د ـ بلوڅو
په نامه ده اوزه یو پښتون یم نوزه نه سم درتّلاے تاسی
ته دی خوداے کومك اۆوس درکی ـ د ـ هغوے
تارراغی چی غّونړه به د ـ بلوڅونوی ( Conference Free
From Baluchi Questions) نوزه ورغلم اۆپه جوکماباد
کی می په لومړی خل د ـ ده سره ولیدل ـ د ـ کلات ـ
مستنګ ـ جوکماباداۆمګسوڅه خّوانان رارسیدلی
ووکه څه هم ټول زّمارنګه بے ازمودے نوی خّوانان
ووخود ـ کامی کارله پاره هریو د ـ مینی اۆجوشه ډك
وو ـ لومړی خبره چی د ـ دوستانود ـ دغی غّونړی
مخی له راغله د ـ کلات د ـ پولټیکل ایجنټ یوکوړ
شانته خت وو ـ چی د ـ مګسی بلوڅود ـ کامی کارپه
هکله یه ښاغلی میریوسپ الی خان ته لیکلی وو ـ
اۆد ـ ده مّلوپه یونرم اوبے خانه شانته جواب وورله
جوړکړی وو چی د ـ ده نه ووخّوبښ له مانے تپوس وکی

«چې څنګه جواب په کاردی ؟» څه خبرې باندې وسولې اوتپولو زما دا خبره خوښه کړله چې خبره روښه ـ نېغه اوپه ډاګه کول په کارده خوپه سمه توګه اونرموتورو د ـ غونډې په هکله موداجوړه کړله چې خکه چې کارپوربلوڅی نامه روان سوی دی اوسې نوم نه دی بدلول پکار ـ چې ټول خلګ راغونډسی نوبه څه داسې نوم وورله جوړکوچې د ـ بلوچیستان د ـ پښتنوهم خوښ وی ـ پوردې موهم خبرې وکړلې چې غونډه لغړد ـ دغه یوه وار لپاره وی که نه په غونډه کی څه پخه ډله جوړ وو ؟ اوداچې که ډله جوړ وو نو هغه به لغړد ـ بلوچیستان وی که به د ـ ټول هیندوی ـ موږ ناست خلګ خوپه دې خبره سره پوه سولوچې ډله به جوړ وو ـ که د ـ نورو ولاتو خلګ وو هم که نه وو هم اوکه نه ووهم په بلوچیستان کی به کامی کارکوو ـ خوپرېکړه (فیصله) به په غونډه کی کوو ـ ډرې څلورڅوزی دالته وواوهم په دغو لږه ژوزو کی زه او ښاغلی میر یوسپ الی خان ډېرسره نیژدې اوخواږه سولو او وړاندی د ـ دوې ترمرګه سره خواږه وو ـ

۱ ـ جړکماباد د ـ غولام کادر (غلام قادر) بلوڅ وکیل

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

په مشری کی موړد ـ هرکلی جرګه جوړه کړله اۆکارموړروان کیـ د ـ بلوچیستان په پښتنوکی که څه هم د ـ بلوڅی غۆنډی لپاره کارګران وواونه موږ د ـ پښتنوپه نوروخایوکی کارهم کاوه خوړد ـ کۆټی په پلوپه زیاته د ـ ګولیستان شااۆخۆاډېرخلګ تیارسوڅه بپې پیسې هم ټولی سوې ـ د ـ غوڼډی له پاره موڅوتنه ایله جاری (رضاکار) هم کښپنوول چی وردیـ یه د ـ بلوڅوړد ـ کامی نوښان جنډې په رنګ سوړ خت (قمیص) اوشین پرتګ ووـ ـ زموږ په خۆاشل کسه خلمی ایله جاری سول چی خینی زماخپلوان اۆد ـ کلی وو ـ اوخینی د ـ کۆټی د ـ سرکاری ښوونخی شاګردان وو ـ یود ـ ښاغلی هبیبولا پیرالی زی زوې اۆدوړل خالیك ووچی ایله به د ـ ډوولسو کالو وو اۆپه پنځم ټولګی کې لوست کول ـ دغه پلاراۆزوې ماوړاندی هم یادکړی دی ـ د ـ ایله جارو (رضاکارو) مشر مو د ـ ښاغلیـ میریوسپ الی خان کشرۆرورښاغلیـ مابوب الی خان مګسی وتاکه چی اوس د ـ مګسوسرداردیـ اۆترمارشل لا وړاندی د ـ مغربی پاکیستان د ـ اسمبلیـ غړی ووـ خوڅه وخت پس د ـ ښاغلی

میریوسپ الی خان خت راغی چی ژماوّروړداکارنه کوی ته بل ځوک وګوره نوماځّپل د ـ مامامشرزوے ښاغلی مامد اسلم خان چی نوی ځّوان وو تیارکی اوٗهغه ځّپل د ـ ملګرو اوٗ دوستانو ځّوانانو ځخه یّوه ښه غوټه تیاره کّړله دوے به لس وّرزی وّړاندی ټّله اوٗهلته پے ځّپله تیاری (ټریننګ) کوله ـ د ـ غونډی د ـ مشری (صدارت) لپاره د ـ خیرپورریاست نواب ښاغلی میرالی نوازخان ټالپورتیارسو ـ د ـ غونډی لپاره یه ځّپلی ډېری درباری خېمے د ـ سپینوزّروکورسی دری غالی اوٗنورسامان ورکی ـ د ـ جوکمابات په ښارکی د ـ شا اوٗ ځّوا سردارانو اوٗ زمیندارانوکومی بنګلے اوٗ ځایونه چی ووهغوهم زّیاترود ـ غّونډی لپاره وورکړی وو ـ په دوے کی د ـ سیند اوځارکام دوسته سّتر وزیر ښاغلی الا بخښ شهید هم وو ـ هم داشان ډېرو مړو موسلمانانو اوٗ بلوڅانو د ـ پیسوکومك هم کړی وو ـ د ـ کلات ډېرخلګ اوځوتنه سرداران دے ته تیار وو چی غّونډی له راسی ـ خوانګرېزی سرکاراوٗ واك والانو یوازی دانه چی پټ اوښّکاره پے خلګ بندول اوٗبېرول د ـ کلات

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

پولتیکل د ـ دې مرّاد لپاره پوردوره روان سواوهغه سرداران چی داشکې ووچی غونډی له به خی هغوې یه د ـ خان سره مل گری روان کړل هم داشان د ـ سیوی پولتیکل د ـ بوگتی پوردوره ؤلاړ چی نواب بوگتی غونډی له رانه سی د ـ بلوچیستان د ـ پولیسوکیپتان سره خپل د ـ ډېرو نورو اوسرانو اوسرود ـ غونډی په شپوکی د ـ جوکمابات پورپوله په جټ پټ کی ناست وو ـ

# مامد اسلم خان

ـ مامد اسلم خانْ چی په کال
۱۹۳۲ کی د ـ کوټی د ـ پلوه‌ووت نو کراچی ته وّلاړ
هورے اوسېده په کال (۱۹۳۳) ژمی موږ ټوله سره
د ـ ده د ـ کډی جوکما باد له وّلاړو په کال (۱۹۳۳)
کی چی زه بّیا بندی اوْ مچ جېل له ولېږل سّوم نو دے
مچ له راغی په ښار کی به اوسېده خو زّما د ـ
نیزدېکت له مخی د ـ دغه ځایه سرکار د ـ پولی د ـ
دود (قانون جرائم سرحدی) تر (۳٤) څانګه لاندی د ـ
هغه ځایه ویوست نو دے جوکمابات له وّلاړ هورے به
اوسیده اوْ په کانګریس کی پے کامی کار کاوه
"کمال هیند" نومی یو هوّته وار اوردو کامی اخبارے
یوست د ـ بلوچیستان په هکله پے ډېری د ـ جوش اوْ
ګرمی خّورونی اوْ زّره ور پّرے پېژاندھ کوله په کال
(۱۹۳۸) کی د ـ کامی ډلی (انجمن وطن) د ـ
جوړېدو پور وخت کّوټی ته هم راغی خو د ـ دوے د ـ
جوشه ډک کامی ژّوند د ـ انګرېز سرکار خّوښ نه وو

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ځکہ بېرته د ـ کوټې څه ویوست د ـ کال (۱۹٤۲) په کامی بنوړ ( هیند پرېږدی ـــ **Quit India** لاندی) کی سرکار ونیولے ـ د ـ سکر په جېل کی بندی وو چی په نری رنځ اخته سو سرکار په دہ توکه پرېښوو چی دے لیکلی ورکی چی زه به کامی کار نه کوم اوْ د ـ سیند د ـ کانګریس مل ګروِ اوْ مشرانو هم وورته ویلی وو چی ولاړ سه خپل درمان به وکړی خو د ـ ده پښتنی ننګ دا خبره بده بلله اوَ نہ منله پاے یه دا چی رنځہ نوړ هم زیات سو چی بندیان یو نیم کال پس راوواته نو دہ تش د ـ هوکو پنجر پاته وو په درمان پسی مو شملې له ولیږه ځکه چی د ـ کوټې سینوټوریم ته نسو راتلاے وروسته بیا سرکار د ـ درمان لپاره را پرېښوو راغی اوْ د ـ لږو ورزو پس هوره په سینوټوریم کی مړ سو پټېدو له می ګولیستان ته راوی اوْ هوره پټ دی د ـ دہ ننګیالی پښتون د ـ کامی کار په ویاړ نه کی د ـ
جوکماباد خینو کامی خلګو یو پاړ کنځے (لائبرېری) د ـ اسلم شهید لائبرېری) په نامه روانه کړله اوْ د ـ پلو (ضلع) کانګریس هم د ـ ده په یاد کی یو هال

جوړاوه بناغلی پنډت جواهر لال نهرو خپل د ـ سیند د ـ اوستری دوره پور وخت د ـ دغه کار لپاره پینځه زره روپی ورکړلے چی د ـ سیند د ـ کانګریسی مشرانو په لاس کی وه خو دا کار لا نه وو پېل سوی چی د ـ هیند وېش وسو ـ هیندوان کانګریسیان وّلاړل او دغه پسه یه هم سره د ـ شهید الا بخش د ـ یادګار د ـ پینځلسو زرو پنګی یوړلے اوْ دا ډواړه کامی کارونه پاته سو دا شان ژّمورږ د ـ کورنی دا بد مرغه پېښه د ـ بناغلی مامد اسلم خان او مامد سلیم خان د ـ خوانی مرګی سره که څه همځخوّورکه سّوله خو مخ له لا تر اوسه هم نه ده وّرکه ـ ما دا خبره ځکه دومره اوږده کړله چی یو خو د ـ ده بدمرغی ژما پور کامی ژّوند ډېر بد بّرید وسو یو خو د ـ کورنی دغه ډواړه خّوانان لکه چی وّړاندی می ویلی دی ژّما مل ګری وو جیکب آباد له راسره تللی وو هیدر آباد له راغلی وو اوْ هیله وه چی پور مخ می د ـ بلوچیستان په کامی کار کی څنګونه جوړ سوی واے د ـ مامد سلیم خّپلوان چی د ـ لومړی سره ژّما کّلك مل ګری وو په ده پیښه کی له مالږ خو د ـ وّروره می ډېر

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

زړبدی اؤ لری ښول ـ بل دا چی که ژموږ د ـ کورنی
تړلو خلګو په دې بدمرغه پیښه کی د ـ سد اؤ
پوهی څه کار نه واے اخیستی اؤ وه پښتنی هوډه ته
درېدلی واے یا داسی پېښه د ـ بلوچیستان په نورو
خلګو کی سوې واے هرو مرو به په بدی کی سره
لوېدلی واے کنی په سرکاری مېانځګرو( عدالتو )
کی خو به ډواړو ډلو ځان ښه برباد کړی وو که موږ
هم د ـ پښتنو د ـ بربادی هغه زوړ اؤ ناوړه متل "نن
کرك په بند وو سبا به پیل وی" چی وای یوه سړی یو
وخت د ـ بل د ـ لومی یالومکی څه بند کرك یا مړز
پرانېستی وو هغه چی خبر سو جنګې ووړسره وکی چا په
پڅه ووړته وویل چی دا دی بد کړی دی پور یوه کرك
هم سړے جنګ اؤ شر کوی نو ده وویل چی نه د ـ
کرك خبره نه وه نن کرك په بند وو سبا به پیل وو ـ اؤ
بس بد بخته پښتنو دا متل کی اؤ د ـ دې لپاره یه
لاس نیوکه (سند) ترې سازه کړله چی د ـ چا ووړه
پڅه هم نه ده زغمل پکار کنی نو سبا هغه تردې هم
زیاتوب کوی اؤ هیڅچا دې ته نه دی کتلی چی د ـ مړز
په لومه سبا هم پیل نه بندېږی اؤ نه زموږ پهګښتو کی

چیری پیلان ګرزی سبا هم که چری وو نو د ـ کرك په
خاے به سپیر کوڼه وی یا بل داسی یې ښے شے خان ته
وړاندی کړی واے نو یې بدی اوبو د ـ بل یې مرګه به
مو بله چارهـ نه وه ـ خو موږ په لږ زغم او زوروړلو
خبره که څه هم وړکه نه کړله خو سرهـ مو کړله او د ـ
نوره ژیاتوبه مو بنده کړله ـ
هم دا شان په کال (۱۹۵۰) کی چی ښاغلی مله ك
مامد ازم جان د ـ پښتونیستان په کار پسی
اوغانیستان له وړلاړ نو د ـ پښین د ـ هغه وخت ای ،
اے . سی ښاغلی امد خان مندوخیل د ـ هغه ملکی
چی په پښتنو کی د ـ نیکت (میراثی) شے ګڼه ل
کیږی د ـ ازم جان د ـ نیژدے خپه لوانو په خائے ژموږ
و یوه لیری توربره هپیز خان ته ورکړله ـ او چا راته
وویه ل چی داسی څکه وکړه ل چی د ـ سرکاری خلګو
دا ګومان وو چی دا شان به دوے په کور کی په بدی
سره اخته سی او ژموږ د ـ کورنی بدی د ـ ځینو
سرکاری خلګو څکه هم خوښه وه چی لږ وخت وړاندی
د ـ دغه هپیز خان په ټغوته د ـ کلی د ـ یوه سړی
حاجی غپور میزی مینه په زور ژموږ ځینو تربرو وور

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

نړولے وه اؤ هغه يه بارکړی وو که څه هه م دغه وخت زه په چپل کی وه م مشر وړور اوَ ځینی نور مشران تربرونه می په دې کار کی نه وو اؤ ته ر پایه یه د ـ هغه سړی کومك کاوه خو ځینو کاکړانو سرکاری خلګو دې پېښی ته د ـ کاکړی رنګ ورکی ځکه چی دغه حاجی غپور میزے کاکړ وو ـ اؤ د ـ دغی پېښی د ـ بدلے لپاره یه دا بدی په موږ کی اچوله خو موږ دالته هم د پخوا په شان د ـ سه د نه کار واخیست اؤ که څه هم څه خّوابدی خو جینی جوړه سّوله خو لکه د ـ خلګو چی ګومان وو بدی مو نه کړه تّرې سازه ـ هم دا شان په تېر ډّرې ځلوږ کاله کی د ـ کوږنی ځینو کشران ډّرې څلوږ ځله لاس سره لګولی دی لکه زمان خان اؤ ږدوږد جان اوَدوږل هادی اوِ کبیرخان کاده ر خان اوَ ودوږد جان خو هیځ کله هه م نه چا سرکار خبر کړی دی اوَ نه به ل چا کار په لرلی دی اوَ خبره مو بېرته سره ّوږکه کړې ده ـ یو داسی وخت چی به ما د ـ دې کشرانو مشران خّپلوان اوَ ّوږوڼه ولیده ل چی د ـ نوږو پښتنو رنګه خّپه ل د ـ کشه ږ د ـ سیلی پوږ ځائے پے د ـ روغی اؤ د ـ شر د ـ ّوړکولو وس کاوه نو به ـ ډیر

خؤشاله سۏوم اۏ د ـ خوداے پاك ښه به مى ومنه ل چى ژمورږ و خلكو تپے دومرى پوهـ وورکړے ده اۏ هغه هوډه او ناپوهى به جينى وايستله چى ټول پښتونے در په دره کړى دى ـ خوکوراوكلى مى ټول غمجن پړښبوول اوزه د ـ لسو کسو پښتنو غړو او څو تنو ايله جارو سرهـ د ـ جوکماباد غؤنډى له لاړم مامد اسلم خان د ـ غونډى د ـ ايله جارو(رضاکارو) مشر اۏ مامد سليم خان او هغه ډواړه مړى ايله جارى وو خکه د ـ پښتنو ايله جارو (رضاکارو) غوټه خؤرهـ سۏوله اوماښاغلى يوسپ الى خان په تار په دے پښبه خبرکى چى د ـ ايله جارو مشر بل څوك جوړکى هغوے ښاغلى مورید هوسين (مریدحسین) د ـ مولتان مګسى بلوخ چى اوس وکيل دى ټاکلى وو غؤنډى له پښتانه لغړد ـ ګوليستان ـ اودولاخان کلاـ بوستان اۏپيرالى زولس کسان راغلى وو ـ اوبلوڅان د ـ کلات د ـ بيلو ترو ـ اوَد ـ مچ سيوى مرى اوبوګتى ـ تپے څه نيژدے پينځوس کسه راغلى وو ـ په سيند کى د ـ کراچى جوکماباد ښه ډله وه په پنجاپ کى د ـ ډيره غازى خانه مامدزم جان بى اے منوارى

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

سردارخېل راغلی وو ـ د ـ خاران ښاغلی نواب زادہ میرشابازخان په لاری د ـ سیوی څه ښاغلی جام نوروڵا خان هم راسره مل سوچی دغه وخت وړوکی تاسیلداروو اؤ د ـ لاټ هیندی ځانی کومکی (پرسنل انډین اسیټېټ) وو ـ د ـ دې غونډی نوې خبره داوه چی د ـ بلوچیستانه ښه ډېربلوڅان سرکاری نوکران هم پکښی راغلی ووبله داچی څومری د ـ بلوچیستان د ـ پولیسونوکران ـ اوسران ـ اؤښکومیان (جاسوسان) په دغه غونډه کی راغلی ووبیاماد ـ هیند په هیڅ بله غونډه کی نه دی لیدلی که څه هم موږ د ـ هیند کن مشران د ـ مېلمنوپه توګه راغوښتی ووخود ـ زمینداراخبار د ـ ښاغلی مولانااخترالی خانه په چپ هیڅوك هم د ـ باهره نه ووراغلی موږ جوکمابات له په هغه ړوز سهار ورسېدو چی غونډه پېل کېدله د ـ رسېدوسرہ خبرسوچی ښاغلی میرالی نواز خان ټالپورد ـ خیرپورد ـ ریاست نواب چی د ـ غونډی مشر (صدر) ټاکل سوی وود ـ ناجوړی په پلمه پاته سوی دی راځی نه موږ څوکسان له مخه هم په دې خبرووچی هغوی به نه راځی ولی هغوی په لومړی

سرکې په دې خبرکړې ووچې زه درتلاے نه سم خوخوداے دې چاربنه کې وې چې که زما په نامه تاسې ته څه بنه اوړې تاسې واياست چې مشربه دے وې چې زما ملوخوبنه کړله د ـ دغه نواب يوسکرتړې راغلې ووائود ـ هغوے څه ليکلې پيغامې راوړې ووچې زه جوړنه يم درتلاے نه سم تاسې ته دې خوداے کومك درکې چې ورروسته په غونډه کې ولوستل سو څکه موږ ته دستې داکارراوړانډې سوچې د ـ غونډې مشربه څوك وې ؟ ترغونډه وړاندې بناغلې نوروﻻخان راته وې چې «مشربه د ـ بلوچيستانه جوړه وو» زماګومان ووچې بناغلې ميريوسپ الىخان ياجام نوروﻻبه مشرسې خوچې جرګه راغونډه سوله جام زمانوم يادکې اوبناغلې ميريوسپ الىخانې مرسته وکړله ـ اوجرګې په ګډه خوبنه کړله ماوورته وويل چې زمامشرې وړنه ده ولې زه چې کامې کارپه کمه توګه کول غواړم په هغه کې د ـ انګرېزسرکارسيالى (مخالفت) سته اوسرکارخوزه په دې توړ(جرم) کې جېل ته هم لېږلې يم ـ اوپه دې غونډه کې سرکارې نوکران هم سته دې اوسرداران هم زما مشرې به د ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

هغوی لپاره تاوان وی ـ خو هغوی وایی چی موږ په غونډه کی اوڅپل په کامی کارکی هرومرود ـ سرکارسّیالی کول نه غواړو او نه موږ داغونډه د ـ سرکارد ـ سّیالی (مخالفت) غونډه ګڼو نو هیله ده ـ چی سرکارهم داسی نه ګڼی اوسرکاری نوکران به نه بندوی کله بندول بیاهم هغه وخت ګڼو ـ

# لوړې کامې غوڼډه اوزماوينا

داشان د - بلوچيستان د - خلکو پښتنو او بلوڅانو دالوړې کامې غوڼډه د - بلوچيستان د - سرکارى پولي (حدود) نه باهراوډ - سيند اوپنجاب د - بلوڅانوپه شراکت د - خبرپوړد - رياست د - نواب خېمو سامان اومالي مرسته اوډ - بلوچيستان اوسيند - لوېو زميندارو سردارانو اوسردار خيلو په پيسواوکومك زماپه مشرى کې پېل شوله چې يوشانته په سيند کې هم د - خيلاپته وروسته د - موسلمانانولوړې اولسى غوڼډه وه - ولي دغه وخت په سينداوپنجاب کې لاپه ټول هيندکى د - موسلمانانوڅه اولسى ډله ياټولي (جماعت) نه وه - موسليم ليګ د - اولسه پرې اوبېل د - غټواوانګرېز دوستو مشرانو يوه داسې ډله وه چې د - لوېوښاروپه اوچتوبنګلو او هوټلانو کې د - خلکو او اولس د - سترګوڅخه پټ به کله کله راغوڼډېده اوډ - اولس د -

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ګتې څه بېل يې د ـ خپل خانې ګټې وتې اوڅه د ـ انګرېزسرکارد ـ ښېګړې خبرې اوړېکړې کولې لوړے کار يې داووچې موسلمانان د ـ اولسې کاره د ـ انګرېزد ـ جګړې د ـ ميوادد ـ ازادې له منهواود ـ کانګريس له ګډونه راوګرزوې اوُد ـ سرکارد ـ ښاغلو(خطاب يافته) لويو زميندارانو اوُ نوابانو مشرې تے کښېنوې هغه هم په ډوبے ټولۍ کې وېشلې وود ـ ېوے مشرښاغلې ميسټرجنا وواوُد ـ بلې دا د ـ پنجاپ ښاغلې سرمامد شپې ـ کانګريس که څه هم په ټول هيند کې ووخوهرځاے ډېرے (اکثريت) پکښې د ـ هيندوانووو ـ اوکارے د ـ هيندوانوپه لاس وو ـ سېواد ـ روه (صوبه سرحد) نه چې هلته داکامې ډله اوُد ـ آزادې د ـ غورخوپرخواوُد ـ کامې جنګ د ـ ژدکړې داميدان د ـ ښاغلې باچاخان په مشرې کې پښتنوشازلمود ـ هيندوانونه په خپل لاس کې اخيستې وو اوُهلته ډېرهيندوان له کانګريسه بېل اوُد ـ انګرېزمل ګرې وو ـ لکه ميرچند کنه دوے ـ په نورهيند کې خوخبرد ـ هيندوانوډېرے (اکثريت) وو نو په کانګريس کې هم خود ـ هغوے ډېرے په کارو ـ

اؤېي موسلمانانوهم د ـ هغوې كارچلېده ځكه يې
ډېررې نه پكښى واهه خوناپښبه داوه چى په پنجاپ
اوسيند كى چيرى چى د ـ موسلمانانوډېرې (اكثريت)
ووهلته هم د ـ كامي جنګ اؤږدكړى داډكرد ـ
هيندواوسيك په لاس كى وو ـ اؤد ـ پنجاپ اوسيند
خپل چارو هيندوانو مشرانو لغړدانه چى د ـ كانګريس
كامى كارې موسلمانانوته نه رساوه اؤنه موسلمانانو
ـ روه رنګه خپل په ښندنو(قربانى) داكامى مورچه
اوګټميره ډله د ـ هغوې ځځه د ـ ځان كوله ـ لابه
داخپل چارى هيندوان مشران لګيا وو موسلمان يې په
كانګريس كى نه پرېښوو اؤ كانګريس يې خپل په لاس
كى ساته يوه خواته به د ـ دغى كامى مورچې نه د ـ
انګرېزسره جنګېده اوبلى خوا يې هم په كانګريس
انګرېزسركاراود ـ هغوې واك والان يرول زورېي باندى
اچاوه اوخپل د ـ خلګومات ګوډكارونه يې په جور ول
اؤلابلى غاړى ته يې د ـ كانګريس په نامه خپل خلګ
سره راغونه ول اود ـ ودى(ترقى) اوواك وه كاروته يې
تيار ول ـ د ـ موسلمان ځځه د ـ ده هرځه په ځاې
خالى دين نه د ـ دين نوم ووكه كامى كاروهم د ـ

www.kitabtoon.com كتابتون ټولنه

دین په نامه باندی اؤکه کامی کارووهم د ـ دین په نامه باندی اوَکی د ـ هیوادکارووهم د ـ دین په نامه باندی به ځینو مولایانو ځّپلی بېلی ډلی جوړی کړی وې ـ غّونډی پې کوڵې اؤد ـ غټانو رنګه د ـ اولسه بېل اولری هم نه ووخوځّپل په اوردو اوردو ویناوو کی پې تردې جهان اوڅّخکه زّیات د ـ اسمانو خبری کوڵې د ـ ملکو وزر اؤ مشوکی پې شمېرڵې یا پې د ـ نبیانو ډّروغ روشتیا نادربی (معجزات) بّیانوڵې یا پې پور دې وخت لګاوه چی زّمونږ نبی تر ټولو نبیانو اوچت اؤ د هغه په یارانو کی ټّلانکې تر نورو اوچت دی ـ دا شان پې د ـ دین پورنامه هغه زهر وه اولس ته وورکول په کم چی اته نه ه سوه کاله وّړاندی د ـ ایران اؤایراك (عراق) د ـ ویانو ډلی (واعظین) موسلمان اولس د ـ کاره ګّتهی اوَسربازی ایستلی اؤدرپه دره کړی وو ـ د ـ دے ټولوپاے داووچی که څه هم په هیند کی هرځاے په زّیاته په پنجاپ اوسیند کی هیندواؤموسلمان په یّوه مّخکه اوسېده ترېّوه سرکارلاندی وو خوپه لّوستو ـ ګّته ـ کار ـ ژّوند ـ دولت اؤپوهه کې د ـ مّخکی اواسمان بېلتون وو ـ که څه هم د ـ دې هېواد د ـ

دولت لوېيه پنگه چې ڼځکه وه زياته د ـ موسلمان په لاس کې وه خود ـ خپلوبدکارو ـ ځان ځانۍ ـ خپل چارۍ (خود غرضي ) او ناپوهۍ بدو دودو اوّ د ـ واك والانو د ـ بهواو موکوله لاسه په لوړه پوړو اوسودو اونالبنتو (مقدمات) اخته اود ـ «ضُرِبَتۡ عَلَيۡهِمُ ٱلذِّلَّةُ وَٱلۡمَسۡكَنَةُ وَبَآءُو بِغَضَبٖ مِّنَ ٱللَّهِ» (راغله پوردوے پې ارزی اوناداری اواخته سود ـ خوداے له خواپه کړاو) نمونه وو ـ زموږ غونډی ته که څه هم د ـ سیند ځینی مولایان د ـ دود په توگه رابلل سوی وو خود ـ بلوچیستان د ـ خلگوله خوادومری ډېر اولسی پریانونه (تجاویز ) وړاندی سوځوك د ـ زد کړی (تعليم) څوك د ـ سرکاری سرينښته (نظام حكومت) څوك د ـ دود (رسوم) څوك د ـ نوکرو ـ سوداگرواوگتی د ـ اوسنی سرینښتې د ـ غندنی اوبدلی غوښتنی په هکله وې ـ چی د ـ بلوچیستان د ـ ژوند هرارخ اوخوایه نیولے وه موږ به ډرے ژوزی د ـ سهاره ترنیمی شپې په دغواود ـ ډلی په هکله په څبرنواخته وو ـ د ـ مولیانو ویناوو ته اډو ووزگار هه م نه وو ـ یوپرین(تجویز) ښاغلی اودول رهیم (حساس ) اځگزی زماپه خوښه وړاندی

www.kitabtoon.com کتابتون پولنه

کې چې په بلوچیستان کې دې ښوونه (تعلم)په
پښتووی» ډېره زیاته ګرمه ځېرنه باندې وسوله ـ ځکه
چې د ـ بلوڅودانه وه ځوښه خوګلکه پلمه یه هم نه
درلوده ولې موږ دې ته هم تیاروچې د ـ هرچاوړوته
دې په خپله ژبه ښوونه کېږې خود ـ دوے ګومان
ووچې بلوڅې ژبه لاد ـ دې جوګه اؤ وړ نه ده ـ ګومان
مې دې چې په پاے کې موداسره ومنله چې «د ـ
پښتنوبچولومړې ښوونه دې په پښتووی» داهغه توخم
ووچې د ـ ډیروکامې جنګواؤ پښتنې غورخوپرخوپس
په دېرش کاله کې نن په متې د ـ ښاغلې جرنېل ایوب
خان په مشرې کې ترمارشل لا لاندې ایوبې سرکار
غاړه وورته ګښېښووله اؤهیله ده چې که په روشتیا
اوچپ د ـ څه چل وله وړاندې هم د ـ پاکیستان
سرکاردالاروچلوله اؤد ـ دې لپاره چې کومې نورې
خبرې په کاروې لکه په څه نه څه رنګ کې د ـ پښتنو
یو بېل خپل واکه ولات(صوبه) چې په هغه کې دوے
خپل ژوند اؤژواك خپل پورپښتووچلوی ـــ چې موږ
وورته «پښتونیستان» وایو ـ نوبه په پاکیستان کې د ـ
یوکروړپښتنوسوده وسې اؤیوازې د ـ دوے نه د ـ تول

هېواد د ـ ودې د ـ لارې يولوے خنډ به لرې سي ـ
ژماد ـ مشرۍ (صدارت) د ـ پرېکړې (فيصلے) نيمه
ګانټه پس غونډه پېل شوله ـ که څه هم د ـ نواب
خيرپوړ زموږ ناجوړه مشرله خواد ـ هغه سکترېوه
اوږده وينا په انګرېزۍ ولوستله خوښياهم ملګروماته
وې چې ته به وينا کوې اوماپې څه تياری خپله
لومړۍ وېناد ـ ګنوخلکوپه وړاندې وکړله ـ روښتيادا ده
چې ډېرزيات سام راباندې پړوت وو ـ اوڅه چې مې
ويل پوره په خپل واك مې نه دي ويلي خوښياهم مې
ملګرو وېناخوښه کړله اوځينو ميلمنويه داستاينه
وکړله چې د ـ خوانۍ په دې وخت زموږ ګومان نه
ووچې خوداے خبرته به څومرې د ـ جوش ويناکوې
پوړتادې شاباش وی چې دومرې په سد کې اوس سره
وينادې وکړله ـ
په لومړۍ غونډه کې خلک زيات نه ووچې ماتپوس
وکې مل ګرو راته وويل چې موږ پوره غونډه ټيکيټ
لګولې دې چې زماخوښه نه شوله.په دغه روزسهارپه
اخبارو کې داخبرراغلې چې انګرېزسرکارد ـ بمبۍ ولات
(صوبه) څه د ـ سيند بېلول و منل چې د ـ سيند د ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

خلکوپه زّیاته د ـ موسلمانانوزهره غوښتنه (مطالبه) وه ځکه وّروسته چی ملګرو زه د ـ مشر (صدر) په توکه په ښارکی، په وّرا (جلوس) بوتلم نوهلته مایوخاے داوویل چی د ـ سیند د ـ بېل ولات(صوبه) په خّوشالی کی به مور په غّونډه باندی ټیکیټ نه اخلو ـ

په جوکمابات کی می د ـ نوروګنهوخلکوسره د ـ ښاغلی مامد امین خان کوسه سره پېژاندګلوی وسوله چی هغه وخت نوی خّوان وو په الی ګړ (علی ګړه ) کې لّوست کول ښه پوه ژّونده اوُجوشی سړے وو ـ د ـ ښاغلی یوسپ الیخان سره وختنی پېژانګلوی وه زّمور د ـ غونډی پکارله لومړی سره لاراشریك وو ـ د ـ مولتان لومړی غونډی له هم تللی وو ـ داوخت هم د ـ غونډی لپاره راغلی وو ـ خود ـ ّپلاره داکارنه ووخّوښ اوُپه زوراوُخّوابدی یه بېرته کورته بوت ـ دغه خّوان بّیاپه الی ګړکی وکالت ووایه د ـ الی ګړد ـ شاګردانود ـ ټولګی (یونین) مشروچونل سو ـ اوُپه لومړی غّونډه کې خّپل په وینا (خطبه صدارت) کی د ـ بلوچیستان اوُزّمور د ـ ډلی په هکله ډېری ښې اوُ

پوهنتون - د - وه کړی خبری ډرنې
مشرډاکترسرزیاووډین (ضیاوالدین) د - پوهنځی
(کالج) نه ویوست خود - سیند اؤ بلوچیستان د - ګنو
خلکو د - تارو او غوښتنی (مطالبے) له مخی یه
بېرته واخیست - د - وکالت کولوپس سم دستی د -
سیند په کانګریس ګډ سو - د - کانګریس له خوّاد -
سیند اسمبلی لپاره - د - جوکمابات د - پلو(ضلع)
ترټولولوے زمینداراوبلوڅ سرداربنا غلی شېرمامد خان
بیجارانی په مخ کی غړی وچوټل سو- په کانګریس
کی خود - ملګروسره ونه چلېده خوپه اسمبلی کی په
زّیاته د - بناغلی الابخش د - وزیری په غورخوپرخوکې
ډېر زّیات اؤ بنه کاروکی - د - بلوچیستان په کامی
ډله اؤکامی کارکې تل کارکاوه تردې چی په کال
(۱۹۳۹م) کی د - باچاخان د - لومړی دورې
پورروخت د - هغوے په مخ کی زّمور پور اولسی غّونډه
چی د - میرجاپرخان اؤنوروجمالی زمیندارانوپه لمسه
کوم یرغل وسوپه هغه کی دغه مامد امین خان
پورتندی د - تبرزین په چیتو(پخه خّوا) وواهه
سوډېرسخت ټپی سواؤپورتندی یه د - ناپوه کام د -

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

خسمانڀ لوپيه اوْخرڳنده نخنبه پاته ڛوله د ـ ڪال (١٩٤٢مـ) په ڪامی جنڳ کی انگرڀز سرکاربندی کیۦ خود ـ هغه پوڕجوشی اوْپڀ آرامه انده (طبيعت) د ـ جڀل ژوند سم ونه لڳڀده ـ راووت خوڅان اوْزڙه يه په واك هم نه وو ـ ڪامی ڪارڀ پڕهنبوواے هم نه سو اوْ نه موڕ ملڳری خودغه وخت ڪامی ڪار ډڀر ڎڕاندی تللیۦ وو ـ نرم روه خلڳ پکنبی چلڀداے نه سو يا د ـ تر سر تڀروۦ ڪامی خلڳو ډله وه اوْ يا نڀغه سرڪاری ډله ـ دے د ـ يڎوڀ سره هم نه سو ڎلاے څوخله بدل رابدل سو ـ د ـ سرغولام هوسين هدايتولا د ـ سرڪار سرڀ څه وخت په تنخا د ـ جنڳ د ـ ڡرستی ڪار هم وکیۦ (نڀشنل وار فرنٹ)خو د ـ ده سرڪاری دوتر چی د ـ ڪراچی په رايل هوٹل کی وو اوْ خڀله دے به د ـ جنڳ تر ڪار ژيات په ڪامی ڪار لڳيا وو ـ خڀله پڀ هم دا ويل څڪه هلته هم ونه چلڀده ـ موسليم ليڳ له هم ولاڕ خو هلته هم ونه چلڀده ـ ولی خڀل ڪامی رو اوْ ڪامی دوستانڀ نه سو پڕهنبوداے ـ يو وخت ډڀرتڀز ڪميونيسٹ سواوْ په دغه روَ کڀ هم خڀل د ـ جوشی خوے له مخی ډڀره بنه پوهه پيدا ڪڕله ډڀر ژيات

کیتابونه یه ولّوستل اوْ په دې لار کې ډېر زّیات کار
وکې د ـ سیند د ـ کنښتګرو هاری ( کسان ) ډلی په
جوړولو اوْ چلولو کې ډېره لویه برخه ده ـ ډېر کارې
پکښی وکی اوْ ډېر خرڅ یې باندی کاوه په پاۓ کی
خّپل د ـ ډېری دینی مینی له مخی په پیر پرستی
اخته سو اوس هم ژّوندې دی ـ د پیر برچونډی ډېر
سخت مورید دی ـ ډېرې منی اوْ خرڅ هم باندی کوی
زّما سرې اوس هم ډېره خّوږه اوْ کّلکه دوستی ده سره
د ـ دې چی زه پیران اوْ پیری د ـ ایسلام اوْ
موسلمانانو د ـ بربادی لومړی اوْ تر ټولو لویه
پیلامه ګڼم اوْ دې خّپل پیر د ـ ایسلام سّتن او پیری
د ـ خوداۓ که نه وی د ـ پیغمبری یّوه برخه منی ـ
چی کله سره وینو پوړ دې شی مو ډېر وخت خراب
سی خو زّما ووړسره ډېره مینه ده پوهه اوْ ریشتونولی
یه منم او ډېرې خّوښوم ـ
په نوړو خاګو کی ډّوه نوی خّوانان د ـ ښوونځی (
سکول ) اوستادان اوْ سرکاری نوکران وو یو ښاغلی
مامد هوسین اونکا (عنقا) اوْ بل ښاغلی پیر بخش
نسیم ـ دغو ډّواړو بّیا ۊروسته ۊړاندی سرکاری نوکری

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

پړپښوولې ـ په کراچۍ کې یې د ـ ډلي اخبارونه چلول ـ نسیم خو هوړې پاته سو اوس هم هوړې دی او روزانه "بلوچیستان جدید" چلوی او اونکا بیرته بلوچیستان له راغی په څه نه څه رنګ کې کامی کار کوی ـ په کال (۱۹٤۷) کې د ـ کلات د ـ شاهزاده اودول کریم خان سره اوغانیستان له ؤلاړ چې بېرته راغله د ـ پاکیستان سرکار د ـ کلات د ـ جیرګې په خوله لس کاله بند ورکی په هری پوړ کی د ـ موږ سره او څه وروسته هم بندیان وو د ـ بنده پس یه د ـ بلوڅو ټوه ډله اوستمان ګل جوړ کی چې په پاے کی د ـ نوړو ډلو سره په نېشنل پارټي را ګډسو او تر مارشل لا پوړې د ـ کلات د ـ ښاخ سکتر وو د ـ مارشل لا پس په مچ او کوټه کی خو میاشتی بندی وو ـ اوسې پړې ایښی دی بل نوی سړے میر میتها خان مرے وو چې هم ماستراو سرکاری نوکر وو ـ

په غونډه کی مو د ـ ډېری خېړنی پس د ـ ډلی نوم "بلوچیستان اینډ آل انډیا بلوچ کانفرنس" د ـ بلوچیستان د ـ خلکو او ټول هیند د ـ بلوڅو ډله ـ خوښی کی او څه سم دوخت ( آیین ) مو وورله جوړ

کې ـ ژوندی اؤد ـ کار غړی یه ژیاتره د ـ بلوچیستان
یا بیا د ـ کراچی ځینی څوانان وو د ـ پنجاب اؤ نور
سیند ځینی بلوڅان په ژیاته غټ غټ زمینداران مو
په ناویسیا (غیر حاضری) د ـ کاریندھ اؤ نوروجرګو
غړی یا واړه مشران (نایب صدر) اخیستی وو ـ
د ـ غونډی ټول پریاڼونه (تجاویز) د ـ کراچی بناغلی
سیټ اؤدولا هاروڼ د ـ ډیلی د ـ لویی سرکاری جرګې
(سنټرل اسمبلی) د ـ تپوسو (سوالات) په رنګ کی
سرکار ته ولیږل اؤسرکار هم لکه څنګه چی دود وو څه
د ـ ټالولو جوالونه ورکړل ـ دا ګوا ژموږ د کال
(۱۹۳۲) کار وو د ـ کال (۱۹۳۲) په اګست کی په
بلوچیستان کی زلزله وسوله چی ډاډر اؤ مچ یه وران
کړل ـ بنه ډیر تاوانې هم د ـ سړو وکی اؤ هم د ـ
ودانو ـ پور کوټه یه ډیر بړید ونه سو خو بیا هم ډیری
ودانی وچاودې اؤ د ـ اوسیدو ووتې ـ دا ګوا د ـ
خوداے له څوا د ـ کال (۱۹۳۵) د لوی زلزلې یو
خبرداره وو ـ که هغه وخت موږ څپل کامی پوه اؤ
څواخوږی سرکار درلوداے اؤپه دې خبرداری یا
الباش یه څان پوے کړی واے نو د ـ کال (۱۹۳۵)

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

په زلزله کی به دومری تاوان نه ووسوی لکه چی وسو
ولی د ـ دے زلزلے پس په کوټه کی رېلوے والاوو
خپل خپنی چاودلی بنګلے رنګی کړلے اؤ د هغو په
ځاے یه د ـ زلزلے نه بچ (زلزله پروف) ځایونه جوړ
کړل چی د کال (۱۹۳۵) په زلزله کے هیڅ تاوان هم
ونه کی که خپل پوه اؤ خواخوږی سرکار واے نو د ـ
ټول ښار او تری سره هم دا کار کېداے سو ـ په مچ
کی د ـ جېل بارکونه روغ پاته وو خکه بندیان نه وو
پکښی زیان سوی خو د ـ زلزلے له مخه چپ ـ شمالی
اؤ سوهېلی دېوالونه ټول نرېدلی وو اؤ خپنی د ـ
پارے سپاهیان تر لاندی سوی وو ـ څه وخت خو
سرکار د ـ رنګو دېوالو په خوا کی د ـ پوج پاره
لګولے وه اؤ بیا یه ټول جېل ـ دمچ څخه ښین ته
راووست او هلته یه په هغه زړه پوجی کلا کی ډېره
کی چیرته چی یو وخت د ـ کلات خان خوداے داد
خان بندی وو اؤ اوسے رنګه کړے ده ـ

د غونډی په اوستری ژوز ښاغلی نواب بوګټی یو
پیغام رالېږلی وو چی یوسپ الی خان په ښه توګه ولوه
ست د کال (۱۹۳۳) په سر کی موږ د ـ غونډی پس

بیرته بلوچیستان له راغلو - د - بلوچیستان سرکار په
ما پسی پولیس ولګول تل به یې څارلم - په ګولیستان
کې د - پنجاب یو بلوڅ هوالدار (هېډ کنسټېبل) بېل
ځما د - څارلو اوُ زما د - ختو د - تپاسلو لپاره ولګاوه
- خو ځکه چې هغه سړے څه ځانی روشتونې وو اوُ بل
په ګولیستان کی ځکه تنګ هم وو چی خلګو په ډېره
سّپکه سّترګه ووړته کاته اوُ بنکومې (مخبریا
جاسوس ) به یې ګاڼه تر دې چی په لومړی سر کې د -
بازار تنور والا ډوډې نه ووړپخوله اوْ ده ماته ووېل اوْ
زه وورسره لاړم هغه تنور والا می پوے کی چی دا بد
کار دې ده ته یو سرکاری کار سّپارلې سوی دې چی
دے به یې کوی په دې کی د - ده ګرمه نسته - نو هغه
ست سو - ده شّپږ مّیاشتی پس ولیکل چی دلته هیڅ
داسی کار نسته چی زه وکم اوْ څه د - ګټې وی - دا
سړے هیڅ کار پټ نه کوی اوْ نه څه تاوانی کار کوی -
د - دې پس هغه بیرته وّلاړ - هم د - دغه کال په سر
کی می مشر وّرور د - کوّټې د - خینو ملو سره په
موټر کی د وچی ( خشکی ) په لار هج له ّولاړ - اوْ د
- هغوے تر بیرته راتلو پوری د - کوړ مّځکی اوْ باغو

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

کار یو وار ښیا زما په غاړه کې ولوېده ـ د ـ "بلوچیستان کانپرنس" کار خالی د ـ کارینده جرګے اؤ لویی جرګے (ایګزیکټیو کمیټی) تر غونډی پوری وو ـ چی په ډوه ډره میاشتی کی به مو کولے ـ لومړی غونډه مو په سیوی کی وکړله هلته د ـ مګسی سردار بنګله وه خو ښاغلی نواب زاده یوسپ الی خان لا خپله سردار نه وو مشر وروره سردار وو چی د ـ ده وسره جوړه هم نه وه ـ ځکه دے په هسکار ( قصدا ) په بنګله کی نه اوسېده د ـ بنګلے څه بېله یوه کوټه وه زه اؤ دے هلته اوسېدو ـ د ـ ده خپل بچی نه وو د ـ کشر وروړ مابوب الی خان مشر زوے سیپولا خان چی اوس ځوان دی اؤ تازه د ـ مارشل لا میانځګری شپږ میاشتی بند اؤ پینځه لکه روپی ډنډ یا لس بیته اؤ شپږ میاشتی بند په ده تور کی وورکړی دی چی ده تر مارشل لا وروسته خپل په هولکه جل مګسی کی چېری چی د ـ ده پلار سردار وو د ـ سردار یا واك وال په توګه څه د ـ پاکیستان د ـ ښے اؤ دوده چپ کاروونه کړی دی ـ دغه سیپولا خان هم د ـ خپل پلار په شان په لاهور کی د ـ یویونیټ د ـ

سرکاري جرګې (پراونشل اسمبلۍ) غړی وو دغه هلك
د - یونیم کال وو خو ښاغلی نواب زاده به د - خان
سره ګرزاوه - دغه هلك هم له موږ سره په هغه کوټه
کی وو - د - شپې به ډېر ژړل او له خوبه به ایستو -
په دغو شپو کی یوه روز ښاغلی مامدنسیم تلوی
چی هغه وخت لا پیر بخش نسیم وو راغی یو
سرکاري خت وورخخه وو وه چی زه د - نوکری
وایستله م خورا خوابدی وو زه د - ښوونی (تعلیم) د
ځانګی مشه ر ښاغلی شیخ اودول سمد له وورسره
ورغله م چی دغه وخت دلته په سیوی کی وو - ګومان
می وو چی زموږ د - اولسی ډلی له مخی له نوکری
ایستلی وی - خو هغوی د - ده په مخ کی راته وویه ل
چی نه نوکری له ډېری روزی نه دی تللی ځکه می
ایستلی دی خو کوره ودان زما په وینا یه بیرته په
نوکری کی پرېښوو خو په دغه پېښه زه په دې پوه
سوم چی ځنګه ځینې خلک کامی کار د - خپلو وړانو پردې
او وړانو مرادو سره جوړوی ځکه به می په وړاندی
ژوند کی د - هیچا سپاره ښت نه کاوه او که به چیری
ناچاره سوه م نو هم ښه لټون او پام به می کاوه خو

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ښیا به هم کله کله خینی ځېه ل چا اؤ مل کرو دوکه کړم اؤ ځپه ل کار ېه رانه واخیست په دې هکله دا یوه خبره لیکم چی د ـ دې نمونه سی څنګه ځپه ل چاری خلکه کامی کار ځپه ل د ـ مرادو اسره جوړه کی اؤسړی له دوکه ورکی ـ اؤ څنګه د ـ سپاره ښت کولو نه ځان ساتل په کاردی ـ د ـ بوړی مولا مامد سیدیك زخپېل د ـ هغه ځاے د ـ چا به ل سړی سره د څه مځکی په نالښه ت اخته وو په میاشتو به په کوټه کی په دؤتر کی اوسېده اؤ په سرکاری دوترو کی ېه ځپه ل کوښه ښ کاوه خو زما په خوېے خبر وو ماتې د ـ سپارښت نه ویه ل څه وخت پس یوه روز دے اؤ د ـ بوړی مشه ر مله ك اؤدول هلیم خان کودېزے راغله وې " د مولا یو ځپل په پلانکی سرکاری ځانګه کی نوکر دی اؤ څه روا کارې په ځپه ل اؤسر پوری بند دی اؤسرې هم پښتون اؤ ښتا پېژاندوے دی که ته یو خت راکې اؤ دومره ووړته ولیکې چی د ـ هغه په روا کار کی کومك ووړسره وکی نو دا کار به وسی " زما خوښه نه وه خو په ناچاری می خت ورکی هم په دې بول (وعده) چی ښیا به د ـ داسی کار نه

راته واياست ـ څو ږوزی پس دغه موِلا ځپله خبر کړه م چی دا دوِکه وه په سر کی هغه اوسر د ـ هغه مّيانځکه ر (مجستریټ) دوِست ووِ د چا سره چی د ـ موِلا د ـ مّځکی ناله ښت ووِ اوْ زّما د-خت دا مّرادے هغه ته ښووِلی ووِ چی د-هغه مّيانځکه ر ته د ـ موِلا سْپاره ښت وکه ډېره می ځوابده سّوله دوِے می هه م ډېر وزوِرول اوْ وّږاندی می دا ټينګ بوِل وکیِ چی بّيابه هيڅ رنګه سّپارښت نه کوم ـ
بله غّونډه موِ په کوِټی کی وکړله ـ اوْ ډّريمه په ايدراباټ ( حيدر آباد ) کی د ـ ايدراباټ غوِنډی له د ـ هغه ځاے ډېر غټ غټ بلوِڅ زميندار ـ چی بّيا ځينی پکښی د ـ سيند اوْپاکيستان سّتر وزيران اوْ وزيران سوِ لکه ښاغلیِ مير بندوِ الی خان ټالپوِر ـ ښاغلی مير غوِلام الی خان ټالپوِر ـ اوْ ځينی پيښنی بلوِچ اوسران هم راغلی ووِ ـ په دغه شّپوِ کی انګرېز سرکار د ـ روِه پوِر پښتنوِ وزيرواوْميستوِ له الووِتکوِ (هوايی جهاز) نه بمبان اچول اوْ په ټوِل هيند کی کامی خلګوِ په دے ځّپله ځّواشينی اوْ ځّوابدی ښّکاره کوله د ـ بلوِچيستان ّيوه غړی په

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

غّونړه کی پرېږ ۆړاندی کی چی " موږ د ـ دې کار غیندنه کوو ـ اۆ سرکار دی سم دستی دا کار بند کی " ژّموږ غتهان اوَ پینشنی مّله ډېر وار ختا سو ـ ډېره اوږده څېرنه پېل سّوله کله چې وې چی دا خو اولسی ( سیاسی ) خبره ده اۆ ژّموږ دا ډله اولسی (سیاسی) نه ده ـ چی د ـ هغې جواب به وسو بّیا چې وېِ چی دا خو د ـ بلوڅو غّونړه ده ژّموږې د ـ پښّتنو په خبرو څه ؟ اوَ چی دا وورته وویل سو چی د ـ غونړی مشر (صدر ) پښّتون دی اۆ دا غّونړه یوازی د ـ بلوڅو نه ده ـ د ـ بلوڅو اوَ د ـ بلوچیستان د ـ پښّتنو ګډه ده نو یه ڈوې ژوزی پس په ماته خّوله یو نرم شانته پرېږ ومانه ـ ژّما نوږ جوشی اۆ نوی خّوانان مل ګری په دې ډېر خّوابدی وو چی دا خلګ ولی داسی کوی خو زه هله هم په دې پوې وم چی دا غتهان بېل خلګ دی اوَ بېل مّرادونه لری چی د ـ هغو لپاره دې ډلی له راغلی دی اوَ موږ بېل خلګ یو اۆ خّپل مّرادونه لرو که نن نه وی سبا به ژّموږ لاری ځله ڈوې کېږی ـ هم په دې غّونړه کی د ـ ایدارابات اوَ سیندد ـ خلګو دا بلنه وه منله سّوله چی په دسمبرکی به کالیځه غّونړه په ایدرابات کی کوو ـ

# په بلوچیستان کې اخبار

څه وخت پس ما د ـ مل ګرو په ښوبنه سرکار ته د ـ
یوّ اخبار د ـ ایستلو لپاره درخواست ورکی چی هغوی
ومانه خو په دې توګه چی هیڅ اولسی (سیاسی) خبر
یا لیک به نه وی پکښې او څه نور داسی بندښتونه
چی زموږ په ګومان چپ د ـ واک والانو د ـ ویناوو
(تقاریر) دوُرو ـ دربارو ـ بدلیانو (تبدیلی) اوّ د ـ آسو
د ـ میدان (ریسز) بل به هیڅ نه سو پکښی
چاپیدا ے"

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

# په سرکاری خلګو کی کار

زه ډیلی (دهلی) ته ورلاړم اوُ د ـ لوی سرکاری جرګې د ـ نورو ښاغلو غړو سره می ښاغلی مولانا شپی داوودی ولید چی د ـ موسلیم کانفرنس ډلی ستر سکتر اوُپخوانے خیلاپتی کامی سړے وو ـ اوُ بل د ـ مدراس ښاغلی سید مورتوزا (مرتضی) بهادر چی کانګریسی موسلمان مشر راغلی وو خو څه وخت وړاندی پور دے خبره له کانګریسه بېل سوی وو چی کانګریس د ـ ډیلی په لویه سرکاری جرګه (سنټرل اسمبلی) کی د روه ـ (سرحد) د ـ خپل واکه ولات (صوبه) جوړولو مرسته نه کوله چی د ـ هیند د ـ موسلمانانو غټه غوښتنه (مطالبه) وه ـ دوے له سرکاره زما د ـ اخبار په هکله په جرګه (اسمبلی) کی تپوسونه وکړل د ـ سرکار له خوا متهکاپ جواب ورکی چی دا څکه چی په بلوچیستان کی د ـ اخبارو دود (پریس ایکټ) نسته د ـ اړخیځ (ضمنی) تپوس په جواب کی وویل چی موږ دا دود (قانون) په

بلوچیستان کې ژر چالو کول هم نه غوارۍ ـ نو ماته دوې ووېل چې ته مېیا سرېزل هوسین وونه هغه دا وخت د ـ هیند سرکار د ـ ښوونی (تعلیم) د ـ څانګی واک وال وو ـ ما هغوې په کور کې ولیدل ـ ډېر پوهـ ـ خواخوږی او زړور سړےوو ـ روښتیا دا ده چې په سرکاری موسلمانانو کې په زیاته د ـ سرانو په ډله کې دے یو سړے وو چې خپل د ـ سرکاری کورسی او نامه څښتن د ـ اولس لپاره څه کار اخیستل غوښتل ـ اود ـ کار اخیستو په چل پوهېده هم ـ په لومړی روزې زما د ـ اخباره سپوا ډوهې کانتې د ـ بلوچیستان په هکله راسره خبری وکړلې خانې ښه پوے کې او بیا یه ماته وهې چې د ـ بلوچیستان د ـ ټولو خبرو په هکله ـ اولسی (سیاسی) کامی ـ مالی ـ د ـ ښوونی ـ د ـ نوکرو د ـ اخبارو هر څه په هکله ماته یو یادانښت راکه بیا به زه پوره هغه کار کوم ما په ډوهې روزی کې هغه جوړ کې ور می کې ـ هغه واخیست او هلته یه په بیاتی خله پړهې کې خپل د ـ څانګی د ـ ښوونی (تعلیم) دایه کښېښوو او هغه نورهې خپل سرکاری سکتر ته ورکړل چې د ـ هیند سرکار د ـ بپلو

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

څانګو سکترانو لپاره د - دوی له خوا ولېږی چی دا د -
بلوچیستان په هکله ماته د - رارسېدلی یوه اوږده
یادداښت تهوکړه دی چی ستاسی په څانګه پوری اړه
لری ښه به مومنم که تاسی خپل په جواب ما خبر
کی په نورو خو بیا ډېر نه شوم خبر خو د - ده د -
خپلی څانګی ښوونی (تعلیم) په هکله یو وخت د -
بلوچیستان واك وال (سوپرنتهنډنټ) ښاغلی شیخ
اوډول سمد راته وویل چی نه پوهیږو څه چل دی ؟ په
کوټه کی د - پوهنځی (کالج) جوړولو په هکله د -
ډیلی سرکار ډېر ټینګ ولاړ دی - موږ ځایی واك
والان (انګرېزان)هر څه چی لیکو چی دلته پوهنځی
(کالج) نه دی پکار خو هغوی وایی چی نه جوړوو یې
- دا ټوله ټینګه د - ښاغلی میا سرېزل هوسین له خوا
وه - که څه هم ښاغلی میا پاته نه سو او بیا ژر د
کال (۱۹۳۵) زلزلې د - بلوچیستان هر څه پوړله
واړول - خو زما باور دی چی دا د - نن پوهنځی هم د
- دغه ښاغلی د - کوښښونو پایلی دی - د دې پس
ښاغلی میا ماته وویل چی ته ورسه د - ښاغلی
مولوی شپی داوودی سره د - موسلیم لیګ

سکترښاغلی سر مامد یاکوب سر مامد یامین خان ـ ډاکټر سرزیاوودین اؤ سر شپاات اهمد خان (سرشفاعت احمد خان)دوے وینه چې ټول د ـ اسمبلۍ غړي وو زه پے هم پوے کم چې دوے ټول د ـ بلوچیستان په هکله وایسراے ته یؤه جرګه بوزي اوس چې د ـ سیند اؤ روړه کار وسو مونږ له د ـ بلوچیستان خبره په بیړه اوچتول پکار ده ـ زه ؤلاړم دوے ټول مې بېل بېل ولیدل ـ خو کمه خؤاخوږي چې په ښاغلی مّیا کې وله د ـ هغې درك هم په دے نورو سرانو کې نه وو یؤه هم ځان په بلوچیستان نه دی پوه کړی ماته پے څه دا شان جواب راکی چې زه خبر یم ماته ښاغلی مّیا خبره کړے ده ته هغه نور وینه بّیا به مونږ څه وخت په خپلو کې خبره وکو اؤ تا به خبر کو یا پے وے زه پوه اؤ تیار یم ته پّلانکے وینه اؤ ستړے که ـ ژیاتره پے زه سر مامد یاکوب له لیږلم هغه له چې ورغلم هغه بّیا تر ټولو پرهوتی اؤ د ـ سرکار خوشامند ګر سړے وو ـ خو کوړے ودان چل باز اؤ ډروغجن نه وو خبرے سّپینه راته وکړله چې "مّیا خو زوړور سړے دی ـ داهېر لوے کاردی دا مونږچېری

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

کولاے سو د ـ کورنی غړی (هوم میمبر) اوُ نورو واك والانو نه ده خوښه دا به هله کیږی چی ښاغلی سر آغا خان راسی چی ډرے خلور میاشتی پس راخی ـ ته هغه ووینه ښاغلی میا به هم خبره وورسره وکی که د ـ هغوے خوښه وه نو به هغه موږ وغواړی د ـ هغه خبره یو هم نه اچوی ټول به راسو اوُ جرګه به بوزو پاته سوله ښتا د ـ اخبار خبره دا خیر دی ته په پلانکی وخت راسه زه اوُ مولوی شپی به متهکاپ ـ د باندینی سکتر له ورسو خبره به وورسره وکو زه په هغه وخت ورغلم اوُ دوے می وورولیږل متهکاپ وورته ویلی وو چی ښه دی چی تاسی ډواړه د ـ موسلمانانو د ـ ډواړو لویو اولسی ډلو (موسلیم کانفرنس اوُ موسلیم لیګ) ښتر سکتران راغلی یاست نو زه به د ـ بلوچیستان د ـ ایجنټ سره خبره وکم اوُ کوښښ هم چی هلته د ـ اخبارو دود (قانون) چالو کی اوُ بیا به تاسی خبر کم ـ نیژدے یونیم کال پس دغه کار وسو زه په جیل کی وم چی دا دود (قانون) چالو سو نیژدے لس کاله پس بیا یو وخت چی متهکاپ په کوټه کی ایجنټ وو اوُ زما اخبار ایستکلال (استقلال) یه بند

کی اؤ موږ په دې هکله جرګه (وفد) ورغلی وو هغوې راته وویل چی.مادا بندښت په خوښه نه دی لګولی ناچاره شوم ولی زه خو ستا اخبار خپل د ـ لاس نیهال ګڼم ته څه خبر یېې چی کله چی تا په ډیلی کی ښاغلی سر یاکوب اؤ مولوی شپی ماته رالیږلی وو اؤ ما وورسره بوڵ وکاوه نو د ـ هغه پس ما د ـ کېتر سره څومری جګړی وکړلې اؤ په څه خوارو مې هغه په دې ست کی چی دلته د ـ چاپېې دوډ (پریس ایکټ) ولګوی ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

## په موسلیم کانپرنس کی ګډون

د ـ دې ډروسته زه د ـ ښاغلی مولوی شپی داوودی
اؤ ښاغلی سید مورتوزا بهادر په بلنه د ـ هغوې په
ډله موسلیم کانپرنس وورګډ شوم د ـ دې ډلی څه
ناپېښه (عجیب) شانته دوخت(آیین) وو ـ د ـ هېواد
ټول غټان اؤ د ولاتو اؤ هېواد د ـ سرکاری جرګو
(صوبائی اؤ مرکزی اسمبلی) ټول چوڼ سوی
(منتخب) غړی یه د ځپلو (خود بخود) غړی وو ـ څه
ډېر انداز (چنده) یه وه ـ په اولس اؤ وګړو کې هم
غړی جوړېداې سو خو ډروسته چی زه په خبر شوم
دغه غړی چا نه جوړول اؤ نې جوړولو ته اړی بلله ـ
دغو غټانو به د ـ خرخ پیسې وورکولې اؤ کله کله بې
ځینی غوڼډو له هم په ماته ځوا راټله ـ نور بې هر څه
د ـ ښاغلی مولوی شپی داوودی په لاس وو چی د ـ
ډلی (جماعت) ښتر سکتر وو ـ کارینده جرګه یه
درلوده ـ ښاغلی پوهـ (علامه) سر مامد ایغبال

پنجاپیے یه مشر وو ـ اؤ د ـ هېواد خینی غټ مشرانیے غړی وو ـ ګومان می دی چی د ـ کادیان میرزا بشیروډین ماموت یه هم غړی وو ـ خو د ـ کارینده جرګیے غونډی له یے ډېر کم غړی راتله بناغلی شپی داوودی به په خوارو زارو یو یا ډوه د ـ کورم لپاره راواسته ـ ستره جرګه ایګزیکټو کمیټی یه هم وله چی د ـ هېواد ډېر غټان اؤسران یه غړی وو د ـ هر ولات خپله برخه وه زه هم په دغه جیرګه کی واخیستم ـ څه وخت یے زه هری عونډی له هرو مرو وورټلم نوی نوی مشران به می پکښی پېژاندل د ـ بلوچیستان په هکله به می خبری وورسره کولے اؤ پریانونه به می وړاندی کول اؤ دغه ما خپله ګټه بلله ـ څکه چی ما به په ډېر خرخ اؤ مینه هری غونډی ته ځان رساوه اوهلته که نور نه وو د ـ بلوچیستان په هکله به می ښه په بیړه ( Sariously ) کار کاوه ـ اؤ په دله‌کی داسی کسان ډېر کم وو نو د ـ ښاغلی شپی داوودی ډېر خوښ وم ډېر یے راته ویل چی په کارینده جرګه (ورکنګ کمیټی) کی راسه خو ما نه منل ـ څکه چی د ـ بلوچیستان کانپرنس اؤ موسلیم

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

کانپرنس غونډو له په ټلو راتلو اؤ نورو کامی کارو زما خرڅ ډېر زیات سوی وو ـ هغه می هم سره د ـ ډېری کم خرڅی نه سو چلولاے تل به پوروړی (مقروض) وو اؤ روزپه روز لا پوروړی کېدو ـ نو مانور خرڅ زیاتول نه غوښتل که څه هم د ـ کانپرنس سره پیسے وے که ما ښپله دا ناچاری وه ښاغلی مولوی ته ښوولے واے نو ځکه چی د ـ هغوے زه په کار وم نور مل ګرے غونډو له نه راتله نو کېداے سو چی هغوے ماته کومك راکړی واے خو ما نه وورته ویلی دی اؤ نه می وورته ویل غوښت دا خوے می ښپل په ټول کامی ژوند کی ساتلی دی تر اوسه می ښپل خانی خو پرېږده هیڅ کامی خرڅ هم پور چا مل ګری یا ډله نه دی اچولی هر څه چی سوی دی ښپل خانی اؤ کامی خرڅ می ښپله کړی دی چی څه می د ـ لاسه سوی دی د ـ مل ګرو سره یا خان له می پور ډله هم لګولی دی ـ ګومان می دی چی په بیلو لویو ډلو کی زما د ښوښېدو اؤ اند لویه پیلامه هم دا وه چی له چا می څه نه غوښتل اؤ نه می اخیستل ـ دغه وخت هم زما ښورمل ګری نواب زاده یوسپ الی

خان مګسی هم ډېر دولتمن وو۔ او هم د ـ ډېر لوے زړه خاوند پوړ ډله او کامی کارو ېے ډېر زیات او زیاتره د ـ بد خرڅی پوری خرڅ کاوه د ـ پنجاپ پوړ اخبارو ـ زمیندار ـ اینکلاب ـ ېے ېے شانه خرڅ کاوه نیژدے پینځویشت زره ېے باندی لګولی وی ښیا یه د ـ ښاغلی اوډول باکی (مولانا عبدالباقی) او ښاغلی باری په مشری کی یو بېل روزانه اخبار آزاد د ـ لاهوره پوړ ډېره لوېیه پیمانه را ویوست او ډېر زیات خرڅے باندی وکی او لکه چی د ـ سره لا څرګنده وه د ـ ېے اندازے بذخرڅی له مخی ونه چلېده او په څو میاشتی کی بندسو ـ د ډېرو خلکو او سرکار دا ګومان وو چی زما دا پیاوړی او لاس پراخه مل ګری به له ما سره هم لاس کوی خو دا خبره وه څینو ډېرو لږو نیژدے مل ګرو په زیاته ښاغلی اوډول ازیز کوړد او ښاغلی اونکا ته څرګنده وه چی ما یوازی دا لا نه چی د ـ دوے څه کومك نه اخیست دا لا هم وه چی خپل تر وسه به می د ـ ډلی په شریك خرڅ کی هم برخه وورکوله او کله به می د ـ دوے سره سمه وورکوله لکه په کراچی کی د "البلوچ" اخبار په خرڅ کی چی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

پینځوس روپۍ مّیاشت ډوے ووړکوټے پینځوس یه
له ما هم اخیستلے اۋ پینځوس پینځوس ښاغلی
نواب زاده اۋدوړل رهمان بوګتۍ اۋ ښاغلی سردار
میررسوړل بخش مېنګل ووړکوټے - یو ځل د - تېر
جنګ په شّپوړ کی موړ ډېرے کسان د - پېښور یوه
غونډی له راغلی ووړ اۋ چی واپس تّلو د - غونډی
ماله دوړے څه پوړ واخیستلے اۋ چی بیرته ورغلم
ووړکوټے می نے اخیستلے خو ما ناچاره کی اۋ هغه
پیسے می واپس ورکّړے - که څه هم ما ځان له څه نه
اخیستل خوړ ځکه چی د - ډلی اۋ مل ګروړ ټوړل خرڅ
می په ځان نه سوپوړه کولاے اۋ نه می تر پایه
داسی مل ګری هم پیدا کّړل چی د - ډلی خوړ پّرېږده
خّپل کامی یا ځانی خرڅے هم خّپله کولاے نوړ په
ناچاری به می بسپن (چنده) کاوه اۋ د - بلوچیستان
له خلګوړ که هیندوړ ووړ که موړسلمان که خّوار ووړ که
بډاے یا سردار به می انداز ټوړلاوه چی کوړے ودان په
ښه زّړه یے راکاوه اۋ تر ننه یه د - کامی کار لپاره په
پیسوړ تنګ کړی نه یم - د - وخت له سره به راته مل
ګروړ ویل چی د - ډلی سره څه غټه پنګه په کار ده اۋ

تاتې خلګ درکوي هم ته څه پیسې ټولې که اؤ د ـ ډلې د ـ چلاو لپارې ګټبېږده ـ چې نواب یوسپ الې خان ژوندے وواؤ هغه به دلې دوری پور پردو خلګو اؤ اخبارو ډېری پیسې لګولے نو ځینو ملو به راته ویل چې دا پیسې دے خوشي بربادوي ته وورته وواېه اؤ دے ستا منې چې د ـ بلوچیستان د ـ ډلې په پنګه کړے ورکې دا به ده له هم ښه وي اؤ ډلې له هم خو ما چې به ـ زیاتره ملو وه اړی اؤ د ـ پیسو اؤ خرڅ و مېنه ته وکتل نو په دے پوړے وم چې که هر کله پیسې مېان له راغلې د ـ خلګو څه به دا اوسنې مېنه اؤ ریشتینولې پاته وي اؤ پور پیسو به خله خوری ـ ځکه زه تر پایه دے ته تیار نه سولم چې پنګه ټوله کم اؤ روسته مې ډېر خله دااز مودے هم وسوله چې زما دا ګومان سم وو ولې هر کله چې به د ـ ډلې سره څه لږی ډېری پیسې پیدا سوې د ـ مل ګرو څه به کار پاته سو وراني پے پېل کړلے اؤ خله بېزاره به سو یو وخت "انجومن وتن" ته چا لغړی ډرې زره روپۍ وورکړې وې د ـ ډلې یو سکتر ښاغلې پیر کایم شا راته نیژدې سو وې "ستا سو به څو خرڅ لګېدلي وي چې موږ ے درکو" زما

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ډېره ښوابده ښوله خو هغه ته مي ورو وويل چې ما دا کار چېرې هم نه دی کړی اوډ ـ ځان يا د ـ ملو خرڅ مي تړم وانه خيست په ملو کی مي وروسته ځينو په زياته مير ګول خان او مولوی مامد اومر راته وويل چې درله اخيستل په کار وو ولې د ـ دوے دا بدګومانی وه چې دا خرڅ به هسې هم زموږ په نامه څوك اخلی خو ما خپل خوے پرېښو نه په ټول ژوند کی مي يو ځل چې د ـ ښاغلی مولانا آزاد او پنډت جواهر لال په وينا په کال (۱۹٤۵) کی ډرم څلور مياشتې په سيند کی د ـ کامی موسلمانانو د ـ چوړ کار وکی او په تګ راتګ موټرو او هوټلو کی مي نيژدم ډرم زره روپۍ ولګېدلې نو د ـ چوړ له پنګی مي دغه پيسې واخيستلې خو هم مي ځان له وانه خيستلې هغوے ته مي وويل چې دا پيسې تاسی د ـ بلوچيستان کامی ډلی (انجمن وطن) ته ورکی او هغو په چيك د ـ ډلی خزانچی ته ورکړلې بل ځل د ـ نيېشنل پارټی له پنګی څه د ـ ډلی مشر ښاغلی ملك اوډول الی د ـ پېښور د ـ دورم خرڅ له زر روپۍ راکولې لا يه راهم کړم ولی چې د ـ راتګ پور وخت

ډېر ښه د ـ کار اؤ مشرسړے چی کوړ اؤ بچی یه هم نه وو ـ نوړ کله به تل کار له په ګاډی یا لاری کی ته اؤ کله کله به پوړ پښنو هم ته دغه وخت په زیارت کی چی د ـ کوټی څه ٦٠ میله لری دی یؤ کار پیښښ سو چی هسی په ڈوه ژوزی اؤ لس روپی خرچ کېداے سو دا سړے ده ته وجوړېدی چی زه بہے ټیکسی نه ځم ـ سهار به ؤلاړسم کار به وکم اؤ شپہے له به راسم هر څه چی می پوے کی چی شپہے له نه سہے را نو څه کېږی ؟ دلته نو ستا څه کار بېرانېږی ؟ خو منلے نه لویه خبره یه دا وه چی پیسہے سته نو ولی یه نه لګوو ؟ اؤ پوړ هغه کاره هرو مرو خلوېښت روپی ولګولے ـ یو بل وخت زما د ـ جېل د ـ تلو بېره وه ـ په سیوی کی مو د ـ کاریندہ جرګے غونډه را وغوښتله ـ ما د ـ ډلی مشری پرېښوولہ بل مشر مو جوړ کی اؤ د ـ ځینو کارو لپاره مو ځینی کسان وټاکل چی ټول د ـ کاریندہ جرګے غړی وو ـ اؤ هغو له مو څه لږ ډېر د ـ میاشتی خرڅ کښېښوو ـ هسی هم د ـ کاریندہ جرګے پوړ ټولو خبرو ـ پرېکړو اؤ کارو دا بندښت وی چی غړی بہے د ـ باندی نه کوی اؤ په دغه پلا مو بیا په

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

تېینګه سره وویل  چی دا، خبری به باهر نه کېږی ـ خو چی زه کوټی  ته رارسېدم سهار له  شپږ بڼه د ـ کار سړی بېل بېل راغله اؤ دا نالبنتېے راته وکی چی دا کاروڼه اؤ دا د ـ  خرڅ پیسېے چی تاسو پّلانکی پّلانکی ته ووړکوړلے نو دا مانه سو کولاے ؟ اؤ که می پیسو ته اړی نه وه ؟ په دوړے کی یو سړے جان مامد کاکړ خو داسی خوابدی سو چی تر اوسه بیا ډلی ته نه دی را نیژدېے سوی ـ یو خل می د ـ بوستان  پوړ تېسن مولوی غولام هیدر باغی ـ چی اوس اؤغانیستان له د ـ پښتونیستان په کار پسی تللی دی اؤ هوړے دی ـ ولید اؤ د یّوے دوړے  خبره مو سره وکړله هغه تنګ وو اؤ له ما سره هم دغه وخت په لاس کی پیسېے نه وے نو می ووړته وویل چی د ـ ګولیستانه یے در ولېږم سبا له می دېرش روپی په منیاډر(منی آرډر) ووړولېږلے ـ د ـ ده د ـ کان میهترزی مّله چی په دے لږو پیسو خبر سوی وو ګومانے کړی وو چی دے لکه چی تل تړلے تنخا اخلی سخت بد ګومانه سوی وو ـ هر څه چی ده ووړته ویلی وو چا منل مولوی غولام نبی دوے خبره تر ما راورسوله  اؤ چی ما پوے کړل

چي دے ما ؐپلانکي خؐوا ته پوړ دوره لېږه دا پیسې به د ـ ده په لاړو مارو کي لګېدلې اؤ تاسي خبر یاست چي دے خؐپلي نه لري پکار خو دا وو چي ښتا سي د ـ خاے جرګے ووړکولاے اؤ چي تاسې هم یا نه سي ووړکولاے یا یه نه ووړکوی ما هم نه واے ووړکړي نو هغه کار خو به پاته وو ـ په خبرو خو پوے سو خو ؐبیا هم دغه لږو پیسو په دوے کي ډېر چاك پیدا کي ـ اؤ په پاے کي مولوی غولام نبي د ـ ډلي بېل هم سو هغه د ـ لومړی سر خبری خولادومړی ناپېښبه نه وه ـ اوس هم دا د ـ پیسو بنده د ـ مل ګرو پوړ پیسو څله خؐوړل اؤ د ـ ډلي پیسې په ناوړه ډول خرخول زؐما په مخ کي لوییه بنده وله ـ په کال ١٩٥٦ کي چي پوړ ما د ـ لاهور په ښتره میانځګری کي د ـ سرکار نالبنبت چلېده ـ د ـ وؐروړ پښتون د ـ یوه لؐوستي اؤ ښاغلي مشر سره د ـ ډلي نه سوه روپۍ وه چي زه ورغلم د ـ دؤتر هیڅ خرڅ نه وو ادا سوی اؤ پوړووړی وو چي تپوس می وکی وه هغه پیسې هم لګېدلي دي که څه هم ماته څه خرڅ نه ښکارېده خو برغ می ونه کی خزانچي اؤ نورو مل ګرو خبره تېنګه کؐړله اؤ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

هغه سړی لیکلی لګښت وړاندی کی چی زیاتره پکښی د ـ ده اؤ د ـ یوه بل مل ګری د ـ هغه یا نه خرڅ وو چی دوی زما په شخړه (مقدمه) کی د ـ ګواهی لپاره د ـ منځګری په غوښتو تر لاهوره پوری کړی وو د ـ کوم لپاره چی سرکار هغوی ته د ـ دویمی ګاډی (سیکنډ کلاس) باړه اؤ نور خرڅ هم وورکړی وو ـ ناپښبه لا دا وه چی د ـ ده په جواب کی د ـ ډلی خزانچی هم ډری څلورسوه روپی لاندی کړی اؤ وی بیی چی د ـ ده نی واخلی نو زه بیی هم درکم ـ په کال (۱۹۵۸) کی تر مارشل لا لږ وړزی وړاندی چی ښاغلی مولانا باشانی د ـ بلوچیستان پور دوره راغلی وو په دغه وخت کی زما ډوه مل ګری ښاغلی اکبر خان اؤ ښاغلی پزل احمد غازی له ما خوا بدی وو اؤ د ـ لویدیځ پاکیستان د ـ نیشنل پارټی مشر ښاغلی باچا خان اؤ ستر سکتر ښاغلی مامودالی تی نالښتونه کړی وو په دغه وار باچا خان په کوټه کی ډواړه راوبلل اوځان له یه زما په مخ کی تپوس ترڅوکاوه چی څه نالښت اؤ خوابدی لری نو ډواړو چی لوستی اؤ پوه خلک هم وو دا نالښت وکی

چی دے د ـ ډلی ځینو غړوته‌د ـ ډلی څه سپوا پیسې
ووړکوی ـ باچا خان ډیر هیښبه (حیران) سو اوْ وورته
وې ویل چی دا کم بد کاردی داسی کومک خو زه هم
د ـ ځینو غړو سره کوم اوْ چی ما په دې خبر کی چی
دا لغړ ډوه کسان دی یو ښاغلی انجم کزل باش چی د
ـ ډلی د ـ دوْتر سکتر دی اوْ د ـ ډلی څه خالی
پینځوس روپی د ـ میاشتی اخلی چی ډیری لږ دی ـ
اوْ هغه کله کله زما څه ځانی د ـ ټایپ کار هم راله
کوی زه به د ـ ځانه پینځوس روپی نوری ووړکوم اوْ
بل یوْ ډیر ښه اوْ هر وخت کار ته تیار غړی ښاغلی
اوْدول خالیک خان کاسې دی چی کوږ اوْ بچی هم لری
اوْ بلې د ـ ګوزارې هیڅ درك نه شته زیاتره وخت له ما
سره په هوتو هوتو په دوره کی وی نو زه د ـ ګوزارې
لپاره څه پیسې ووړکوم اوْ دوے هم دا ومنل چی هو
زموږ نالښت هم د ـ دغو دوو په هکله دی ـ نو باچا
خان هیڅ ږغ ونه کی اوْ د ـ دوے نالښت په ځاے
پاته سو ـ خبره اوږده سوله خو ماته دا بنده تل وه اوْ
اوس هم شته ګرانه لا دا ده ـ چی په بلوچیستان کی د
ـ سرکاره ازاد ـ ګوزارے وال میانی خلګ ( مډل

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

کلاس ) ډېر کم دی یا نسته که لږ ډېر دی هغه د ـ
جرګو ـ لېوېزو ـ اۊ نمبردارو په سرکاری لومو کی
راګېردی ـ
دا خلګ بّیا لکه هر ځاے چی د ـ پښتنو ملکان اۊ
سرداران وی سرکار دومری په توزنه هیله لهولی وی
چی هیڅ کار د ـ بل خو پّرېږده ځپل هم تر هغونه
کوی اۊ نې کولاے سی چی بل څوك دوے ته وّړاندی
څه موك ورنه کی ـ په دوے کی ډېر ځّپلی شریکی
مّځکی اۊ کارېزونه تر هغو نه اباتوی نه کار پور کوی
نه نور شریکان کار ته پّرېږدی ترڅو چی شریکانې د
بګری په نامه یا نېغ څه نغدی پیسې موك ورنه کی
ـ یو ځاے دّوه داسی هم وسوله چی په دوے کی ځینو
ته د ـ کروندے ځانګی د ـ نواب موستپا خان (نواب
مصطفی خان) په وخت کی پور شارو مځکو یه
سرکاری تکاوی باغونه ووړجوړول اۊ ماته ځّپله نواب
موستپاوویل چی دوے زّما په کار کی د ـ دے لپاره
بندی اچوی اۊخرابوی یه چی زه د ـ دوے د ـ دے ځّپلو
پور (تکاوی) پیسو څخه څه نغدی د ـ موك په توګه
ورکم ـ زړے خبری خو څه کوے اوس په کال (

۱۹۵۸) کې تر مارشل لا لږ ړوزې وړاندې چې باچا خان کابل ته تللی وو اؤد ـ چمن په لارې بلوچیستان ته راته د ـ شاهي جرګې یو کاکړ غړی ناساپې د ـ نېشنل پارټۍ دؤترته راغی زه خان له کړم راته یه وه چې " ډېر مې زړه کامې کار ته غواړې اؤ په چلې هم ښه پوهېږم خو څه وکم لاس مې ډېر تنګ دی کنې نو یو زه اؤ یود ـ شاهي جرګې پلانکې غړی چې هغه هم زما مل ګرې اؤ د ـ خولې دې که ولاړ سو نوټول بلوچیستان ولاړولاړ سو ولې پلانکې خپل زما خپلوان دی ـ پلانکې مې خپښان اؤ پلانکې مې دوستان دی ـ پلانکې د ـ ده اخښې دې اؤ پلانکی سرې پرڅ ده ـ په پلانکي خاې کې موږیدان دی ـ خو ته ما اؤ ده ته دومرې پیسې راکه چې موږ پوړ پښو ودرېږو ته خبر یې زه هم څه نه لرم اؤپوړ ده خو د ـ سرکار هم اؤیا زره روپۍ تکاوي باندې ده اؤ نوړ هم پوروړې دی " زه ډېر پرېشانه سوم چې دا خواران ساده پښتانه انګرېزانو اؤ د ـ پښتنو نورو دوښمنانو په څه بد خویو اخته کړې دې اؤ د ـ کامې خلګو زموږ اؤ زموږ د ـ کامې ډلې په هکله یه په څومرې خرپامې

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

کنبې اچولی دی ما وورته وې " سرداره ته چې کامې کار کول غواړې نو خو خپل ځان خپلو بچو او کام له یې کوې نو پیسې له ما ولی غواړې زما کار خو به نه کوې او نه به ځان او کام پور ما خرڅوې ؟ " وې هو کار خو مې خپل دی خو ملګری یو د ـ بل کومك خو کوی " ما وې " ته خبر یې چې زه خوار سړے یم دولت من نه یم نو زه به په دې هکله ستا څه کومك وکم چې ډېر وی نو چې ته چیرته ځې او خرڅ دی نه وی نو د ـ لاری خرڅ به درکم نور نو زما او زما د ـ ډلی په لاس کی څه دی ؟ کامونه د ـ چا په کومك نه ودانېږی دا کار د ـ خپل خپل واکه او خواخوږی سرکار د ـ ولات یا د ـ هېواد په کومك ودانېږی چې کارخانې جوړی کی ولې وباسی ـ رودونه وتړی ځنګلونه او مځکی ابادی کی " وې " ولی اوس به باچا خان د ـ کابله لږ پیسې راوړی " زه نور هم هك پك پاته شوم چې خودایه پاکه باچا خان خوار چې په تېر ځلې په کابل کی د ـ باچا د ـ سوغات پټو هم سره د ـ هغوے د ـ خوابدی بیرته واپس وورکړی وو او هلته خپل د ـ ډوډی خرڅ د ـ سردار داوود جان د ـ

ناخوښي سره ډېر کم کړې وو د ـ هغه په هکله د ـ سرکاري پښتنو دا هیلي اوګومان دی ـ سړے می د ـ خان سره روان کی. هکیم مولوي نور مامد له می ورووېست چی وینا یه واوری اؤ پوے یه کی ـ
بل لوستي خلک ډېر کم دی په زیاته په کلو کی خو داسی وبوله چی نسته چی وی هغه په څه نه څه سرکاري نوکري اخته وی که څه هم ګټمېره نوکري اؤ اوچت ځایونه پنجاپیانو اؤ نورو ورچینو خلکو نیولی دی خو دوے هم یؤ نه یو ځاے اتال وی ځکه په کلو کی د ـ اولسی ډلو د ـ کار لپاره لږ ډېر لوستي سړے نه میندکېږی چی مینده سی نو هغه زیاتره ښاری خلک وی اؤ په بدخرڅو اخته وی یا باندی مین وی ـ که بېکاره هم وی خو چی ګوزاره غواړی نو هغه دومری وی چی دے د ـ خپلو بد خرڅو ارمان پکښی کښاے سی ـ یوه لوستي سړی چی نه واده لری اؤ نه بچی خپل هم په ښار کی دومری جایداد لری چی دڅه سوه روپی د ـ میاشتی باړه وراځی خان کامی سړے هم ګڼی جبل له هم په وار وار تللی دی اؤ ښه په مړانه یه تېر کړی دی ـ ماته ویل چی زما خرڅ ـ ب

خرڅی ـ دومره ده چی زه نور کامی کار نه سم کولاے که ته پینځه سوه روپی د ـ میاشتی راکوهے بنه کنی له ما پاته ده ـ دا شان زیاتره لوستی خلک کامی کار د ـ ځان لپاره روزګار جوړول غواړی تر ننه لما ډېر مل ګری جلا سوی یا پور لاری پاته سوی دی خو یوْ هم پے پیسو پور بل شی نه بېل سوی اوْ نه پاته سوی دی ـ د ـ دے یوه چاره خو هغه ده چی ښاغلی باچاخان نیولے ده تر اوسه یه راچلوی ـ اوْ تر ډېره ځایه یه سرته هم رسولے ده چی نه د ـ چانه څه غواړی نه چاته څه وورکوی نه خپل په خرڅ تګ راتګ ځان خبروی اوْ نه د ـ ملو یاډلی په دے که به چا څه بندوبست کړی وو نو په موټرکی به ته کنی پور پښو به روان وو که به څه وو وہے خوړل کنی په لوږه پے هم وخت اړاوه لا دا چی نور مل ګری پے هم ډېر خرڅ ته نه پرېښو ـ داروْ په روه کی په زیاته په مردان اوْ پېښور کی ځکه ښه چلېداے سو ـ چی یو خو هلته د ـ سرکاری خلکو نه سېوا هم آزاد میانی لږ ډېر لوستی خلک وو ـ اوْ بل اوْلسہے ګنی اوْ نیژدے نیژدے لوے لوے کلی وو ـ د ـ بلوچیستان رنګه نه وو چی نه ازاد میانی خلک لری

اوٌ نه لوړے لوړے کلی ـ سل یا ډوه سوه کوره کلی به په ټول ولات ( صوبه ) کی په شمار شل هم نه وی خلګے لږ اوٌ تیت پرٌاته دی په غرو شلو اوٌ دښتو کی ډوه ډوه یا لس لس کوره کلی دی ـ اوٌ په هغو کی هم زیاتره یو نیم سړے په څه نه څه توګه په سرکار پوری تړلی وی اوٌ هغه نور بیاد ـ ده په خپلوی تپه اوٌ پره پوری ـ په روه کی د ـ پښتنو شریکی مځکی د ـ انګریز د ـ راتلو سره په چل ول یا سادګی اوٌ ویسیا ( اعتبار ) کی څو تنوخانانو د ـ اولس نه لاندی کړی دی اوٌ هلته په سلو کی اتیا کسه پښتانه داسی دی چی د ـ خوداے پاك په ده ویره دونیا کی یو څپك ( څلور ګوتی یا یوه ګیره ) مځکه هم د ـ خان نه سی بللاے ـ کښت کرونده یاخرخول رانیول خو پرٌیږده دا خلګ هیچیرے هم خان له د ـ استوګنی یوه کوډل څپر ـ خارګا ـ سمڅه یا کوټه هم نه سی جوړولاے تل به د ـ خان په خوښه د ـ خان په کوټه (کنډر) کی اوسی ـ ده زیاتوب هلته په اولس کی ډوه ډلی پیدا کړی دی چی د ـ یوه زیان د ـ بل تکیه ده څکه د ـ خان او سرکار په هره کمزوری کی اوَ د ـ اولس واکی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

(جمهوريت) په هره توګه کی د ـ روړه (صوبه سرحد) د ـ دغه ځوا راوړلس چی په سلو کی اتيا لا زيات دی هر پوړه يا لوستی سړی د ـ خان ازادی ساهوتوب اؤ سيالتوب ليده ـ اؤ د ـ آزادی اؤ اولس واکی (جمهوريت) د هری چغی مل ګری وو ـ خو په بلوچيستان کی د ـ ښه مرغه سنډيمن د ـ پښتنو د ـ مځکی سره ځکه دا چل نه دی کړی چی زموږ مځکه زياتره شاړه وه سرکار تړے څه ګټه نه لرله نه په بندوبست اؤپټواری ارزېدله اؤکمه چی تر کارېزو لاندی اؤ ودانه وه هغه د ـ امد شا بابا د ـ کامی اؤ خپل واك سرکار په برکت پخوالا ويشلے سوے وه او د ـ هر سړی خپله مځکه په خپل لاس کی وه ـ ځکه د ـ بلوچيستان هيڅ داسی پښتون نسته چی هغه دی يو خاے يا بل خاے "خپل په کامی " مځکه کی ونډه نه لری چی هغه دے د ـ خان بللاے سی اؤ چی بل خاے خوښ نه وی نو په خپله خوښه پور اوسېدلاے سی ـ ځکه دلته د ـ خوار او خان هغه ډلی چی په روړه (سرحد) کی وے او شته دلته نه وے نه شته د ـ بلوچيستان په پښتنو کی د ـ انګرېز تر راتګ وړاندی

زّیات اوْ اوس هم لږ لږ خان په دسترخان وی ـ چا
چی به د ـ اولس خسمانه کوله د ـ اولس په جنګ کی
به د ـ مخه وو لومړے ګوزار (وار) به ده اوْ د ـ ده
کورنی کاوه اوْزغامه ـ مېلمانه یې لرل اوْ په خّوښه یې
خّوروْل د ـ مرکې په وینا اوْد ـ اولس په جهړو جاړو
به پوهیده اوْ پسی کړیده هغه به خان وو په
سرکاری اوْ اولسی مرکو کی به د ـ اولس له خّوا
ګایده اوْ جنګیده ـ خو چی انګریز راغی نو یه د ـ
خانی رنګ لږ بدل کی د ـ نورو خبرو سره د ـ
سرکار اوْ سرکاری واك والانو خوشامندی او نیزدیکت
هم د ـ خانی نخنبه کّرله ـ وّرو وّرو لغړ د جرګې
میمبری ـ سرکاری ملکی جاسوسی د ـ لیویزو تنخا
اوْ خوشامندی د ـ خانی نخنبی سّولې خانانو د ـ
سرکار په ډاډ پوړ اولس څه زور زّیاتے اوْ څه شکونه
خو پیل کړے وه اوْ د ـ خلګو مّخکی یه هم وّرو وّرو
رانیول اوْ لاندی کول پیل کړی وو خو لا وه هغه خاے
ته نه وو رسېدلی لکه د ـ روڅ (سرحد) خانان ـ په
دے لار کی بله بنده دا هم وی چی وه باچاخان ته هم
وورپېښبه وه چی د ـ لویو خانانو سره چی تل د ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

اولس واکه ډلی دوښمنان اوٚ غلیمان وی په اولس کی اوچت لوٚستی اوٚ پوهـ خلګ چی تل په ډیرو خرڅو اوٚ ډیرو ګټو اموخته اوٚ پسیے وی په سٚپوره ډوډی اوٚ لږ ګټه ګوزاره نه سی کولاے اوٚنیے د ـ ځان وړ بولی دا خلګ که څه هم اولس واکی (جمهوریت) خوٚښوی خو د ـ هغه لپاره تاوان اوٚ سختی ( قربانی ) نه سی ګلولاے ـ ځکه دوے د ـ کامی ډلی څه تل لری اوسی اوٚ په سرکار پوری نښتی وی که هغه کامی وی که پٚردے ـ کامی ډلی له کله کله اوٚ ځینی ځینی راځی اوٚ هم هغه وخت چی ډله څه نه څه سرکاری واك پیدا کی اوٚ دوے په دے پوهـ سی چی د ـ ډلی په مٚرسته هم د ـ سرکاری جرګو کورسی (اسمبلی ممبری) یا وزیری پیدا کیداے سی اوٚ راځی هم لغړ د ـ دغه مٚراد لپاره اوٚ دا د ـ ګټی ځایونه دوے د ـ خٚپلی پوهی اوٚ زٚدکړی له مخی لغړ د ـ ځان ونډه (حق) ګڼی اوٚ چی دا وخت راسی نو د ـ ډلی مشران اوٚ غړی په ناچاری دغه ځایونه اوٚ کورسی هم دغو خلګو له ورکی ـ د ـ پښتنو په ډله کی ـ ډاکټر خان ـ یا یاخان ـ غنی خان اوٚ کیوم خان کشمرے کایم شا باچا هم دا شان خلګ

وو دا بېله خبره ده چې په دوے کې زیاتره د ـ باچاخان خپلوان هم وو که دا خپلوی نه واے هم یه دا خایونه دوے ته یا د ـ دوے شان نورو لوستو اؤ پوے خلګو ته رسېده په ډله کې د ـ دوے د ـ کار له مخې نه لغړ د ـ دوے د ـ پوهې له مخې په دغو پوے خلګو کې کله کله خواری کنس اؤ باوری خلګ هم پیدا سی خو ډېر کم لکه ښاغلی خان لالا (امیر مامد خان) اؤ ماسټر اؤدول کریم خان ـ هر کله چې داسی وخت راسی نو په ډله کې چاك اؤ بېلتون پیدا سی ـ یوه خوا ته د ـ ډلی لږ اؤ د ـ شمېر پوه خلګ پوردہ کورسو خله وخوری ولی کورسی اؤ وزیری لږ وی تولو ته نه سی رسېداے نو چاته چې ونه رسېږی هغه یا خو وړانے پېل کی ډله یه وباسی یا خپله د ـ ډلی بېل سی ـ ښاغلی سمین جان خان اؤ ښاغلی مامد جان خان بیرسټر دا شان وو ـ اؤ بلی خوا ته د ـ ډلی لږ لوستی خو د ـ کار اؤ خان ښندنی (قربانی) خاوندان دا د ـ خان سره زیاتے وکنی اؤ وړانے پېل کی یا په کورسو پسی وښوېږی بلی ډلی ته وړلاړسی یا ډله پرېږدی ـ ښاغلی جاپر شامیا ـ ارباب اؤدول غپور ـ سالاراسلم

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

خان اؤ غولام مامد خان د ـ لوند خوړ دا شان خلك وو ـ دغه وخت ډله د ـ خوريدو بچ کول اؤ ژغورل د ـ مشرانو تر تهولو ګران کار وی اؤ هسی هم د ـ لوستو اؤ پوهو خلګو د ـ کومکه سیوا یوه ډله چلول لکه باچاخان چه چلوی ډیر ګران کار وی که څه هم دا روشتیا ده چی د ـ ډلی واك اؤ زور خو په هغو خوارو نالوستو یا لږ لوستو خلګو وی چی د ـ ډلی د ـ مراد (مقصد یا نصب العین) لپاره د ـ مشرپوروینا په تپوسه تلاے سی یا خی خپل سر اؤ مال ښندی اؤ ځان له هیڅ هم نه غواړی د ـ اولس د ـ ښیګړی لپاره ځان هم کړولاے سی اؤ د ـ لاس ویښو خسمانه هم کولاے سی خو د ـ نن ورزی د ـ سرکار ګران کار خپل د ـ لږ لوستو له مخی نه سی کولاے اؤ نه د ـ ډلی هغه کارونه کولاے سی کم چی په زډکړه پوری اړه لری لکه د باندینو خلګو ته پرمه پیژاندڅ (پروپیګنډه) کول یا د ـ سرکار اؤ نورو خلګو د ـ پرمه پیژاندے جواب کول ـ چی د ـ ډیرو لوستو خلګوکار وی څکه خو د ـ باچاخان د ـ ډلی دغه اړخ تل نیمګړی راغلی دی تر اوسه پوری د ـ ډلی یا د ـ هغه

د ـ مشرانو اؤ مّرادو په هکله څه کیتاب نه دی لیکل سوی ـ په هیڅ وخت کی هم د ـ ډلی خّپل څه داسی اخبار نه وو چی هغه دی په هېواد کی دوست دوښمن اؤ ناولده خلکو لوّست لکه ـ کانګریس چی په سوونو داسی اخبارونه لرل چی پّردی خلک یې هم د ـ اخبار په توګه لوّستو ته اړوو ـ چی ډېر وو نو یوْ وخت د ـ باچاخان خّپل اخبار پښتون وو ـ هغه هم نه تر پایه روزانه سو اؤ نه داسی وو چی لکه د ـ ګاندی جی اخبارونه چی زّیاتره به هغوی خّپله لیکل اؤ یا ډېرو اوچتو پوهو خلکو اؤ نې کله څوك اوچت پوه چلوونکی (اډیټر) هم وو ـ یوْ نیم لیك به د ـ باچاخان خّپل پکښې وو ـ اؤ نور به د ـ نیمو لوّستو اؤ ځّوانانو پښتنو د ـ هېواد د ـ مینی لیکونه اؤ پوهیتی وه زّیاتره به د ـ ډلی خلکو لوّست یا ځینو نورو پښتنو نه چیری د ـ باچاخان په ډله کی هیچېری هم اوچت لوّستی خلک وو ـ په کال (۵۳ـ ۱۹٤۸) کی چی موږ په هری پور کی بندیان وو په ټولو کی یوْ تن پکیر مامد (فقیر محمد) وکیل وو یو ښاغلی شیر دل خان اؤ یو غنی خان لوّستی سړی وو ـ دّوه تنه ښاغلی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

کازی اتاووړلا اؤ ولی خان په مچ کی اؤ یؤ ښاغلی ماسټر اؤدوړل کریم خان په پېښور کی ـ دا نوړتوړل څلوړ پینڅه سوه کسه نیم لۆستی وړ اؤ یا مخ له نالۆستی ـ تر دې چی ما چېری بل تر لسمه لۆستی هم نه پکښی ولید ـ ښکاره ده چی د ـ کام اؤ هېواد توړل هغه لۆستی خلک چی ژموږ په ډله کی نه وړ پې کاره ناست نه وړ یا سرکاری نوکران وړ یا په سرکاری ډله کی وړ ـ اؤ د۔ دباندینوړ خلکوړ په وړاندی په سرکاری خلکوړ شمار وړ ـ تر دې چی ژیاتره غړی سپین ږیری اؤد۔کال (۱۹۳۰) زاړه مل ګری وړ خوانان هم ډېر کم پکښې وړ ـ د ـ ښوونځوړ اؤ پوهنځوړ شاګردان خوړ می پکښی وهم نه لیدل ـ یؤ ښاغلی جان زیب خان د ـ باچاخان خوریے وړ هغه هم وروسته بیا په خپلوړ لوه ستوړ پسی وړلاړ ـ دا ځکه چی د ـ سره تر دغه وخته دا ډله په جنګ اخته وه اؤ هر وخت یې غړی د ـ بند اؤ تاوان په یره کی وړ اؤ لۆستی خلک دا کاروړنه نه سی کولاے په ژیاته د ـ پښتوړن رنګه د ـ پړېوتی کام لۆستی خلک خوړ په چرچوړ غوړوړ زیروړ ـ ښه خوراك ښه پوړښاك اؤښه ژواك پسې وی چی د ـ ډلی سره وی نه اؤ

د ـ سرکار په نوکرۍ کې په اسانه پیدا کېږي نو دوے په هغه پسپې وي د ـ دوے زیاته کام ولي چیرته وینا (تقریر) نیمه وي یا یو جرګه مرګه (ډیپوټېشن) یا څه د ـ پوهنی څېړنه(بحث مباحثه) بل دوے د ـ ډلي مشري اوکورسی د ـ خان برخه (حق) ګڼي په پښتنو شاګردانو کی جوش ـ د ـ کام او هېواد مینه وي او کړاو هم تېرولاے سی خو زیاتره د ـ خپل سروی نه او مشرانې لوست هم دې له په کوی چی وړوکی تاسیلدار به سی نو هغوے یه کامی کار ته نه پرېږدی ـ ځکه خو تر اوسه پوری د پېښور د ـ ایسلامی پوهنځی (کالج) او پوهنتون شاګردانو د ـ پښتنو په کامی ډله کی هیڅ کار هم نه دی کړی ـ ناپېښبه لا دا ده چی لوستی پښتانه تل دا نالښت کوی چی زموږ کامی ډلی او مشران موږ ته په ښه ستړګه نه ګوری موږ ډلی ته نه پرېږدی کامی ډله یه خپل د ـ خان او کورنی شے جوړ کړی دی ـ د-دوے مراد هم دا وی چی پې څه کاره زیانه یا ښندنی دی د ـ ډلي مشری ځکه زموږ په لاس کی وی چی موږ لوستی یو وینا (حکم) به موږ کوو کار او زیان دی نور کوی او چی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

څه وخت څه ګټه وسی هغه خو به وی زموږ ـ دا نالښت یوازی د ـ پښتنو لوستی خلک نه کوی دا د ـ هر پړېوتی کام د ـ لوستو خلکو خوے وی ـ کټ مټ دغه خوے تر ګڼواکی (اشتراکیت) وړاندی د ـ روس د ـ لوستو خلکو وو ـ اؤدغه نالښت ہے د ـ لېنن رنګه مشره څخه کاوه چی نښے دوست اؤ دوښمن یو شانته منی چی د ـ نری د ـ یوٗ څو ہے ځپل چاری (خود غرضی) اؤ نېغوریشتینی خلکو څخه یوٗ وو ـ هلته خو د ـ لوستو خلکو اؤ کامی مشرانوتر مّیان دا بېلتون دومری زیات سوی وو چی د ـ سوبی اؤ واکه پس هم چی د ـ کامی ډلی اؤ لېنن د هېواد د ـ آبادی اؤ چلاو کار له لوستی خلک په کار سو تر ډېره دوے نه وورنیژدے کېده ځینی د ـ بېری اؤ ځینی د ـ پخوانی کرکی تر دے چی لېنن اؤ د ـ هغو مّلو په ډېره خواری دوے ګڼواکی سرکار ته را نیژدے کړل ـ په بلوچیستان کی خو لا دا خواری نوره هم زیاته وه هلته په سر کی اوچت لوستی اؤ پوه خلک خو پړېږده لوستی خلک ډېر کم وو اؤ چی وو هغه ماړه اؤ خان پوره خلک نه وو اؤ نه دا شان خلک د ـ سره په بلوچیستان کی د ـ

يۋ څو بلوڅو سردارانو په چپه وو هم ـ لوستي که څه وو هغه زياتره د ـ خوارو خلکو ځوانان زامن وو ـ چې کامي ډلې له به څکه اوۋ هله راتله چې د پنجاپيانو له لاسه به نوکري نه وه‌پيدا کېدله يا چې پې ډېره پړېوتې نوکري پيدا هم کړله نو هلته به هم د ـ دغو پردو نوکرانو او واك والانو (افسرز) له لاسه تنګ وو ـ تر ده چې ښاغلى ميرزا اپيزولاخان سره د ـ بي ايس سي لوستو تر ډېرو کلو د ـ لومړي ښوونځي (پرائمري سکول) اوستاد وو بيا وړوکى (جونير) کلرك ـ اوۋ ښاغلى مامد سرور کلاتې چې په خپل خرڅې په يورپ کې د ـ کرونده (زراعت) لوست کړی وو هغه هم وړوکى (جونير) کلرك وو ـ څکه ده خلکو په ډله کې پې کومکه او پوره تنخا کار نه سو کولاے ـ چېرې تګ راتګ يا نورخرڅ کول خو پرېږده او په ډله کې د ـ نواب زاده يوسپ الي خانه او خينو سرکاري نوکرانو چپ يو زه وم چې خپله ګوزاره مې درلوده هغه هم لغړي څلور پينځه زره روپۍ د ـ کاله زما او د ـ ورور ډوارو کېدلې ـ څکه به ماد ـ ډلې او د ـ مل ګرو د ـ خرڅ لپاره بسپن (چنده) کاوه خو خپله ګوزاره مې تل

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

په ښّپله کوله ـ څه لږ ډېر لاس به مې د ـ ډلې اوښينو مل ګرو سره هم کاوه ـ بسپن هم ډېر ګران وو يو خو خلک خّوار وو او بل چې د ـ چا زړه هم غوښت هغه بېرېدل اوډ ما چپې په ډېرو کمو نورو ملو ويسيا کوله ـ چې هسې نه چې سرکار راخبر سي ـ او روښتيا هم دا وه چې په مل ګرو کې د ـ خبرې د ـ پټولو کسان هم ډېر لږ وو ـ هغه وخت خو پرېږده په کال (۱۹۵۷) کې چې مولانا باشانی او ښه ډېر مله کوټې له راتله ما په کوټه کې د ـ خينو لږو کسانو څه کومك وغوښت او په ډله کې مې تر ټولو پوه مل ګرې ښاغلې مامد هاشم خان بی ـ اے ـ بی ـ ټی د ـ دے لپاره د ـ خان سره روان کې چې يو خو دے د ـ بسپن چل او خايونه زده کې او بل دغه وخت په ډله کې د ـ پيسو په هکله د خينو کسانو د ـ څه کارو له لاسه څه بد ګومانې پيدا سوی وے چې زه هم ترے بچ نه وم او مل ګرو دا غوښت چې پيسے چې له هری خوا راخی که ټول نه وی خينی مشران دی په خبر وی ـ يوه سرې چې ټول روزګارے پور سرکار ولاړوو پينځه سوه روپې په يره کې راکرے سبا له يوه بل پنجاپی

سوداګر له ورغلو اوښاغلی هاشم خان د ـ تهکه وورته وویل چی پلانکی هم پینځه سوه راکړی دی ـ چی راوواتو ډېر می ملامت کی کوړے ودان ده هم خپله ملامته ومنله خو کارتر کار تېر وو بیا څه کېداے سو هم د ـ دغه ببری یوه بل سړی ته چی ورغلو هغه وہ زه داسی کار چېری کوم اؤ د ـ ده په پټه یه لاس زما په جېب کی واچاوه پینځه سوه یه پکښی واچولے ـ په دہ هکله ماته ډېره ګرانه راپېښه ـ وه ہے بسپنی ډله نسوه چلېداے اؤد ـ بسپنی سره د ـ پښتنو د ـ لوړی له مخی بدګومانی تړلی وہ خبر نه یم چی د ـ بسپن ګټه به زیاته وه که د ـ مل ګرو اؤ د ـ خلګو د ـ بد ګومانو تاوان ؟ چی سرکار اؤ د ـ نوړو ډلو مشرانواؤاخبارو به هم هوا وورکوله ـ بیا چی ګوړم باچاخان هم د ـ دغو بدګومانو اؤ دروغو نه وو بچ چی هیڅ کله یه د ـ چا نه بسپن نه اخیستله ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

## د ـ هغه وخت د ـ بسپن نمونه

یو وخت په کوټه کی د ـ یوسپ الی خان د ـ بنګلے څه چیری باهر تللی وو چی واپس راغلو د ـ "آزاد" اخبار مولانا اودول باکی د ـ لاهوره پے خبره رارسېدلی وو ـ وے چی تنګ یم اخبار می تاوان کوی ـ سهار له ښاغلی یوسپ الی خان وے راځی چی دے سری له څه بسپن وکو ښاغلی مامد الم سېټهی او میراج دین ډواړه پنجاپیان ځوانان ښار له وّلاړل زه او ښاغلی مکسی د ـ ارباب خودایدادخان کاسی خاے له ورغلو چی د ـ شاهی جرګے غړی او د ـ کاسیانو سرکاری مشر او ښه موړ پښتون وو ـ زما او ښاغلی یوسپ الی خان سرے ځانی پېژاندګلوی هم وه او د ـ کورنی د ـ مشرانو سره هم ـ ښه په مینه یه ګړه بړه وکړله خو چی موږ د ـ لاهور د ـ اخبار لپاره بسپن جینی وغوښت سرے څه هېښه غوندی سو ـ چی ګوا دا لا څه نوی بسپن دی ؟ مامدو نومېده یو نوکرے را وباله څه

خبره سره وکړلې د ـ لسو روپو نوټونه وړکي هغه ډلاړ ماتونه کې بيرته ووړته راوړے ښيا يه د ـ ښه ډېره سوچه پس يو وار شپږ ترمه واخيستونه او ښيا ډومه نوري اته روپي يه موږ ته راکړلې او څه اوږد نالښتونه هم وکي چې خرڅونه ډېر سو او تنګي سوله ـ ښاغلی نواب يوسپ الی خان چی تراوسونه چېری د ـ پښتنو غټانو د ـ وړکړی نمونه نه وه ليدلې او بلوڅ سرداران چي زيات مارړه هم وو او د ـ کامو څې په ببلو نمو شکونه هم ډېره زياته کوله خکه په وړکړه اموختنه او څه زيات غښتلی وو ـ که د ـ دمه پښتانه په خاے دمه چا بلوڅ سردار له ورغلی واے نو چی هيڅ نه واے تر سل روپي کمی ووړکول يې د ـ خان شرم ګاڼه ـ او ښيا ښپله دے چی د ـ بلوچيستان په ټولو سردارانو کی زيات موړ هم وو او په وړکړه کی دومری ښاغلی وو چی يووخت د ـ مولتان يوه هيندو په ډروغو يا روشتيا څه ژړا او نالښت د ـ ښپل تاوان او ښپل د ـ واده د ـ پاتېدو ووړته کړی وو او دمه د ـ زړه زمری په هغه خاے په بخښ په پوړ اوډ ـ يومه ډروغو يا روشتيا کمپنی د ـ ونډو (حصص) په رانيولو يو لك دېرش زره روپي

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

وورکړی وه ـ هغه ده لږو پیسو ته ډېر هك پك سو چی را ولاړ سو ماتږه وه بس دی بل چاله نه خو تر ده خو دا ډېره اسانه ده چی ځپله ډوه ډرمه سوه روپی ورکم اؤ هم داسی یه وکړل هغه نورو ځوانانو مانبام له ځلوېښت راوړلے اؤ نوری ده د ـ ځانه ورکړلے. ژما کم خرڅی بچت اؤ ژیار ده ته رسېدلی وو چی هر چېرته به په ډریمه ګاډی کی تلم اؤ دا خوے اوس هم تر وسه چلوم ـ که څه هم هغه وخت ډېره ارزانی وه د ـ مّیانی هوټل خرڅ به د ـ شّپے یوه روپی وو ـ زه د ـ هیند په ښارو کی هیڅ کله هم په هوټل کی نه اوسېدم اؤ نه اوسېدلاے سّوم ـ تل اؤ هر ځاے به د ـ مېوه د ـ سوداګرو سره د هغو مېلمه وم چی کله به څنګه وو اؤ کله څنګه ـ کله به می د ـ پینځو لسو یا ژیاتو نورو مېلمنو سره په یّوه کوټه کی شّپه وه ـ یّوه شّپه خو نی چی چېری ما اؤ ښاغلی مامد کاهیر خان کازی د ـ هوړی اؤ پّیازو په یوه ګوډام کی هم تېره کړله د ـ ووړی په ګرمی کی ببوزی (پنکهه) واوره اؤ نور آرام خو پرېږده ژیاتره په سم سوری د ـ لمبا ځاے اؤ کټ هم نه وو ـ ډېر ځله خو به لمباله

ماجت له تلو ـ په ډیلی کی به زه په سبزی منډی کی اوسېدم کاراؤ ټله راټله به می زیاتره ـ په ښار کی په نوی ډیلی په اسمبلی کی یا تر هغه لا هم هاخواته د ـ اؤرنګ زیب روډ دوړے په سرکاری بنګلو کی وو ـ که څه هم ارزانی دومره وه چی ټانګے به په ډوه آنے سړے نوی ډیلی ته رساوه اؤ په اتانیځ یا روپی به سړے ټوله وړز ګرزېداے سو خوما دومره هم نه شومه لګولاے ـ اؤزیاتره به پوړ پښو ټلم راټلم دا شان به د ـ روزی شل میله یا زیات څکه پوړ پښے ګرزېدم چی اتانیځ به می نه سو لګولاے ـ سهار چی به ولاړم نو د ـ غرمے ډوډی له بېرته نه شوم رارسېداے اؤ نه د ـ ماپښین چایو له نه می دومری وس وو چی په هوټل کی روپی نیمه ولګوم زیاتره به سهار تر مابنامه په ناوه وم هم دا شان په نورو ښارو اؤ کوټه کی هم زیاتره به د ـ کامی کار لپاره مابنام د ـ روټی پس په بلوڅی کوڅه کی د ـ جام نوروﻻ خان په کوړ کی غونډېدو ولی یوازی هغه په موړ کی د ـ خپل سر وو اؤ په کوټه کے خپل کوړ درلوډ نوړ ټول یا سرکاری نوکران وو ـ یا دومری خواران چی په کوړ کی یے د

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ناستی ځاے نه وو یا نوی ځوانان اؤ د ـ مشرانو
ناکالخوایه اؤ د ـ ژمی په یخ ـ سیلۍ واوره اؤ باران
کی به د ـ شپے په یښه یا ډوډے بچے خله ځوربدو اؤ
زه به ځپل هوټل ته راتلم د زه چی هغه ږوزی شپے اؤ
هغه کامی مینه اؤ لمبه را یاده کم چی هغه وخت په
موږ ټولو کی وه ـ اؤ بیا د ـ اوس دے ځوانانو اؤخینو
هغو زړو مل ګرو ته ګورم چی هم پیسے لری هم موټر
اؤ نوری اسانی وی اؤ بیا یه هم وکار ته غړی وتلی
وی نو ډیر یے هیلی شانته سم ـ

# لندن ته یاددابنت

د - "بلوچیستان کانفرنس" کارینده جرګې په کوټه کې دا پرېکړه وکړله چې د - غونډمېزی جرګې جرګګی (سب کمیټی) چې وه "ټول هیند ډلو" (آل انډیا پارټیز) ته خپل د - یاددابنتونو د - لېږلو اؤ بیا د - هغو په بلنه خپلی جرګې لندن ته د - لېږلو کومه بلنه وورکړې ده - موږ له هم هغه منل په کار ده - اؤ ماته دا کار وسپاره چې زه د - هغو لپاره یؤ یاددابنت د - بلوچیستان د - خپل واکه ولات (اټانومس پراوینس) په هکله ولېږم اؤ ــــ ډېر کسه یه وټاکل چې که وروسته وغوبنتل لندن له به ځی چې یؤ پکښی زه خپله وم یو نواب زاده اودول رحمان خان بوګټی اؤ بل ښاغلی جام نوروﻻ خان - نو ما ښاغلی نوروﻻ او ډاکټر مامد رمزان خان بابړ چې هغه وخت په کوټه کې - د بوډګانو درمانی (وټرنری اسسټینټ) وو په ډېر خواری او د - ډېرو شپو په کړاو اؤ روڼولو مو یو یاددابنت جوړ کی او د - هغه یؤ چوڼ (انتخاب یا اجمال) مو لندن ته ولېږه -

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

# ډاکټر مامد رمزان

دغه بره ډاکټر رمزان ښیا ؤروسته د ـ بوډګانو د ـ ودی (انیمل هسپینهری) سرپه راست (سرپرست) سو د ـ پینشنه پس اوس په کوټه کی د ـ داروګانو دوکان کوی خکه چی ښاغلی نورولا خان اوُ ډاکټر رمزان سرکاری نوکران وو د ـ ژوزی به په سرکاری کار اخته وو نو دا کار به موږ تر ډېرو شپو د ـ شپې د ـ نورولاخان په کور کی کاوه زیاتره به تر یوې بجې په لګیا وو اوُ د ـ موږ سره به د ـ هغوې د ـ کور خلک هم په کړاو وو ولی چی ډوه خله بې چایی راکولې چی خوب مو تنګ نه کی ـ

په دې کار کی به نواب زاده میر شاباز خان نوشیروانی هم راسره وو او دا کومك بې کاوه چی خپل د ـ خوږو خبرو اوُ مستی خندا سره بې رباب راته ږغاوه اوُ دا شان بې موږ ستړیا ته نه پرېښوو ـ

# میر شاباز خان نوشیروانی

د ـ خاران د سردار هبیبولا خان کشر وروړ وو په نوبے
ځوانی کې د ـ وروړ ښخه په خوابدی د ـ خارانه
کوټی ته راغلی وو اوْ دلے اوسېده ـ ډېر ځیرك اوْ خوږ
ژبی ځوان وو ـ وروړے ډېر جینی خوابدی وو نے په
خاران کی اوسېدو ته پرېښوو نے خپله مځکه اوْ برخه
وورکوله اوْ نے څه تنخا یا ګوزاره ووړکړله ـ ګوزاره
بے تل تنګه وه خو غښتلی اوْ کار چلاندہ سړے وو
یوازی خپله ګوزاره لا نه دلته بے هم د ـ خاران ډېر
مېلمانه خورول اوْ سرداری ګوزاره بے کوله د ـ خارانه
چی راته ایله مات ګوډه پارسی لوستے زده وو ـ خو
دلتے خپل په زیارو اوْ ځیراکت ښه لیك لوست اوْ سمه
پوهی زدکړله ـ د ـ ښاغلی نوروَلا خان اخنبی وو
ځکے له ما سره پېژاندګلوی وسوله ډېر خوږ دوست
اوْ د ـ کار سړے وو ـ ورز تر روزی سره نیژدے کېدو ـ
کامی کار بے کاوه یوْ وخت د ـ کوټی د ـ ښار د ـ
کامی ډلی مشر اوْد ـ کارینده جرګے غړی وو خو

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

خکه چی په خاران کی خپل د ـ ونډی د ـ ګټلو اؤ
خینو نورو خبرو له مخی د ـ سرکاره شلېدلاے نه سو
نو څه وخت چی زمونږ ډلی په کال(۱۹٤۰ـ٤۱) کی د
ـ ګاندی جی په خانی ناپرمانی (انفرادی سول
نافرمانی) د ـ ګډېدو پړېکړه وکړله نو دے زما په
خوښه اؤد ـ نورولا خان په وینا د ـ ډلی ببل سو ـ د ـ
خاران اؤ د ـ خاران د ـ خلګو اؤ خپله د ـ نواب غلیم نه
وو نیے بده باندی پېرزو وه خو سره د ـ دے پیے وروړ
دومری زیات ترے خوابدی وو چی سره د ـ نېزدیکته
یه په دے هکله نه زمونږ خبره منله نه د ـ سرکار اؤ
نه د ـ بل چا ـ خو ښاغلی شاباز خان هم خپله خبره
ایله نه کړله ـ په ښه توګه اؤ د ـ نن زمانیے سره وړ
جنګیے روان وساته چی په پاے کی اوس د ـ نواب
هبیبولا خان د ـ مرګه پس د ـ هغه مشر زوے
موستپا خان چی د ـ شاباز خان مل ګری وو اؤ پلارے
دا وس کاوه چی دے لری کی اؤ خپل پور خاے یه
کشر اؤ میرنے وروړ ښاغلی بلوڅ خان ودروی ـ د
پاکیستان سرکار د ـ پلار پور خاے ودراوه ـ اوس یے
خود خپله برخه میندلیے وی اؤ یے غمه به وی ـ

# د ـ لیګ اؤ موسلیم کانپرنس د ـ ګډون تماشه

هم په دې کال کی د ـ هیند د ـ موسلمانانو خینو مشرانو دا خبره پیل کړله چی موسلیم لیګ اؤ موسلیم کانپرنس ډلی چی ژیاتره غټان موسلمانان د ـ ډواړو غړی وو ـ یو کوو ـ دوې ډلی د ـ یوې لاری نه دی په کار یوه به وی ـ اؤ خبره هم بده نه وه ـ خو خینی د ـ لیګ مشران په دې خکه نه وو خوښ چی هغوې له هلته کی د ـ ډلی څه مشری په لاس ورغلې وه اؤ یریده چی په نوې ډله کی به ژموږ چرونه لګیږی ـ د ـ دې پړیکړی لپاره د ـ ډواړو ډلو د ـ ستری جرګې (ایګزیکټیو کمیټی) غونډی د ـ نوی ډیلی په ایمپیریل هوټل کی په یوه روز راوغوښتلی شوې ګومان دا وو چی بس ډراندی به یوه ډله پړیکړه (فیصله) وکی چی یو کیږو اؤ هغه به خوره سی بیا به دا بله هم دا پړیکړه وکی اؤ بس بیا به د ـ نوی ډلی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

غۆنڼه هم په هغه ځاے وسی اؤ زه د ـ موسلیم کانپرنس د ـ ښتری جرګے غړی وم ـ سهار ۆڕاندی ژموږ غۆنڼه د ـ ُښاغلی پوه (علامه) ډاکټر ایغبال په مشری کی وسوله اؤ پڕېکړه مووکړله د ـ لیګ ایله پیټخه یا شپږ داسی غړی پاته وو چی هغه ژموږ د ـ جرګے غړی نه وو ـ لکه سر مامد یاکوب چی د ـ لیګ سکتر وو ـ د ـ لیګ مشر د ـ بهار بیرسټر اؤدوړ ازیز خان (عبدالعزیز) ملك پیروز خان نون اؤ ڈوه یا ڈرے نوړ ـ چی موږ خواره ښولو اؤ د ـ دوے غۆنڼه پیل ښوله نو تول هم هغه ژموږ د ـ ډلی غړی وو لږ ڈرے تنه ښاغلی پوه (علامه) ایغبال مشر مولوی مامد شپی داوودی سکتر اؤ زه داسی وو چی د ـ لیګ غړی نه وو موږ هلته په هغه کوټه کے یوڼے ډډی ته کښېناستو ـ لږ آن پس سر یاکوب اؤ پیروز خان نون دوے پکښی وړانے پیل کی څه کسان پیټخه یا شپږ مرور سو د باندی وواته (واك آوټ) د ـ الله اکبر چیغی یه پیل کړے زه هم باهر راووتم چی تماشه وکم هغه نوړ دننه لګیاوو ځپل کارے کاوه څو مینټه پس د ـ باهر خلکو د ـ ملك نون په وینا دا جوړه وکړله

چې دا باهر پاتېده ښه نه دی موږ لږېو دننه ځو شر
جوړےووهسی نه چې دوے په ډېرې پړېکړه وکی ـ بس
جوړ دننه راغلو اؤ یؤ مینټ ډوه پس ډرېے څلوړ
کسه پاڅېده په یؤ ځلے ویناوی پېل کړېے اؤ د ـ
غونډی د ـ مشرے نه منل بېیا کیپټن سر شېر مامد
پنجابی پوړ مشر باندی کورسی راتسه کړله اؤپسی
راغی هغه یه د ـ لاسه ونیو د ـ کورسی نه یه
راواچاوه ـ زه چې په داسی ښپکو کارو نه وم بلد
وارختا ښوم خپلو ملو ښاغلی پوړه (علامه) اؤ
مولوی ته می وہ چې راځی چې ګوابڼے وکو اوس
به لوجګړه جوړه سی خو هغوے راته وہ تپے پړېږده
هیڅ نه پېښېږی ـ بس هغه مشر غونډه خوره کړله
ځینې خلک ولاړل خو هغه بلی ډلی خپه ل مشر
کښېناوه اؤ پړېکړه یه وکړله چې موږ نه ګډېږو په دے
کی د ـ غرمې د ـ ډوډی وخت سو موږ ټول هلته
نیژدے د ـ اسمبلی د ـ غړو په ځایو کی د ـ سر
یاکوب مېلمانه وو او هلته ولاړو په لاری د ـ سر
یاکوب اود ـ بهار د سید مسود سره خولے ښولے یوه به
ل تپے د ـ ښځو رنګه پېغوړونه ورکوه ل ـ یوه به وہ ته

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

د ـ هوم میمبر په ګوتو ناچ کوی اؤ هغه به ل به وی ښتا مړوی هم د ـ مانه پټ نه دی ـ اؤ سره د ـ دی مو ډوډی یؤ ځای وخوړله ما چی تر اوسه د ـ اولسی (سیاسی) مشرانو خویونه نه وو لیدلی یا د ـ پښتنو په ډرنو کامی مرکو ولدوم اؤیا می بیا د ـ کانګریس د ـ کاریندو جرګی ډرانه مشران لیدلی وو اؤ د ـ هغوی ډرنی مرکی اؤ ډرانه خویونه اؤ هر کامی مشر می ډېر ډروند اؤ پاك سړی ګانه د ـ دی خلګو وه خویو ته هك پك پاته وم ـ اؤ ډېر ارمان راته درېده چی د ـ هیندی موسلمانانو اولسی مشران دا دی نو پای پې څه وی ؟

هم په دی کال کی په لاهور کی د ـ موسلیم کانپرنس کالیځه غونډه د ـ ډاکټر ایغبال په مشری کی په لاهور کی وشوله ـ د پنجاب ټول سرکاری مشران موسلمانان اؤ د ـ هیند غټان را غونډوو ـ زه د ـ ښتری جرګی د ـ غړی په توګه د ـ پریانو د ـ جرګګی (سبجیکټ کمیټی) هم غړی وم ـ په دی جرګګی کی د ـ مولانا غولام رسول میهر اؤ ښاغلی الا بخش یوسپی په مشری کی مور څو کسو دا پړین وړاندی کی چی "

دا غوّنډه په غوّنډمېزې جرګه (ګول مېز کانپرنس) کی د ـ موسلمانانو مشرانو د ـ کارغيندنه ( (مذمت) کوی ځکه چی هغوی د ـ موسلمانانو يوّ مّراد هم تر سره نه کی لکه د ـ ډيلی په لويه جرګه کی د ـ موسلمانانو غړو شّمېر د ـ بلوچيستان د-ولاتو خّپل واکی ـ اوّ داسی نوری خبری ـ تر غوّنډه لږ دم وّړاندی دا ليکلی پّرينږ بناغلی مشر له ماوروی ـ هغه چی وکوت وی " خّوانه دا غّونډه اوّ دا پّرينږ ډېر ځله لری دی ـ دلته خو ټول هم هغه کسان ناست دی چی د ـ غوّنډمېز غړی دی" ما وی "خير دی موږ وی وّړاندی کوو تاسو يه مه بندوی" وی "نور مل ګری دی څوك دی ؟ ما د ـ ځينو نمونه واخيستل" وی " بنه " پور دی پّرينږ يّوه دّرسته ّروز جګړه وسّوله خو ډېره دّرنه اوّ په سر کی څېرنه وه.څه پّرېکړه ونه سّوله ـ د ـ لويی غونډی وخت سو په دی کی خبر راغی چی د ـ اهرارو ډلی تياری کړی ده پور غّونډه يرغل کوی جګړه جوړوی او غّونډه نه پّرېږدی ـ په دی خبر ځينی سرکاری مشران ډېر وبېرېده اوّوی چی د باندی خلکو له نه خو دلته په دی بنګله کی به خّپله غّونډه وکو-

چا وې نن یې نه کوو سبا له به موږ هم تیاری وکو د
- ښار د لنډهرو (غونډګانو) مشرانو له به پیسې ورکو
او راپې ولو - خو ځینو پخوانو خیلاپتی او کانګریسی
مشرانو وې چې "نه ځو به هر څه چې کیږی ګوړو یې
په سرکاری سرانو کی یو ښاغلی ډاکټر ایغبال (اقبال)
دې ته تیار وو - خو په پاے کی ټول ست سو خو ښیا
هم سرکاری سران لږ وروسته پاته سو - موږ یو څو
کسه پښتانه ښاغلی مشر - مولانا شپی او سر اوډوړلا
هارون وړاندی روان سولو چې د - غونډی خیمې له
ورلو او موږ د - موټرو څوړسولو یو اهراری خوان
ډیر په خښم مخی له راغی د - موردہ باد چیغی یه
وهلې او وې "دلته به دا سرکاری غونډه نه کیږی"
مولوی داوودی وور وړاندی سو غوځی یه پور واچوله
په خوا پوړې ونیووې "بچې می څه وایې ؟ په وړو
ووایه" هغه وې "تاسی د - انګریزانو سران او خان
بهادران راغونډ کړی دی دلته د - هیواد دوښمنی کول
غواړی او د - انګریز خسمانه موږ هیڅ کله دا نه
پرېږدو" په دې کی نور هم ډیر خلک راغونډ سو-
خو څه خبری مولوی داوودی وکړلې چې موږ دلته د -

انګرېزی سرکار خسمانې له نه یو راغلی تاسی به وګوری اؤ وابه وری خو سری یه ساړه کړل اؤ غونډه وسوله د- هرکلی اؤد- مشر وېناوی وسولې اؤ موږ بیرته ځاے له وّلاړو اؤ پهزهړه جګړه لګیا سو خو په پاے کی دا جوړه وسوله چی د - بلوچیستان په هکله به بېل پرېنې وکو اؤ د - دې نوړو خبرو په هکله به انګرېز سرکار ته د - ټاکلی زوزی خرکې (التهی مبتهم) ورکو چی که تر ّپلانکی ّزوزی پوری هغوے د موسلمانانو خبری ونه منلې نوموږ به دوړد (قانون) ماتوو اؤ جېلو ته به ځو - داشې د - خوانانو ډلی خپله لوبیه سوبه وګنله اؤ زما خود - سره د - بلوچیستان سره اړی وه - په لوبیه غونډه کی چی دا پرېنې وړاندی سو اؤ وېناوی باندی وسولې په پاے کی نباغلی ډاکټر ایغبال (اقبال ) ولاړ سو وې "ماته چا یّوه خیری (رقعه) رالیږلې ده اؤ تپوسې را نه کړی دی چی که انګرېز دا خبره ونه منله نو ته به په روشتیا جېل له ځې ؟ زه ّستا سی د - ټولو په مخ کی دا بوړل کوم چی هو زه به ځم !! " پرېنې وسو اؤد - زیندھ باد په چیغو کی غونډه خوړه سوله خو ما د - نباغلی ډاکټر پوړ

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

سینه باندی د ـ سری "سر" تمغې ته کاته اؤ داسی راته ښکارېده چی هغه زمونږ په ده پرین پوری خاندی ـ

## د ـ پښتنو مشرانو سره لیده

د ـ دغی غونډی په ورځو کی د ـ پېښور ښاغلی خان الی ګول خان ناجوړه وو په درمان پسی لاهور ته راغلی اؤ په یوه هوټل کی دېره وو موږ څه کسانې تپوس له ورغلو د ـ دوے سره ښاغلی پیر بخش خان وکیل هم وو ـ اولسی خبری پیل شوې چا وورته وویل چی تاسی د ـ روه (سرحد) پښتانه هم په کار دی چی موسلیم کانپرنس له راسی هغوے وې چی موږ په دې ډله کی څنګه چلېداے سو ځموږ سره د ـ انګرېز نیغ جنګ دی پوره موږ پې شانه سختی سوی دی اؤ لګیا دی کېږی اؤ داسی سختی چی په هغو کی ستاسی شراکت ګډون یا نور کومك خو پرېږدی تاسی په سرکاری جرګو کی ـ د هغو تپوس هومره هم د ـ سرکاره نه سی کولاے کنی تاسی ورسی اؤ خپل په غمو کی د ـ ډیلی د ـ لویی جرګې غړی وپوښتی که هغوے تیار وی زه به څو تپوسونه ولیکم دوے دې

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

سرکار ته وړاندی کی ـ اؤ بیّا یه څه خبری وکړه چی زموږ سره دا کیږی چی په هغو کی د ـ مال اؤ سر خو پرېږده د ـ ننګ اؤ ناموس د ـ تاوان پیښی هم وه پور موږ ټولو ډېر بږید وکی زما خو په سترګو کی اوښکی راغلې ـ

# د ـ یّوه پولیس اوْسر ازموده

په لاهور کی د ـ موسلیم کانپرنس د ـ غونډی په وّرځ
د ـ پولیسو یو تانه دار ښاغلی اوْدول ازیز خان پانیزے
د ـ بوستان د ـ خیمے نه باهر ولاړوو دا سړے یوازی دا
نه چی پښتون اوْ زّموږ د خاے وو د ـ سّکول د ـ وخته
زّما اشناے هم وو ـ ما تپوس تّرے وکی چی "دلته څه
کوے؟" وے "هسی د ـ یّوے غّلا په تپاس پسی راغلی
وم امرتسر له تّلم نن دلته پاته شّوم ـ ما وے دا
سّتاسی غّونډه به ووینم" ما ته دے خبری خّوند را نه
کی چی ده ماته هیڅ بے هیڅه ډّروغ وویل خو بّیا
می هم د ـ خان سره بوت ښه خاے می کّښېناوه د ـ
لومړی غونډی پس یه وے چی "ما د ـ خان سره د ـ
پریانو د ـ جرګے (سبجېکټ کمېټی)غونډی له بوزه"
ما وے "ته سرکاری نوکر یے اوْ د ـ اولسی غونډی
غړی نه سے کېداے" وے "ما څوك پېژنی ته بږغ مه
کوه" ما وے زه ځنګه خّپل د ـ ډلی سره دوکه وکم
چی زه تا وّړاندی کوم نو خو دا به وایه م چی زه

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

پېبرنه م زه ډروغ نه سم ويلاے په اوسترى ژوز چى زه واپس راتلم دے هم په هغه ګاډى کى کوټى ته راسره روان وو ګوندى د ـ خانه شرمېده وه "زه په تا پسى راغلى وم سركارى نوكرى ده څه وكو چى څنګه راته وايى هغه شان كوو ـ خير دى چى كوټى له ورسو زه به خپل رپورټ ستا په مخ كى وليكه م" او چى كوټى ته ورسېدو زه خاے ته بوتلم رپوټ ژما په وړاندى وليكه او بنده كه خو ما وه راسه يو ازموده خو په وكه د ـ رپوټه پس مى د ـ پرياښو د ـ غونډى څه داسى خبرى وورته وكړه چى ده نه وه ليدلى خو ما غوښت چى سركار په خبر سى او ده ته مى وويل چى دا خبرى چاته ونه كړې ګوره دازه تاته كوم وروسته چى مې بيا تپوس وكى ده هغه ژما په مخ كى رپورټ شلولى وو بلې ليكلى وو ـ او كومى خبرى چى ماوورته كړى وه هغه يه هم د ـ خان له خوا پكښى ليكلى وه ـ او هم هغه خبرى پوليس اوسرانو خپل په ډايرى كى ښارى اوسرانو ته ليكلى وه دغه تانه دار يه وروسته په څه تور كى د ـ نوكرى ويوست اوس هم ژوندے دى او د ـ ما سرے ښه خندا سته ـ

## د ـ روغی اؤ سریتوب خسمانه

هم د ـ دې کال په وړوی کی یوه ورز د ـ ښاغلی یوسپ الی خان تار راغی چی ژر کوټی ته راشه چی ورغلم راته وې چی د ـ خاي موسلمانانو د ـ ډلی (لوکل مسلم ایسوسی ایشن) غړی ښاعلی اودول غپور خان دورانے ـ ښاغلی سید زمان شا ـ ښاغلی سید رپیك شا لګیا دی په ښار کی د ـ هیندو موسلمان جنګ جوړوی ـ ژموږ میر شاباز خان یه هم مل ګری سوی وو اؤ هغه ماته پټ خبرراکی دې ټولی بیګا په ښار کی د ـ هیندوانو د ـ لوے ډېول ـ آریه سماج مندر ـ په دروازه باندی وینی پاشلی دی او په کنداری بازار کی د ـ سیکانو د ـ لویی ګوردوارے په وره باندے د ـ غوایی یا پسه لرمون (دل بند) خرولی دی ـ هیندوانو خو هغه وینی سهارله پاکی کړی وے اؤ ږغ ږوغ یه نه دی کړی ـ خو سیکانو سرکارهم خبر کړی دی او خپله ثوکی پاره

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

یه هم لگوړے ده سبا شّپهے له د ـ پنجاپیانو په لوے ماجت کی د ـ پیر جمات الی شا وینا اۆ جلسه ده ـ دوے غۆاړی چی په جومات کی د ـ پسه لړمون او غۆبنی گّنبېږدی چی موسلمانان په زّیاته پنجاپیان دا ووینی نو خّپله بهے گومان سی او دوے به هم وورته ووایی چی دا سیکانو او هیندوانو کړی دی او دا شان به جنگ جوړ سی د ـ دوے گومان دی چی پښتانه او بلوڅ خو به وی هم نه ولی هغوے په ښار کی دـ شّپهے لږ وی باهرنی (غیر ملکی) پنجاپیان هیندو او موسلمان به خله مّړه کی د ـ ښار روغه به وّرانه سی بّیا به پنجاپیان دلته نه راخی اۆ دا شان به دا باهرنی خلگ وتښتی او زّموږ ولات او د ـ هغه گټه وټه اۆنوکری به موږ ته را پاته سی ـ اوس څه کول په کار دی ؟ " ما وهے " په کار دا دی چی دغه خّوانان اۆ د ـ ځایی موسلمانانو د ـ ډلی (لوکل مسلم ایسوسی ایشن) مشران را وغّواړو اۆ پوے یه کو چی دا بدکار دی او په دهے کی د ـ ټولو خلگو په زّیاته د ـ ځایی موسلمانانو تاوان بدرنگی اۆ بد نامی ده " خو هغوے وهے " چی میر شاباز خان دانه غّواړی چی

هغوے په دے خبر سی چی دا خبره دوے ته ده کړے ده ولی یو خو هغوے په مّیان کی د ـ خوداے په کیتاب لوّوړه سره کړے ده اؤ بل د ـ داسی ډلو خبره چی څوك څرګنده کی نو هغوے زّیاتره د ـ هغه سړی څخه ډېره بده بدله اخلی " د-ډېره سوچه پس ما وورته وویل چی " ښه دی سبا سهار چی د ـ ایتوار ّروز ده به زه د ـ دوے سره خان له ووینم اؤ په څه چل ول به خبری وورسره وکم که پوے سو ښه کنی نو بّیا به سوچ کوو چی څه کول په کاردی " ماځیګر د ـ ځایی موسلمانانو دؤتر له ورغلم چی زمے سر په راست (سرپرست) وم اؤ دغو ځّوانانو ته می وویل چی په کالیځه غّونډه کی د ـ ښار کمو خلګو موږ ته پیسے منلی وے اؤ لا یه راکړی نه دی د ـ هغوے نموڼه را وباسی چی سبا باندی وګرزو اؤ پیسے جینی واخلو په دے چل می دوے سهار له یؤ ځاے کّړل اؤ وورسره روان سّوم په لاری می دا خبری وه سره پېل کړے چی ما اروېدلی دی چی سیکانو داسی رپوړټ کړی دی داسی بدکار به چا کاوه اؤ ولی بے کاوه سبا به هیندوان او سیکان د ـ دے په بدله کی ّزموږ د ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ماجت پے ارزی وکی نوٖ به څه وی ؟ جنگ به جوړ سی
پے گوناھ خلگ به مٗړه سی د ۔ مال تاوان به وسی ښار
به وٗران سی ژٗموړ د ۔ خلگو به تاوان هم وسی اوٗ
بدنامی هم ۔ سرکار سٗته ۔ پوج سٗته پولیس سٗته ۔
دوے وھے " دا خو ښه کار دی پنجاپیان هیندوان
موسلمانان به سره په جنگ سی ۔ څوك به مٗړه سی
څوك به بندیان سی اوٗ څوك به وتښتی موړ ته به خٗپل
ولات اوٗ ښار راپاته سی" ما وھے " چی یوٗ خو هغوے
هم اینسانان اوٗ د ۔ دھے هیواد خلگ دی د ۔ هغوے
تاوان هم بد کاردی بل که داسی جنگ جوړ سی نوٖ
ژٗموړ خلگ به څوك گرزوی پوج اوٗ پولیس تهول
باهزنی خلگ دی هغوے خٗپل خلگ به یا ولی یا پے نه
ولی ژٗموړ خلگ به پے دریغه ولی اوٗ بٗیا پے نیسی هم
۔ اوٗ بله خبره دا ده چی د ۔ پوړھ اوٗ باچهی جنگه
سیوا اینسان هیچیری هم د ۔ مرگ د ۔ بیری ډوډی اوٗ
روزگار پٗریږدی نه تاسی گوری نه چی پوړ ښارو اوٗ
هولکو نوز واوړی ۔ یا یه دریاب یوسی یا یه زلزله
ړنگ کی په ژٗرو کسان مٗړه سی خو هغه پاته خلگ
هیچیرے هم خٗپلی مٗځکی میٖنی اوٗ روزگار نه پٗریږدی

بیرته هم هغه ځاے ودان کی باندی اوسی ـ اوٚ بل دلته خو انګرېز سرکار ښته دی هغه به خپله باچهی څنګه د ـ څو پردو خلکو د ـ مرګ لپاره پرېږدی هغوے به بیا هم خپل دوٚترونه اوٚکارونه چلوی که په خوښه نه وی په زور به خلک وورله راولی ـ که ښاری (سیول) آبادی نه وی په پوج پے وچلوی د ـ موږ سره چی څومره بد اوٚ زیاتے کیږی د ـ پنجاب خلکے لږ اوٚ انګرېزی سرکارے زیات راسره کوی دا نوکری پنجاپیانو ته څوك وورکوی ؟ ـ که انګرېز سرکار اوٚ د ـ هغوے پوج اوٚ زور په میان کی نه وی نو پنجاپیان زموږ څه داځاے خوړاے سی یا یه چیری پخوا خوړلی دی ؟ ځکه زموږ ګټه په داسی جنګو کیداے نه سی تر څو چی موږ انګرېز سرکار ایستلی نه وی موږ خپله پوره ونډه میندلاے نه سو ـ نه دا ولات خپلولاے سو " دا شان مو په لاری لاری ډوے ډرے ګانتے ګرمه ګرمه خبرنه هم کوله اوٚ په میان میان کی مو هغه پوروړی خلک هم لیدل چی تر غرمے مو څلور پینځه سوه روپی هم وکښے اوٚ دوے هم په دے ست سو چی دا بدکار دی په پاے کے دا هم راته

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ومنل چی دا کارموږ کړی وو خو اوس یې نه کوو زما هم پوره باوروسو چی بس دا کار به نه کېږی راغلم او ښاغلی یوسپ الی خان می خبر کی د ـ دې پښبی پس هغوی خپل هغه اوږار بیان په اخبارو کی خور کی په کم کی چپې د ـ ځایی موسلمانانو ډلی ته "د ـ بادار د ـ خوشالی لپاره د ـ مریانو منډه" (آقا کی خوشنودی کې لئې غلاموں کی دوړ) ویلی وو چی د ـ دغی ډلی مشران په زیاته ښاغلی جام نوروولا خان ډېر په خوابدی سوی وو خو هغه هم بیا وروسته پوه سو ـ چی د ـ ځایی خلکو لپاره نوکری یا خینی نور سوولونډ (مراعات) غوښتل یا د ـ زدکړی(تعلیم) سووانونه (مراعات و سهولیات) او خپله زدکړه خو موندیخ (بنیادی) مراد نه دی او نه کېداےسی که هو د ـ بلوچیستان گردی نوکری د ـ ځایی خلکو سی یا د ـ بلوچیستان ټول خلک لوستی سی نو په دې څه ؟ لوے مراد خو خپل واکی ده چی د ـ هېواد واك د ـ انگرېز په ځاے زموږ د ـ خپلو خلکو په لاس کی وی ـ دا نور شیان خو یا د ـ خلکو د ـ ویښولو او پوهولو یوه پلمه وی او یا دې له په کار وی چی پوه

اوٚ لوٚستی سړے به تر ناپوهه نا لوٚستی سړی د - خپل واکی په مراد بنه رسی اوٚ د - خپل واکی د - ګټلو لپاره به په اسانه سر او مال بنندلاے سی اوٚ یا به د - خپل واکی پس د - خلګو اوٚ هیواد خسمانه په مینه اوبنه توګه کولاے سی د - خایی خلګونوکری اوٚ نوری ګټی خکه بنه وی چی په خایی خلګو کی خینی کسان خه ماړه سی اوٚ نور خلګ د - پردو په شان شکوی نه سوان ووړسره کوی او خسمانه یه کوی د - پردو په شانے نه بیروی اوٚ زړه ووړکوی چی د- خپل واکی په لار کی کارته تیار سی - او دا ټول شیان خو په دے نه ارزی چی د - هیواد د - خلګو تر میان کړکه (نفرت) جنګ او ورانے پیدا سی - د - هیواد روغه (امن) ورك سی او خلګ د - انګریز سرکاره څخه د - واك د - اخیستلو د - کامی جنګ په خاے خپل په میان کی په جنګ سی انګریز تر میان غوړ پاته لا نه د - دوے میانځګړی او ډریم سی اوٚ دوے ډواړه وه هغه ته نور لا هم اړ سی - لنډه دا چی د - دغو خوانانو د - جنګ جګړی دا سودا یوازی دانه چی دغه وخت وشلېدله مخ له داسی ورکه سوله چی تر ننه پوری که

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

څه هم د ـ بلوچیستان د ـ خلکو سره لا هغه شان بد کېږي په هېواد کې خو پرېږده خپل په خاوره کې هم د ـ سرکار په نوکرو او نورو ګټو کې پوره ونډه نه وررسېږي او اوس خو لا یو یونیټ هم راته جوړ کې چې هغو دا پلمه هم پاته نه سي چې دا زما ده او دا ستا ـ او د ـ مارشل لا پس خولا دا هم وکړه ل چې د ـ هېواد ـ ولات او خپله د ـ بلوچیستان او پښتونیستان غټې نوکرې ـ کانونه ـ ټیکې او د ـ هېواد نورې ګټې خو پخوا هم زیاتره د ـ پنجابیانو په لاس کې وې د ـ دې پس به د ـ هېواد وړې نوکرې درېمه او څلرمه ونکې (کلاس) نوکرې به په سل کې پینځوس او پنځه ویشت د ـ پوج وړو سپاهیانو ته رسېږي چې په ټول هېواد کې په سل کې اتیا یا پنځه اتیا پنجابیان دي او په بلوچیستان کې خو د ـ سره زاړه سپاهیان سته هم نه ګوا د ـ دې پس که مونږ هر څه وکو خو زمونږ د ـ ځای چپراسیان ـ ماستران ـ د ـ پولیسو سپاهیان واړه مونشیان واړه کلرکان دوې به هرو مرو په سل کې پینځوس پنجابیان وي او تانه داران ـ غټ کلرکان ـ د ـ کروندې خنګل او نورو ځانګو درېمه ونکې

(کلاس ) نوکران به په سل کی پینځویشت هرو مرو پنجاپیان وی ـ خو سره د ـ دے تر ننه پوری ښیا چادا سوچ نه دی کړی چی موږ به ځپله وندہ د ـ دوے څخه په جنګ جګړہ او مرګ ژوبله اخلو اوّ دا د ـ روغی لار چی خوداے دی وکی چی تر پایه وچلیږی او د ـ بلوچیستان اوّ پښتونیستان خلګ دے ته اړ نه سی چی د ـ دوے څخه به ځپله وندہ په شر اوّ جنګ اخلی زموږ د ـ ډلی د ـ دغه ډوو روزو د کوښښ اوّ سمی لاری ښوولو پاے دی ـ

ځپل د ـ ژونده یم خوشاله چی دا کار په ماپوره سو (شادم از زندګئ خویش که کارے کردم) خو سره د ـ دے هم په بلوچیستان کی د ـ پنجاپیانو ښاوی خلګو اوّ نوکرانو په زړہ کی تل دا بیره وی په زیاته ښیا په کوټه اوّ نورو ښارو کی چی د ـ پاکیستان تر جوړیدو وړاندی موسلیم لیګیانو په زیاته پنجاپیانو د ـ هغو خایو د ـ هیندوانو سره څه وکړل او د ـ بلوچیستان وه ځینو خلګو تہ هم ځپل د ـ وندی د ـ ګټلو دا بده لار وروښوولہ دوے تل په بیرہ کی وی چی د ـ موږ سره هم دا چل ونه سی ـ تر دے چی اروېدلی می دی چی

www.kitabtoon.com کتابتون پولنه

په کال (۱۹۵۸) کی چی په کوټه کی د ـ باچاخان
پور نیولو باندی د ـ خواشینی (احتجاج) په توګه موږ
کوم تاریخی هړتال وکی د ـ کوټی پنجاپیان په هغه
ورځ او شپه او ورځ دوے روسته هم په دے بېره اخته
وو چی کنی پښتانه او بلوڅ به موږ ته لاس اچوی او
ډېری تیاری یه هم کړی وے سرکار تے هم نالبنت کړی
وو ـ او د ـ ډېرو خلګو دا ګومان هم دی چی زما دا
اوسنے بند او په کوټه کی د پښتنو دوکاندارانو سره
چی د ـ مارشل لا په نامه څه بد وسو او د ـ یوه
پنجاپی دوکاندار سره هیڅ هم ونه سو په دے کی هم
د ـ کوټی د ـ پولیسو اوسرانو په زیاته د ـ ښار د ـ
تاڼو د ـ تاڼه دارانو چی یو مخ پنجاپیان وو ـ د ـ
دغی کړکی (نفرت) او ډېری لاس وو ـ
هم په دغه کال ښاغلی یوسپ الی خان او ځینو نورو
لیکوالو ملو د ـ پنجاپ په اخبارو زمیندار ـ آزاد او
اینکلاب کی د ـ بلوچیستان په هکله ډېر ګرم لیکونه
خوړول چی خلګو به هر چېرے ډېر په مینه لوستل که
څه هم په دغو اخبارونو کی په لومړی سر کی زموږ
د ـ خپلو لیکونو خورونی (اشاعت) او د ـ دوے

خوړونو ژمونږ ډلی ته دالاس راکی چی انګرېز سرکار د
ـ پخوا په شان سم دستی لاس را وا نه چاوه اؤ خپل
هغه روېه پرېښوو چی د ـ میسټر وینګیټ په وینا
"ښه یا بد روا یا ناروا هیڅ اولسی کار مونږ په
بلوچیستان کی نه پرېږدو" خو ژمونږ اؤ په ژیاته د ـ
ښاغلی یوسپ الی خان دومره خرڅ باندی وسو چی د
ـ هغه رنګه لاس ارتی او ژړه وه ردولتمن سړی ته ر
وس هم وتی وو او هم د ـ دوې د ـ دغی ښندنی
برکت زو چی که څه هم په پاې کی ټول پنجاپیان
مشران اؤ اخبارونه د ـ موسلیم لیګ د ـ ډلی مل
ګری سو خو د ـ بلوچیستان او د ـ هغه خاې مشرانو
په هکله یه د ـ موسلیم لیګیانو په خوله هم هغه
سپکی سپوری نه ویلې چی کومی به نورو ناولده
خلګو ویلې په ژیاته ښاغلی مولانا زپر الی خان خو
په کوټه کی د ـ هغه ځاې وه موسلیم لیګیانو ته په
ډاګه ویلی وو چی خپل په وینا کی د ـ اودول سمد
اڅګزی اؤ د ـ هغوې د ـ ډلی په هکله څه بد وویلو
ته ببخی تیار نه یم اؤ بیا ژما ځاې ته هم راغی چی
پوړ هغه موسلیم لیګیان جینی خوابدی سو هم دا شان

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ښاغلی مولانا غولام رسول میهر اؤ د ـ هغوے خوږ
مل ګری مولانا اودول مجید سالك وو ـ په کال
(۱۹۵٦) کی چی د ـ کوټی پرنګیانو اوسرانو زه په
بوری کی ونیوم او د ـ ژغورنی تر دوډ (سیفټی
ایکټ) لاندی یه بندی کړم اؤ د ـ ښاغلی ډاکټر خان
په خوله یه دا تور راپوری وتاړه چی ما په چمن کی د
ـ پښتونیستان هغه جنډه اوچته کړے ده کمه چی په
اوغانیستان کی د ـ پښتونیستان نوښان ګڼه ل کیږی اؤ
ښاغلی ډاکټرخان اخبارو ته وویل چی " بند خو پرېږده
هغه خو د ـ دے وړ دی چی زه خپل په لاس په ګولی
وولم " نوشوریش کشمیری خپل په اخبار "چټان" کی
یو ډېر ښپه کی لیکنه زما په هکله لیکلی وو پور
دے ښاغلی مولانا غولام رسول میهر یو خت وورته
لیکلی وو زورلی یه وو چی داسی وړنه ده دا څکه
چی هغوے په دے پوے وو چی چا چی دېرش کاله
وړاندی په هغه سختو کی د ـ انګرېز سره د ـ هېواد
د ـ آزادی د ـ جنګ په لارکی په سر اؤ مال لوبی
کړی وی هغه اوس څنګه د ـ خپل کام اؤ هېواددوښمه
ن کېداے سی ـ خوسره د ـ دے کامی ګټی زموږ او

په زیاته د ـ ښاغلی یوسپ الی خان پوړ دے اخبارو په زیاته بیا پوړ زمیندار او آزاد دومری خرڅ وسو چی یوسپ الی خان رنګه لاس ارتی اۏ د ـ لوے زړه خاوند دولتمن سړے هم پوری ښتړی سو ځکه موږ دا پړېکړه وکړله چی تر څو په بلوچیستان کی د ـ چاپے دوډ (پریس ایکټ) راوزی تر هغو به خپل ډوه کسان کراچی له ولېږو هغوے به هلته یوهوته وار اخبار راوباسی د ـ ډلی اۏ بلوچیستان کار به کوی د ـ دے پړېکړی یوه پیلامه دا هم وه چی ښاغلی مامد هوسین اونکا چی هغه وخت د لومړنی ښوونځی (پرایمری سکول) ماستر وو هغه د ـ ځانګی (ډیپارټمینټ) واك والانو تنګاوه مرغه کیبزی ټے بدل کړی وو دے واپس تړے راغلی وو اۏ نوکری تړے پاته وله ـ نو موږ دے اۏ ښاغلی اودول ازیز کورد ډواړه د ـ کراچی لپاره وټاکه ل ډوه سوه روپی مو د ـ دوے اۏ د ـ اخبار لپاره د ـ میاشتی خرڅ وټاکه اۏ هغه مو دا شان وویشه چی ښاغلی یوسپ الی خان ـ ښاغلی میر ادرامان خان بوګټی ښاغلی سردار رسول بخش مینګل اۏ زه به پینځوس پینځوس روپی میاشت وورله

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

پیداکوږ که د ـ ځانه وی که له بله ـ دا ډواړه ښاغلی کراچی ته ولاړ خو په لږوزی کی یه سره خوږلی وږ او سره چلېداے نه سو ـ ښاغلی کوړد بیرته راغی اؤ د ـ اوںکا لپاره یه هلته د ـ "البلوچ" اخبار سره څه تړون کړی وږ ـ دغه اخبار هلته ژمونږ د ـ ډلی د ـ هغه ځاے ځینو نوږو غړو مولوی اودول سمد سربازی ـ مولوی مامد اوسمان اؤ میرشهداد زی په ګډه ایستلی وږد ـ اوںکا د ـ ټلو سره دا ګوا د ـ بلوچیستان اخبار سو په بلوچیستان کی به خاګو ډېر په مینه لوست اؤ رانیوږے د ـ بلوچیستان لیکوالو به پکښی لیکل ـ ښاغلی اوںکا ته به د ـ میاشتی پینځوس روپی ژیاتره ما اؤ ښاغلی یوسپ الی خان لیږلے ـ

## د ـ ښاغلي يوسپ الى خان سرداري

هم په دې کال د ـ کلات خان اؤ د ـ بلوچيستان انګرېزى سرکار د ـ مګسى مشرانو په وينا او خوښه د ـ ده مشر وړوړ سردار ګوړ مامد خان د ـ مګسو د ـ سردارۍ لرى کى او ښاغلى مير يوسپ الى خانې د ـ هغه په ځاې باندى سردار کى ـ اؤ د ـ مګسى سردار توړ (جايداد) اؤ ځلوېښت پينځوس زره تپه يه ووروښپارله چې په زرګونه ميله مځکه اؤ ښه غټ شانته رياست وو په لکونو روپۍ يه د ـ کاله د ـ مځکو پيدا وه اؤ کام هم د ـ سردار په وينا هر څه چى سردار غوښت هغه يه ووړکول د ـ دوې د ـ جاګير نوم جل مګسى دى ځان له يه خپله جرګه وه اؤ خپل جېلې درلوده د ـ ګټى د ـ نوروشيانو سره د ـ کلات د ـ خينو نورو سردارانو په شان خپله د ـ شرابو بټۍ درلوده شراب بې جوړول اؤ بيا بې سيند له په پټه لېږل ـ ځکه يه په خلګو کى شراب ډېر دوډ وو نرو ښځو تر

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

دے چی وړوکو به هه م چیښل خپله ښاغلی نواب یوسپ الی خان مګسی یو وخت ډېر زیات څکه ل خو دغه‌وخت‌یه پرے ایښی وو - دغه بتی به مګسی سردار زیاتره چا هیندو ته په تیکه ورکړله چی سردار ته به زیات کم یو لك روپی د-کاله ورکوله په جل باندی د - نورو بروهی اؤ بلوڅو سردارو رنګه د - دوے خپه ل راج وو نه چاته څه غم وورکاوه نه کلات ته اؤ نه انګرېز ته نه د - هغوے څه کار پکښے وو په‌ځوانی زمانه کی به د کلات خان ته په کامی جنګو کی سړی وورکوه ل اوس خو نه د - کلات جنګونه وو اؤ نه چا سړی هم جینی غوښت - مګسی سردار به هم د - نورو غټو بلوڅو سردارانو په شان د - شاهی جرګے څه سبوا د - کلات د - زیاستی جرګے (سټیټ کونسل) غړی هم وو اؤ د - کلات خان به لا د - لاسه څه تنخا هم وورکوله د - جل مګسی دا نیم خپل واکه شان (حالت) تر اوسه را چلېده اوس د - مارشل لا پس د - ښاغلی یوسپ الی خان کشر ورور مابوب الی خان چی د - دوے پس سردار وو اؤ د - هغه مشر زوے سیپولا خان ونیوه ل سو ډېر وخت د - مچ په جېل

کی کچه بندیان ووړ ښیا د ـ دوو لکو روپو د ـ خرڅه
پس په لاس کړی وواته اوسپے د ـ سردار وه زوړے ته څه
ند اوُ څو لکه روپی دنه وورکړی دی ـ
. ـ دهے پړیکړی ښکاره پیلامه خو دا وه چی د ـ دوړے
مشر ورور سردار ګول مامد خان چی پخوا ښه لوستی
ـ پوه اوُ د ـ پارسو اوچت پوهیت ووړ ـ دیوان زیب
مکسی د ـ هغوړے د ـ پوهیتو (اشعار) کیتاب اوس
هم ښته دی ـ دغه وخت د ـ نشو او نورو بد خویو له
لاسه څه سودایی سوی ووړ د ـ کام اولس اوُ سرداری
خو پړیږده د ـ ځان د ـ سمبال هم نه ووړ ـ خو بونیادی
مرادهے دا هم ووړ چی ښاغلی یوسپ الی خان د ـ
اولسی کاره کښینوی ـ وروسته خو ښیا انګریزانو واك
والانو په سختی او څرګنده بنداوه او په پاے کے د ـ
سرداری وه‌م یوست اوُ کشر ورور اوسنے سردار مابوب
الی خانے سردار کی ـ خو دغه وخت ہے هم نرے نرے
رغاوه چی دا ښه کار نه دی چی ته خپل په ځاے کی
دیر کم اوسپے اوُ تول وخت په کوته کی د ـ اودول سمد
او کورد سره تیروهے ـ ښاغلی یوسپ الی خان د ـ
سرداری پس دا کوښه ښ پیل کی چی د ـ کلات

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

سرکار ته څه اولس واکی (جمهوری) رنګ ورکول سی
اؤ د ـ سردارانو جرګې یا ژیاستی کونسل ته څه ژیات واك د ـ
وزیرانو شانته ورکول سی د ـ کلات خان اؤ انګریز واك
والانو هم په ښکاره دا کار بد نه باله خو د ـ کلات
نور سردران چی یومخ نالوستی پور خپلو کامو
زلنده او د ـ هر راز سریښتې (نظام) او دود (قانون)
نه سخت بېزاره وو ـ لغړ دا یه مراد وو چی مور دی
خپل د کامونو وه شکونی ته ایله (لیا) یو څوك دی
کار نه رالری کلات یا انګریزان دی تنخا ګانی راکوی
ـ جرګې ـ دربارونه اؤ سرکاری نامې (خطابات) مو دی
وی ته ر دې چی هغوې خپه ل په تره کی د ـ کلات له
خوا ښوونځی (سکولونه) او درمانتون (هسپتال) یا
تانه نه خوښول او نې پرېښوو ـ خو سردار یوسپ الی
خان به هر وخت او هر خاې دوې ته د ـ اولس واکه
سریښتې ( نظام ) خبری کولې یوه سردار ـ وډېرا نور
مامد خان بنګول زی خو په ډاګه وورته ویلی وو چی
مور دا کار ځنګه منلاې سو ښکاره خبره ده چی
مور ژیاتره لوستی نه یو ته اؤ یو کس ډوه نور
لوستی یاست اوس مور ټول یو شانته سرداران اؤ د ـ

جرګې غړی يو چی دا نومې سريښته سی تاسی لوستی خلک به پکښی وزيران او د ـ واک خاوندان سی او پوړ موږ به باچهی چلوی موږ دا هيڅ کله نه منو ـ په دغه وخت کی د ـ سيند او بلوچيستان پوړ پوله ادرامان نومېده يو بروهی ډاکو پيدا سو ـ چی خپل د ـ څو کسو مل ګرو سره يې د ـ هغه ځای د ـ خينو بلوڅو سردارانو اؤ سرکاری واک والانو په کومک ډاکې وهلې او شوکی يې کولې وړو وړو ده ته ورسېده چی په روڼا ژوز يې پوړ غونډه کلی يرغل وکی هغوی يې د ـ وسلې په زوړ ناچاره کړل او د ـ ډرست کلی مال پيسې او زيور يې تهول کی يو يې وړ ـ بيا يې خپل په ملو اؤ کومکيانو سردارانو او واک والانو ووېشه ـ نيولې څکه ګران وو چی يو خو واک والان وورسره ميلاو وو ـ اؤ به ل د ـ کلات په ژياته د ـ کچی وورخرمه سردارانو کومک نه کاوه نې خپله نيو اؤ نې د ـ سيند بلوچيستان يا کلات پوليس خپه ل په تړو کی پرېږدوه ل ـ په سر کی خو انګرېزانو لکه چی دوده وو ډېر باک نه په کاوه خو چی کله د ـ هغه شوکی اؤ ډاکې ژياتی سوې ـ د ـ شا او خوا خلکې وبېرول ـ اؤ څه د ـ رابه ن هوډ

شانته کاروڼه یه پېبل کړه ل اوْ د ـ خلګو ډېر ووړته پام
سو هر وخت اوْ هر ځاے پے خلګو خبری کوله کمزوړه
دولتمنو خلګو به په تشه وینا اوْ خبر د ـ یری د ـ غم
(تیکس) په توګه پیسے وورلیږلے نو انګرېزان دے ته
تیار سو چی هروموو یه ونیسی اوْ د ـ کلات سردارانو
تے وویل چی ولے نه نیسی هغو وے چی موږ وس کوو
خو نے سو نیولاے وے نو تاسی خپل په تړه کی د ـ
دے کار لپاره زموږ پولیسواوْتاڼو ته ځاے ورکی چی
موږ یے ونیسو ـ ښاغلی یوسپ الی خان ووړته ویلی وو
چی زه خو تیار یم چی د ـ دے شر د ـ ورکولو لپاره د
ـ سرکار سره هر راز کومك وکه م اوْ زه دا د ـ کوړ
کوروړے اوْ خپه ل واکه باچهی چی موږ سردارانو جوړ
کړی دی نه منه م او نے ته ر ډېره وخته تینګی هم
بوله م ـ پور دے د ـ کلات سردارن دومری جینی
خوابدی سوی وو چی نواب شاهوانی خو یو وخت په
مستنه ګ کی د ـ لاس لرګے هم باندی پورته کړی وو
خو ښاغلی یوسپ الی خان تینګ وو چی
بله لاره نسته یا به داغل موږ نیسو یا یے په تینګه
خپل د ـ غاړی بندوو نه یے را پرېږدو چی انګرېزانے

خپه ل په هولکه کی ونیسی اؤ یا به انګرېزی پولیس یالښکر راځی اؤ ژمونږ په تره کی به نیسی که مونږ په ښونه سمه لار نه نیسو نو سبا له به انګرېزان په زور راسی اؤ بیا به نور بندښتونه هم را باندی ګښېږدی خو په پاے کی سرداران ناچاره سو ادرامان وویشت سو ډله یه خوره سوله اؤ په سیند کی بیرته بے غمی سوله.

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه



مولانا ابول کلام آزاد

# د ـ مولانا ابوالکلام شاګردی اوْ د ـ هغوی پیغام

په ډیلی کی می یو وخت مولانا ازاد ته وویه ل چی "د ـ خوداے د ـ کیتاب په هکله د ـ خینو تپوسو لپاره څه اوزګار وخت راکه" وه "سبا سهار هر څومره وختی چی رارسېداے سے راسه" دوے په دریا ګنج کی اوسېده اوْ زه په سبزی منډی کی سهار له ډېرے بجے پاڅېدم هغه وخت ټانګے ټرام یا بله سواری هم نه وه ـ نیژدے څلور یا پینځه میله پور پښو ولاړم پور څلور نیمی بجے وورورسېدم هغوے تیار ناست وو شنے چایی لا نه وه راغلی لږ دم پس راغلے ته ر اتنیمو بجو چی نور خلګ راتله بنه سره وږغېدو زیاتره وخت د ـ خوداے پور کیتاب اوْ وروسته بیا د ـ بلوچیستان په هکله ـ د خوداے د ـ کیتاب په هکله د ـ هغوے پوهه او خبرتیا څنګه چی څرګنده ده بے کچی ډېره اوْ ژوره وه ـ په ډېروځایو چی پخوا نه رسېده م دوے پوه کړم

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

خو د ـ پیغامبرانو د ـ ناڈربو (معجزات) په هکله پس د ـ ډېرو خبرو هم ما د ـ دوی رو نه سو منلای که څه هم د ـ خوداے د ـ کیتاب هغه ټولی خبری چی زیاتره مولایان د ـ یهودو د ـ پې سرو پایه بودو (اسرانیلیات) له مخی ناڈربی (معجزات) ترې جوړی کی دوے هم سمی اؤ ریواجی خبری ګڼلے او هم دا شان د ـ موبارك د ـ وینا وو ( احادیث نبوی) په نامه چی کمی خبری په دې هکله کیږی هغوے ډروغ ګڼلے یوه یه هم سمه نه بلله خو بیا هم دوے دا منل چی نادربی (معجزات) کېداے سی اؤ ښاغلی ایسا پیغامبرې پې پلاره پیدا مانه که څه هم دوے دا منل چی د ـ خوداے د ـ کیتاب (کتاب الله) له توږو په ډاګه اؤ څرګنده دا نه ښکاری چی هرو مرو پې پلاره پیدا دی ـ دا مرادې هم کېداے سی چی پلارې ښته خو د ـ دوے په ګومان د ـ دې خبری لوییه نخښه دا وه چی څکه چی دا خبره په خلګو کی د ـ کورآن پاك ته ر راتلو وړاندی لا روانه وه ـ که دا ډروغ واے نو د ـ خوداے دې اوستری پاړکی (کیتاب ) له دا په کارو چی په ډاګه یه ویلی واے چی دا ډروغ دی هغه به دا

شان توری نه ویه ل چی د ـ دې خبری مړسته جینی وتلاے سی ـ اؤ زما دا خبره یه نه ښوه منلاے چی دا کیتاب خو په سر کی دینی کیتاب دی تواریخ نه دی ـ د ـ دې خبری خو د ـ دین سره څه اړی نسته چی یو سړے بې پلاره پیدا دی که پلارې لاره ـ اؤ دا خبره هغه په ډاګه کړې ده ـ چی د ـ سره ښاغلی ایسا پیغامبرې لکه آدم (لومړے سړے) بې موره اؤ بې پلاره پیدا سوی نو په دې څه دی ؟ هو کمو خبرو چی په دین کی شك اچولی وو اؤ په دین پوړې اړه درلوده لکه دا چی ښاغلی ایسا چار د ـ خوداے زوے دی یا خوداے دی د ـ هغې په هکله یه په ډاګه وویل چی داسی نه ده ـ تواریخی خبری یه په خاے پرېښوو ځکه چی د ـ هغو په هکله یه بونیادی لاری چاری څو څو ځله بیان کړی دی چی کومی خبری کېداے سی اؤ کومی نه سی کېداے لکه څنګه چی د ـ غاری مړو (اصحاب کهف) خبره هه م د ـ پخوا څخه لا په دروغ رنګ کی را چلېدله اؤ ښیاد ـ موبارك څخه د ـ هغې په هکله په ډاګه تپوس هم وسو خو خوداے پاك په لنډو داسی روڼه خبره ونه کړله چی هغه زاړه

www.kitabtoon.com کتابتون پوهنه

ډروغ په ورك واے ـ په خوږه توګه يه د ـ خلګو وه پام
ته نيژده داسى وينا وکړله چى د ـ هغې پس هم په
سوو کاله خلګو هغه پخوانى خبره منله اؤ نن چى د
ـ زړو نخښو (اثار قديمه) کار اؤ پوهنى وده وکړله
روښتيا خبره څرګنده سوله او موږ د ـ خوداے د ـ
کيتاب په وينا پوه سولو ـ د ډيرو خبرو پس موږ هم
خبره په دے خاے پرېښوولو اؤ هغوے د ـ خوداے د ـ
کيتاب په پوهنه پسى زما کوښه بس ډير وښتايه ډير
ډاډے راکى او راته يه وويه ل چى "زه تا خپل شاګه رد
جوړوه م ته هر کله چى ماته د ـ وزه رکـ پاړکى (قرآن
مجيد) په هکله خت ليکې زه به جواب ده رکوم خو
زه ډير نااوزګاره يه م په خت کى به يو خاے ليکې اؤ
يو تپوس به کوے په مياشت کى به يو خت ليکې او
کې په جواب کى خنډوسو نو خوا به نه بدوے" ګومان
مى دى چى هه م د ـ دے شاګه ردى له مخى وه چى
کله ما د ـ دوے توسير پښتو کى اؤ د ـ چاپ کولو
خوښه مى تره وغوښتله نوهغوے خوښه راکړله چى
ته ر ژونده يه به ل هيڅا له نه ده وورکړے ـ د ـ دے
پسى موبيا د ـ بلوچيستان په هکله خبرى وکړلے او د

ـ ښاغلی یوسپ الی خان په هکله یه تپوسونه وکړه ل ـ په پاے کے راته وویل چی زما له خوا به دا پیغام ورکے چی " د ـ اولسی (سیاسی) کار اؤ جنګ مراد هم دا وی چی یؤ سړے یا ډله خپل د ـ کام او خلګو خسمانے (خدمت) اؤ روزنی (تربیت) ته اوزګار سی ـ اؤ دا واك اؤ وس ولری چی له دے کارے څوك نه ګرزوی ـ تا چی اوس د-مکسی سردار په توګه دا واك ومونت نو د ـ اولسی کارپور ځاے خپه ل او خپه ل د ـ کام په پیسو او د ـ سرداری په مخ وری د ـ هغو خسمانے ته ملاوتړه انګریزان خالی په چغو او نارو نه وزی که تا د ـ خپلو خلګو سمه خسمانه وکړله نو به دی په کام او اولس کی خپله داسی خلګ اومسلمانان پیدا سی چی دا کار سرته ورسوی" ماد ـ هغوے پیغام ووروروساوه اؤ خپله می هم دا خوښه وه چی دوےد ـ سیاسی کاره ګوښه سی او خپل د ـ کام د ـ ودی (تعمیر) کار وکی او د ـ کلات بلوچیستان او نور هیواد لپاره د ـ سرکاری سړی په توګه د ـ انګریزانو د ـ پوهولو او د ـ هغوے څه د ـ کار اخیستلو کار وکی ـ ده هه م را سره خوښه کړله اؤ په ګډه مو د ـ جل

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

مګسی د ـ ودی ټوه سرېښته سوچ کړله ـ چی تر
ټولولومړے اوَ زیات کار د ـ ښوونی (تعلیم) وو ـ چی
د ـ یوسپی جامې (جامعه یوسفیه) په نامه ښوونځی
(سکول) په توګه مو پېل کی اؤ تر ډېره هلته چلېده
ـ خو یو دے خپله ډېر ننګیالے اؤ خان ځوښه (خود
دار) سړے وو دا یه نه وه ځوښه چی یو دم د ـ کامی
اؤ اولسی سیاسته لاس واخلی دا یه ځوښه وه چی ورو
ورو به خان ګوښه کی اؤ بل ځینوملی ګرو به هم یې
خایه سیاست ته راکشاوه او دے یه ځپه ل د ـ خان او
ډلی ډاډ اوَ شاګے ګاڼه ځکه چی اوس لا هه م اؤ هغه
وخت خو ډېر زیات په بلوڅو کی د ـ سرداری او
سردار ډېر زور وو ته ر دهٔ چی د ـ سردار یا سردار
خېله چپ نور خلګ نه خلګو څه ګڼه ل اوَ نه دوے خان
له څه ارز اؤ تول ایښوو چی په کومه ډله کی به څوک
سردار یا سردار خېل نه وو هغې په بلوڅانو کی څرګند
کار نه سو کولاے ـ بل انګرېزان واك والان هم ډېر
ژر وار ختا سوه ل زه اوَ کورد یه ونیولو او دا یه
غوښت چی یوسپ الی خان په زور له کامی کاره بند
کی اؤ یا یه ونیسی ځکه زموږ د ـ بنده پس هغوے

لندن له ټولاړ اؤ انګرېزانو شا په شا د ـ سرداری لری کې ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

## د ـ جل زاوال جن یونن ـ د ـ
## بلوڅو د ـ ژوند ازمودھ

په دغه شپږ کی یوَ وخت د ـ جل د ـ سرینبتے (تنظیم) ودانی اوَ ښوونی (تعلیم) په هکله د ـ سلا اوْ جرکے لپاره خپه ل د ـ یوه توبره سره چی ښاغلی ارز مامد خان نومېده تیکه دار وو د ـ کوټی څه د ـ هغوے په موټر کی جل مکسی ته روان شوم ـ چی نیژدے ڈوھ نیم سوه میله وو ـ ماخیګر له کوټی روان سولو ګومان مو وو چی شپه به په سیوی کی وکو چېری چی د ـ ارز مامد خان د ـ تیکے کار وو ـ سبا غرمے کنی ماښام له به جل ته ورسېږو ـ خو چی څه چل وو ته ر سیوی پوری په سل میله لار کی شپږ څله د ـ موټه ر پیپے سوری شوے اوْ ایله تېر وخت سیوی ته ورسېدو ـ شپه مود ـ ښاغلی هاشم خان سره وکړله چی هلته ماسټر وو دغه وخت د ـ سیوی اوْ جوکماباد تر میان پوخ سړک نه وو چی روان سو ښار

ته نیژدې مو موټر په ختہ کی بند سو ـ چی ټیا راون سولو د ـ بېل پټ په خوا کی مو موټه ر په ختہ کی ډېر زیات بند سو ـ موږ څلورمل ګرو هر څه وس چی وکی وموټه کیښ خوا کی د ـ جتہانو کلی وو هلته ورغلو نارینه یه تہول د ـ مځکو په اوبه خور پسی د ـ کلی لری تللی وو ـ یو سړے مو پیدا کی چی د ـ ناجوړی په پلمه پاته سوی وو ـ هغه په پینځه روپی مزدوری ځپه ل غوایی را روان کړه ل او بېلچے دوے یه راواخیستے خو غوایی د ـ موټره بېرېده نیژدې نه وورتله نیژدې د ـ رېلوے کولیانو کار کاوه هغو ته مو وویل چی یا سامان په زیاته باری راکی یا تاسی راسی کومك راکی هغوے وے چی موږ به تر څلورو بجو سرکاری کار کوو زموږ اوسر را روان دی د ـ هغے پسی به ښتاسی کار دروکو ـ په ناچاری ته ر څلورو بجو ناست وو چی هغوے اوزګار سو راله په پینځه روپی یه کار راوکی چی روان سو ایله ناوخته ماښام ننہال تہسن ته ورسېدو د ـ کومه خایه چی جل ته لار د لویه سړکه بېلېدله او هغه ټیا مخ له یے څه نوښانه اومه لار وه ـ خکه د ـ شپے دالته پاته سولو ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

وړوکی تېسن وو ـ یو بابو ـ ډوه ډرېـ کولیان او ډوه پولیس والا وو ـ کورېـ ودان د- موټه ر له مخی یه د ـ اوسرانو په اوتاك (ریسټ هاوس) کې خاے راکی خو چی د ـ خوراك تپوس مو وکی د ـ هغه هیڅ درك نه وو نه کلی وو ګه دوکان او نه د ـ دوے په راوړی خوری کی دومری مېلمانه ځایده ـ دوے ځوری یا د- بېل پټه راوه ړ او یا د ـ جټ پټه چی هر یو ځلویښت پینځوس میله لری وو ـ خو په پاے کې څه انداز سره وکی چا موټ اوړه راوړه چا څه دال او چا غوړی یوه پولیس والا چه رګ درلوډ توپل مو جینی په ګرانه رانیول او شپه مو تېره کړله ـ سهار د ـ دغه خایه پوړناولده او بے نوښانه لارېه تپوس روان سو ـ لار مو د ـ کچی په پټ باندی وه ـ هسی هه م د ـ بلوچیستان ابادی خورا ځنګنی (ړنګی) وی خودلته بیا مخ له سړی وو هه م نه ـ په میلو به ولاړو سړے به مو نه لید نه څه ودانی یا کوروو ـ پور تېسه ن چی مو تپوس کړی وو یا یو خاے دوه په لاری چی مو څو څری وړی سړے وموښت هغوے به وې چی وړاندی پلانکے یا د ـ پلانکی ښار دی ـ نو موږ به په ښار پسی کاته خو

ښار چېرې کلي مو هه م چېرته ونه لید ـ وروسته ښیا خبر سو چې دوې څوکورو ته هم ښار وايي چې موږ وورته بانده یا کوروونه وایو ـ ځکه له موږه لار ورکه سوله خو د ـ غوییو د ګاډو پور پله یو خوا ته روان وو اؤ ګومان مو وو چې اوس به جل ته رسو چې وخت ډېر تېر سو او موږ پوې سولو چې لار مو ورکه کړه ده کنی اوس به وختی لا جل ته رسېدلو ـ غرمه سوله اؤد ـ لیري څه ګنې ودانی ښکاره سوه د ـ کچی په پټ کی غرمه تروږی (سراب) هم وی د ـ لمر د ـ رمبڼ (عکس) له مخی وروکی بوټی لکه خوز هه م د ـ اوبنتی په شان اوچت ښکاری وروکی دېوال کلاسی اؤ اوبن خو اسمان ته رسی ـ خو تروږی وه که هر څه موږ دغو ودانو ته روان وو په ده ګومان چی دا جل دی چی نیژدې وره غلو د ـ یو واړه کلی هومره ښار وو ډېرخلګ واړه زنانه اؤ سړی د ـ موټه ر مخی ته را وواته ـ ځکه چی موټر هغه وخت دوې ته ډېرناپیبنه شې وو ـ چی تپوس مو وکاوه وه دا د ـ ګنداوه ښار دی په ګنداوه کی به د ـ کلات سرکار د ـ پلو (ضلع) اوسر اوسېده چی مستوپی به باله د ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

هغه تپوس مو وکی ورغلو د ـ ښه مرغه پېژاندوے سړے وو ډاکټر پیرمامد نومېده په کوټه کی پخوا د ـ بوډګانو درمانی (وټرنری اسسټینټ) وو ـ هغوے په دوتر کی پور یوه ماته کورسی د ـ یوه مېز خواته ناست وو ـ ځنګ تپے د ـ لرګی یو لوے سندوخ پړوت وو اؤ کوټه په خلګو ډکه وه چی ټول پور مځکه ناست وو ـ ما چی ورته کاته خپه ل د ـ وړوك والی د ـ ګولیستان لومړے ښوونځے (پرایمری سکول) را یاد سو کټ مټ هغه نخشه وه ـ دا د ـ ښاغلی موستوپی کچاری وه او دا خلګ د ـ ښار او تړی رئیسان خانان مشران او د ـ ده درباریان وو د ـ ښار کم خلګ چی موږ باهر ولیده ـ اؤ بیا دا درباریان د ـ ټولو د ـ ښو جامو اؤ خویو ځخه سخته ناداری ـ لوږه ـ ناپوهی اؤ ګندګی ښکارېدله موږ چی ورغلویوه سړی موستوپی ته ډېری سختی زاری کولے او وورته یه ویه ل چی دا لماسره سخت زیاتے دی دا زما ته ر وس باهر ده اؤ داسی نوری خبری اؤ موستوپی دے د ـ رییس په نامه باله اؤ پوهاوه یه چی دا زه نه سم پرېښووا ے دود (قانون) دا دی زه ځه کولا ے سم ـ وروسته چی بیا ما

تپوس وکې د ـ هغه رییس (خان) دا ټولې زارې د ـ
ښپږو انو لپاره وې ـ ښاغلی ډاکټر چې موږ ولیدو ډېر
هېښنه سو چې داله کومه ؟ خو راولاړ سو ډېر په
مینه راتر غاړه ووت اوُ ښیا زموږ د ـ ناستی په غم کی
سو ـ خپله کورسی یه ماته راکړله دے پور سندوخ
کښېښنوست هغه نور څوك پر مېز او څوك چېری ـ
دربارېانو چی د ـ موستوپی دا تپاك ولید ـ هك پك
سو چی دا لا څوك دی ؟ روغ بړ یا تپوس ترے پاته
سو دربارے خور کی او ولاړ چې زماډېر ارمان سو
ولی ماغوښت چې څه خبری وورسره وکم ـ ډاکټر چی
زموږ په مراد او د ـ لاری په خوارو خبرسو ډېر
ارمانے وکې ـ او د ـ لاری په تپاس پېل سو د ـ لاری
بلد خلکے راوغوښته جل د ـ دغه ځایه شل میله وو ـ
ډوے لاری یه وے خو وے چی پور هغه یوه لار چی
ښغه جل له ځی یو د ـ لرګو پول دی خبرنه یو چی
هغه څنګه دی موټر به باندی پوریوزی که نه ؟ اوُ
دا بله لار چی پور پنجوك ـ دا په جل کی یو کلی او
تاسیل دی ـ وورخی سمه ده خو لږ اوږده ده ـ نه ن به
د ـ یوسپ الی خان نوکر ډاك له راځی د ـ هغه څه به

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

د ـ پوړل درك ولګی په دے کی هغه نوکر راغی وے
چی پوړل وّران دی ـ سات پس ډوډی راغله ډاکټرډېر
چرګان پخ کړی وو اوْ چی ما تپوس وکی د ـ کچی په
دے لوے ښار کی هم چرګ دغه وخت په ډوے انے وو
چی د ـ پّښین په کلو کی په یّوه نیمه روپی وود ـ دے
نه د ـ خلګو د ـ ناداری څه اندازه لګېداے سی ـ

# دمب دلوړا

( د ـ دلوړا زوړ ښار ) چې ژوانېدو نو ښاغلی موستوپی هه م راسره روان سو۔ په کچه لار مو موټر بوت اؤ یوه کلی ته ورسېدو ـ چې د ـ پښتنو کلی (بستی پټهانان) یه باله د ـ کلی په څوا کی یوه وړه واله وه څو د ـ مخکی د ـ اومتیا اؤ ختو له مخی مو موټر نه سو په ګهولاے یو سړے راغی موستوپی هغه ولېږه چې د ـ کلی نوړ سړی راولی او دا موټه ر پوری باسی ماتې وه چی راخه دلته څوا کښی یو زوړ ښار دی لار هم پوړ هغه راځی زه او ته به هغه وګوړو دوے به موټه ر راولی ـ موږ ورلو په هغه زړو کنډوالو کی وګرځېدو د ـ موهن جو دړو د ـ وخت راته ښکارېده څو ښه لوے ښار وو ـ یو وخت لکه چې چا پرنګیانو کیندلی هه م وو یا به خایی خلګو د ـ خزانې په تلاښ کی کنتلی وو لکه چی هر چېرته زموږ د ـ خلګو څوے دی ـ نوړ څو څه ښکاره نا پېښه شے نه وو پکښې څو یو ځا (کوهے)

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

بیو ګز ډوه لښ وو ـ چی په ګردو (ګول) ډرو پخو خه
ښتو ګه رد (ګول) پوخ وو داسی په ګچه پوړه ګه
ردی مخپے خه ښتی ما په بل زاړه ښار کی هیچیری هه
م نه دی لیدلی ـ موستوپی راته وے چی څو ژوزی
ۆړاندی مادلته د ـ څه کانی شی (دهات) جوړه یۆوه
وړه د ـ غۆایی پښه میندلپے ده خو لا می کتلپے نه ده
چی د ـ څه شی جوړه ده ؟ کلات له بے لیږم ـ کلی
نیژدے وو او موږدلته ښه ډیر وخت ولګاوه خو موته
ر رانغی ځکه موږ واپس راغلو د ـ کلی خلګو د ـ
کار کولو په ځاے موتر بے ځایه په واله راګه کړی وو
اۆبند سوی وو ـ دا وخت هم نیژدے دیرش کسه شا اۆ
خۆا وورته ناست یا ولاړ وو خو کار یۆوه نه کاوه هر یۆوه
بیله لار سوچوله چی هر چرے د ـ پۆریوتی او بے سره
کام خوے وی چی موږ راغلو او د ـ موستوپی په وینا
ډۆرے څلور کسه په کار لګیا سو په لس مینته کی
موته ر راوخوت ـ او موږ د ـ پنجك پخوا روان سو
چی ښپږ اته میله وواو دوے ویل چی لار سمه ده ـ څه
ځاے خو لار سمه وه خو ۆړاندی د ـ که ښت لوے لوے
بندونه راغله چی لارے پوراوچتو پولو اوویښتپے وه ـ د

ـ غٓویو ګاډی باندی ٓتللی وې نوره خو سمه وه خو د ـ بندو په هره پوله کی د ـ غٓویو د ـ ګاډو پېو لږ شانته ژوری چری کړی وې اؤ ٓمیاڼے اوچت پاته وو ـ زٓموږ موټه ر پخوانے هپ موبیل وو چی پیپے پې په چری کی ولوېدې نو د ـ ٓمیان اوچت ځاے پې ډیپرینشه ل را بند کی ـ له موږ سره څه بېلچه یا د کیندلو بل شے هم نه وو ـ نو دا چل به مو کاوه چی هر ځاے به بندېز راغی موټه ر به مو په جیك اوچت کی اؤ ٓبیا به مو دیکه ورکړله چی ته ر بندېز به واووښت ـ داسی به یو شه ل بندی راغلی وی پاے دا چی پنجوك ته تېر ماخوستن ورسېدو هلته د ـ ښاغلی یوسپ الی خان اخنبی میر ګوهر خان واك وال وو چی زٓما پېژاندوې وو هغه مو پیدا کی ښه شٓپه یه راکړله ـ د ـ سیتمبر یا اکتوبر ٓمیاشت وه ـ زٓموږ ګرمی کېدله او دوې په کوټه کی اور بلاوه ـ څکه موږوې چی موږ به د باندی په غولی کی څملو ـ وختی خو ښه ګرمی وه بیده سوی وو خو ډوې ډرې بچے څه رغ بروغ سو زه ویښ ٓسوه م ښه یخ می سوی وو او مل ګری می چا ٓبرستن واخیستله په موټه ر ننواته څوك ډوه ډوه سو او

ډوبې برستنی یه په خان واچولې ما تر تیلتك لاندی پټې هم را باندی واچاوه خو یخ وار په وار زیاتېده تر سهاره می خوب جینی ونه کی اؤ دومری یخ می وسو چی په ژوند می بل چېری نه دی سوی - دا په هر ریګیستان کی تل وی چی د - ورځی او د - شپې په ګرمی او یخ کې ډېر بېلتون وی - موږ په ناولده وو د - ورځی په ګرمی یه تېرواتو - خکه دا کراو را پېښ سو - سهار د - چایو پس جل ته روان سو چی لس دوولس میله وو - یو سرې پور چابکه بلوڅی اسپه ورآندی د - لار ښوونی لپاره روان وو څو میله خو لار ښه وه خو وروسته یو اووه اته میله خاې دومری مټ او خاوری وې چی هیڅ اندازه یه نه وه - په بند موټر کې دومره سپیره کړو چی په جل کی د - پېژاندو وتلی وو - چی ورسېدو ښاغلی سردار خبر وو سره وموليده - او په دې مو خبر کی چی که څه هم موږ د - ډرو شپو لپاره راغلی وو خو ډوبې شپې مو په لاری وسولې او زه نور وخت نه لرم سبا له به بیرته روانېږو - دوې ته هه م مشه ر ورور د - هستوګی خاې هم نه وو پرې اینبی خکه ښاغلی یوسپ الی خان خپله په خېمه کی

اوسېده ـ لوېيه درباري خېمه ږه يو سر تې دوے د ـ پروتي ځاے جوړ کړی وو او به ل ته د ـ لمبا اوپه ځميان کې د ـ ناستي او کچارې لپاره لوے ځاے وو ـ د لمبا او چايو پس دستي ژما تهېکداران ځپلوان ښاغلی ارز مامد خان او ښاغلی اودولا جان د ـ سردار د ـ سرو سره د ـ هغوے د ـ ښنګلے ـ دوتر او ښووونځي (سکول) د ـ ځاے په کتو نخشو سريښته (انتظام) او د ـ خرڅ په اندازو لګيا سو زه او دے ځپه ل په کار ماښام ډواړه هغه د ـ خېمې د ـ غوری په وړه کوټه غوندي ځاے کی ويده سو ـ ځپه ل په ګومان مو د ـ جل د ـ سريښتې ـ ښوونی ـ درمان ـ دود (قانون) او غم (تېکس) يوه پوره سريښته جوړه کړله خو د ـ خوداے پاك لکه چی داسي نه وه ځوښه ـ سهار له چی موږ را روانېدو ښاغلی يوسه پ هه م په ځپه ل موټر کی راسره روان سو په لار کی پوړ شپږ يا اووه ميله په دغه کال يو ځاے چينه پيدا سوے وه او ښې ډېري اوبه يه کړی وے ـ دېرش کاله وړاندی د ـ دوے د ـ پلار په وخت کی هه م دغه ځاے اوبه کړی وے او بيا بيرته وړکی وے ـ د ـ دوے مراد وو چی څه داسي چل وسی

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

چی دا اوبه پخې پاته سی ـ هغه مو وکتلې ژما ګومان وو چی که کارېز تر لاندی سی اوپه مانده کی څه نوړ هه م وواهه سی نو به اوبه را وګرزی ـ یا که د ـ اینجینیرانو څه نوی چل ژده وی هغوے هه م باندی وګرزوی

ژما لپاره ناپېښبه خبره دا وه چی پوړ کومه اته میله لار چی پړوند ډېر مټ اوَ دوړی وه پَه تېرو ۲٤ ګانټو کی پوړ هغه ټوله لار کّلك سرغشی شانته وابنه خّواره سوی وو اوسم سړك تّرے ساز سوی وو ـ د ـ ښاغلی سردار نه چی می تپوس وکی چی " دا څنګه وسو ؟ " وے " پړوند می د ـ شا اوَ خّوا د ـ کلو خلګ خبر کّړه چی دا کار وکی او بس دا دی کړی یه دی " ما په هسکار (قصدا) تپوس تّرے وکاوه چی "څومره خرڅ به باندی راغلی وی ؟" وے "خرڅ نه دی باندی راغلی اولسی کار وو اوَ اوله س وکی" په خندا می ووړته وویل "چی دا اولسی کار دا شان اوله س وکی نو هغه بېکار څه ته وایی چی موړ‌ے غیندو او پریاڼونه باندی کوو" او په خندا خندا مو ډېری خبری باندی وکّړلې روښتیا دا ده چی د ـ اوله س دے یووالی او

خّپه ل د ـ مشر په خوله د ـ خّوښی ده کار ډېر خّوند راکی، اوْ ډېره هیله می پیدا سّوله چی د ـ اوله س دا یو والی، اوْ په پټو سّترګو د ـ خّپه ل سردار وینا داسی منل چی اوس نور اوْ ناپوهـ سرکاری بلوڅ سرداران لغړ خّپلی ځانی ګټی ناروا کارونه تّره اخلی اوْ د ـ انګرېز د ـ مّرییتوب د ـ ټینګولو لپاره یه په کار راولی ـ که د ـ پوهو نېکو او اولسی سردارانو په لاس ورسی اوْ د ـ اوله س د ـ ودی اوْ ودانی، کار جینی واخلی نو د ـ ده خّوارانو دا بده رّوز څومری ژر بدلېدا‌ے سی ـ ښاغلی یوسه پ الی خان ته می هم وویل چی د ـ خّوار اوله س دا یوْ والی اوْ د ـ منلو اوْ د-مینی دا خو‌ے سّتاسی تر ټولو لو‌ے دولت اوْ د ـ نېك مرغی، پیلامه کېدا‌ے سی خودا‌ے دی وکی چی تاسې خّوندی اوْ لا زّیات کی، ـ دالته دو‌ے پاته سّوه ل اوْ د ـ موږ سره یوْ د ـ لاری بلد راسرهـ کی، چی د ـ څلوېښتو کالو یو سادهـ اوْ خّوار سینده وو ـ ده د ـ مه خ خّواته د ـ ډرېور سره ناست وو ډېره موټه ر ته دلی دوری کاته اوَ په لاری چی د ـ موټه ر ښکه ر (هارن) وږغېده به واکه به دلی دوری وکاته زّما

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ووړته پام سو په سیندی ژبه می تپوس ټرے وکی چی
"تا کله موټه ر لیدلی دی ؟" وے "هو د ـ سردار
موټه ر خو می لیدلی دی" ما وے "کله پکښی سپور
سوی هه م یہے" وے "نه" داسی می ژو رو تپوسونه
جینی کوه ل سری رېل تر اوسه نه وو لیدلی او نه خپه
ل له کوره تر پیښځلس شل میله یوے یا بلی خوا ته
باهر وتلی وو ـ او لا ده راته ویل چی " ژما په شان
نوړهم ډېر خلک شته دی " د ـ سهاره راسی ژموږ د ـ
موټه ر په ډیپرینشه ل کی څه نابلده ږغ وو خو په
موږ کی یو هه م تر چلولو په ها خوا په موټه ر نه
پوهېدو ژما خو لا چلوه ل هه م نه وو ژده ـ په لار کی
مو د ـ میرپور او کوټکے کلی هه م ولیده او دالته
مو هغه بلد سرے پرېښو د ـ نتهال تهسه ن ښکارېده او
موږ وور روان وو ـ دالته مځکه دومری سمه ده چی
پټ وورته وایی چی د ـ هاپاله موږ راتلو ہے لاری به
مو موټه ر پور اتیا میله ګانټه پرېښوولا ژیات او مه
خ له به نه ښوړېده خینی خلک پوړ دے پټ په موټه ر
هوسی هه م نیسی ورو ورو موټه ر کی هغه ږغ
ژیاتېده نتهال به اووه اته میله وو چی موټه ر مه خ له

کریاب سو ـ غرمه وه نه نیژدې کلی وو نه بونیادم ـ ډوډی اؤ لړاوبه خو ښاغلی یوسپ الی خان راسره اینښی وې دالته مو ډوډی وخوړله ـ اؤ سلامو وکړله چی څه کوه ل په کار دی.ډرو ډروپه موټه ر لګیا سو ـ وموښپه ړ دی.

د ـ ډیپرینشه ل وړه ګیراری مه خ له ماته سوې وه د ـ ډویمی یه هه م څه غابنی مات کړی وو ـ دالتې د ـ جوړیدو هیڅ هیله نه وه بله لاره نه وه پاته یا به موموټه ر اؤ یو سړے دالته پرېښوو اؤ نور به ټلو د ـ کوټی یا جوکماباته به مو سامان اؤ میستری وورته راووست ـ خو بنده دا وه چی دا سړے به په دې پټ څه خوړی اؤ چیښی اؤ څنګه به اوسی ـ بله لاره دا وه چی موټه ر تېسه ن ته ورسوو اؤ په ګاډی کې کوټی ته ولېږو ـ خو ګرانه داوه چی دا دومری لوے موټه ر به اته میله لری تېسه ن ته څنګه ورسی ؟ مل ګری می څه وار ختا وو ـ خو ما وار ختا نه کی اؤ وورته می وویه ل چی په ناسته څه جوړه نه ده مځکه سمه ده چی ملا وتړو څلور کسان یو موټه ر په دیکو تر ماښامه تېسه ن ته رسولاے سو کنی نو به بیرته کلی له خو یا

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

جل له څه سرينبتته به کوو نو هر څو وخت چی مو
ولګېده خوپه پاے کی مو ملا وترله اؤموته رمو په
ډېره خواری په اووه اته ګانتهے کی تېسه ن له په ديکو
ورساوه ـ بيلتی مو کی په دے کی د ـ کوتی له خوا
ګاډی راغله مور پکښے جوکمابات له ولاړو هلته مو
د ـ شپے د ـ کوتی مېل ونيو اؤ سهار له واپس کوتی
ته ورسېدو ـ چی ته ر څو مادغه زاوال جه ن يون نه
ووکړی اؤ کچی مه نه وه ليدلے روشتيا دا ده چی زه د
ـ خواری ـ بے خبری ناپوهی او وېرانی په مراد اډو
پوه نه وه م ـ ګومان می وو چی دا څيزونه به هه م
هغه شانته وی لکه چی ماتر اوسه د ـ کوتی په پلو
کی ليدلی وو ـ چی کچی می وليده په کوته کی د ـ
سره داڅيزونه وو هه م نه !! د ـ کچی ډوډے برخی
مڅکه خو داسی وه چی د ـ سوونو کلو راسی نه څوك
باندی اوسېدلی وو نه اباته سوے وه ـ په پاته ډريمه
برخه کے په ډېره برخه کی د ـ زړو بندو د ـ ځينو پولو
نوښانونه لا پاته ووچی د ـ دے نخښی وے چی
پيسنخوس شپېته کاله وراندی دا مڅکه هم ودانه وه اؤ
خلګ باندی اوسېده ـ خو اوس شاړه پړوته وه ـ اوس

به ایله چېرې د ـ ټولې مڅکې ێوه لسمه اباتېدله اؤ هغه هم کله کله ـ چې د ـ غروڼو نه په ناړې اؤ نوړو خؤروڼو کی څه ډېر زوروره نوز راسی ـ دې ته می پام سو چې د ـ دې هومره وېرانی د ـ ژیاتره خلګو د ـ ټلو اؤ د ـ پاته خلګو د ـ دې دومری خؤاری ـ ناخبری اؤ ناپوهی پیلامه څه کېداے سی چې ؤروؤرو می لټون پسی وکی کچی یو وخت ښه ودانه هولکه وه خلګې د ـ سیند ته ر سرکار لاندی په شمېرډېر اؤ خؤشاله وو ـ خو سل کاله یا څه ژیات ؤړاندی دا مڅکه د ـ پښتون خؤا یاخوراسان زورورو باچهانو د ـ سینده را ببله کړې اؤد ـ کلات خان تې د ـ هغه د ـ ێوه ؤرور په خون بها کی چې په یوه جنګ کی مړ وو یا د ـ جنګ په تاوان کی وورکړے وه اؤ د ـ کلات خان دا مڅکه څه خو د ـ ساراوان اؤ جالاوان بېلو بروهی تپو ته د ـ هغوے د ـ جنګی تاوان اؤ د ـ ؤړاندی جنګی کومك لپاره جاګیر وورکړې وه اؤ نوره یه خپله د ـ سرکار په توګه ساتلې وه ـ څکه چې په کلات کی د ـ لویه سره بلوڅو اؤ برؤهیانو کله هم سرکار ته غم (مالیه یا ټیکس) نه وورکاوه نو د ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

کلات د ـ خان د ـ هغه د ـ لښکر اؤ سرکار ټول خرڅ
د ـ مسته نګ اؤ کچی په دغو زمینداروں چلېده چی
په ختہ بلوڅ یابروهی نه وو ـ او پړه خلګ وو ـ څکه
یې د ـ دوے څخه د ـ زمینداری د ـ نیمی برخی څه
سپوا نیژدے شه ل نور غمونه په بېلو نمونو اخیستہ
چی هبوبات (حبوبات) یې وورته ویه ل ـ چی خود به
وړو وړو د ـ سرکار اؤ خان د ـ خرڅ د ـ زیاتېدو سره
زیات سوی وی ـ د ـ دے سپوا راز راز بیګارونه اؤ د
ـ واك والانو زیاتی اؤ شوکی وے په کامی اؤ اولسی
توګه یه دا خله ګ دومری خواراو سپه ك کړی وو چی
نه خو په سرکار یا سرداری جرګو کی چی د ـ
سرکارکار یې چلاوه د ـ دوے څه برخه وه اؤ نه په دود
کی دوے د ـ بلوڅو اوبراهویانو سیالان ګڼه ل کېده ـ
په دغه وخت کی چی د ـ بلوچ مړی خون بها نیژدے
ډرے زره روپی وه ـ د ـ دے خوارانو د ـ سر اؤ ژوه ند
بهالغړی ډرے سوه روپی وے او هه م د ـ دغه خاے د
ـ اوښار ناری زات غوایبے به په اته سوه خرڅېده د ـ
کلات په بلوڅی دود کی د ـ تورو (زنا) سزامرګ یا د
ـ مرګ هومره شرمانه وه خو د ـ دغو او پړه خلګو د

ښځی سره د - بلوڅ سړی د - توره ښت ( زنا ) سزا
مرګ نه وو خالی سه ل یا څه زیاتی کمی روپۍ یه
شرمانه وه وروسته بیا خان امد یار خان ژموږ د-ډلی
اؤ نوروډلوړ - پرله پسې خوارو زارو اوکړاو پس دا
دوډونه مات کړه ل اؤ اوپرد خلکې هم د - دوډ په
وړاندی سیالان وکړه ل خو یو ناپوه اؤ نتلی کام چی
په کلوته ر به ل ناپوه زوروه ر اؤ زلنده کام لاندی
دومره پې وسه راغلی وی هغه خالی د - دوډ په بدلیدو
سم دستی چیرته سیالان کېداے سی - د امریکې
هبشیان سره د - پوهی اؤ دولته لا ته ر اوسه نه دی
سیالان سوی - دا خو د - هغه خلکو شان وو چی د -
خان پور مځکه پراته وو د - سردارانو اؤ د - هغوے د
- تپو د - خلکو بزګه ر یا کښتګه ر خو لا نور هه م
خوار او نتلی وو - د - دے ځاے په خوا کی د - سیند
ولات (صوبه) وو چی هر رنګه چی وو څه بور توګه
سرکارے درلوډ اؤ بیا خو کاله وړاندی د سکر د -
بند له مخی هلته ډېری مځکی ودانی سوی وے - او
هلته کښتګه ر او مزدوران په کار وو - ځکه د - کچی
زیاتره خوار او اوپرد کښتګه ر څه د - دے زیاتوبه

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

اؤ څه د ـ سیند د ـ آباتئ له مخی د ـ خپلی مېنی کېه سوی اؤ سیند له تللی وو اؤ وور سره ډېر ماړه اوَ وړی بلوڅ او بروهی هه م کېه سوی وو ـ اؤ د ـ هغو برخه د ـ کلات سرکار اوَ سردار زیاتوب هه م وه پاته نتلو ته پاته سوی اؤ باندی وېشلی سوی وو ځکه هغوے لا نورهم نتلی اؤ خوار وو ـ وروسته بیاما په خان زموږ بیلو ډلو مل کړو اؤ اخبارو به ته ل د ـ دے خلکو لپاره کارکاوه د ـ کلات د ـ خان ـ سرکار سردارانو اؤ انګرېزانو سره مو ډېری ډغری د ـ دوے پورسر ووهلے اوډېر څه مو وورله وکته ل اؤ د ـ دوے بده زوز څه خو بدله سوے ده خو لا ډېر څه کوه ل پاته دی ـ

## د ـ بلوڅو سرداري او دودونه

خلک وايي او نوی بلوڅ ليکوال ليکي چې د ـ بلوڅو سرداري هم يو وخت د ـ کام ولي او اوله س واکي مشري وه ـ او وی به هه م دا شان خو دغه وخت چې مالېدله د ـ انګرېزانو په وخت کی يا چې زه اروه م د ـ انګرېزانو ته ر راتلو لږ وړاندی هه م دا شې پوخ نيکت (ميراث) وو د ـ پلاره به و زوے ته پاتېدله ـ او چې يو وار به څوک سردار سو بيا چې به هر څه وو اوله س چېری لری کولاے نه سو ـ هه ن که به د ـ کلات د ـ خان يا وروسته بيا د ـ انګرېز سرکار څوک سردار ناخوښه سو نو يې لری کی ـ دا هه م وه چې ته ر انګرېز وړاندی د ـ اوله س په وګړو کی څه ژوه ندلا پاته وو د ـ اوله س او سردار او د ـ هغه د ـ مل ګرو په وسله کی به هه م څه ډېر بېلتون نه وو نو چې د ـ چا سردار زياتوب به ته ر دود واوينبت اود ـ اوله س د ـ زغملو به وووت نو جنګ جګړی به پېبل سولې او

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

اوڵه س به سردار وواژه خو په خاے ہے بیرته هه م د ـ هغه په نیکت (شجره نسب) کی د ـ هغه مشر اوٚ تبرونیہ (نیژدے خپل سرے) سردار کی ـ چی انګرېز راغیہ اوٚ بلوچیستانے د ـ بلوڅو سردارانو په کومك او د ـ دوے اوٚد ـ خان کلات د ـ جنګ جګړو د ـ میانځګه ر په توکه ونیو ـ نو هغوے خپه ل د ـ سرکار اېرھ په دہ کېښودله چی د ـ اوڵه س مشران ہے ته ر لاس لاندی کړل اوٚ د ـ اوڵه س څه واك ہے دوے ته په لاس ورکیہ د ـ اوڵه س په مخ (مقابله) کی ہے ته ل په پیسو زور اوٚ وسله ہے د ـ دوے کومك کاوه ـ د ـ دہ پاے دا وو چی یٚوہ خوا ته سرداران د ـ اوڵه س څخه مخ له بېل شے اوٚ یو ډوله سرکاری واك والان جوړ سوی وو اوٚ خپه ل په سرداری ـ تنخا اوٚ سرکاری ارز (عزت) کی وه اوڵه س ته په هیڅ اړ نه وو ـ دا شیان مخ له د ـ پولټیکل اېجنټ په لاس اوٚ د ـ هغه په خوښه پوری تړلی وو که اوڵه س به خوښ وو که ناخوښه خو چی پولټیکل به د ـ چا نه خوښ وو د ـ هغه تنخا ارز درباراوٚ کورسیہ به سلامته وه ـ بلی ډډی ته د ـ انګرېز په ډاډ اوٚ زور په اوڵه س کی

د ـ جرګې او لیویزو په نامه د ـ پولیس او ځیانخګړی ډواړه کاروونه د ـ سردار په لاس کی وو ـ هغه هم د ـ هر رنګه دوده (قانون) اوزګار لغړ د ـ سردار یا سردارانو په ځانی خوښه ـ نولکه څه نګه چی د ـ خپه ل سره آدم زو ته ل خوے راغلی دی په دے سردارانو کی هه م ډیره زیاته سرانښی (حرص) او د ـ زور زیاتی مینه پیدا سوے وه په بیلو نمو او پلمو یې د ـ اوله س وګړی شکوه ل په زور یې د ـ کامی کومك په نامه یې ګار او د ـ بسپه ن یا انداز (چنده) په نامه یې پیسې ټرے شوکولې ـ که د ـ سردار په کور کی به څه غم رنځور یا مړ وو هه م به اوله س پیسې وورکړلې که به څه خوشالی زوکړه یا واده ووهه م که سردار به ته ر څلورو یا زیات ودونه کوه ل خرڅ یا لا زیاتوب پیسې به اوله س وورکولې که یې هر کال نوی موټه ر رانیو یا یې د ـ انګرېزانو ډوډی یا د ښکارونو مېلمستیا وی کولې همې غم پور اوله س وو ـ سردارانو دومره ځان ته کتلی وو او خودایی یه په ځان جوړه کړے وه چی د ـ اوله س وګړی خو پړېړده خپه ل تېرونی ته ر دے چی مشران ټرونه او وروڼه یې هه م د

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ـ سردار په وړاندی پوړ کوړسی یا کټ نه سو
کښېناستلاے هرو مرو به تهول لاندی ناست وو ـ زیاتره
سردارانو به د ـ چا سره یو ځاے ډوډی خوړل د ـ خان
سپکه ګڼله ـ ښاغلی یوسه پ الی خان راته وے چی
ما هیڅ کله هه م خپه ل د ـ سردار ورور سره یو ځاے
روټی نه ده خوړلے هغه دا د ـ ځان سپکه ګڼی چی یے
سرداره د ـ به ل چا سره ډوډی خوری ـ یو وخت د ـ
ښاغلی نواب اسدولا خان ریسانی مشر اؤ سپین ږیری
تره میر کریم بخش په کوټه کی ماته وے نواب څه
ناسازه دی تپوس لے نه خو ؟ لاړو نواب په سورکیانو
کی ډېره وو باهر په تمبو کی ناست وو یؤ ډوه
پنجاپیان وسره په کوړسو ناست وو نوری هه م ډېری
کوړسی اوزګاری پرتے وے ـ چی موږ ورغلو د ـ روغ
بړه پس چی کېناستو که ګوړم میر کریم بخش په
مځکه ناست دی زه د ـ دوے په دوداؤ د ـ سردارانو په
خودایی لا خبر نه وم ـ ماته دا خبره بده وایسېدله ـ را
ومی باله چی "بره کښېنه" خو هغه وے "زه دلته
خوښ یم" زه ووړته تینګ سومه ان چی وور پاځېده م
خودے راولاړ نه سو ـ چی را واپس سو ښاغلی میر

کریم بخش راته وویل "ولي خان څه دوښمنی دی راته وه
که څه له دی زه کورسی ته بلله م؟" ماوویل "پرېږده مړه
دومری لېږمي (تواضع) مې نه لګي موږ ټول ستا د ـ
زامنو په ځای یو موږ بره ناست وو او ته لاندې ناست
وې او نه راولاړیدی" سړی پوه سو چې زه نابلده یم
په سترګو کی اوښکی راغلې ویل "خان ته ګرم نه یم
نابلده یم زه هلته بره چیرته کښېنستای سوم هغه
وخت به نواب راته ویل چې پاڅه کوز کښېنه او
شرمولی یې وه م" ماوویل "زه چې ناست وه م او هغه نور
پنجاپیان چې ناست وه ل ؟" ویل "ستا سې خیر دی
تاسې خود ـ نواب راج نه واست داغم خو زموږ په
کور دی هیڅ ریسانې که خپه ل وی که بیګانه که
مشر وی که کشر د ـ نواب برابرنه سی کښېنستای" د ـ
دی شیانو او خویو څه ټول بلوڅ تنګ وو خو بیا هه م
زما په ګومان لویه بد بختی دا وه چې سرداری او د ـ
سردار خودایی د ـ بلوڅو په وینه کی وه ـ سردار
خوسردار وو ـ هغه یې سردار باله د ـ سردار خپه ل
وان چې به ګډه یې سردار خیل بله ل یوه ته یې میر
ویه ل ـ بل چا ته به میر نه سو ویه ل کېدای ـ د ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

سردار خون بها د ـ شلو کسانو برابره وه ـ او د ـ میر دا د ـ لسو ـ د ـ سردار د ـ سپکی یا تاوان سمه سرکاری سزا دا وه چی په هر څه یا توګه چی وی د ـ سرداره به بخښں غواړی چی هغه یه وه بخښی کنی په جېل کی به پړوت وی ـ ته ر دے چی په خپله غلا بېلګه غله یا تور پسی هه م که څوک د ـ سردار ښار (کلی) له ورسی هغه ګوا د ـ سردار سپکه وکړله څکه خو هر شان تور (محرم) نر یا ښخه چی د ـ سردار و کلی ته خان ورسوی هغه د ـ وګړی اوسرکار د ـ لاسه بچ سو بیا چی کله د ـ سردار خوښه سوله او څنګه چې خوښه سوله روغه یا پرېکړه یې کوی څکه خو د ـ سردارانو کلی او کوړونه د ـ غلو ـ خونیانو او تورو خلګو اډے وی ـ دا دود به هه م یو وخت د ـ روغی جوړی (امن) لپاره پېل سوی وی خو دغه وخت چی ما لید زیاتره سردارانو خپه ل د ـ ګټی زور زیاتی شوکو غلاګانو او ډاکو وسله ترے سازه کړے وه د ـ بلوڅو کامو په زړونو کی د ـ سرداری سرینبتے چی دغه وخت لغړه د ـ بنده بندګی وه داسی خاے نیولی وو چی دوو کسانو به خپه ل په میان کی هر چېری

روږغ بړ ـ یا ښتړے مسپے کوله هرو مرو ہے دا وہے چی
د ـ سردار سرته دی خیر وی ـ که ټ مه ټ لکه د ـ
نازیانو هېل هېتهله ر ـ په بلوڅو کی د ـ بره اؤ لاندی ـ
یا ښپه ك اؤ ډروند اؤ ارزمه ن اوَ ہے ارزه دا بېلتون
(طبقاتی تقسیم) دومره ژیات وو چی د ـ کلات له
خانه چے راونیسہے ته ر لاندینی وګړی پوری د ـ هری
تپہے ـ خېل اؤوګړی څاے (درجه) ښکاره وه اؤ څکه
چی دہے شی په نیکت اؤ زیی پوری اړه (تعلق) درلوده
نو هیڅ کله اؤ په هیڅ وخت کی بدلېداے نه سو ـ په
دوے کی یو ټینګ دود ـ د ـ خیر خبر اخیستلو
(حال) وو ـ هرو ډوو کسانو یا ډلو چی به سره ولیده ـ
دا دود وو چی تپوس ہے څله کاوه چی خیر خبر (حال)
راکه ـ د ـ دہے تپوس لپاره په څایی یا ناستو خلګوکی
هه م دا څرګنده وه چی دا تپوس به کم سړے یا د ـ
کمی تپہے اؤ ټبہے سړے کوی لکه دا چی څوك سردار به
ناست وو نو هرو مرو به تپوس هغه کاوه کنی نو
سردار خېل یا بل غټ او چی دا به نه وو نو د ـ
ټلانکی تپہے یا ټبہے سړے ہے کوی اؤ که داسی بنده
واے اؤ به ل چا تپوس کړی واے نو دا د ـ هغه ښپکه

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ګڼله کېده اؤ شر جوړېده دا شان د ـ خبر وورکوه ل هم وو ـ تپوس وال به هه م ته ر تپوس وړاندی خّپه ل د ـ ّملو نه تپوس وکی چی "خبر به ټرمے واخلو" ّبیاپے تپوس کاوه او وورکولو والا به هه م داشان ته ر جواب وّړاندی خّپه ل دـّملو خّوښه غوښته چی "خبر به ورکو" اؤ بّیا پے خبر پېل کی چی " د ـ سردار سردی سلامت وی " Hail Hitler" ښه خبر خو دا وو چی د ـ کومه وخته دوے سره لیدلی وو د ـ هغه ځایه پے پیل کی اؤ په دمے ّمیان کی که به کال سوی وو که ّمیاشت یا ّروز د ـ دغه ّمیان تهولی غتی غتی خبری پے وکړلے له تا چی بېل ّسومه پوړ ّپلانکی لار روان وم ّپلانکے می ولید دا خبری می وورسره وسولے ّشپه می د ـ ّپلانکی سره وه ـ داسی مېلمستیا یه راکړله بلی ّشپے له کوړته وهرسېدم هلته وم د ـ لولوړ وخت راغی غنم مو واخیستته نرخ داسی وو وانښه ډېر یا لږ وو ـ په دمے کی ّپلانکے مړ سو اؤ ّپلانکی واده وکی د ـ ّپلانی زوے وزوکېده د ـ ّپلانی لور واده ّسوله او داسی نوړهغه ّروز راروان سو داسی را ورسېدو نوړ خیر دی سردار دی سلامت وی (هېل هیټلر ) ّبیا به دمے د ـ هغه به ل

نه هه م په هغه ټاکلي توګه تپوس کاوه چي ته خپه ل خبر راکه اؤ هغه به هه م دا شان پوره اوږد خبرووركاوه خو اوس څنګه چي پوهه اؤ ښار ولي (شهريت) پکښي راځي دا كاراؤ دود كه څه هه م پاته نه دی خو څه يه رالنډ کړی دی خو په ښاری خلګو كي د ـ غرو اؤ رغو خله ګ لا هغه شان دا ښه ګڼي چي هر څومره اوږد خبر ورکي ـ په دې هكله ښاغلي مير ميټا خان مری چي ښه پوه اؤ لوستی سړے دی د ـ بلوچيستان كانپرنس غړی اؤزموږ ملګری وو خو د ـ سركاری نوکری له مخي ووروسته پاته سو اوس هه م چيرته په دؤتر كي كلرك يا سوپرډنټ دی هغه به دا ټوکه كوله چي يوؤخت مي څوك مشر اكا د ـ غره څه ليدو له دوتر له راغی ما چي د ـ روغ بړه پس خبر تړے وپوښته وے چي "ببګا په سيوی كي دو ټيسه ن له راغلو ټيكيس مو واخيسټ ګاډه راغله پكښي را سپاره سو راروانه سوله ـ ګربه ـ ګربه ـ ګربه ـ ګربه " (دا ګوا د ـ ريل بږغ وو) وے چي دا بږغې ډرے څلور واره وكي زه پوه سومه چي دا به دے هغومره خله كوی چي دـ ده په ګومان تر كوټي ريل

دا بڼغ کړی وی نو ما وړرته وه چی کاکا دا دؤتر دی دلته دومری اوړدے خبری نه سی کېداے دا به بّیا کوړ ته کوو اوس په لنډو خبر راکه اؤ دا شان می خان تّرے بچ کی دا دوړد به هه م خو د-یؤ وخت چی نه ډاك تار وونه د-خبرېدو نوری لاری چاری وه ښه او د - ښېګړی لپاره وو خو اوس لغړ یو خوشی دوړد اؤ د - وخت د - زّیاتېدو یّوه پلمه ده خو دوے باندی ټینګ وو - د - نورو سارایی ، غریځو اؤ نالّوستو اولسونو رنګه بلوڅ هه م په خّپلو زړودوډونو په زّیاته د - جامے - وېښتو اؤ هستوګنی پوردوړد ډېر ټینګ وو د - ږیری اؤ سروښته پے مه خ له نه وهه ل ته ر دے چی د - مچ په جبل کی نوزبنداغ نومی یو مری چی به ږیره ږمه نځ (منګه ځ) کّړله نو کوم وېښتان چی به تّرے را پّرېوته ل هغه پے بیرته ټول کّړه اؤ په ږیره کی پے ومنډل - خو سردران په دے دوډونو هه م بندنه وو - اؤ د - هغوے په ډاډ نوو لّوستو اؤ ښاری خّوانانو هه م وّرو وّرو خان تّرے ازاد کړی وو - په ټولو بلوڅو کی د - وینی زیی اؤ نیکت (نسب) وّیاړ ته ر پښّتنو لاهم زّیات وو - اؤ هم دا شان د - مّریانو اوپّره خلګو ټوکمو

ېښېنو اؤ ښځو په هکله سختي ـ د ـ مینځي اؤلاد که به څه هه م د ـ کلات د ـ خان یا چا سردار وو ـ مړیان شانته ګڼه ل کېده ـ د ـ پلار په نیکت (میراث) کې برخه نه وورکوله ـ اؤنه په هیڅ توګه د ـ ساهو ښځی د ـ بچو سیالان کېداے سو ـ که به څه هه م لس پوشته پس وو ـ ځینو سردارانو اؤ نورو خلګو به د ـ خوارو ساهو بلوڅانو لوڼی هه م په پیسو واخیستلې اؤ بې واده بې د ـ سوریتی په توګه لرلې د ـ هغو بچی به هه م تېی (مړیان) ګڼه ل کېده ـ د ـ ښځو په هکله دومری سخت وو چی ببې لیدو کتو یا پوړولو (اثبات) بې هسی د ـ به ل په خوله یا اروېدو (راهو) هه م ښځی اؤ سړی تور ګڼه ل اؤ وژل بې ـ د ـ ښځی د ـ پاکی کهانده یه وه دې ته رسولې وه چی په ځینو تپو کی دا دود وو چی مېړه به د خپلی ښځی د لومړی شپې د ـ پېغلتوب نخښه سهار له په جار ښکاره کوله کنی نو هغه ښځه به توره ګڼله کېدله ـ دا دود د ـ دوے څخه په پښتنو کی د ـ ګوتی کاسیانو هه م اخیستی وو ـ ښځی بې ته ر زوکړه وړاندی لا هه م خرڅولې اؤ هه م بې د ـ بدی په نېکه کی وورکولې اؤ

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

داشے سرکار هه م مانه ـ خو په دې هکله د ـ مکران
بلوڅ ډېر ښه وو هغو ښځې ته نيژدې هغه ځاے
ورکاوه چې ايسلام وورکړی وو ـ په بلوڅانو په زّياته
په بړوهيانو کی دا يو ناپښنه دود ښته چې ما به ل
چېری نه ليدلی او نه اروېدلی دی ـ چې دوے د
خپلوانو په داسی جنګ کی چې مرګ يا زّيات ټپ نه
غواړی ـ توره د ـ تېرو په ځاے په پخو چلوی دې ته
دوے " زهم پوشت " د ـ توری د.شا جنګ وايی ـ بدی
اؤ د ـ مړی بدله په مړی اخيسته په دوے کی هه م د
ـ پښتنو رنګه ډېر کّلك دود دی ـ خو په دوے کی د
ـ زی (قبيلائ) ژّوند د ـ ډېر ټينګ والی له مخی په
دې هکله ډېر زّياتوب کېږی ـ پښتانه زّياتره وس
کوی چې خّپه ل د ـ سړی خونی مه ړ کی يا بّيا هغه
خّپه ل چې د ـ خونی تېرونی اؤ کومکی وی اؤهغه
هه م دستی نه په وار سره زّياتره د ـ ډېره وخته اؤ د ـ
جرګو مرکو پس خو دوے داسی نه کوی څنګه چې د ـ
چا د ـ مرګ خبر وسی ته ر هر څه وّړاندی ته ر دې
چې د ـ مړی تر ښخېدو اؤ تياری (جنازه) لا هه م
ّوړاندی د ـ مړی څو تنه خّوانان خّپلوان د ـ کوره

ووزی اوُ وّلاړسی دہ غوټه ته دوے ..........
وایی دا خلګ ته ر هغو بیرته کوړ ته نه راځی چی یا یه بدله نه وی اخیستی اوُ یا روغه نه وی سوه زّیاتره داکسان د ـ خونی د ـ زیی پوړ هغو ناخبرو څمری وړی سړی کلی یا کوړ هه م پرّیوزی اوُ واری باندی کوی چی په غّرواوُ شیلو کی پّراته وی ـ په پښتنو کی د ـ ډّوو کهولو یا ّپښو داسی بدی یا جنګ چی ہے په رسه خله وژنی هر چیری چی وبله پیښی سی ـ یو وخت ډیر پخوا که سوی هه م وی اوس نسته خو په بلوڅو کی دا شے اوس هه م ّسته دی ـ هه م دا شان داسی غدی اوُتاړاك (شبخون) چی د ـ شپیے یا ّزوزی یوُ خیل د ـ به ل پوړکلی ّپریوزی اوُ ہے سریپے یه ووژنی په پښتنو کی نسته خو په بلوڅانو کی لا ّسته د ـ همسایه اوُ اوپرہ (غیر قوم) د ـ هغه خلګو سره چی د ـ دوے سره پّراته وی کوم د ـ برابری اوُ ارز رو (سلوك)چی پښتانه کوی په ّزیاته دورانی خیلو نه هغه بلوڅ د ـ سره نه پیژنی دوے د ـ زړو آرین خلګو په شان هر اوپرہ سړے د ـ خان ّمریپے که نه وی ته ر خانیے لاندی اوُ ناسیاله هرو مرو ګنی د ـ دوے دا

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

کامی خوے د ـ هغولارو چارو نه څرګندوی چی دوے په سرکاری اؤ کامی توګه د ـ کوټی د ـ کاسیانو ـ کاکړانو د مسته نګ د ـ دېوارو اؤ پښتنو اؤ کچی د ـ جټانو اؤ جاموټانو سره پخوا کړی دی اؤ اوسے کوی ولور په بلوڅو کی هه م د ـ پښتنو په رنګه هر چرے سّته خو د ـ اوله س د ـ خّواری له مخی دومری زّیاتی اؤ ډېری پیسے نه اخلی د ـ دوے هه م لکه د پښتنو کّونډه ښځه د ـ خّپه ل سر نه وی خو د ـ دوے کّونډه ښځه د خوسرګنی په ځاے د ـ پّلار کنی په واك اؤوس وی ـ بّروهیان اوس هه م خّپه ل لور خور ودوه ل یوَ شانته ہے ننګی ګڼی خو د ـ ځینو پخوانو کامو په شانے نه وژنی اؤ نه ہے واده ګنبېنوی خو دغه دودے په دے رنګ کی ساتلی دی چی د ـ واده په شّپه د ـ کور مشر یا مشران د ـ ښځی پّلار یا وّرور د ـ خّپله کوره به ل چیرته وّلاړسی چی واده وسی اؤ ښځه د مېړه کور ته ورسی نو بّیا راسی ـ

## د ـ پښتنو سرداری اۉ دوړونه

څکه چی د ـ پښتنو کمه هولکه چی انګرېزانو په بلوڅی ګډه کړے اۉ د ـ بلوچیستان نوی اۉ ناوړه نومے باندی اینبی وو ـ هغه ټوله یا د ـ هغے زیاته برخه ـ پښین ، سیوی ، تل چوټیالی اۉ سماله ن (سنجاوی) د ـ ډېره وخته څه د ـ هیند ایران اۉ پښتونخوا د ـ لویو اۉ سمو باچهیو برخه راغلے وه څکه په هغوے کی د ـ تپوبېل اۉ خان خانی ژوه ند ترډېره خایه کم سوی وو ـ ښارولی اۉاوله س ولی پکښی پیدا سوے وه ـ نو خلګو به خپه ل د ـ تپپے تر سردار زیات وه سرکار ته کاته که څه هه م هغه سرکار به د ـ ایرانیانو ـ موغولو اۉ انګرېزانو وو اۉ که به د ـ میرویه س نیکه یا د ـ لوے امد شا با با د ـ کوږنی یا د ـ مامد زو کامی سرکار وو ـ د روب اۉ بوری کاکړان او د ـ سلیمان یا شین غر د ـ لمنو خینی خلګه د ـ لوے امد شا بابا پس د ـ دوړانو د ـ باچاګردی په شپو کی خپه ل د ـ مڅکی د ـ خواری ـ لیری والی اۉ د ـ لارو

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

د ـ ګرانۍ له مخی د ـ پښتنو د ـ کامی سرکاره څه شانته ګوښی اوېړل سوی وو اوځان لے ځینی کامی مشران جوړ کړی وو خو هغه هه م د ـ چا کامی یاسرکاری سردار په ځاے یا د ـ توری ـ دسترخان اوُ ښېے مړی خانان وو اوُ یا یه ځان له د ـ وّزه رګی اوُ پیری په نامه څه مخوری میندلړے وه ـ لکه دا چی زّما تر وخته به لا خلګو ویل چی د ـ کاکړو ته ر سردار خېلو جوګیزو د ـ تهپه ك ګولی نه وزی نه بّرید باندی کوی ـ ځینو خلګو په دوے خّپه ل د ـ رنځ هودے کولړے اوُ پیسے بے وورکولړے اوس هه م ځینی ناپوه خلګ لا په نواب جوګېزی د ـ مرغړو (خنازیر) اوُ ځینو نوړو ناجوړو هودے کوی ـ ګوّا چی انګرېزان راتّله اوُ د ـ پښتنو ,دغه مّځکه یه د ـ پښتون خّوا د ـ اولسی اوُ پښتنی سرکاره را بېلوله اوُ د ـ بّریټیش اینډیا ـ بّریټیش ګیانا اوُ بّریټیش سمالی لینډ اوُ نوړو هولکو رنګے د ـ بّریټیش اوغانیستان په ځاے خّپه ل د ـ سّپېره اوُ بدّ مّراد لپاره د ـ بّریټیش بلوچیستان ناوړه نوم وورکاوه په موږ پښتنو کی نه سرکاری سرداری وه نه سرکاری جرګه ـ کامی خانی اوُ مشری وے چی د ـ

پولټیکل یا سرکاري نایه ب د ـ ښوبنی په ښاے په تووره ـ دسترخان ښېے مېږی اۋ د ـ اوله س په ښوبنه به وہے ـ اۋ کامی مرکېے وہے ـ خان اۋ خان خیل به په اولسی جنګو کی تر هر چا وړاندی تله مېږه ل اۋ ژوبه ل کېده به د ـ وسلې اۋ مال زیان پېے کاوه اۋ د ـ روغی په وخت کی پېے دسترخان چلاوه مېلمانه اۋ لاررویان پېے ښوروه ل د ـ سرکار اۋاوله س خسمانه پېے کوله جوړی جاړی اۋ مرکېے پېے ښپه ل په سپینو جامو اۋ لکړه (همسا) مخوری اۋ ښواخوړی کوله د ـ سرکاره که پېے څه ځکه تنخا یا مراجه ب اخیسته ښه کنی پوړ اوله س یه نه څه ده رلوړد اۋ نېے هیله ووړته ساتله ـ چپ د ـ ښوبنی د ـ مېلمستیا یا اشراۋ کامی مرستی په رنګ کی د ـ لاسو یا منډی کار لکه ـ کرلو یا ختی متی ـ چی کله کله پېے د ـ بېګار رنګ هه م واخیست خو ډېرکم ـ خو انګرېزانو د ـ راتلو سره په پښتنو کی هه م په زیاته په کاکړو ښوارانو کی بلوڅو رنګه پخې اۋ نیکت (میراثی) سرداری جوړی کړلې ـ اۋد ـ تهاك د ـ توړو دوړد (قانون جرائم سرحدی) یه پکښی روان کی چی ته ر هغه لانده جرګې روانی

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه

کړلے ـ خو دا شے د ـ رږب اوبوری د ـ سنځرخیلو
کاکړانو اؤ د ـ دوکی د ـ لوڼو او موساخیلو سپوا په
به ل ځاے کی پښتنو د ـ بلوڅو شانته خپه ل کامی
دودونه مانه ـ خکه خو د سیوی په پنو د ـ کوتی په
کاسیانو د ـ پښین اؤ دوکی په ترینانو اؤ سنتیا
کاکړانو کی ته ر پایه د ـ سردارانو یا ملکانو هغه
زور زیاتے یا لویی جوړه نه سوله کومه چی
سنځرخیلو اؤلوڼو سردارانو خپه ل پور خوار اؤ نتلی
اوله س جوړه کړله ـ خو دغه لاهه م د ـ بلوڅو د ـ
سرداری اؤ نوابی په مخ کی هیڅ هم نه وه خکه خو د
ـ جوګیزو نواب ته ر پایه دا وس کاوه چی زه هم د ـ
بوګتی ـ مری اؤمګسی بلوڅو د ـ نوابانو رنګه د ـ
اوله س د ـ شکولو اؤ خوارولو وس ولره م خپه ل می
جبل وی خپه ل می لپویز وی اؤ خپله می جرګه وی ـ
انګریز یا هر سرکار چی وی هغه به خوشاله ساته م
چوپړ یے وهم اؤ اوله س به یه یے غمه خوره م خو د ـ
اؤغانیستان د ـ خپه ل واکه پښتنی سرکار د ـ ګوانه
اؤ د ـ پښتون کام یؤ ـ ځانی اوله س واکی
(جمهوریت پسندی) له مخی د ـ انګریز په وخت کی

د ـ دوړے دا ارمان ونه خوت ولی هر څوك چی به دوړے ډېر زهیر کی هغه به یاغی (فراری) سو اوُغانیستان له به وّلاړ ډاکے پے وهلے انګرېز سرکار ته پے تاوان رساوه اوُ تنګاوه پے اوُ هغوړے به بیرته جوړاوه اوُ راووست۔خو ښیا هه م د ۔ ګواڼو د ډېرو کاکړانو مّځکه نیژدمے ته ر پیینځله س میله پوری په تېر پیینځوس شپېته کاله کی د ـ سرکاری سرداری اوُ سرکاری جرګو په برکت د ـ دوړے خّپله ښوله اوُ زاړه خاوندانے وره ك سو ـ څه دمے ته نیژدمے شان د ـ بوړی د ـ جوګیزو ـ لوڼو اوُ ځینو نوړو سنځرخېلو اوُ د ـ موساخېلو سردارانو اوُ سردار خېلو دی ـ موږ اځګزو خو د ـ سره د ـ سرداری وه دمے انګرېزی دام ته غاړه نه کّښېښوولـه ـ چی په هغه کی زّما ځانی ډېره لوپه برخه ده ـ په پنځو ترینانو اوُ سنتیا کاکړانو کی که څه هه م دا شے وو خو لا یه دومری زوړ نه ووکړی چی ـ انګرېز وّلاړ اوُ د ـ پاکیستان کامی سرکار راغی ـ چی که څه هه م لا پوره اوله س واکه (جمهوری) نه دی په زّیاته په بلوچیستان کی خو هیله ده چی د ـ وخت اوُ د ـ ویښو شازلموزوړے وّرو وّرو پوره اوله س

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

واکه کې اؤ دغه پښتانه به هه م بیرته د ـ پاکیستان
د ـ نورو پښتنو سره یو ځاے اؤ د ـ انګرېز د ـ دے
بلوڅې لومې څه بچ سی چې ـ د ـ سرکارې سردارې
اؤ جرګې په نامه یه په زور په مور اؤ نورو پښتنو کې
پېل کړے وه ـ نیژدے په ټولو پښتنو کې بدې اؤ د ـ
مړې بدله اخیستل ډېر پوخ دود وو زما په یادو کې
ځموږ په شا اؤ خوا پښتنو کې هیڅ یومړې داسې نه
دې سوې چې ژه ر یا پس به د ـ هغه بدله په مړې نه
وې اخیسته سوے ان ته ر دے چې د ـ غلو اؤ ډاکوانو
بدله هه م اخلې په زیاته بیا چې د ـ به ل کام یا ټبې
سړے یه مه ړ کې که څه هم سرکارې نوکر وې اؤ غل
یا ډاکو مه ړ کې ـ په دے لار کې په سرکارې سزا یا
د ـ سرکارې جرګې په روغه اؤ نېکه هه م بدله نه
پاتېږې خو څه په وخنډېږې اؤ خنډ هر څو چې وې پر
وانه لرې یو متل دې چې "بدې په سل کاله پشېرلې
(د-یوه کال) سی" په نیژدے ټپه لوانو کې کله کله په
کامې مرکه چې روغه یا بخښ وسې یا څوک
پښتنې نېکه واخلې چې پخوا په ډوولـه س جیګې
(بنځې) اؤ ننواتے وه اؤ اوس نیژدے دېرش زره روپې

وی - نو دا هیله وی چی پاته سی خوهه م پوخ باور نه وی د - بدلے د - دغی پخے لاری اؤ بیری له مخی زموږ د - غاړی پښتانه د - بدی ډیر زیات بیریږی اؤ ته ل وس کوی چی مرګ اؤ بدی ونه سی - نه ډیر مرګونه پکښی کیږی هه م په هسکار مرګ خو ډیر کم کوزکیږی چپ د - بدلے یا ننګ اؤ شرمه ډیر کم څوک په چا پسی د - مرګ لپاره وزی یا روانیږی - زیاتره مرګونه د پیښی وی - د - سوټی په جنګ کی څوک مه ړ سی یا څوک چاته د - وهلو یا پوری وهلو د - پاره مه خ ونیسی اؤ هغه یه د - ځان په بچاو کی ناکه وولی یا په چاکو چاړه یا سوټی زیات جینی ژوبه ل سی اؤ مه ړ سی یا د - مځکی اؤ مال په ځان ځانی (انفرادی) یا د - ډلی په جنګ کی څوک کاری ولګیږی - هه م د - بدلے د - دغه پښتنی دود له مخی هیڅوک د - به ل لپاره په پیسو یا.بله هیله مرګ نه کوی که هر څومره وورکوی - لکه د - بده مه رغه د - پیښوه ر یا روه په پښتنو - پنجاب اؤ سیند کی چے خوار خلګه د - مړو اؤ مال مستو خانانو - چودریانو وډیراګانو اؤ پیرانو لپاره کوی د - کرایے د

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ـ خونونو د ـ نیستی پیلامه دا هه م ده چی دلته نه هومره لوړے اؤ مال مست خانان اؤ زمینداران ستته لکه د ـ روه په پښتنو یا پنجاب اؤ سیند کی اؤ نه هومره پے مځکی بېے اؤېجی اؤ اړ خواران لکه هلته ځکه چی دلته تهوله مځکه د ـ لوړے امد شا بابا په وخت کی لا د ـ تپو
پور سر وېشه ل سوے وه ـ په تهولو پښتنو کی یو کس هه م داسی نسته سېوا د ـ ډمانو اؤ اوستا کارانو چی هغه یو نه یؤ ځاے په کامی مځکه کی برخه نه لری ـ هر چېری چی په خوښه خواری مزدوری کوی یا اوسی خو چی کله به ل ځاے تنګ سی یا مېنه اؤ اؤېجه باندی درېړی نو خپلی کامی مځکی له که په غره کی وی که په سمه یا رېګ کی ولاړ سی اؤ هلته د ـ خپلی پنبے د ـ نوړو خلګو سره د ـ سیال رنګه اوسېړی ـ داسی نه ده لکه د ـ روه ( صوبه سرحد ) په زیاته د ـ مردان اؤ پېښور په پلو (ضلع) کی چی د ـ کلو تهوله مځکه د ـ څو کسو خانانو په نامه وی اؤ په زه ر ګونو نور پښتانه د ـ خوداے پاك په ده ویره دونیا اؤ د ـ پښتون خوا په ارته مځکی کی یوه لوېشت مځکه هه م نه لری ـ نه ده که ښت نه د ـ اورشو اؤ نه د ـ مېنی اؤ تهول

د ـ که ښت اؤ کر په ّزیاته د ـ مېنی کنډر اؤ کوټې لپاره د ـ څو تنو خانانو لکه مزدوران لا نه لکه مریان اوسی ـ
ولی هغه خانان هیڅوك دې ته نه پرېږدی چی د-دوې پور مّځکه ځان له کوټه جوړه کی تولی کوټې ـ ځایونه اؤ مېنی هه م د ـ دوې وی اؤ دوې یو سرې ته ر هغو پکښی پرېږدی چی د ـ دوې خوښه وی اؤ د ـ دوې ّخوښه هه م څه ځرګنده ټاك یا نخښه نه لری بس څو چی چا د ـ خان خودایی منله ـ بېګارې وورله کاوه ـ ته ر ننګ اؤ شرم وورتېر وو وو‌ټې د ـ ده په خوله وورکاوه ـ بې مزدوی یه منډی ترنډی وورله وهلې ـ نرو ښځو یه چپیر واهه اؤ د ـ خان لپارې د ـ هغه د ـ دوښمنانو یا ناخوښه خلګو سره شروڼه جنګونه مرګونه ـ ټپونه اؤ سّپکی کولې ښه د ـ لوټ اؤ خوړپه واده کې د ـ تورې په نامه روپی وورکولې ښه کنی خانې د ـ کوټې باسی اؤ د ـ خودای دا لکونه پښتانه بندګان هیچرې هه م د ـ سر د ـ پټېدو ځاې نه لری ـ ّزیات ته ر ّزیاته چی د-یوه خان د ـ مّریسټوبه ّولاړ سی نو د ـ بل خان دا به کوی ـ څکه څو په روډ (صوبه سرحد) اؤ سّوات کی د ـ دومری ودانی مّځکی سرډ ته ر اند د

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

ـ پاسه لوږه اؤ خواري ده ـ د ـ مزدوږ مزدوري دومره لږ وي چې نه ن
هه م په مردان ـ پېښور اؤ سوات کې په شه ل دېرش روپۍ د ـ میاشتی
داسي مزدوران پیدا کېږي چې شپه اؤ روز کار کوي اؤ ډوډۍ خپله
خوري ـ چې په بږوب اؤ کوټه کې په پینځوس اؤ شپېته هه م نه پیدا
کېږي ـ هه م له دې مخی به پخوا د ـ هیند ټوﻝ ښاروﻧﻪ اؤ نه ن د ـ
پاکیستان ښاریې د ـ روهـ اؤ سوات په مزدورانو ډکی دي ـ د ـ دې
ډېری لوږی ته ر ټولو زیاته د ـ ارمان وږ خبره لا دا ده چې د ـ هیند اؤ
پاکیستان په ټولو چکلو کی زیاتره د ـ دغو خایو سپینی (محترم)
پښتنې خپلو خوارو پښتنو مړو اؤ خپلوانو د ـ بې ارزۍ اؤ بې غیرتی
د ـ ژوه ند لپاره کنبښولی وی ـ یا یه د ـ خواری اؤ لوږی له مخی د ـ
نورو خایو پوږ داسی اوپره خلګو د ـ واده په نامه خرڅی کړی وی چی
هغه دا کار په کوی ـ اؤ د ـ بلوچیستان د ـ پښتنو یوهـ ښځه یا سړے
هه م په دې بې ارزۍ اؤ بې غیرتی اخته نسته ـ دا دومری لوے اؤ
څرګند ناورین دی چی هر څوکې وینی اؤ منی یه هه م خو ارمان چی
نه د ـ انګرېز په وخت کی د ـ خودایی خیدمتګارو ولاتی (صوبای)

سرکار د ـ دې لپاره څه وکړه اوّ نه د ـ انګرېز د ـ تلو پس هه م د ـ
نامه د ـ موسلمانانو یوه سرکار هه م څه کړی دی که هغه د ـ روه د ـ
لیګ وو که د ـ یونیټ وو اوّ که د ـ مارشه ل لا وو ـ باچا خان وایی
چی ته ر انګرېز ؤړاندی زموږ د ـ پلار اوّ نیکه په وختو کی دلته هه م
مځکه د ـ ټولو خلکو وه ـ په ټولو بېې کرله اوّ څه غله بېې په شریکه
د ـ خان په لاس کی د ـ شریکو کارو لپاره ایښوولو خو چی انګرېز
راغی ـ هغو اوّ د ـ هغو واك والانو خپه ل د ـ اسانی اوّ کامی ؤرانی
لپاره په خاے د ـ دې چی مځکه په ټولو خلکو پسی لیکلې واے یا یه
ووروبشلې واے په څو تنو خانانو اوّ پیرانو پسې ولیکله اوّ هغوے د ـ
خپه ل چاری له مخی ساده اوله س وغولاوه اوّ مځکه یه په خان پسی
ولیکله ـ هه م دا شانی په سوات کی د ـ "وېش" دوړ پور خاے د ـ تپو
په خاے مځکه د ـ سرو سوله د ـ( "وېش" خبره به د ـ پښتنو په نورو
دوړو کی ؤړاندی راسی) زموږ په خوا څکه چی د ـ مځکو لوے لوے
خاوندان نسته نو ډېر ماړه خلګ هه م نه وی اوّ نه ډېر اوّ بېې اسرې
خلګ وی ماړه اوّ خوار خلګې یو د ـ بله ډېر لری اوّ پڼرے نه وی ـ څکه

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

په کلو کی هه م ودانی د ـ چا خانانو نه وی نه هغه دومره ماړه وی او
نے اړی وورته وی چی ډېر وی نو څوك خان د ـ خان د ـ مېنی سپوا
یوه یا ډوے مېنی نوری لری او په هغو کے خانی نوکران مزدوران یا
نور خوار همسایګان اوسی د ـ کلی مځکه که څه هه م د ـ څو تنو وی
یا کله د ـ یوه سړی وی ـ خو هغوے دومره وس او زور نه لری چی څوك
دی د ـ کلی وشړی ـ لومړے خه ل چی څوك یوه کلی له راځی د ـ
مځکی تول خاوه ندان وپوښتی او هغوے په خوښه د ـ مېنی ځاے
ورکی ـ دا سړے خپلی ودانی او کوټے باندی جوړی کی ـ که څه هه م
سرکار او دود دا منی چی د ـ مځکی خاوندان که دا سړے باروی نو
هغه به باربړی خپلی ودانی به یا پوړ چا سم سړی چی د ـ خاوندانو
خوښ وی خرڅوی او یا بیے ړنګوی او سامان بیے وړی خو ځکه چی هر
سړے خپله مځکه لری او یو نه یو ځاے څه داسی خپه لوان لری چی
هغوے خپه ل پوړ مځکه ساهو غوندی اوسی او هغوے خپه ل د ـ
خلکو سره د ـ چا په ناوړه او ناروا زیاتوب خوا هه م بدوی نو هیڅوك
سلا بلا داسی سړے پوړ خپه ل مه خ نه باروی او نے بارولاے سی ـ

زمونږ ښځه ل د ـ کلي یو څو بېړې سره خانانو څو کاله وړاندې هاجي غپور میزے یو کاکړ همسایه په زور او ناروا باراوه ـ هغه نه ته نو دوړے سرہ د ـ سرو وړغله او د ـ مېنې دېوالې یو ځاے وورونراوه ـ هغه ناله ښت وکې هغه ټول خانان ونیوه ل سو په جېل کې وو او هله را وواته چې نهه (۹۰۰۰) زره روپۍ یه د ـ هغه د ـ مېنې بها او پردہ ورګړله او بخښېږ هه م ترے وغوښت دا شان د ـ کلي څه د ـ چا د ـ بارولو یکې یوہ لار پاته سي چې د ـ کوم کلي ټول خلګه یا د ـ هغو ډېرے په روښتیا د ـ چا نه ډېر تنګ سي نو هغه به سرکار ته ناله ښت کوی او د ـ پوره تپاس او تورو سپین پس به سرکار د ـ جرګې په خوله هغه سرے د ـ کلې باروی کنې څوکې نه سي بارولاے ـ

مڅکې ټولې د ـ تپو شریکې دی د ـ تپو وېش سوی دی ـ په ځینو تپو کې د ـ وګرو وېش هه م سوی دی ـ او د ـ ځینو دا ګډې پرتې دی د ـ ځینو هغو مڅکو چپ چې خلګو بېلې را نیولې وی ـ په زیاتره تپو کې کامې مڅکه نه څوك پور پردی سړی خرڅولاے سی او نې په که ښتګری یا اجارہ وورکولاے سی په زیاته د ـ اڅکزو ـ هغوے وایی چې

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

دا ځمکه هله ښتا ده چې ته به دلے راسره اوسے مېلمه به راسره خوروے ـ لېوه به راسره شړے اؤ غم به راسره وړے ـ داسی نه ده ښتا چې ته بېے خرخوے د ـ چا ځمکې چې شریکی وی هغوے یا خو هر کال د ـ کر پوره وخت وېش کوی اؤ هر چا له هغومره وورکوی چې هغه یه کرلاے اؤ اباتولاے سی ـ اؤ یا د ـ هر چا څه پټے وېشلی وی چې وورته نوکری وایی هغه دے یا خپله کری یا یه په به ل چا شریك وکری ـ نوره ځمکه یه ګډه وی ـ کړے نور خلګ کری د ـ هغو څه بهال یا لیکه د ـ آیه د ـ یؤ ټاکلے برخه چې زیاتره سمه وی یا څه ترلی دانے یا نغدی پیسے اخلے اؤ هغه د ـ امد شاهی نوکرانو پوره سر وېشی ـ نوکر د ـ لوے امد شا بابا د ـ ځمکی اؤ کامی لښکر د ـ غم یؤ ته ر ټولو وورټوك (یونیټ) وو د ـ ټولو تپو د ـ سر شمېر سره سم د ـ هغوے د ـ ځمکی غم یا د ـ کامی لښکر سری په نوکرانو وېشلی وو ـ پوره چا یؤ نوکر وو پوره چا لس یا زیات اؤ کم نوکران ـ د ـ سړو اؤ خوانانو د ـ شمېر سره سم ـ زیاتره چینے اوپخے اوبه یا هغه کارېزونه اؤ ولے چې خلګو خپه ل په خواری کنبلی وی هغه وېشلی دی ـ هر سړے خپله ونډه خوری اؤ

خرڅولاے يه هه م سی ـ هه م دا شان د ـ هغو ځوړونو اوبه دی چی پخپے نه وی په کال کی څو مّیاشتی د ـ پسرلی پوړ وخت راوزی ـ اوْ د ـ رود یا نیازه (سیلاب) اوبو کی د ـ سر ورخ دوړ چلبړی چی د ـ چا مّخکه اوُ ورخ وّړاندی وی هغه به ّوړاندی خان پوړه کوی بیا بیے به ل بیایی خو زّیاتره خله ګ سوړوان سره کوی اوْ پاے ورخ ته هه م څه نه څه اوبه وورزّیاتوی ـ

په بلوچیستان کی د ـ نوشکی د ـ بلوڅو وه پوله ته څه ر مه د ـ اوْغانیستان په خاوره کی د-پښتنو یوه ّډرنه تپه بریښی ّپراته دی ـ د ـ هغو وه مځکه ته ښوراوك وایی ـ د ـ زړو کامی نکلو اوْ بوډو څه ّښکاری چی یوْ وخت د ـ دے تپیے خلګو پوړ پښتونخوا یا د ـ هغیے پوړ یوه برخه باندی باچهی هه م کړے ده ـ د ـ بیست ـ بیس یا کلابیس زوړ اوْ تواریخی ښارے پاے تخت وو ـ د ـ دے خلګو مّځکه که اوچوبیے یا وچه مېره وه ـ خو پخوا د ـ ّپښین اوْ نوشکی په لوړه اوْ ځّوړونو کی دومره اوبه وورتلے چی د ـ دوے ښه ډېر مّځکه په ډّواړه وخته په اباتېدله اوْ دومره غله بیے کېدله چی د ـ ّپښین رېګ او ّغرو


www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه

خلګ به هه م وورسره چلېده اوّ تهولو به اېیر (بیج) د ـ کدنی یا
بنوړاوکه کوله د ـ دے خلګو دا دوړ وو چی ّمځکه د ـ تهوله شریکه
وی اوّ د ـ یوه یا څو کسو مشرانو په لاس کی چی په تپه کی د ـ چا
زوے وزوکیری هغه ته د ـ کامی ّمځکی څه یوه تهاکلے برخه په ځپه ل
کلی کی یا نیژدے ورکی چی دوے "دوړ" وورته وایی اوّ چی څوك مه ړ
سی د ـ هغه دوړ بیرته پاته سی د ـ دے بریځو پښتنو په ځوا کی د ـ
نوشکی د ـ بروهیانو یوه ّمځکه ده چی پوړ هغه باندی د ـ نوز
(سیلاب) اوبه اوړی که څه هه م دالته د ـ دوے څلوړ لوے خېلونه ّپراته
دی اوّ نوره ّمځکه یه ځله بېشلے ده خو دغه یوّ تهوکری یه ګهٔ ساتلی
دی ـ هر کله چی روړد راسی نو په دغه شریکه مېره کی هر څومره
مځکه چی اوبه اوّ ودانه سی هغه په ګهه په اشر یا انداز وکری اوّ
پیداوارے پوړ ځپلو تهاکلو ونهو ځله ووېشی ـ

ّزموږ په ځوا د ـ یوسه پ زو هغه دوړ نسته چی دوے وېش وورته
وایی چی ته ر هغه لاندی به هر شه ل یا پینځویشت کاله پس تهوله
کامی ّمځکه سره د ـ کلو اوّ ودانو پوړ ځېلونو وېشله کېدله اوّ خېلونه

به د ـ یوه کلی څه بل ته کړه کېده-دغه دوړ ایسه پ زړ هه م اوس زیاتره پړے ایبنی دی ـ خو لا د ـ غرو په ځینو تپو کی لکه هسن زی اؤ نور اوس هه م ستته دی ـ

www.kitabtoon.com کتابتون ټولنه



بابای پښتون

www.kitabtoon.com کابتون پوله



باباے پښتون.

www.kitabtoon.com کتابتون تولنه